# د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر

# کره کتنه، ادبي بحثونه او مشاعره

## لړۍ: (۱)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر، راپور

یو شمېر ښځینه لیکوالو انلاین ادبي بهیر پیل کړی دی چې دلته یې د لومړۍ غونډې راپور لوستلی شئ.

**نیته:** ۲۸، مي، ۲۰۲۳

**ځای:** انلاین (واتس اپ)

**د ګډونوالو شمېر:** ۱۶

غونډه د افغانستان د ماښام پنځه نیمې پیل شوه. په دریو برخو ویشل شوې وه. لومړۍ برخه کې پر دې بحث وشو چې څنګه کولی شو دا بهیر فعال او ګټور وساتو. دوهمه برخه د شعر کره کتنې ته ځانګړې شوې وه او په دریمه برخه کې یې مشاعره وشوه.

د بهیر د فعال ساتلو لپاره بېلابېل نظرونه وړاندې شول چې دلته یې غورچاڼ راخیستل شوی:

- د بهیر د فعال ساتلو لپاره یو وړاندیز دا و چې بحثونه مو منظم او دومره ښه واوسي چې په لیکنې بڼې یې خپاره کړو، تر څو هغو لوستونکو ته هم ورسېږي چې نه شي کولی په غونډو کې ګډون وکړي. په دې ډول به د بهیر د ګډونوالو فعالیت لا ډېر ګټور وي. دا لیکنې به نورو نجونو ته هم روحیه ورکړي. بله خوا، له ځینو رسنیو سره هم باید د بهیر د پیلېدو په اړه خبرې وشي.
- بحثونه دې یوازې تر غونډې محدود نه وي او که ممکنه وي په چټ کې هم پر ځینو ادبي مسایلو، کیسو او شعرونو بحث وشي.
- د غونډې اجنډا باید مخکې له مخکې شریکه شي. یو کس باید غونډه مخته یوسي، بله یې راپور ولیکي.

**دوهمه برخه:**

دا برخه کره کتنې ته ځانګړې شوې وه. د شفیقې خپلواک په دې شعر کره کتنه وشوه:

*زړه*

*چې زه درومم*

*حس کوم*

*تن مې وي پانې*

*طلایي وي*

*نارنجي وي*

*یو نیم رګ یې لا زرغون وي*

*خو تېر مې*

*لکه ډېره زړه ونه*

*چې یې جرړې هم ترې لیرې*

*او پر ځمکه راوتلې*

*نه خوځېږي*

*نه بدلیږي*

*چې زه درومم*

*حس کوم تن مې ایرې دی*

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ورو، ورو باد مې هم ویره

خو تېتر مې

خو تېتر راپسې دروند وي

لکه غر د لندو تېږو

نه ښورېږي

نه حسېږي

چې زه دروم

حس کوم

تن مې وروستۍ لمبه د شمعې

خو تېتر مې

یوه سمڅه د تیارې ده

چې رڼا یې هم له مخې نه تېرېږي

څو یې وینې، څو یې ګورې

تیاره لا هم پراخېږي

اوو! نه، نه !

زه یم تېروتې

زما دا احساس غلط دی

زه نو کله یم روانه؟

دا خو باد دی

چې له څنګه مې تېرېږي

دا خو پانې دي

چې شاوخوا نڅېږي

دا خو شمعې دي

بلېږي او بلېږي،

زه ولاړه یمه

تن مې هدېره دی

او تېتر کې مې

یو مړی ګرځومه

چې ورو، ورو راپسې درنېږي

چې وینښېږم

وینه یې وچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



*نه په چا پسې خورېږي*

*نه ځورېږي*

*نه دردېږي*

*نه درزېږي*

*زړه مې مړی*

*زما د زلفو په تک سپین کفن کې نغښتی*

*او د تن په هدیره کې*

*په واړه قبر کې اېښې*

*څه به درومي*

*څه به ژوند ته هوسېږي؟*

نرګس سهاک دا وویل چې د شاعرې سبک ځانګړی دی، خو دې شعر کې ډېره ناهیلي ده. اوسني وضعت ته په کتو باید داسې لیکنې وشي چې هیله او امید پکې وي او مثبت پیغام باید ولېږدوي. خو په شعر کې احساسات په ښه توګه بیان شوي.

د هیلې پسرلی نظر دا و چې دا شعر عالي تصویرونه لري او د مني رنګونو د پیل د تصویر ښکلا ځو برابره کړی ده. په پښتو شعر کې د رنګونو یادول کم دي، ښایي یو دلیل دا وي چې موږ ګڼو رنګونو ته نومونه نه لرو خو رنګونه د ښکلا او سمبولیزم جالبه دنیا ده. دې وویل: ښه شعر هغه دی چې پر ما یو څه پوره احساس کړي او یو واحد تاثر ولري، چې په دې شعر کې و. هیلې، "حس کوم" فعل ته اشاره وکړه چې په پښتو کې ډېر طبیعي نه راځي.

شفیقې خپلواک وویل: په حس کوم مې ځکه شعر پیل کړی چې ښایي دا ټول حالت یوازې احساس وي. اصلا کې داسې کوم څه نه وي. ښایي یوازې احساس وي او بله خبره د تضاد وه چې تاسې یو ځای کې اشاره وکړه. ګوندې دوه متفاوت فعلونه مې یاد کړي د «ولاړه یم» او «ګرځوم». زما استدلال دا و چې هڅه مې کړې یو تضاد رامنځته کړم. چې شوني ده ولاړه یم او شوني ده هېڅ نه یم.

ملالۍ کلیوالۍ د ښه شعر ځانګړتیاو ته اشاره وکړه چې باید نوې خبرې ولري. د دې په باور: د دې نظم ځانګړنه دا ده چې ډېر طبیعي او له عواطفو څخه ډک دی. د ټېر تشبیه له زړې ونې سره یوه نوې او نادره تشبې ده.

فرشتې غني وویل:

*چې زه درومم*

*حس کوم تن مې ابرې دی*

*له ورو، ورو باد مې هم ویره...*

زه په دې برخه کې بنده پاتې یم، دې ته حیرانه یم چې څنګه شاعرې دومره ژور درد دلته بیان کړی. شاعره حس کوي چې تن یې ابرې دی خو له ورو ورو باده وېره لري. کله چې تازه ابرو ته ورو ورو باد ورکړې هغه بیرته تودېږي، که کومه برخه یې لا سمه نوې ابرې شوی نو ممکن بیرته سکروټې شي. نو دلته د شاعرې وېره بلکل په ځای ده، هغه ویرېږي چې پټ زخمونه یې تازه نشي او و نه سوزي.

غونډه په مشاعره پای ته ورسیده. ځولې لمن، ملالۍ کلیوالۍ، فرشتې غني، امني فنا خپل شعرونه، نرګس سهاک او ګلالۍ مومند د امنې فنا شعرونه ولوستل. د بلې غونډې راپور به نویده خوشبوه لیکي او غونډه به ګلالۍ مومند مخته وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ادبیات؛ استعداد که زحمت؟ / بحث (۱)

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر، د وتس اپ په چټ کې پر ادبي مسایلو بحثونه پیل کړې دي. دلته د دې لړۍ لومړی بحث لوستلی شئ.

**هیله پسرلی:**

سلامونه،

ځینې وایي، تخلیقي لیکوالي ( شعر، کیسه..) استعداد دی. ځینې نور بیا وایي، نه داسې نه ده په کوښښ هم زده کیدای شي. یو شمېر کره کتونکي په دې باور دي، تر هغو چې اصول او اړېڅ زده نکړو د استعداد په زور خاص څه نشو کولی. یو شمېر لیکوال بیا وایي، اصول ښه دي خو تخیل ازاد مرغه دی د اصولو په قفس کې یې باید ایسار نکړو. په دې هکله ستاسو تجربه او نظر څه دی؟

**صفیه وردګ:**

په لیکلو کې زما د اندکې تجربې په اساس زه غواړم ووایم چې لیکل تمرین دی او د دې تمرین استمرار! زده کړه د وخت مسله ده او استعداد غوړېدل خو خپله وخت دی، نو لیکل مجموعاً زمان دی.

مثلا ډېر خلک له موسیقۍ سره علاقه لري. د دې زده کولو ته هم پیسه لري. هم وخت او نور لازم امکانات، خو اصل کې به هنرمند له هغه جوړېږي چې دوامداره کار کوي، او استمرار لري.

**شفیقه خپلکواک:**

ما د شاعرۍ په دې دومره کلونو کې یو څه چې درک کړل دا و چې هنر د استعداد او ریاضت ګډوله ده. که د چا په خټه کې یو څه نه وي (ممکن استعداد، ممکن احساس، یا غوښتنه) طبیعي هنر نشي پنځولی. د داسې یو کس چې طبیعي غریضه هنر لیکوالي او شاعري ته نه لري ممکن په ټولو قوانینو برابره لیکنه وکړي خو که کله هم لوستل کېږي طبیعي احساس به نه لیږدوي. ما د ډېرو پوهه کسانو شعرونه لوستي چې ډېر وچ و، حتا تصویرونه یې هغسې مرطوب نه و.

مثلا که لنډیو ته وګورو زه فکر نکوم هغوی دې ډېر کتابونه لوستي وي او ډېر ریاضت دې کړی وي، لیکن شهکار اثر یې پنځولی. زه فکر کوم د چا په روح کې باید لیکلو ته تنده او یو څه وړتیا وي. دا وړتیا\استعداد ورو، ورو غوړېدلی شي. او که څوک ریاضت ونکړي ممکنه ده چې دا وړتیا وچه شي او هېڅ شي.

ګومان کوم که وړتیا د تخم یوه کوچنۍ دانه وي، یوازې او یوازې په زده کړه، مطالعه، جدي ګټلو او ریاضت دا دانه ثمر ته رسیدلی شي. که دا دانه نه وي ریاضت داسې دی لکه په بې تخمه پټي چې اوبه لګوې. که هر څه کوښښ وشي چې څه کرل شوي نه وي نه شنه کېږي. خو مازې دانه هم وي وپالل شي حتما ګل کوي.

**فاطمه اعظم:**

زما په نظر دا خبره به په کیسه او شاعرۍ کې یو شان نه وي. کیسه لیکل څومره چې لیکل ډېر وکړو او ډېرې کیسې ولولو کولای سو یو ښه کیسه لیکوال اوسو خو په شاعرۍ کې ممکن داسې نه وي. تر یوه حده ځکه شاعري یو الهام دی چې تاته درځي او شاعري د زور کار نه دی چې ته ووایې زه دې موضوع په اړه شعر لیکم ممکن ولیکې خو هغه خوند او شوق چې په خپله شعر کې انځور کولای سې هغه به نه وي ځکه دلته شاعري محدوده سوه تا شاعرۍ ته چوکاټ جوړ کړ.

د ځینو کره کتونکو په وینا چې هر کله اصول زده کړو کولای سو ښه شاعري او لیکوالي وکړو ممکن تر یوه ځایه سم وي. موږ وایو چې په یوې برخې کې که کوښښ وکړو شاید یوه ښه پایله ولري خو دا خبره په شاعرۍ کې نسو تطبیق کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کیسه لیکلو کې اصول قواعد ډېر زیات اړین دي. موږ چې د کیسو لیکلو اصول زده کړو په ډېرې اسانۍ سره کولای سو کیسې ولیکو څکه موږ یې مسیر پیدا کړ خو په شاعرۍ کې باورې نه یمه. ځنګه مې چې پورته یادونه وکړ چې هر څه اصول لري همداسې شاعري هم یکې شامله ده خو ما ډېر داسې خلک لیدلي او ګورم چې د شاعرۍ له اصولو به اصلا خبر نه وي دوی به حتی په دې هم نه پوهېږي چې قافیه، ردیف، ردف... یانې څه خو کله چې شعرونه لولو ګورو به زبردسته شاعري به یې کړې وي او دا هم امکان لري چې د شاعري اصول زده کړو او یو ښه شعر ولرو.

**لیمه ودان:**

زما په اند د نثر د ښه کېدو لپاره تمرین مهم دی؛ خو په لومړي سر کې باید اصول او قاعدې زده کړو. دا سمه ده چې موږ د ښه نثر د لیکلو لپاره باید دوامداره لیکل وکړو؛ خو که یوه نه شو چې د ښه نثر ځانګړني څه دي یا د ښه نثر لیکلو لپاره باید کومو ټکو ته پام وکړو؛ نو څنګه به ښه نثر ولیکو!؟

باشو ویلي: د شعر ټول تخنیکونه زده کړه، بیا ټول هېر کړه، بیا شاعري کوه. دا خبره یوازې د شاعرانو لپاره نه ده؛ بلکې د کیسه لیکوالو او د تخلیقي ادب د نورو ژانرونو د لیکوالانو لپاره هم لارښوونه ده. د اصولو زده کول څکه ضروري دي، چې موږ د خپلې لیکنې خامیو ته متوجه کوي او د نورو لیکوالانو له تجربو مو هم خبروي.

په پای کې باید ووایم، چې زما په نظر نثر په تمرین او مطالعه ښه کېږي.

د امریکایي ناولیست ویلیم فاکنر خبره ده: ولوله، ولوله او ولوله. هر څه ولوله، بې کاره لیکل، کلاسیک ادب، ښه او بد هر څه ولوله او وګوره چې څرنګه لیکل شوي. لکه ترکاڼ چې اول یې زده کوي او بیا ترکاڼي کوي. ولوله چې هضم یې کړې بیا لیکل کوه.

زه وایم مطالعه خو د هر چا لپاره اړینه ده؛ خو څوک چې لیکل کوي، هغه یې نو پرته له لوستلو نه شي شل کولی.

هغه وایي چې په اصطلاح بې‌کاره کتاب/لیکنه هم د دې ارزښت لري چې یو ځل ولوستل شي. زه وایم که کتاب یا لیکنه ښه وي، ښېګڼو ته به یې ځیر شو، ترې زده به یې کړو؛ خو که بې‌کاره لیکنه هم وي، موږ یې خامیو او ستونزو ته ځیر کېږو، په خپلو لیکنو کې یې ښایي تکرار نه کړو.

**شفیقه خپلواک:**

دا بحث جالب روان دی. دې پوهنتون کې چې زه یم د یو سمستر لپاره یې جاپاني لیکوال هاروکي موراکمي راغوښتی و. ده سره څو سیمنیارونه د ده په ځینو لنډو کیسو و. د ده کیسې به ټولو لوستې بیا به یې هغلته له لیکوال سره بحث پرې کاوه. یو څه ته چې زه په دې ناستو کې متوجه شوم دا و چې کله، کله به لوستونکو د ده کیسې ډېرې ژورې لوستې وې او ځینې تصویرونه او کلیمات به یې په سمبولونو اخیستي و ژور به یې تشریح کړل خو لیکوال به بیا ویل چې ګوندې دی دې مسلې ته نه و متوجه چې ولې یې دا یاد کړي. دا همداسې ترې شوي. مثلا د ده یوه وروستی کیسه چې بحث پرې وشو په بنکاک کې لیکل شوې. ده وویل چې هغه ځای ته یې بیخي سفر نه دی کړی خو ډېر ښه یې ترسیم کړی و. په دې کیسه کې چې کرکټره خپل میړه ته د غچ او انتقام فکر لري او حتا دعا کوي زلزله کې مړ شوی وي (فکر کوم ۱۹۹۵ کې په جاپان کې ډېره بده زلزله وشوه) دې کیسه کې دا کرکټره دوه خوبونهویني: یوه خوب کې سوی په خوب ویني بل خوب کې مار په خوب ویني. ما چې موراکمي د دې خوبونو په اړه وپوښت راته وویل چې ده هېڅ فکر نه دی پرې کړی همداسې یې یاد کړي. د سوی په اړه نیوهېږم خو مار په هغه کیسه کې ډېر مانادار راغلی و. یو کرکجنه ښځه چې یوازې په انتقام فکر کوي مار په خوب چې مار خپله یو خطرناک ځناور دی عجیب و. د موراکمي له دې ناستو چې یو څه ته زه متوجه شوم دا و چې کله کوم لیکوال یا لیکواله، شاعر یا شاعره پخه اړیکه له لا-شعور سره ولري یا یې هم عقل، پوهه، تجربه او تخیل پوخ شوی وي بیا خپله په خپله ځیني خبرې ترې کېږي چې ښآیي کله یې دوی لیکي ډېر یې ورته پام نه وي. نو په دې حساب انسان دا هم ویلی شي چې احساسول، تجربې او له لا-شعور سره پخه اړیکه لرل ښایي د لیکوالی او شاعرۍ لپاره یو له مهمو تهدابونو وي. ممکن انسان د ښو تصویرونو جوړولو تومنه ولري خو تصویر ته معنی له لا-شعور، احساس، تجربې او پوهې راځي. ممکن یو څوک ډېره پوهه ولري خو د پوهې هنري کیدل بیا عاطفي، درد او استعداد ته اړتیا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شپېه ګهېځ:**

زما په اند کیسه لیکنه او شعر لیکنه دواړه اسانه کار نه دی. دواړه خورا عالي ذوق او ذهانت ته اړتیا لري. اول به کیسه لیکنې په اړه ووایم. د فاطمې ګلې د خبرو په تایید کیسه لیکوال/ه ډېر دې ته باید پام ولري چې پیل منځ د عروج ځای او پای په کیسه کې مراعت شي؛ یعنې هغه قالب د کیسې ته یې باید برابر کړي. دلته په منځ کې که لفاظي وکړي لا به کیسه خوندوره شي. دا په ډېرو لوستلو هم زده کیدای شي.

کیسه لیکنه په ریاضت قوی کیدا شي خو شعر لیکل د کوښښ کار نه دی ځکه که شپه تر سهاره یا سهار تر شپې څوک کښیني او ووایي چې کوښښ کوم شعر ولیکم؛ نو یوازې به یې الفاظ یو د بل تر څنګ برابر کړی وي کیدا شي وزن به هم ورته برابر کړی خو د شعر جوړېدو تمه ترې نه شي کېدای. د شعر په هکله دا هم وایم زما په اند هم شعر الهام او مخیل کلام دی. له درونډ شاعر سره مې مرکه وه؛ نو هغوی د شعر په هکله داسې راته وویل « شعر یو الهي ډالۍ او اسماني الهام دی؛ یو شهاب دی چې کله کله د خیال او عاطفې به اسمان کې ځلېږي او زیات دوام نه کوي. هغه څوک چې له دغه شغلې څراغ بلوي، د ژبې وجود کې روح ورکوي شاعر دی.» سمه ده شاعري کې هم قاعدې او قالبونه شته خو که قالب او قاعدې ته په شعر کې پام وشي بیا نو کوم اغیز چې باید ولري هغه هیر شوی. زه وایم په شاعری کې چې څومره اصول زده شي بیا شعر ولیکل شي هومره به شعر له خوند څخه پاتې وي؛ ځکه تل به دې ته پام وشي چې کوم ځای غلط دی، یا هم وزن خراب شوی او یا قافیه پاتې ده. موږ لیدلي یا یې ګورو هغوی چې لا د شعر له اصولو الف او ب هم نه دي زده داسې شاعري کوي چې هغه کسان چې د شعر اصولو په هکله کتابونه لیکلي نه یې شي لیکلی. د ښه شعر لپاره اصول نه بلکې د شاعر عاطفي احساس اړین او خوند زیاتوونکي توکي دي؛ خو د کیسه لیکنې په برخې له عاطفي احساس سره قاعدې زده کول اړین دی.

خپلې خبرې داسې راټولومه چې نه هر موزون کلام شعر دی او نه هر عاطفي کلام شعر وي.

**نرګس سهاک:**

استعداد او ریاضت د زنځیر هغه تړل شوې کړۍ دي چې په یوازې ځان د موجودیت اغیز یې یوازې ځان پورې محدود کېدلای شي او بس! مطلب دا چې یو څوک که استعداد ولري نو د لیکوالۍ او شاعرۍ یو رمز ورسره شته او که ریاضت هم ورسره ملګری شي نو دوه رمزه ورسره دي، همداسې که عاطفه، لوړ احساس د پدیدو د درک وړتیا، لفاظي، انځورګري، خیال ورسره ملګري وي نو دا په دې مانا شوه چې ده سره د جادوګرۍ ټول هغه مدارک شته کوم چې دی یې په مرسته کولای شي د لوستونکو په ذهن، زړه او ژوند جادو وکړي او په هغه باندې خپل تاثر پرېږدي. پرته له استعداده به یو کس ممکن د ادب د قواعدو په رڼا کې څه ولیکي اما دا لیکنه به کم رنګه وي او دومره کشش به ونلري څومره چې ترې تمه کیږي، ځکه چې دوی لیکني ته نه وي جوړ او داسې وچ کلک لګیا وي ته به وایې لکه په جبر چې چا پرې لیکلې وي، استعداد د اوبو هغه چینه ده چې څومره پرې لاس وهې خپل اصلي رنګ، جوش او خروش راښیې، مونږ د ډېرو داسې شاعرانو دلیکنو او شعرونو شاهدان یو چې د بېلابیلو مسلکونو خاوندان دي خو په ادب کې یې هڅې دومره پیاوړي دي چې اصلا باور نشو کولای چې ګنې دا شعر یا دا کیسه دې ده جناب ډاکټر یا انجینیر صیب تخلیق کړې وي او دا شاهدي مونږ په دې باوري کوي چې استعداد هغه ذاتي او فطري ښکلا ده چې د ریاضت، تکرار او تمرین او ډېرې مطالعې سره یې ځلا او ښکلا نوره هم زیاتیږي. یو بل څه چې زه یې یادول اړین ګڼم هغه دا چې هر څه چې غواړئ ولیکئ؛ نو ولیکئ یې په دې پسې مه ګرځئ چې ګنې دا ستونزې لري له ستونزو سره یې ولیکئ او هرومرو یې ولیکئ د کاروان صیب خبره د شعر ښاپیرۍ ناهیلي کوئ مه، ځکه چې که یو ځل مو پرېښوده بیا که څومره هم فکر آرامه کړې او ګوښې ځای ته لاړه شې د قواعدو او ګرامري اصولو پیروي وکړې په قافیو او د شعر په جوړښت دې فکر وکړې بیاهم ته یې نشې لیکلی ځکه چې هرڅه درسره وي خو ښاپیرۍ نه وي، الهام نه وي. ویې لیکه سره له ټولو ستونزه څه چې قلم دې انځورول غواړي انځور یې کړه خو دا هم مه هېروه چې بیا بیا یې ولوله او ټولې هغه ستونزې یې راسمې کړه کوم چې دا لیکنه یې بې خونده کړې ترڅو چې ستا لیکنه ستا ذوق خړوب نکړي نو همداسې یې مه پرېږده. ډاډه اوسه څه چې تاته خوند درنکړي هغه به هیچاته هم خوند ورنکړي مطلب خپل د وړتیا غمې دې د ریاضت او تمرین په مرسته دومره صیقل کړه چې تاته یې ځلېدل له ورایه ښکاره شي.

ولوله، ځیر شه، فکر وکړه، ته تر هغه ډېره پیاوړې یې چې فکر یې کوې ته تر هغه څه دلیکلو لوړه وړتیا لرې کومه چې په ځان کې یې وینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هیله پسرلی:**
استعداد ممکن په موږ یوه نیمه ښه کیسه ولیکي خو په کیسه لیکوالي مو نه بدلوي. فکر کوم موږ ټول باید پر خپلو استعدادونو فکر وکړو، ویې پالو، ویې روزو او د خپل سبک په ځانګړنو یې بدل کړو. مثلا، یو څوک ممکن له اولې ورځې لا د ډیالوګ په لیکلو کې ښه وي خو که په دې برخه کې لا ډېر دقت ونکړي، د لویو لیکوالو محاورې بیا بیا مطالعه نکړي، د نقد له اصولو ځان خبر نکړي، فکر نه کوم چې د ډیالوګ لیکلو دا طبیعي استعداد دې یې په هنر بدل شي. استعداد په ابتدا کې داسې دی لکه په ډبره کې غمی، دا لوی بخت دی چې په لاس کې مو داسې ډبره شته چې غمی لري. خو که غواړو چې دا غمی مو په کیسه کې وځلیږي بیا نو باید د ډبرې د تراښلو زحمت ته غاړه کیږدو.

د داستان د تخنیکونو او د نقد د اوصولو زدکړه د کیسه لیکوالې کار اسانه کوي. ځینې لیکوال ممکن ووایي چې د کره کتنې اصول د کاڼي کرښې نه دي، خپل خلاقیت باید د اصولو په زندان کې بندي نکړو. زه فکر کوم ادبي اصول داسې وي لکه څراغ، څراغ موږ ته دا نه وایي چې په کومه لار روان شو بلکې په کومه لار چې روان یوو هغه راته روښانه کوي. د لویو کیسه لیکوالو له اثارو ډېر داسې لوی او کوچیني تخنیکونه زده کیدای شي چې خپلې کیسې پرې پخې کړو.

د کلونو اوښتو په یو شي پوهه کړم، هغه لیکوال چې د اډبت هنر یې زده دی بختور دي. د ځان اډبت سخته وي مثل دی وایي خپل عیب د ولې مینځ وي. تازه لیکل شوی اثر په انسان ګران وي عاطفي اړیکه ورسره لري او ممکن عیبونو ته یې پام نشي. د اډېټ په زور یو څوک ممکن خپله متوسطه کیسه په ښې کیسې بدله کړي. اډېټ طبعا حوصله، زحمت او دقت غواړي.

## د ماشومتوب تاثیر پر لیکلو / بحث (۲)

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر، د وتس اپ په چټ کې پر ادبي مسایلو بحثونه پیل کړې دي. دلته د دې لړۍ دوهم د بحث لوستلی شئ.

**شفیقه خپلواک:**
زه څو ورځې وړاندې د امریکایی شاعرې ایملي ډیکنسن کور ته چې اوس موزیم دی تللې وم. ایملي د ډسمبر په لسمه کال ۱۸۳۰ ز کې د مسچوستس ایالات په امریست ښار کې زیږیدلې وه. د ۵۵ کلونو په عمر وفات شوه. یو څه چې ماته جالب و د دې ماشومتوب و. مثلا یو کار چې دې کاوه د ګلانو راټولول و او بیا به یې هغوی ته نومونه موندل. فکر کوم دا کار د ښوونځي لخوا پرې کیده. زموږ په تېرو بحثونو کې د ګلانو یادونه وشوه چې زموږ په شاعرۍ کې څومره کم او تکرار دي.

بل د کتابونو لوستل و. د ایملي کورنۍ له اقتصادي اړخ ډېره ښه وه. دوی د هغه وخت په حساب نسبتا لوی کتابتون کور کې درلود. دې ډېر زیات کتابونه لوستل او ځینې یې د شاعرۍ د پوخوالي دلیل هم همدا بولي.

د ورجنیا وولف د ناولونو (To the Lighthouse, Jacob’s room) په اړه ویل کیږي چې د ماشومتوب خاطرې یې دي. یا پرې دې هغوی برلاسی سیورې دی. داسې ښایي ډېر نور مثالونه هم وي. نو زما پوښتنه داده چې څومره د ماشومتوب خاطرې، تجربې، پیښې، زده کړې او تصویرونه پر اثر تاثیر لري؟ فکر کوئ که ماشومتوب مو متفاوت و اوس به مو لیکل هم بدل و؟ کوم ځانګړې اغیز یې محسوسوئ؟

**نویده خوشبو:**
دا په لویدیځ کې مهمه او د پام وړ موضوع ده. د ماشومتوب تجربې د ژوند په ټولو پړاونو او چارو مستقیم اغېز لري. په عادتونو او خصلتونو، فکر او لیک په ټوله کې د انسان کرکټر او شخصیت د ماشومتوب له پیښنو رنګ اخلي.

**درخانۍ:**
د خاطرو لیکل زموږ پر لیکنو مستقیمه اغیزه لري. ما ځینې خاطرې لیکلې دي اوس چې یې کله لولم زما لپاره په زړه پورې او جالبه وي. زه له کوچینوالي ناول او کیسو سره علاقه لرم. تل به مې ناولونه له راډیو اوریدل او خپله مې هم د کیسې لیکلو هڅه کړې ده. ما له کوچینوالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه هغه ورځپانې، مجلې، کتاب او کتابچه نه دي غورځولي چې پلار به مې د لوستلو لپاره راته راوړل. لومړی کیسه مې نه ده په یاد چې لوستې مې ده، خو یوه کیسه مې په یاد ده چې زه پوهېږم په کوم سن کې لیکلې ده. د هغې کیسې د کرکټر نوم تلوسه ده. څه وخت مخکې هغه کیسه په مخه راغله. جالبه راته دا وه چې اوس زما د مشرې لور نوم هم تلوسه ده. زما کوچنیوالی که له نورو سره ډېر توپیر ونه لري څه نا څه توپیر خو لري. زه ډېر وخت کیسه او خپل نثر کې هغه څه لیکم چې خپله مې لیدلي وي. زما په اند د ماشومتوب خاطرې او پیښې زموږ له لیکنو سره مرسته کوي چې له نورو څخه توپیر ولري.

**میمونه کامران:**

ادیب او لیکوال ته د کوچینوالي د ټولنیز او فردي ژوند تاثیرات او تجربې پاتې وي. نو په لیکنو کې یې راڅرخوي، د ژبې په جامه کې یې پټوي، د تخیل په رنګ یې رنګینوي او ټولني ته یې د یو ګلالي اثر په توګه سپاري. لیکوال/ لیکواله هڅه کوي چې هغه څه وپنځوي چې د ژوند ارزښتونه یې پکې نغښتي وي، نو دا چې د کوچینوالي له تجربو او خاطرو څخه څه لري، اختیاري او غیر اختیاري یې په خپلو پنځونو کې راوړي او یا ترې متاثره کیږي.

زه چې خپل ماشومتوب ته ګورم نو باوري یم چې زما پر لیکنو ډېر اثر لري، تل مې زړه غواړي د کوچنیوالي هغه صحنې په لیکنه کې راوړم چې بیا تکرار به یې زما په ژوند کې ناممکن وي. شخصا فکر کوم چې ماشومتوب دوره یوه ارزښتمنه دوره ده، چې ډېر څه له ځان سره لري او لیکوال هم تل هڅه کوي چې یو ارزښت ورته پاتې شي.

**ملاله کلیواله:**

ماشومتوب مې د لوړو غرونو منځ کې، په شنو باغونو او د شنو روانو سرشاره ویالو ترڅنګ، د غونډیو په معطرو لمنوو، د طبعیت په ښکلو رنګونو کې تېر شوی. دې ښکلاوو او کلیوال ژوند، د ماشومتوب خوږو خاطرو، زما په شاعرۍ پوره اغیز کړی. زما په شاعرۍ کې اوس هم د هماغه خړ کلي، شنې ویالې، د چنچنو زمزمې، د پیغلو د ډوډۍ د پخولو ټپا، د کوچنیو سیرلکیو بغ بوغ او له ختو د جوړه شویو وړو، وړو کوټنو انځورونه شته.

**ځولی لمن:**

ماشومتوب، ټولنه او ماحول چې مونږ پکې پایېږو یوازې په ادب نه بلکې د ژوند په هره برخه خوارا اغیز لرلی شي. کله کله مې ذهن ته شوخ شعر راشي، خو د لیکلو جرات یې نه کوم که چېرته یې یوازې ځان سره نوټ کړم هم یو ډول د ملامتیا او شرم احساس کوم، ځکه چې له ډیر وړکتوبه، په خپل جېلکتوب او احساساتو یا ځورول شوې یوو یا ملامتې شوې یوو.

په افغانه ټولنه کې چې د ماشوم احساساتو ته ډېره پاملرنه نه کیږي، ډېرې لیکوالې یا شاعرانې ممکن له خپل ماشومتوبه ښې خاطرې و نه لري. ښایي دوی هغه وړې وړې پیښې چې د دوی ذهنونه یې ژوبل کړي دي په شعر کې ځای پر ځای کوي او خپله رنځور شوې روح تر یو حده پرې رغولی.

**شفیقه خپلواک:**

ستا دې تبصرې ماته د جولین بارنس برتانوي لیکوال یوه تبصره رایاده کړه، دی وایي:

«ښایي لس یا یولس کلن به وم چې له مور سره په بس کې ناست وم. ما سر بله پسې بېلابېل نظریات وړاندې کول. بې له دې چې ځان سانسور کړم په یوه خبره پسې مې بله کوله. مور مې راته وویل: چې ته ډېر خیالي یې.

دا خبره یې جدي او یو ډول تعرضي وه. ښه راباندې ونه لګېدله. زما د ماشومتوب کلیدي خاطره د تشویق، هڅونې او دا چې مخکې د تګ لار ووینم نه وه، بلکې د غندنې او هغه وختونو دي چې راته ویل کېدل ځینې شیان ونکړم او سترګې پرې پټې کړم. د هر لیکوال لپاره ښایي دا متفاوت وي ښایي چا کوم مهربان کاکا لرلی وي چې په ماشومتوب کې یې په کتابتون کې د منډو اجازه لا ورکړې وي. خو زما لپاره داسې نه و. زموږ په کور کې طبعا کتابونه و، زما مور او پلار دواړه د ښوونځي معلمان و نو د کتابونو کمی نه و. خو زموږ کور کې فضا داسې وه چې موږ له هغو کسانو نه یوو چې کتاب لیکلی شو، بلکې کتابونه نور خلک لیکي. زما د لیکوال کیدو په پروسه کې بېلابېل عناصر و خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو له مهمو عناصرو دا و چې زه مې د خپلې مور پر وړاندې بغاوت وکړم. ما غوښتل مور ته مې وښیم چې تخیل بې ځایه څه نه دی. ما غوښتل مور ته مې ثابته کړم چې په ماشومتوب کې کنترولول د لیکوالي په هنر بدلیدای شي. ما غوښتل ورته وښیم چې ته په غلطه یې. ما چې خپل لومړی ناول چاپ کړ د مور به مې حتما د بس پیښنه هېره شوې وې خو زه یې د هغې غندنې منندویه یم.»

**شبېه ګهیځ:**

ماشومتوب دوره د انسان هغه دوره چې ډېر څه به یې هیر وي لړ څه به یادېږي. یعني داسې وواېو که چېرې یو انسان دغه دوره په خوشحالۍ تېره کړې وي ډېر څه به یې یاد نه وي؛ خو خدای مه کړه چې یو انسان دې دغه دوره په محرومیت کې تېره کړې. دا محرومیت که له هر څه، له زده کړو محروم، له مینې محروم، له خوب لېدلو یا هم له هیله لرلو محروم او په ټوله کې د ژوند له هر هغه خواړه چې باید یو ماشوم یې ولري محروم. یا هم دا چې بدې پېښې یې د ژوند ډېره تجربه کړې وي.

کله چې پر یو لیکوال/ه دغسې د محرومیت دوره تېره شوې وي په اثارو کې؛ که هغه شعر وي یا نثر اغېز یې ډېر لیدل کېږي. تل به دا هڅه کوي چې هغه څه انځور کړي چې ده پر خپله لیدلی یا حس کړی. نړۍ ته به هم له همغه زوایې ګوري. برعکس که چا د ماشومتوب ښه دوره تېره کړې وي کېدای شي اثار یې تر دې بلې ډلې توپیر ولري. لید به یې نړۍ ته له بلې زاویې وي.

زموږ په اثارو کې په ځانګړي ډول کیسو کې تل له بې عدالتي، د ښځمنو حقوق پښنو لاندې کېدل او داسې ډېر څه نور پکې راځي. برعکس هغوی که خپلو اثارو پیل کې ناکامې راوړي وروسته له دغو ناکامیو بریا او له مثبتو پیغامونو ډک اثار وړاندې کوي. دا ځکه چې محیط او ټولنې توپیر کوي.

په ټوله کې داسې ویلی شو چې ماشومتوب دوره او ټولنه د یو لیکوال یا شاعر په اثارو کې اغېزه لري. کېدای شي دا اغېز او حالت ځینې په صریحو الفاظو بیان کړي؛ خو ځینې بیا له د یو بل د ژوند د ورته حالت په لیدلو او هغه مخاطب کولو په ډول بیان کړي.

**ځلا نور:**

ماشومتوب نه یوازې د ادیب په ژوند بلکې د ټولنې د هر وګړي په ژوند ژوره اغیزه لري. که چیرې په یوه ټولنه کې ماشومان ښه وروزل شي نو دا ټولنه به ډېر ښه راتلونکی ولري خو زموږ په ټولنه تر ټولو ډېر له ماشومانو سره تشدد او بد رفتار کېږي او ماشومان هم ډېر زر له پېښنو اغیزمن کیږي. زه ستاسو د ټولو غوندې له ماشومتوبه ښې خاطرې خو د ښو تر څنګ بدې هم لرم چې په ژوند مې ژورې اغیزې لري.

د انسان په لاشعور کې له ماشومتوبه ځینې صحنې ثبتېږي چې خینې یې په ښامارانو بدلېږي چې آن انسان مکمل په ښامار بدلولی شي او یا هم په یو ضعیف او کمزوري انسان...

بله یې دا چې په ماشومتوب کې خیال ډېر فعال وي، چې په لوییني فعال خیال هنر رامنځته کوي او هنر ته لاره هواروي.

**فاطمه اعظم:**

زما په اند د کوچنیوالي پېښې او خاطرې د لیکوال پر اثارو مستقیمې اغېزې لري. یو ښه مثال د کافکا ور کولی شو. کافکا په یوې داسې کورنۍ کې زیږېدلی و چې په کورنۍ کې یې د عږو ترمنځ یو لړ ستونزې او ناخوالي تر سترګو کېدلې او دی په خپلې مور او پلار باندې ګران نه و. د دوی ترمنځ هغه د مور او پلار مینه له اولاد سره نه تر سترګو کېده.

د کافکا په اثارو کې د کوچینوالي د پېښو اثر ښکاره دی. د ماشومتوب د حوادثو سیوری په "مسخ" ناول او "پلار ته لیک" کې په ښکاره توګه لیدلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ په خپل ورځيني ژوند کې هم ګورو، د چا چې کوچینوالی په ښه توګه تېر شوی وي د ده کړنې او فکر له نورو خلکو سره توپیر لري. شاعر او لیکوال هم د کوچنیوالي له ښېښو خلاصون نه لري او په لاشعوري توګه د ده په اثارو کې تر سترګو کېږي.

**فرزانه زیار:**
د انسان د شخصیت لویه او مهمه برخه په ماشومتوب کې جوړیږي. د ماشومتوب دردونه تل او تل د انسان په زړه او ذهن کې وي هیڅ نه هیریږي او پر لیکنه ژوره اغیزه کوي.

**لیمه ودان:**
زموږ د ماشومتوب د وخت یوه برخه خاطرې زموږ په ذهن کې پاتې کېږي؛ خو طبیعي ده چې ډېره برخه یې زموږ له یاده وځي. دا تېرې هېرې خاطرې زموږ په لاشعور کې پاتې کېږي. مثلا: زه په درې کلنۍ کې له یوې پېښې سره مخ شوې وم، چې په لوی‌والي مې بیخي په یاد نه ده؛ خو بیا هم ښايي په خوب کې همغسې پېښه ووینم.دا پېښه زما په ذهن کې شته خو زما هېره ده.

زموږ د ذهن هغه موضوعات چې هېر مو دي هغه زموږ لاشعور دی او د ذهن هغه محتویات چې زموږ په یاد دي هغه مو شعور دی. د لاشعور ژبه سمبولیکه وي، ښه بېلګه یې خوبونه دي، لکه موږ کله داسې خوبونه وینو چې په ریښتیني ژوند کې نه مانا ترې اخیستی شو او نه منطق لري. د دې دلیل دا دی چې د لاشعور ژبه د سمبولونو ژبه ده.ادبیات معمولا زموږ همدا هېرې خاطرې دي.

په پای کې باید ووایم، چې موږ له خپلو تېرو هېرو خاطرو او تجربو خلاصېدی نه شو، هغه مو په خوبونو کې راځي، هغه مو په ادبیاتو او شعرونو کې راځي

**ګلالۍ مومند:**
زما د مالوماتو له مخې د ماشومتوب خاطرې او تجربې د لیکوالانو او شاعرانو لپاره د الهام سرچینه وي. که یو ماشوم په خپله مورنۍ ژبه په ماشومتوب کې مکمل حاکمیت ولري هغه د نورو په نسبت په ډېر ښکلي طرز د خپلو افکارو او احساساتو بیان کولی شي. د یو ماشوم په ازاده توګه د لوبو کولو او تصور کولو وړتیا کولی شي شاعران او لیکوالان وهڅوي چې نوي نظرونه وپيژني، غیر روایتی لیدونه واخلي، نوې او اصیلې کیسې او شعرونه رامنځته کړي، یعنې د تخیل او خلاقیت وړتیا لري. په ماشومتوب کې غمجنې پېښې، د کورنۍ شرایط او ټولنیز چاپیریال کولی شي د شاعر یا لیکوال په احساساتو، افکارو او نړۍ لید باندې خپله نښه پرېږدي. دا خبرې کولی شي د دوی په کار کې یو ځانګړی موضوع یا یو ځانګړی غږ رامنځته کړي.

**نرګس سهاک:**
انسان چې هغه نومونه په ماشومتوب کې زده کوي، کله یې هم نه هېریږي. هغه خوبونه او خیالونه چې په ماشومتوب کې ګوري د هغه د ټولو کړنو، پلانونو، اهدافونو او فعالیتونو بنسټ هم هماغه جوړوي.

که یو انسان له ماشومتوب څخه د خپل فکر د بیانولو موقع ترلاسه کړي نو هغه به بیا هیڅکله د بل چا په فکر پسې لاړ نشي، که هغه ته د خبرو او د خپل نظر د ارایې حق ورکړل شو بیا به دغه کس د هیچا نظر ته بې احترامي ونکړي. همداسې یې برعکس درواخلئ منفي کړنې، عقدې، منفي فکرونه د ماشومتوب د محرومیتونو څخه سرچینه اخلي. مونږ په ادبیاتو کې لیدلي دي چې په هرې هغې کورنۍ کې چې کتابونو سره ملګرتیا یې په تقسیم اوقات کې ځای په ځای شوې نو پرته له شکه چې دغه ماشومان د ادب په نړۍ کې ځلیدلي او د ماشومتوب ټولې مثبتې تجربې یې په نظم او نثر کې خوندي کړي، همداسې هغه لوی لیکوالان چې په ماشومتوب کې له خپلو حقونو څخه محروم شوي دي د هغوی لیکنې له ژوند څخه د ناهیلۍ پیغام لیږدوي آن کله کله خو داسې شوي چې دوی د ژوند په پای کې ځان وژنې ته اړ شوي دي ځکه چې د دوی د ماشومتوب تورې وریځې ددوی د ژوند له آسمان څخه هیڅکله نه دي لرې شوي او همداسې یې خپلې وزرې پر دوی باندې غوړولې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرزانه تره کي:**
بیشکه چې ټول عمر له ماشومتوبه رنګ اخیستی دی. ان تر دې چې د زړښت سپین تارونه مو هم د ماشومتوب له ارشیفه رنګیدلي دي.

یاد مې شي، کله کله به مې په کم عمر کې ډېرې لوبې وکړې. چې کله د هوښیارۍ بلې ته ورسیدو، څو ملګري مو پیدا کړل، چا راته وخندل، چا راته وژړل او چا راته ډېر داسې نور څه وویل ..نو چې کله په خلوت کې پر هغو ټولو خنداګانو او ژړاګانو فکر کوم ځان سره وایم که دا شیبې له نورو سره هم شریکې کړم، څنګه به وي؟ همدغه احساس دی چې لیکلو ته مې هڅوي.

**شفیقه خپلواک:**
ما ته دا پوښتنه د ایملي ډیکنسن (۱۸۸۶-۱۸۳۰) د موزیم له لیدو سره رایاد شوه. ایملي د انګریزي ژبې، په ځانګړې ډول د امریکا یو له خورا مهمو شاعرانو ده. د دې یوازې لس شعرونه د دې په ژوند چاپ شول، خو دې ټول په اوسط ډول ۱۸۰۰ شعرونه لیکلي. د ایملي پلار ایدوارډ ډیکنسن وکیل و او یو څه وخت د کانګرس غړی و. د ده نظریات د ښځو په اړه حتا د هغه وخت د خلکو له نظره هم ډېر سخت دریځي و. په ځانګړي ډول ایدوارد هېڅکله د ښځو د اثارو د چاپېدو پلوی نه و، ده یې تل د خپرېدو مخالفت کاوه. ده نه غوښتل ایملي او بله لور یې لوانیا ځینې کتابونه چې په کور کې و، وې لولي. د ایملي ورور، استن به ایملي ته هغه کتابونه چې پلار به یې له لوستلو منع کوله د پیانو په کونج کې پټول. ایملي په لومړیو کلونو کې نسبتا له کوره د باندې تګ راتګ کاوه، او ځینو کسانو ته به یې لیرې، لیرې لیکونه هم لیکل. په دې کې ډېر د هغه وخت لیکوالان او شاعران و. خو وروسته، وروسته ډېره ګوښه ګېره شوله. دې تر اخره واده ونکړ. ماشومتوب کې یې لاتین ژبه زده کړه. ایملي د خپل ښوونځي د همځولو تر منځ په تېزه ژبه مشهوره وه. دې به ډېرې خبرې کولې او ډېرې په جزییاتو. ایملي ډېر کتابونه لوستل، او ډېر وخت به یې بڼ کې تیراوه. د دې ګلانو انځورنه مې درولېږل چې ده به راشکول بیا به یې نومونه ورته موندل. د ایملي شاعري د خپل وخت له نورو شاعرانو متفاوته ده، امریکیان یې (اوریجنل) یا سوچه بولي. هم د سترکچر له اړخه او هم د موضوعاتو له لحاظه ایملي خپل جلا سبک وموند. ځیني د دې دلیل د ایملي په حساب محدود ژوند بولي، چې دا ډېره زیاته له ځان سره پاتې شوه. او خپل ځانته په سفر کولو، او خپل چاپیریال یې کې په پاتې کېدو یې هغه څه وپنځول چې نورو ښایي نشوای تصور کولی. د شعر په ایدیت یا اصلاح کولو کې ایملي یو عجیب عادت درلود. دې پرته د خپلې ورېنداري سوزان نه د بل چا خبره په ګرانه منله. له چا یې په شعر کې مشوره نه غوښته خو خپل اکثریت شعرونه یې ایدیت کړي. ځیني یې دا ډول شعرونه شته چې هېڅ وروستی بڼه نه لري. مثلا که دې به یو شعر ولیکه، یوه مشخصه کلیمه به یې په نښه کړه او د هغې معادل څلور، پنځه نورې کلیمې به یې ورسره ولیکلې. دا چې دې په پای کې کومه کلیمه خوښه کړې دا هېڅ معلومه نه ده. ځیني داسې شعرونه یې شته چې دې لس کاله وروسته یې ایدیت کړي. د ایملي د شعر پر پوخوالي د هغې مطالعې ډېر تاثیر درلود، چې دې له ورکتوب نه لرله. همدارنګه، ځیني استدلال کوي چې ښایي دا ټول چاپیرل بخصوص د پلار دریځ یې چې دا یې د یوې شاعرې په توګه په سختۍ منله له دې پخه شاعره جوړه کړې وي. د ایملي ماشومتوب کې د دوی شاوخوا ځیني کسان مړه شول، دې یې ځنازې په خپله ولیدې او دا تصویرونه د دې په شعر کې په بیا، بیا راغلي. ما د ایملي په اړه اوږده تبصره وکړه ځکه چې د موزیم له لیدو یې ما دا احساس کړه چې د دې پر شاعرۍ ښایي د دې ماشومتوب تاثیر و، بخصوص دا چې نه یې خپروله. زه فکر کوم د نه خپرولو یو لوی دلیل ممکن د دې پلار و چې حتا په دې اړه یې مقالې لیکلې او خپرولې چې د ښځو لیکنې باید خپرې نه شي. ایملي له مرګ مخکې خپلې خور لوانیا ته سپارښتنه وکړه چې شاعري یې وسوځوي، خو هغې چاپ ته ولېږله.

ما په خپله پوښتنه کې د برتانوۍ لیکوالې ورجینیا وولف (۱۹۴۱-۱۸۸۲) د دوه کتابونو نومونه هم یاد کړي چې په غالب ګومان د دې د ماشومتوب تاثیر پرې ډېر دی. ورجنیا خورا حساسه وه. د دوی کورنۍ به هر اوړی په برتانیا کې کارنویل ته رخصتۍ ته تللې. دا د ورجنیا د ژوند تر ټولو خوشحاله شېبې وې او د دې ناول (To the Lighthouse) پر همدې لیکل شوی. دا د یوې کورنۍ کیسه ده چې وروسته پکې مور مري، زوی په لومړۍ نړیواله جګړه کې ومري او لور د زېږون پر وخت. ورجنیا د خپلې مور، پلار، ورور او میرنۍ خور له مړینې وروسته یو ځای لیکي:( ولې زه دومره ډېره او لاعلاجه په کارنویل میینه یم؟ د یو چا تېر، البته همداسې به وي. ماشومان وینم چې په باغ کې منډې وهي. په شپه کې د سیند غږ... د ژوند تقریبا څلویښت کاله مې پر همدې ولاړ دي، همدا پکې خپاره دي، او ډېر زیات نور چې زه یې نشم تشریح کولی.)

دې دا کتاب د مور د مړینې په ۲۳م تلین په ۱۹۲۷ کې خپور کړ. او د ۱۹۲۸ کال کې خپلې ډایرۍ کې یې لیکلي و: (د مور او پلار په اړه مې هره ورځ فکر کاوه، خو د (رڼا کور ته) په لیکلو کې مې ذهن کې حک شول. د دوی په اړه لیکل ضروري کار و.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې بل ناول د The Jacob's Room تر یوه بریده د دې ورور د مړینې په اړه دی. خو دې یې کیسه اوږده کړې او کرکټر یې په جګړه کې مړ وي.

فرانسوي شاعر ګیراد نروال (۱۸۵۵-۱۸۰۸) په خپلو مشهور شعرونو کې ځای، ځای خپل ماشومتوب ته سفر کړی. د ده پر ناول ګوتې سیلویا د ده د ماشومتوب فضا حاکمه ده، حتا ځینې کرکټرونه د ده د وړکتوب پېژندوی خلک و.

شاعر، لیکوال او نقاد ټي. ایس ایلیټ (۱۹۶۵-۱۸۸۸) پر دې باور و چې شاعر او شعر مطلق بېل دي. د ده په باور د شاعر ژوند او د شعر هېڅ اړیکه نه سره لري. خو د ده په ځینو شعرونو کې بیا هم د ماشومتوب او ژوند تاثیرات لیدل کېږي. د ده مشهور اثر(Four Quartets) څلور شعرونه دي چې ده بېلابېل لیکلي و خو چې کله بشپړل شول ده ته ښکاره شوه چې دوی سره ورته دي، او بالاخره یوه لړۍ غونډې شوه. د دې لړۍ د دریم شعر نوم (The Dry Salvages) دی. دا نوم شاعر خپله په یاداښت کې تشریح کړی چې معنی یې د کیپ ان، مسچوسټس بحر پر غاړه د ډبرو یو غونډاری دی. ایلیټ خپل ماشومتوب هغلته تېر و. په بېلابېلو نورو ځایونو کې داسې شیان او ځایونه یادوي چې د ده د ماشومتوب تصویرونه دي، هغو ځایونو کې یې چې لوبې کړې او ګرځیدلی. هغه خلک چې لیدلي یې دي او راشه درشه یې ورسره لرله. مثلا شاهي ګلاب، چې د ده پلار به کرل.

زه کله، کله ځان سره وایم چې که ما ماشومتوب په کلي کې نه وای تېر کړی ایا ما به شعر لیکلی شوای کنه؟ په کلي کې د ماشومتوب ګټه دا وه چې زه بیخي ډېره له طبیعت سره نږدې وم. دا اوس زه ښایي سمندر ووینم خو هغسې مې تصویر په ذهن کې نه پاتې کېږي لکه ماشومتوب کې چې مې د لښتيډ اوبو تصویر دی. د پولو په څنډو واړه ګلان، د شوتلې بوی، د سنځلې د ګل وږم، د مارغانو راتګ او په بلې ناسته... په ژمي کې چې به یخ په ښیښه ګلان جوړ و، ستوري او په ماښام کې د کلا له بلې د چینارونو د سیورو انځور... زما په شاعرۍ کې که د تصویر کوم روح وي هغه به زما د ماشومتوب د همدې وخت وي. زه د ایلیټ غونډې نشم کولی ووایم چې په مطلق ډول شعر له شاعر/ې بیل دی. زه فکر کوم چې شعر یا کیسه زموږ د روح، خوبونو، تخیل، عواطفو، ذهن، حافظې او لاشعور هغه میوه ده چې ثمر ته رسیدلې، له ونې باید وشکول شي او ننداري ته وړاندې شي. که داسې نه شوه، خپله به لوېږي او ضایع کېږي. ماته شعر د حافظې او تخیل سفر دی، چې په اوس کې کېږي، تېر ته ستنېږي او د راتلونکي پر لور روانېږي. چېرې مې لوستي و چې شعر د فردي تجربې زېږنده دی، خو اړیکې یې له ټولو سره دي. معنی دا چې د یو چا فردي تجربه د نورو ډېرو د تجربې برخه ده او ترې بېله نه ده. همدا د هنر کمال دی، چې ته ځانته سفر وکړې چې بالاخره بل هر څوک ستا د هنر په هنداره کې خپل ځان ویني. خپله تجربه، خپل تخیل، خپل تېر، خپل اوس او راتلونکې ترسیم کړي. د ایلیټ دا خبره د کانې کرښه ده چې شعر باید د شاعر د ژوند له زوایې ونه لوستل شي، او نه هم د شاعر د ژوند په تله وتلل وشي. زما په نظر اثر خپله ژوندی موجود دی، خپله کیسه لري. خپل شناخت لري. خپل روح لري. خپل لوری لري. او دا ازادي یې د یو چا د خاطرو، عواطفو، او تخیل د مزل پر مټ تر لاسه کړی. کټ مټ لکه پخه منه، چې له ونې بېله ده. په خپل ذات کې د خپلو خواصو، خوند، ګټې او ضرر څښتنه ده، خو دې هر څه ته د ونې په زور رسیدلې. که څوک د منې په اړه تحلیل کوي، هېڅ اړتیا نه شته د ونې حالت ور ازوي، خو له دې هېڅکله انکار نه کېږي چې د دې ونې حالت به د منې په نمو او رنګ تاثیر نه وي لرلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر / کره کتنه

تېره یکشنبه، د ۱۴۰۲ل کال د غبرګولي په ۲۱مه، اغلې امنې فنا د ''کړکۍ'' په نوم نظم د افغان ښځو په انلاین ادبي بهیر کې کره کتنې ته وړاندې کړ. پر شعر کره کتنه او بحث اوږد شو، د بهیر غړو وپتیله چې په یوه جلا لیکنه کې یې خپور کړي. په دې لیکنه کې د امنې فنا نظم او پر دې شعر کره کتنه لولستلی شئ.

**یوه کړکۍ**

*نن مې هغه لارې تولې وترلې*

*هغه لارې، چې تر تا وې رسېدلې*

*هغه لارې چې د عشق تر انتها وې رسېدلې*

*نن مې ښه لویه ډبره په زړه کېښوه*

*نن مې ستا د عشق کیسه نیمګړې پرېښوه*

*نن مې ځان پسې آن ور د کوټې کولپ کړ*

*خو*

*یوه کړکۍ لا پاتې*

*ها چې ستا کړکۍ ته مخامخ وتلې*

*که څه هم سپینه پرده دې مدام کش وي*

*خو دا اوس چې نمیه شپه ده ماته ښکارې*

*د پردې تر شا دې سیورې شم لیدلی*

*چې پر کوچ باندې تر څنګ د کړکۍ ناست یې*

*او پر میز دې درته شمعې لګولې*

*د شین چای پیاله دې مخ ته سره شوې*

*ماته ښکارې*

*تا کتاب مخ ته نیولی*

*له سترپا او بې خوبۍ دې*

*سترګې سرې لکه شفق دي*

*خدای خبر چې څه به لولې*

*زما سترګو کې دې اوښکې*

*د کتاب توري سم نه شم لیدلی*

*زه یم دلته*

*خو حواس مې تول له تا سره ملګري*

*څه تیاره او چوپه شپه ده*

*یوه پاڼه هم رپ نه کړي*

*مرغکۍ کراره ځاله کې ویده ده*

*او پیشو د ونې ډډې ته پرته ده*

(c) ketabton.com: The Digital Library



*رڼې سترګې یې ځلیږي*

*لکه دوه غمې ښکاریږي*

*ما مې تور ټیکری له ولو راچاپیر دی*

*او په اوښکو لوند پلو مې*

*په غاښونو کې ټوک ټوک دی*

*له کړکې دې سترګې نه شم اړولی*

*ستا د عطرو خوشبوي راباندې لګي*

*زړه مې سرو لمبو کې سوزي*

*ستا د شمعو به هم اوس وروستی سلګۍ وي*

*پر پالنګ به درته ناسته*

*د خوبونو ناوکۍ وي*

*زه هم نوره خپلو اوښکو کې ډوبیږم*

*ستا له شمعو سره یو ځای فنا کیږم.*

**ځلا نور:**
شعر په ډېر هنر لیکل شوی دی. نوی فکر، نوي تشبیهات او نوي سیمبولونه پکې کارول شوي.

لومړی نوم: د شعر نوم ښکلی ټاکل شوی دی. لوستونکي ته هر څه له همدې یوه کړکۍ ورښودل کیږي، یوه کړکۍ چې موږ یې د ټړلو توان نه لرو.

د شعر راوی غواړي چې زړه له خپل مینن څخه صبر کړي او پر زړه د صبر غټه تیږه کیږدي، خو تیږه کمزورې ده، د دې زړه نشي لاندې کولی، ان په دې جبر سره یوه داسې کړکۍ ورته خلاصیږي، چې نردې ټول حواس یې ورسره په فوق العاده توګه فعالیږي. چې د مینن مخته اېښې د شنو چایو پیاله ویني، سوړوالی یې حس کولی شي، د سترګو رنګ یې ویني، د عطرو بوی یې تر شامې رارسي...

تشبیې: په دې شعر کې تشبیې ډېرې په هنر او منطقي کارول شوي دي، مثلاً د مینن د سترګو رنګ له شفق سره تشبیه کول په دې په زړه پورې ده، چې د مینن سترګې یې په اسمان کې دي، د میز پر سر شمعې نشي لیدلی، د سپینې پردې څخه آ خوا چې څه تیریږي دی یې نه ویني، له دې څخه دا هم زده کولی شو، چې جبر د انسان مقاومت څو برابره زیاتوي.

پخلاکېدونکی تضاد: په دې شعر کې چې ډېر په زړه پورې دی، هغه (پخلاکېدونکی تضاد) دی، دا چې دوه میینان دي خو په خپلو کې یې یو داسې تضاد رامنځته شوی چې غواړي د ده په لور ټولې دروازې وتړي...خو یوه کړکۍ د دې دا هڅه ناکاموي. همدې ته په لېدو په شعر کې متضادې تشبیې کارول شوي، لکه: د مینن د کړکۍ سپینه پرده، د دې پر ولو تور ټیکری، مرغۍ، پېښو، تیاره شپه او شمعې.

تور ټیکری پر ولو پروت او پلو یې پر غاښونو ټوک ټوک کېدل هم ډېر جالب دي، ټیکری له سره غورځېدل، په پښتنو کې ښه نه ګڼل کیږي اومین یې د سر ټیکری ګڼل کیږي او د ټیکري پلو هم که د چا سر په پیڅه راشي، پښتنې ښځې یې په ښه پال نیسي، یانې کور ته یې یار یا ډېر نږدې کس راځي، په دې شعر کې د ټیکري پلو په غاښونو ټوک ټوک شوی دی، یانې دا تمه یې نشته چې د دې کلپ کوټې ته دې څوک راشي او ټیکري ته هم تور رنګ انتخاب شوی دی، چې د غم او خواشینې نښه یا سیمبول دی او د مینن د کړکۍ پرده سپینه چې د ژوند سېمبول ګڼل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېين پر وړاندې مېز باندې ځو شمعې نورې هم بلېږي او (د شعر راوی) يې ويني چې د دې غوندې ويلي کېږي، مګر د مېين هيڅ ورته پام نه دی، هغه په سرو شفقي سترګو خپل کتاب ته ګوري چې تورې او کلمې يې دا په اوښکلنو سترګو نشي ليدلی، دې ته نه ښکاري چې ځه پکې دي، خو دومره پوهېږي چې د دې کتاب پاڼو د ده له سترګو ويلي کېدونکې شمعې پنا کړې دي...

په دې شعر کې بله خوبي دا چې ټول ياد شوي څيزونه چې له مَيني (راوی) سره تشبيه شوي دي، مونث راغلي دي، لکه پر مېز ايښې پياله، د ونې ډډې ته پرته پيشو، په ځاله کې مرغۍ....

او د مېين سره تړلي شيان بيا پرته له سپينې پردې مذکر راغلي دي، لکه: کتاب، شفق، پالنګ، مېز، کوچ...

په دې شعر کې اصلاً دوې کړکۍ دي، يوه يې د مېين بله د دې له لورې، چې د دې له لورې کړکۍ څخه يوازې د حواسو راوتلي وړانګې ښکاري، نوره خاموشه او ساکنه ده او بل په دې شعر کې مکمله خاموشي پرته ده، په خاموشو شعرونو کې بايد لفظونو ته هم پاملرنه وشي، داسې الفاظ بايد غوره شي چې خاموشي ترسيم کړي، چې په دې شعر کې ځينې ځايونو کې ورته کمه پاملرنه شوې ده.

په دې شعر ډېرې خبرې کېدای شي، خدای دې د امنې پنا د شعر څوارلسمه سپوږمۍ نه پنا کوي. امين

**هيله پسرلی:**
نظم راټول او کامل دی، لکه يوه روغه کيسه. تصويرونه يې ژوندي او روښانه دي. د دې نظم کريکټرونه د يوې ښې کيسې دکريکټرونو غوندې د لوستونکو سترګو ته درېږي.

نظم د مخاطب په هکله راته وايي، پر کوچ باندې د کړکۍ تر څنګ ناست دی. پر مېز يې شمعې لګولي. په پياله کې يې شين چای سوړشوی. کتاب لولي او له ستړيا يې سترګې سرې دي. شاعره، راوي راته داسې انځوروي: "ما مې تور تيکری له ولو راچاپېر دی // په اوښکو لوند پلو مې، په غاښونو کې ټوک ټوک دی." د مرغکۍ او پيشو کريکټرونه هم واضح راغلي دي.

د نظم فرعي کريکټرونه ( مرغکۍ او پيشو) نه يوازې فضا انځوروي بلکې د اصلي کريکټرونو پر کيسې (راوي او مخاطب) يو ډول لنډ اوسيمبوليک تاکيد هم کوي. مرغه لکه د شعر مخاطب بې خبره په خپله ځاله کې دی. پيشو لکه راوي هغه ونې ته پرته ده چې د مرغه ځاله پکې ده. مرغه په اسمان کې، پيشو پر ځمکه، مرغه ازاد، پيشو لکه راز..

د شعر هر بند بشپړ دی. د نظم ټولې برخې کلمات، تصويرونه، فضا، موسيقي.. د شعر د احساس په خدمت کې دي. دا شعر د وزن يا خيال تر اثر لاندې اضافات نلري. موسيقي يې عالي ده.

د دې شعر کيسه د انسان د ټول ژوند کيسه هم بللای شو چې د واقعيت او ارزو تر منځ د کشمکش يو بې پايه داستان دی. داسې کيسه چې په اميد پيلېږي او نااميدي غواړي ختمه يې کړي خو تر نااميدي يو زورور قوت يعنې ژوند غواړي ادامه ومومي. دا نظم دې پښتو شعرته مبارک وي او آمنه دې راته ژوندۍ وي.

**ميمونه کامران:**
د فنا جانې نظم ډېر عالي دی. په دې نظم کې عاطفه هره خبره بدرګه کوي او عاطفه په داسې يو انداز کارول شوې چې ځانګړې جذابيت لري.

الفاظ يې ډېر فصيح او روان دي او شاعرې چې خپل ځان په ډېره ښه توګه په خپل خيال کې ترسيم کړی، خيال يې لوړ ده او دا خپله يو کمال دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځای ته یې مناسب لفظ انتخاب کړی او تسلسل یې ډېر ښه ساتلی دی. هغه څه چې له زړه پیدا کېږي او په زړه تاثیر کوي معمولي خبره نه ده. هر څومره چې یو شعر له ژوندانه سره ارتباط ولري همغومره علاقمندي ورسره زیاتیږي، او د فناجانې نظم دغه ځانګړتیا لري. دې د نظم ښایست او معصومیت په ډېره ښه توګه ساتلی.

**شپېه ګهیځ:**
د فنا شاعري بیشکه چې باید وستایل شي؛ که داسې ووایو چې په ځوانو شاعرانو کې د نویو استعارو او نادرو تشبهاتو شاعره ده مبالغه به نه وي.

راځو دغه شعر ته یې:

دغه شعر انځوریزه ژبه لري هر لفظ منظم کارول شوی. ډېر ښه تشبیهات کارول شوي دي.

دا شعر داسې دی لکه یو څوک چې چا ته کیسه کوي. کیسه د داسې مینې ده، چې په ډېر نږدیوالي کې بیا هم له یوه بل څخه لرې دي. د دوو کړکیو تر منځ د دوو انسانانو اړیکه انځور شوې. یو هغه ده چې له لرې والي ځورېږي او بل هم د ناپامۍ اخري حد کې دی.

''نن مې ښه لویه ډېره په زړه کېښوه

نن مې ستا د عشق کیسه نیمګړې پرېښوه''

دلته شاعرې له هغې مینې نا امیده شوې ده چې زړه ورته درځېده. دغه نا امیدي په هرې هغې مینې کې لیدل کېږي، چې ورته د رسېدو وس نه لري.

او په اوښکو لوند پلو مې

په غاښونو کې ټوک ټوک دی

دا د یوې پښتنې پیغلې د بې وسۍ هغه اخري حد ښیي، چې له ناچارۍ اوښکې تویوي داسې اوښکې چې یوازې ځادر یې د دردونو شاهد دی او بس. په غاښونو ټوک ټوک بیا څومره طبیعي او ښه انځور شوی.

''له کړکۍ دې سترګې نه شم اړولی''

نیوهېړم تر دې وروسته دا شعر چې څومره لولم هومره مې خوښېږي. دلته فکر کوم له کړکۍ مطلب هغه مخ دی چې دا یې په کې ویني. له هغه مخ نه شي اړولی، د عطرو خوشبویي ورته رسېږي.

زه د فنا دغه وړتیا ته حیرانه یم هم په ازاد نظمونو هم غزل لیکلو کې فوق العاده استعداد لري. نو د فنا د شعر په هر انځور ډېر څه لیکل کېدای شي. فنا دې د ژوند په دې بهیر کې فنا نه شي. د پښتو شاعري دې لا وغوړېږي او نوي ګلان لکه فنا ولري.

**ملاله کلیواله:**
په نظم کې پیل، پای او یوه موضوع تر پایه تعقیبول ډېر مهم دي، امیني فنا نظم ډېر ښه پیل کړی او په ښه ډول پای ته رسولی، موضوع یې تر پایه پورې په ښه ډول تعقیب کړې ده ځانګړنې یې داده چې له ښځینه احساس، او عواطفوڅخه ډک دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ښه انځورونه يې وړاندې کړي، لکه، ''يوه پاڼه هم رپ نکړي. کله چې يو څوک خپه وي هرڅه ورته خپه ښکاري، نو دې ته طعيبت هم د ځان په حالات خواشينی او هر څه ورته ساکت ښکاري.

د امنې د لا بريا په هيله،

**نعيمه غني:**
د امنا فنا په شعر کې دوه متضاد حالاتونه دي چې په لومړي سر کې شاعره يوه کوټلې پريکړه کوي او له يوې رابطې څخه لاس اخلي چېدا د انسان د ذهن يا مغزو پرېکړه ده. ذهن تل د انسان په ګټه پريکړه کوي او نغواړي چې هغه ضرر ووينې. له دې پرېکړې وروسته يوه (خو) په شعر کې راځي او حالت بدلېږي چې دا د شاعرې د زړه پرېکړه ده. زړه يوه کړکی د رابطې په لور پرانيستې پرېږدي او غواړيچې په خپل مينن نظر ولري او هغه وڅاري.

په تصويرونو به نه غږيږم ځکه ټول ډېر ښکلي پرې وغږيدل راځم دې برخې ته چې شاعره د پردې تر شا يو څوک ويني چې ناست دی او کتاب لولي. تر هغې وروسته بيا وايي چې د چای رنګ دې بدل شوی او سوړ شوی دی او سترګې دې سرې دي.

دلته دوه حالته کيدای شي يو دا چې موږ يو کس له لېرې څارو چې په دې حالت کې بيا دا شيان ليدل ناممکن دي. دوهم حالت بيا دا ديچې موږ کله له يو چا سره دومره نېږدې حس لرو چې د هغه هر حالت لکه خندا، ژړا، تشويش د خپګان پر وخت د څېرې حالت او د سترګورنګ تر سترګو کېږي چې په دې حالت کې شاعرې په يوې کوچنی اشارې سره دا خبره کولای شوی او تسلسل يې هم ساتلی شوی.

د شعر په وروستی برخه کې شاعره وايي چې پلو يې په غاښونو ټوک ټوک دی او ژاړي. د اضطراب د حالت يو ښکلی ترسيم دی کله چېڅوک له ورته حالت سره مخ شي نو ځيني کسان نوکان ژوي، څوک له يو بل څه لکه خپل ټکری يا کله ويښتان تر غاښونو لاندې نيسي چې شاعرې هم ورته حالت تشريح کوي.

شاعره وايي چې زه ژاړم مطلب چې له خپلې اولې پريکړې څخه خوښه نده او زه دا د شاعرې د عمر له تقاضا سره دا مناسبه پريکړهبولم، درک کوم يې او ورسره خواخوږې يم. په ټوله کې د امنې فنا شعر يو ښکلی انځوريز او مکمل شعر دی.

لا دې بريالی اوسې.

**فاطمه اعظم:**
د اغلې امنې فنا شاعري عالي ده؛ ځکه دا تل کوښښ کوي نوي الفاظ، نوې استعارې او نوي تشبيهات وکاروي او دا کړنه يې د دې لامل شوې چې شاعري يې له نورو ځانګړې کړي.

په دې شعر کې يې لکه د نورو شعرونو په څېر نوي هنري الفاظ کارولي او دا الفاظ يې په ډېرې رنګينی سره کارولي دي.

د شعر ژبه يې روانه او فصيحه ده؛ په شعر کې د کلمو پر خپل ځای کارول يې ځانګړنه ده، دا شعر يې کيسه بيزه بڼه لري؛ کله چې ما داشعر د فنا له غږ څخه واورېده سم دستي ورسره انځور جوړ شو هر لفظ يې انځور درلوده.

په شعر کې انځورکښنه او خيال يې فوق العاده دی. په دې شعر کې چې زما يو څه ته پام شو هغه د نجلی اراده ده چې دې اراده کړې چې نور به خپل مينځ هېروي او زړه به صبروي، ممکن دا کار اسانه نه وي خو دا چې شاعرې د دې کار هڅه کړې دا د قوي نجلی ځانګړنه ده، او دا توانېدلې چې خپل زړه قانع کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ګورو په نظمونو او په نثرونو کې تل جلۍ مظلومه ده او تل پرې یوې خوا څخه ظلم شوی دی او دا تل پټه خوله پاتې شوې ده، دې موضوع تر یوه حده زموږ نظمونه او نثرونه له جذابیته ایستلي دي. دا موضوع او دا سوژه بیخي عادي او کلیشه شوې ده.

ځنګه چې زه سوچ کوم ممکن هر لوستونکی دا فکر وکړي، اوس حال داسې شعرونه او کیسې زما پام ځانه نشي اړولی ځکه زه پوهېږم مخکې له مخکې چې د تل په څېر نجلۍ مظلومه ده او قرباني ده، خو د فنا په دې شعر کې سوژه نوې او جذابه وه.

د امنې فنا شاعري دې تل رنګینه او تازه وي!

**فرزانه زیار:**
په شعر کې اهنګ ډېر ښه دی کله یې چې لولو پر غوږونو ښه لګیږي.

دلته د یوې نجلۍ هغه زړورتیا بیان شوې چې مغروره وي سره له دې چې زړه یې ځوریږي مګر په واضع خپله مینه نه څرګندوي او دا په ټوله کې د یوې پښتنې خاصیت وي.

د شعر سوژه هم له بلاغت نه ډکه ده، یعني له نوي عصر سره سم لیکل شوی؛ د نورو لارو ترلو نه ممکن موخه د ټولینیزو رسنیو بندول یا بلاک وي، بل د لوړو ودانیو ښه انځور کښنه پکې شوې.

له سترو تشبیهاتو او استعارو مالامال دی؛ لکه: په زړه ډېره اینسودل، سترګې سرې لکه شفق، د زړه په لمبو کې سوزیدل، د شمعو وروستی سلګۍ، د خوبونو ناوکی..ټوله کې ډېر ښه شعر دی.

وړاندیز :کاش چې نورې پښتنې تل د نرانو لپاره ماتیدونکي ونه ښایو. په خپلو لیکنو کې څرګنده کړو که مې ونه غواړې نه دې غواړم. که یې لیکلي وای ستا یادونه ستا له شمعې سره فنا کیږي لا به ښه وه.

**نرګس سهاک:**
د امنې د شعر ښکلا په دې کې ده چې له هر اړخ څخه د لوستونکي او اوریدونکي د ذوق سره سمه مانا ترې اخیستل کیږي، دا نظم هم یو بشپړ نظم دی ځکه چې پیل او پای او په منځ کې روانې پیښې په داسې توګه انځور شوي چې لوستونکی ځان سره بیایي او دا تګ او سفر تر پایه دوام مومي.

په دې نظم کې انځور جوړونه فوق العاده عالي ده. په دې نظم کې امنې هر څه له یوې کړکۍ څخه تشریح کړي دي، دا کړکۍ که څه هم ظاهر کې د ناامیدي، د صبریدو او د خدای په امانۍ په شکل انځور شوې خو تر شا یې د هیلو او امید ستره لاره ګنلای شو.

د سپینې پردې تر شا پر میز د شمعو اینسودل، د چا په انتظار کې د چایو د پیالې سړیدل، کتابونو کې ډوبیدل، د شفق په شانتې د سترګوسره کېدل دا انځورونه د ریښتینې نړۍ څومره خواږه او په زړه پورې انځورونه دي.

د دې هرڅه په ویلو لیکواله غواړي وښیي چې زه مخاطب سره د اړیکې، درک او د شناخت دومره نږدیوالی لرم چې دا لریوالی او دا پردې هم پرده نه ګڼم او دا هرڅه صفا صفا وینم او خپله سپینه پرده مطلب له صداقت او له اصل خودي څخه ده چې هرڅه هغومره ربښتیا لیدل کیږي څومره چې ربښتیا دي.

په ونه کې د مرغه ناسته، د ونې ډډې ته د پیشو ډډه وهل او د سترګو هغه ځلا یې څومره طبیعي، نوی، خوږ او ښکلی تصویر ده چې د چا په انتظار کې دا پیشو همداسې غلې غلې لاره څاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطلب په دې نظم کې شاعرې د تنهایی د دنیا ښکلې انځورګري کړې ده سربېره پردې چې دا هرڅه ختمول او له منځه وړل غواړي ځکه چې پرته له درد نه نور څه پکې نشته خو شاعره دغه خوږ درد زړه کې ساتل او پالل هم غواړي او دا خوږ درد د مینې درد دی.

شاعرانه احساس یې دومره پیاوړی ساتلی چې لوستونکی تراخره له ځانه سره ساتي. امنه جانه دې بریالۍ وي د ذهن او زړه دا کشمش یې تلپاتې چې همداسې ښکلي ښکلي شعرونه په مونږ راولوروي.

**سلما بدری:**
شعر عالی دی. پوره کیسه ده. پیل یې، منځ یې او غوټه یې هر څه عالي دي، سم لکه کیسه. زمان یې او مکان یې هم ښه انځور شوی. پوره تصویر سترګو ته دروي.

په پښتو ادب کې داسې شعرونه ډېر کم دي. څومره عالي خبره ده چې په دې سبک باندې شاعري وشي.

موږ دې نړدې تېرو وختونو کې د ډېرو داسې شعرونو شاهدان و چې اصلا مانا یې نه لرله یا به هم ټول د ځان ستایل و؛ چې نه یې پښتو ته ګټه رسوله نه هم ادبیاتو ته او نه هم داسې څه یې ژبې ته ښنل چې ګټور وي.

د هیلې پسرلی ارزونه مې بیخي ډېره خوښه شوه دا ځکه چې شعر یې د کیسې له اړخه وڅېړه، دا هم وړه خبره نه ده، داسې کره کتنې هم کمې دي.

زه د اغلې فنا د شاعرۍ تر تاثیر لاندې راغلې یم. ما چې کله له اغلې فنا څخه د دې د ژوند په اړه وپوښتل او ما د دې شاعري ولوسته دومره حیرانه شوم چې حد یې نشته. قلم دې یې روان وي. تل دې لکه لمر وځلیږي.

**ډاکټره  شریفه شریف:**
د امنې فنا شعر د یو ښه شعر ټولې ځانګړتیاوې چې زه یې په شعر کې لټوم، درلودې.

په شعر کې نوښت او د شعري توکونو تر منځ همغږي یا وحدانیت، د هر ښه شعر ځانګړتیا ده.

اول، ښکلا او خوند: د الفاظو غږیز ، انځوریز او د معناوو موزون ترکیبونه، ژبنی ښکلا ده چې په دې شعر کې شته.

دویم، انځور: انځورونه چې د شعر د محتوی او د هیله جاني خبره ، د شعر د کیسې سره همااهنګ او برابر اوسي، د شعر ښایست زیاتوي. په دې شعرکې د شپې انځور ، د شاعر د زړه د حالت انځور دی. د پیشو، ونې او د راوي انځورونه ټول د یوازیتوب او نهیلی سمبولونه دي او د شعر له کلیت سره مطابقت لري.

دریم، محتوا / کیسه / تیم: شعر د یوې ښځې لید لور لري .زموږ په ادبیاتو کې د ښځې د معمول ضعیفي او بې ارادې انځور پر خلاف، دې شعر کې  د ښځینه راوي د زړه او مینې واک د دې په لاس کې دی. پخپله د عقل او زړه په کړکیچ کې ، د عقل خوا نیسي او هوډ کوي چې خپلې مینې نه لاس واخلي. د شعر پیل د ښځې (شاعر) اراده او قوت ښیی.

په عین حال کې، دا مضمون په شعر کې نوښت دی. د مینې شعرونه معمولا د زاریو او د مینې " تر ابده نه هیرول" خبرې لري.

دا ښځینه قوي او واکمن لید لور، زموږ په شعرونو او کیسو کې هم نوی دی او هم اړین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم، غږ: (Voice) غږ چې تون هم ورته ویلی شو، په شعر او کیسه کې ډېر مهم دی. غږ د شعر د ژبې، کیسې یا محتوی او انځورونو سره پورته کیږي او باید یو له بل سره همغږی او وحدانیت ولري.

په دې شعر کې ، د زړه او عقل په کړکیچ کې د یوه راګیر شوي انسان غږ اوروح د عقلاني هوډ کولو اراده لري. خو شاعر انسانه ده او دا اراده ستونزمنه او دردونکې ده.

پر شعر باندې نقد ، ذوقي خبره ده. ماته نوښت خوند راکوي . د محتوا، د تشبیهاتو، استعارو، انځورونو او غږ...که څه هم په دې شعر کې د شمع کلمه او انځور ، د شعر د ټولو توکو سره همغږي لري، خو یوه ډېره کارول شوې کلمه او انځور دی.

د شعر پای د شاعر اوښکې تویول او د شمعې سره «فنا» کیدل ښکلی ترکیب دی، خو د شعر د پیل «غږ» سره همغږي نلري. په پیل کې شاعر واکمنه او په ځان باوري ده. په پای کې زموږ د ادبیاتو معموله ژړانده او «ګریوان لوند» مینه ده.

دا ښکلی انځوریز پای دی، خو که یوه جمله یا انځور پکې زیاتیده چې د پیل سره یې نښلول، ماته به یې ډېر خوند راکړی و. مثلا: پاس په اسمان کې ستوری یا د «سبا» فکر، یا کومه سمبولیکه اشاره/ د باران څاڅکې.

په ټوله کې شعر خوندور او ښکلی و.

**شفیقه خپلواک:**
په عموم کې نظم لکه کیسه داسې دی. د کرکټرونو، تصویرونو، فضا، سیمبولونو او حتا ممکن ډیالوګ په مټ به کیسه کوې. زموږ په اکثریت پښتو شاعري کې د نظم موضوع ورکه وي، تسلسل یې مات وي او چې پای ته ورسېږې نه به پوهېږې چې د شعر موضوع څه وه. خو د امنې په شعر کې دا ډېر ښایسته راغلي، امنه مقابل لوری را پیژني، ځان راپېژني او موضوع راته د انځورنو په مټ تشریح کوي. سپینه پرده ډېر جالب سیمبول دی، غني خان سپین د ریا رنګ بولي، موږ سپین زړه او سپینه خبره ښه بولو خو سپیني سترګې بدې. هندواني چې کونډې شي سپین کالي‌اغوندي، په ډېرو نورو کې ناوې سپین کمیس اغوندي، او سپین بیا کفن هم وي. سپینه پرده او تر شا یې تور سیوری ښایسته تضاد دی. خو د نعمې د خبرې په تایید چاته بیا له سپیني پردې ها خوا څه مستقیم نه ښکاري نو که شاعرې داسې ویلي وای چې (زه ګومان کوم.. یا رایادېږي، یا لکه هر وخت...) مطلب دا چې د تصور په مټ یې ویني. د نظم پای په دې خاطر حیرانوونکی نه و چې نجلۍ دې نه ژاړي، بلکې زه ګومان کوم دا د نظم د تخنیک په حساب ممکن یو څه ناځاپي وي. که شاعرې اخر کې داسې یوه خبره کړې وای چې زه لکه شمعې سوځوم خو په همدې رڼا لار وینم یا زه به اوښکو کې ډوبېږم خو ښایي داسې ځان موم دا تغیر به لا جالب و. زما په نظر شاعرې ته باید ونه ویل شي چې وژاړي که ونه ژاړي، بلکې هغه څه چې احساسوي باید وې لیکي. او د امنه به د شاعرې محکمه کلا په همدې جوړوي چې څومره خپلو احساساتو او زړه ته صادقه وي چې له نیکمرغه ده. د امنه جانې بل لوی کمال دا دی چې زده کړې ته یې د ذهن او زړه دروازه پرانیستي، او دا به یې د پښتو شعر سرداره کړي. دا دې لا بریالۍ وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر / راپور (۵) / میمونه کامران

**د غونډې ځای:** انلاین

**وخت:** د کابل پر وخت پینځه نیمې

**نېټه:** ۱٤۰۲ل /کال د جنګاښ ٤مه، د جون ۲۵مه

**وړاندې کوونکې:** ګلالۍ مومند

**راپور لیکونکې:** میمونه کامران

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د تل په څېر په خپل وخت پیل شو؛ خو دا ځل په دې توپیر چې ټوله غونډه اختر ته ځانګړې شوې وه. دې غونډې هم درې برخې درلودې: لومړۍ برخه د سیمو اختریز دودونه، دویمه برخه مشاعره او درېیمه برخه لنډۍ جنګې وه.

دا غونډه په اختریزو شېبو، مبارکیو، خوږو خاطرو، دودونو، شعرونو او لنډیو رنګینه وه. د یادې غونډې په لومړۍ برخه کې ګډونوالې د خپلو سیمو اړوند په اختریزو دودونو او خاطرو باندې داسې غږېدلې دي:

*اختر په وخت د ګلو راغی*

*زما نازک زړګی نه خبرې فریادونه*

**نرګس سهاک:**
هر ولایت ځانته ځانګړي دودونه لري، چې د هېواد په اکثرو ولایتونو کې یو ډول دي. خو ځیني کوچني سیمه ییز توپیرونه او فرهنګونه دي چې له یوې سیمې او یو ولایت تر بلې سیمې او بل ولایت توپیر لري.

زه به د کابل ولایت په اختریز دود نظر ورکړم. لومړی د اختر لپاره د چمتوالي دوره ده. چې د کور، جامو او مېوو چمتوالی نیسو. همدارنګه د اختر شپه چې ډېره ځانګړې ده، پدې شپه نکریزې د نجونو لپاره لویه شېبه او فرصت وي. چې ګومره هم ستومانتیاوې او کارونه ډېر وي، خو بیا هم نجونې دغې برخې ته ډېر وخت ورکوي، راټولیږي او غواړي د نکریزو په بهانه دغه شپه تر سبا رڼا کړي.

د اختر په ورځ موږ تر هغې اختر نکوو، تر څو ټول په دسترخوان را غونډ شي، د ټولې کورنۍ مشران کشران په دسترخوان د هیواد په ابادۍ، روغتیا، اتفاق، او د خوښۍ په خبرو باندې دعا پیلیږي. د مشرانو له ویناوو وروسته د اختر ځانګړي مراسم بشپړ کیږي. نارینه ټول چمتوالی نیسي جومات ته ځي. ښځې او نجونې د کور په کارونو، د مېوو او دسترخوان په تیارولو بوختې وي. کله چې نارینه له جومات راځي نو اختر پیلیږي. ټول یو بل ته د اختر مبارکي ورکوي، که د چا هر ډول خفکان په زړه کې وي دا یو اړخ ته ږدي او غواړي اختر په حقیقي بڼه ولمانځي. کشران په همدغه لومړي فرصت کې مشرانو ته ورځي. همدارنګه اناګاني، عمه ګانې، مشران ترونه او د قام مشرانو ته د کور په استازیتوب څو نفره ورځي. نجونې سینګار کوي، جامې اغوندي، ماشومان چمتو کوي.

یو څه چې کابل ولایت کې ډېر ورباندې تاکید کیږي، له اختر نه مخکې کوژده شویو نجونو ته اختری راوړل دي. چې په هغه کې د ناوې لپاره ځانګړې جامې، شال، نکریزې، د اختر میوه شامل وي. کوچنی محفل جوړوي، د اختري یا عیدي په بهانه راټولیږي. میوه یې کورنۍ په خپلوانو ویشي او ټولو ته وایي چې دا د فلانۍ جلکۍ عیدي وه. د اختر په ورځ بیا ټبرته زوم له خپلو خویندو، مور او ملګرو سره د ناوې کور ته راځي. په مقابل کې یې بیا دغه زوم او ورسره ټولو هلکانو ته جامې او له وچو میوو څخه جوړ شوي پاکټونه ورکوي. همدارنګه د زوم لپاره په ځانګړې ډول خجوري، پخې شوې کلچې او په رنګارنګ شکلونو ډیزاین جوش شوې هګۍ ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل دا چې هغه کورنۍ چې خفګانونه یې تر منځ را منځته سوي وي، له دغې موقع استفاده کوي، د پخلا کېدو غوښتنه کوي، عذر ته ورځي، پسونه ور وړي، که هر څومره هم خبره لویه وي، د اختر په برکت او روی ښتل کېږي. نو خدای د په هېواد کې تل داسې اخترونه راولي چې خلک یې له زړه په خوښی او رښتیني بڼه ولمانځي.

*ته د اختر په سهار راشه*

*زه به درووځم توري سترګې سره لاسونه*

**نسیمه باري:**
زه د جنوبي زون په خاصه توګه د هلمند او کندهار په اړه غږېږم. اختر ته اول چمتوالی نیسي، کور پاکاري کوي، هر څوک د خپل وس سره د کور پردې، بسترې او لوښي نوي کوي. همدارنګه نجونو او ماشومانو ته جامې، بنګړي، نکریزې چمتو کوي.

د اختر شپه په خوښی لمانځل کېږي. نجوني او ښځې په خپل منځ کې پلان جوړ کړي، د یوې کور ته ورسي او دغه شپه په خوشحالی او ځیني یې په سندرو باندې تېروي. د اختر په سهار کې ماشومان تیار سوي وي، پاک کالي یې په ځان وي، ماشومان یو بل کره مبارکي ته ځي. سهار وختي په کوڅو کلیو او کورونو کې د نکریزو بویونه وي.

نارینه د سهار لمانځه ته ځي. د سهار کاسه چې زموږ رواج ده، له ځان سره یې مسجد ته وړي. هلته چې خطبه وویل شي؛ بیا وروسته له خطبې د سهار کاسه چې وریجې وي یا هم شیربرنج هغه خوري. له هغه وروسته اختر مبارکي یو بل ته ورکوي. کورونو ته ستنېږي او زیاتره مشران هغه کسان چې وفات شوي وي د هغو زیارت ته ځي او دعا ورته کوي. په کور کې اختر مبارکي کوي. مشرانو ته ورځي. که د دوستانو کره مېلمستیا شوې وي، هلته ځي. که نه وي نو دوی له ځان سره مېلمانه راولي. چې د نارینه وو اختر تقریبا همداسې جوړېږي. نارینه میله او تفریح کوي، چې پدې میله کې هګۍ جنګول، غېږ نیول، په یو ځای را غونډېدل او باندارونه کوي.

د ښځو اختر په دربیمه شروع کېږي. یو بل ته داختر د ډوډۍ مېلمستیا کوي. یو د بل کورونو کې د ډوډۍ په پلمه د اختر ورځ لمانځي. کله دشپې ورځې هلته باندار کوي، غزلې او سندرې وایي. هېره دې نه وي، موږ د اختر جوړه یا د اختر د پوش په نامه هم لرو. هغه نجوني چې نامزد وي، د خسرخیلو له خوا دوی ته د اختر پوش یا جوړه راوړل کېږي. دوستان او خپلوان را خبرېږي.

په کندهار کې چې شیریخ ډېر مشهور وي، ښځو ته شیریخ ورکول کېږي. بیا چې ژمی وي فالوده ورکول کېږي. ناوې په ارایشګاه کې جوړېږي. ښځو ته یې را باسي. تقریبا ټوله ورځ یا ټوله شپه له ماښام څخه تر نیمو شپو مېله وي. د نجونو سندرې، غزلې او اتنونه وي. همدا ډول یې د ناوې له لوري زوم ته ور وړي. ټول دوستان او خپلوان راټولوي. زوم راولي، ګوته او ورغوی ور سور کوي. او هغه میوه چې ورته راوړي وي هغه ټولو خپلوانو ته ویشي. چې دا د پلانکي د اختر میوه ده، تاسې هم خوله په خوږه کړئ.

*اختره څومره بختور یې*

*چې دوه یاران یو بل ته غېږې ورکوینه*

**درخانی:**
دلته په کندهار کې چې کوچنیان کله د همسایه ګانو مشرانو ته د اختر مبارکي لپاره ورځي، البته په لرو پرتو سیمو کې کوچنیانو ته کشمش او نخود د اختر په مبارکۍ کې ورکول کېږي. ځیني چې په ښارونو کې دي هغوی بیا کوچنیانو ته د اختر په مبارکۍ کې پیسې ورکوي.

ممکن ټولې خویندې په ماشومتوب کې د نکریزو څخه خاطرې ولري. زما یوه جالبه خاطره دا ده چې کله به مې مور د اختر نکریزې راته وکړې، ټوله شپه به مې همدا خوبونه لیدل چې سهار را کینو، زموږ لاسونو رنګ نه وي اخستی او لاسونه مو همداسې سپین پاتې وي. خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سهار به را کېناستم اول به مې خپل لاسونه او پښې کتل چې رنګ یې اخستی ده کنا؛ خو چې رنګ به یې اخستی وو ډېره به خوشحاله وم. کله به چې خامې وې، نو مور ته به مې ویل دویم ځل نکریزې کوم چې خامې دي.

کندهار کې ورځ په ورځ نکریزو کې تغیرات راغلي دي. زما په کوچنیوالی کې به یی نکریزو ته یو ډول سلوشن کاروو. چې په هغه سلوشن به یې نقشونه جوړ کړه او نکریزې به یې په کېښودې. نکریزې به هماغه ډول راغلل. خو اوس تر ډېره نکریزې یوازې په پښو کېښودل کېږي. په لاسو نقشونه اچول کېږي. خو د نکریزې رواج او مینه په خپل ځای پاتې ده هیڅوک یې نه پرېږدي.

*اختره څنګه به خوشحال شم*

*چې مې په زړه پراته دلی دلی غمونه*

**ګلالی مومند:**
ډېره مننه درخانی جانې! فکر کوم چې دغه د نکریزو تشویش د ټولو کوچنیو وو. دغه ته ورته خاطره زه هم لرم. اختر کې به چې مور راته نکریزې کېښودې، نو دا ډول به یې کېښودې چې نکریزې به مو په موټي کې ونیول. کله به مو چې موټی خلاص کړ، په ورغوي کې به سپیني کرښې راغلي. یعني هغو ځایونو به رنګ نه وو اخستی. خو ما به ټوله شپه له دې غمه خوب نه درلود، چې که زه په خوب کې موټی خلاص کړم نو دغه سپیني کرښې به ړنګې شي، بل ډېر لوی تشویش مې دا وو چې ښه که لاس خلاص کړم، وې مینځم او نکریزو رنګ نه وي اخستی بیا به څه کووم. یعني دا د کوچینوالي ډېره خوږه خاطره ده، چې ټول یې لرو.

*د اختر ورځ ده خوشالي ده*

*یار مې مېلمه دی د زړه غوښې ورکومه*

**فرزانه تره کي:**
زه به د خپل زېږد ځای یعني غزني ښار د اختریز دود په اړوند له تاسي سره وغږېږم. د غزني ولایت زیاتره دودونه له نورو سیمو سره ورته والی لري. او ځیني دودونه یې ځانګړي دي. څو ورځې مخکې د اختر لپاره چمتوالی نیول کېږي. ښځې د اطاقو دیوالو او برنډې چې موږ ورته په خپله لهجه کې چوترې ورته وایو په خاورو را سپینوي. زموږ په سیمه ییز لهجه ورته اشوکول وایی. ټول دېوالونه او چوترې اشوکوي.

زموږ په سیمه کې د اختر لپاره له ختو څخه وړې ګلدانیاني جوړوي. په هغه کې ځیني شنه بوټي او ګلان کري. او د کور مېرمنې هماغه ګلدانی په چرمو، مریو او اینو سره ډیزاین کوي.

د کور مشران د ښځو او ماشومانو د کالیو لپاره ټوټې اخلي. د کورنی ټول غړي ځانونو ته جامې جوړوي. نارینه د جامو تر څنګ نوې خولی، لونګی واسکټ او لوی څادرونه جوړوي. ښځې بیا په لاس جوړ کړي ټیکري، جامې او غاړې جوړوي.

پېغلې خپل لاسونه د ګوتو تر اخري بندونو پورې په نکریزو سرې کوي. که چېرته یې یې نیمایي ګوتې سرې کړې وي او نیمې پاتې وي، نو بیا د پېغلو تر منځ داسې پېغورېږي، چې ښایي نکریزې یې کمې راوړې وي یا یې هیڅ نه وي راوړې. او تر څنګ یې کوژدن شوې پېغلې د خپلې خسرګنی لپاره ډالی چمتو کوي، چې په خپل لاس یې چمتو کړې وي. یعني مېړه ته په لاس کړی یخن ، خسر لپاره جامې، لېوره ته په لاس کړی څادر، ایندرور او خواښې ته جامې جوړې کړې وي. لستوني او ګنډونه یې تیار شوي وي، چې زموږ په لهجه کې ورته د ولو او ګرېوانو جامې وایي. دا جامې په چرمو، زرتارو، مریو، د وون په تارونو، خامک او په بیلابیو ګلدوزیو سره ګنډل کېږي. له ځان سره یې ړدي، تر هغه وخته چې خسرګنی یې هم اختری ورته راوړي. خسرګنی یې په اختریزه ډالی کې د نجلی لپاره په لاس جوړ شوې څو جوړه جامې، د سینکار توکې، نکریزې، بنګړي، رانجه او داسې نور راوړي. دواړه خواوې خپلې ډالی په ځانګړو دستمالو کې چې نخود، کشمش، په اور سره کړي غنم او چاکلیټ دي غوټه کوي. یو او بل ته یې ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اختر په سهار د کورنیو له غړو څخه یوازې ښځې مخکې له لمانځه څخه راپاڅېږي. تنورونه اچوي، کورنی کلچې، فریني، مربا او چای تیاروي. هګۍ جوشوي، غنم داني سرې کوي. ترڅو چې ښځې له خپلو کارونو را خلاصيږي. ښځې په کورونو او نارینه په جوماتونو کې لمونځونه ادا کوي. د لمانځه وروسته ټول اختر مبارکي سره کوي. ځینې خلک د اختر لمانځه وروسته دنږدې خپلوانو قبرونو ته ځي بېرته جوماتونو ته را ستنيږي. یو عمومي دسترخوان هواریږي. له کور څخه چې هر څه چمتو شوي وي جومات ته وړل کېږی. وروسته خپلو کورونو ته ځي. اختر مبارکي کوي.

په ځانګړو سیمو کې ځوانان مېلې کوي. غېږې نیسي، نېزه بازي کوي، ډولونه وهي، او اتنونه کوي. ماشومان بیا چامغز جنګي، هګۍ جنګي، خوسی او بېډۍ کوي. بېډۍ یوه لوبه ده چې توشلو ته ورته کېږي. وړې ماشوماني ډلې ډلې کورونو ته ځي، چې په اختري کې دسمالونه ورکول کېږي. چې په هغه کې مېوه لکه نخود، کشمش، چاکلېټ او د سره کړو غنمو داني وي چې موږ ورته نیني وایو. پېغلې بنګړي اچوي، رنګارنګ کالي اغوندي او په لاسو جوړ کړي چوټي ګلان ویښتو کې بندوي او سینګار کوي. ډله ډله کورونو ته ځي، اختر لمانځي.

د ښځو اختر په درېیمه پیلیږي، مېلمستیاوې کوي، د څو کورو ښځې په یو کور کې راټولیږي، چمبې وهي او اختر لمانځي. دا چې نرۍ د بدلون په حال کې ده، په همدې تړاو د پخوا په پرتله په وروستیو کلونو کې په دودونو کې بدلون راغلی ده. پخوا به پېغلو تر اخري بنده ګوتې سرې کولې خو اوس په لاس نقشونه اچوي. او ښځې یوازې میلمستیاوو ته ځي، چمبې نه وهي.

*اختر ته ځکه خوشالیږم*

*چې مرور جانان به ما پخلا کوینه*

**میمونه کامران:**
زه به د خپلې سیمې پکتیا ولایت د اختریزو دودونو په اړوند ډېره لنډه وغږیږم. مخکې له دې چې اختر سي، د اخر په شپه د څو کورو غړي په خپلو کې سره را ټولیږي او د اختر د کولو لپاره سره تصمیم نیسي. دغه د اختر د کولو اصطلاح څخه هدف د اختر لمانځل دي، په داسي ډول چې په کومه ورځ به د کوم کور د اختر وار وي، نو هغه کور به مړی کوي. او د نورو کورونو غړي به ټول لوی واړه ښځینه او نارینه ورځي، اختر به ورکره کوي. که چېرته کورونه ډېر وي، کولای سي یوه ورځ دوه یا هم درې کوره وي. په نوبت به یو ځل به د یو کره مړۍ خوري، بیا له همدې فامیل سره یو ځای دویم کور ته ځي او له دې وروسته ټول درېیم کور ته ځي، که څه هم مړۍ یې خوړلې وي خو اختر ورکره کوي.

چې د اختر په درېیو ورځو کې همدا ډول دوی اخترونه سره کوي. کله چې اختر سي؛ سهار وختي مشران جومات ته ځي، له هر کور څخه جومات ته چای وړل کېږي. د کلي مشران، ځوانان او ماشومان یو له بله ښایسته جامې اغوندي، په جومات راټولیږي. یو ځای، د یو چت لاندې، او په یو سترخوان د اختر چای چکي. وروسته د اختر د لمانځه په اداکولو سره په خپلو منځو کې د اختر مبارکي کوي. که په خپله کورنی او یا خپلوانو کې کې یې څوک وفات شوي وي، هدیرې ته ورځي، دعا ورته کوي او بېرته خپلو کورونو ته را ستنیږي. د کور مشرانو او نورو غړو ته د اختر مبارکي ورکوي. ماشومان کور په کور ګرځي، اختر مبارکي کوي. هغه کورونه په بدل کې د اختر مېوه ورکوي. چې نخود، کشمش، چارمغز او پلي پکې شامل وي. د هر چا چې اختر وو، په هغه ورځ به مړی د هغه په کور کې خوړل کېږي. خورلني سره راټولیږي بنډارونه کوي، ورځ په خوښی تېروي او همدا ډول د کور ولا خورلنو او مېلمنو ته هم د اختر مېوه ورکوي. مشران د خېښانو او دوستانو کره ځي، اختر مبارکي کوي. ځوانان په چکر ځي. په ټوله کې اختر په مینه، خوښیو، چکرونو او بنډارونو سره لمانځي.

*اختر په بل وطن کې راغی*

*لکه بې مالکې ډوډۍ خوند نه را کوینه*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عابده سپوږمی:**

دلته بهرنيو هېوادونو کې لس فيصده هم هغه خوشحالي نشته، کومه چې په خپل هيواد کې ده. په سر کې به د قرباني په اړه دومره ووايم چې مسافرو خو دغه اختر وي چې خپلې سيمې يا خپلې کورنی ته چې په هېواد کې دي، نغدې پيسې ليږي. او ورته وايي چې موږ هم په قرباني درسره شريک کړئ. دلته د اختر په ورځ که چېرې له نېکه مرغه داسې تصادف برابر شي چې رخصتي وي او اختر د رخصتی په ورځ راشي نو يو اختر دوه اختره شي. او که رخصتي نه وه نو بيا فکر نکوم اختر هاغسې وي چې د کور ټول غړي دې سره را ټول اوسي. د اختر اوله، دويمه او درېيمه دلته په حساب کې نه راځي. هغه ورځ چې رخصتي راغلې وي نو اختر دی. که نه وي نو کولای شي، د اختر په ځلورمه ټول اختر د اولې ورځې په شان ولمانځي.

بل دا چې د مېلمه تګ راتګ دلته نه وي خو بيا هم لکه يو دود چې چاته پاتې وي، له اختر مخکې کورونه پاک کېږي. او د اختر په شپه د اختر مېوه يا هم د اختر دسترخوان هوارېږي. او بل دلته چې کومې افغاني ټولنې دي له اختر څخه څو ورځې وړاندې پلان نيسي. د اختر په ورځ سره راټولېږی، دا ورځ سره لمانځي. چې مشاعره، اختريزې او ټپې موسيقي پکې وي. بيا هم اختر په خپله سيمه او خپل هېواد کې اختر دی.

*اختره تل تر تله اوسې*

*چې د بېلتون په کور تر مرګه وي ويرونه*

**ځولی لمن:**

خوست کې خو زما تر ماشومتوبه د ميرګن (ميرګند) دود وو، چې تنکيو ځوانانو به مياشت مخکې د کيکر، سپنګورو ونې، او اغزي له ټولولو وروسته په کورونو کې جمعه کول تر څو يې د اختر په شپه د کلي ميدان منځ کې سره يو ځای او اور ورکړي. ياد مې شي چې د اور لمبو ته به هلکانو ټوپونه وهل، ځوانانو به اتڼونه کولې او مونږ نابلغه نجونو به چې موټو کې لمدې نکريزې نيولې وې ، له دوی لږ اې خوا اختريزې سندرې زمزمه کولې. د اختر لپاره معمول دا وو چې ټولې واده شوې لونې، خويندې به پلارګنی کره راتلې او په يوه کور کې به له پيغلو سره را ټولې شوې نکريزې به يې لګولې .ياد مې شي چې اخترونو کې به غرمنی له عادي ورځو وخته تيارېدو، په ميوو زيږې وريژې ( ډنډکی) کنډک مستې او د غوا زيړ غوړيو به بېل خوند وو. پيغلې به له غرمنی وروسته په نوي جامو او ښې سينګار شوې ډول، زيارتونو ته تللې. دا تګ به د دعا يا زيارت کولو په موخه نه وو، بلکې يوه ميله غونډې بلل کيده. خو اوس خبرېږم چې ميرګن، او زيارتونو ته تګ ډيری خلک د زردشتيانو دود او بدعت ګڼي، چې ورو ورو په ورکيدو دی. بل هغه څه چې ممکن له نورو سيمو زمونږه بدل وي، دا وو چې مونږ يوازې کوژدن شوې جيلکۍ او زوم ته د برخې وړلو دود نه لرو، بلکې په اخترونو کې د نوي زوم «زوم ګيري » هم اړينه وي، چې په دې کې هلک په اول وار د خسر کور ته ځي ، زما د ادې خبره چې د خسر کره يې ايلا پښه ور ماته شي . نو زوم ګيري چې اکثر وخت د اختر اولې نه پس دوو درېيو ورځو کې وي، د کلي ځوانان را ټوليږي او په حجره کې په وړکې او ورسره راغلي ملګرو پورې ټوکې مسخرې کوي. پس له ډوډۍ خوړلو به وړکی له حجرې کور ته راوست، نو د کلي ټولې شوخې شوخې نجونې به ورته مخکې له مخکې را ټولې شوې وې، ځينو به ترې بوټان پټول، ځينو به په غوږ شوې جام کې پرې اوبه ځښلې، او ځينو به به پرې ټوکې او مسخرې کولې، او اخر کې به يې ورته شکور را واخيست چې له خوږو ، مميلو بادامو به ډک وو او هلک به له حجرې وروسته نجونو ته هم پکې پيسې واچولې. چې هغه به وروسته ټولو نجونو په خپلو کې سره وويشلې.

د غونډې دويمه برخه مشاعره وه. ميمونې کامران، عابدې سپوږمی، خوږې شېرزاد، ځولی لمن، ګلالۍ مومند او امنې فنا شعرونه دکلمه کړل.

د غونډې درېيمه برخه لنډۍ جنګې چې ګډونوالو ورته شېبې شمېرلې او بې صبرانه ورته په تمه وې، د نرګس سهاک په لنډۍ پيل شوه. ورپسې ګلالۍ مومند، ځولی لمن، ځلا نور، عابده سپوږمې، درخانی، فتانه ژوند او نازو فيضي په نوبت ونډه واخيسته.

د غونډې په پای کې ځولی لمن او ځلا نور په خپلو ښايسته ځاځی او خوستی لهجو لنډۍ جنګې وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






## زما د نیا د وخت اختر / ځلا نور

زما نیا جانه د اتیاوو کالو شاوخوا ده هغې سره مې ناسته پاسته ډېره ده، هرکله راته د خپل تېر ژوند خاطرې په ډېر مینه وایې ځای ځای ټپې متلونه سروکې.... هم پکې وایې، دا ځلې مې غوښتل ترې وپوښتم چې پخوا له ما نه زموږ په کلي( پکتیا ځاځیو ایوب) کې اختر څه ډول لمانځل کیده، څه پکې و چې اوس نشته نیا جانې خپلې خبرې د اختر له شپې راته شروع کړې؛ ویل یې چې په هغه وخت کې نکریزې په سختی پیدا کیدې نو په اختر یا بله خوشحالی کې به دوی خپله نکریزې یا یو ډول رنګ جوړولو چې په میاشتو به نه پاکیده، د غوړیو ټیم به مو راواخیست په هغه کې به مو یوه وړه کاسه کېښوده، تور چای او بوره به مو ګډ کړي و له کاسې به مو چار چاپېر په ټیم کې واچولو او د ټیم په سر به مو یوه ټیمي کاسه کلکه کینښوده او د ټیم لاندې به مو اور بل کړ، د بورې او چایو تاو به چې پورته کېده نو هغه څاڅکي به بیرته په لاندې کاسه کې تویېدل چې دا به موږ راواخیست په لاسو به مو ووهلې نو په میاشتو به یې رنګ زموږ په لاسونو و.

د نجونو به همدا نکریزې وې او ځینو شوکي هلکانو به هم خپل ورغوي په نکریزو سره کول، هلکانو به له اختره یوه میاشت یا شل شپې وړاندې د وابختي ( اوبخته) په نوم د یوې ونې څانګې راوړې په منځ کې به یې یوه اوږد لرګی ولګاه او چارچاپېره به یې ترې د وابختې ونې څانګې کینښودې دا به د یوې ونې په څیره جیکه جوړه کړه، تر اختره به څه ناڅه را وچه شوه او بیا به یې د اختر په شپه اور ورکولو کله به چې ډیوې ډیرې بلې شوې نو د کلي خلکو ته به معلومه شوه چې سبا اختر دی، او بل به متاوې هم وې یعنې په لرګي پسې به یې ټوټه وتړله هغه به یې په تیلو کې ووهله بیا به یې هغه یو طرف بل طرف ته شړله، وړې نجونې به هم ورسرت وې چې دریه به یې وهله او سندرې به یې کولې، ښځو به ټالونو اچولي و د اختر په ورځ به په ټالو کې ځنګیدې د هرې یوې به خپل نوبت و او لاندې به چې ناستې هغوی به دریه وهله او سندرې به یې ویلې او دوه دوه نفره به هم په یوه ټال کې ځنګیدې، اختر خو د ماشومانو وي نو ماشومان به کور په کور ګرځیدل ښځو به په اختري کې( خوني) ورکاوه چې جوش کړې هګۍ، نیني، پولۍ، غوزان، منې... به پکې وې. بیا به د اختر مړۍ ګانې شروع شوې چې سړي به کور په کور ګرځیدل او هر کور کې به یې لږه څکه کوله او اخر کې به د کلي مشر یا ملک کور ته راټول شول او هلته به یې ښه په مړه ګیډه ډوډۍ وخوړه.

ښځې به هم په یوه کور کې راټولې شوې، ډوډۍ به یې وخوړه او ټوکې ټکالې به یې وکړې....

د نیا سترګو ته مې وکتل، لکه د خیال په وزرو چې ماضي ته الوتلې وي، د دریا غږ وي او دا له کومې همزولې سره په ټال کې ځانګې.

یادونه: د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د اختر په مناسبت، د سیمه ییزو دودونو په هکله د لیکنو او خاطرو لړۍ پیل کړې ده چې د دوی د خواله رسنیو پر پاڼو یې هم لوستلی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سیداباد ولسوالۍ اخترونه / سلما بدري

زموږ د سیمې (د وردګو ولایت سید اباد ولسوالۍ) د اختر له دودونو څخه یو هم د اختر په شپه لمبه کول و. په کلي کې به هر یوه کور د اختر په شپه لمبه کوله. خلکو به دې لمبه کې بوټي، وچې پاڼې، ټیرونه، لرګي سوځول. دا د اختر یوه ښه هم وه چې خلک پوه شي چې سبا اختر دی. دا لمبې ډېرې وخت د غرونو په لمنه کې کېدې. اوس وخت کې دغه لمبې نه کيږي.

زموږ د کلي( سید اباد ولسوالۍ) د اختر بل دود مېوې ټولول دي. د اختر په لومړۍ ورځ چې کله به د اختر لمونځ وشو، ماشومان به د کلي هر یوه کور ته تلل او اختري مېوې به يې ټولولي. دغه مېوې نيني( ډاډه شوي غنم او بنګ داني) و. هغه کورونه چې اقتصادي وضعیت يې ښه و، هغو به په نینو کې یو یو نقل هم ګډ کړی و. ځینو کورنیو به بیا یو یو چهارمغز هم په مېوه کې ماشومانو ته ورکاوه چې ماشومان به ډېر پرې خوشاله شول. د اختر په لومړۍ ورځ به لویانو هم اختر مبارکي ټولوله. دوی ته به بیا کوربه یوه یوه جوش کړې هګۍ ورکوله. دغه هګۍ به ډېرې وخت سور او ژېړ رنګ شوې وې.

له نېکه مرغه دغه په زړه پورې دود اوس کابل کې هم رواج شوی. د اختر په لومړۍ ورځ ټول ماشومان د اخترۍ مېوې د ټولولو لپاره کورونو ته ورځي.

د اختر په لومړۍ ورځ به د کلي نجونو د کلي په یوه ستر بڼ کې زانګو اچوله. دغه زانګو به د سترو ونو په ښاخونو کې د پړي په واسطه ټینګه وه. د پړي په منځ کې به يې ماله( تخته ډوله کلک لرګی) ایښودله او د مالې په منځ کې به پينځه شپږ نجونې کېناستې. دوې به د زانګو مشرانې وې. یو بل ته به مخامخ ولاړې وې او د زانګو حرکت او کنټرول به د دوی په لاس کې و. نورې نجونې به د دوی دواړو تر منځ ناستې وې او له زانګو به يې خوند اخیست. دغه خوندور دود اوس کلي کې نشته او نجونې هم د کور نه په یوازې توګه بیرون ته تګ ته زړه نه شي ښه کولی.

یادونه: د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د اختر په مناسبت، د سیمه ییزو دودونو په هکله د لیکنو او خاطرو لړۍ پیل کړې ده چې د دوی د خواله رسنیو پر پاڼو يې هم لوستلی شئ.

## د کندهار اخترونه / درخانۍ

**د کندهار د اختر دودونه:**
کندهاریان د اختر په شپو او ورځو کې بېلابېل دودونه لري چې هر دود يې ځان ته ځانګړی بحث غواړي زه به دلته یوازې د اختر د سهار څو دودونه درسره شریک کړم په کندهار کې د کور هغه مېرمن چې د کور سمبالولو چارې ور دغاړې دي د ټولو تر مخه را ویښېږي لمونځ او اودس کوي وروسته تر اودس ځې پخلنځي/ اشپزخانې ته هلته د سهار لپاره کاسه پخوي کاسه: دا د کندهاریانو ډېر په زړه پورې دود دئ د کورنۍ نارینه چې د سهار د لمانځه ادا کولو لپاره جومات ته تللي وي هغوی د لمانځه د ادا کولو وروسته کور ته راځي دې وخت کې کاسه هم پخه سوې وي، هغه پخلی چې هر شی وي، خو تر ډېره دا کاسه وریجې او ماچې دي چې یو ځای پخیږي او د بورې سره خوړل کېږي.
د کور نارینه کاسه له ځان سره جومات ته وړي د کلي او محل نورو کورونو هم خپل له کور کاسې را ایستلې يې ټول سره را ټولېږي لومړی د جومات له ملا او کلیوالو سره د اختر مبارکي وایي وروسته له هغه دا پخ سوې کاسې یو ځای خوري.

د کورنۍ له غړو سره مبارکي: په کندهار کې دوه ډوله دود دئ ځیني کورنۍ د اختر مبارکي یو له بل سره د سهار د چایو پر مهال کوي او ځیني کورنۍ بیا داسې هم دي چې لومړی ځې عیدګاه ته د اختر د لمانځه ادا کولو لپاره وروسته تر لمانځه بیا د اختر مبارکي کوي ټول کندهاریان دا دود لري چې د عیدګاه تر لمانځه وروسته د خپلو دوستانو هدیرو ته ځې دعا ورته کوي.

کوچنیانو ته د اختر مبارکي: د کوچنیانو د زړه ساتلو او خوشاله کولو لپاره کندهاریان دود لري چې هغوی ته د اختر مبارکۍ کې یو څه ورکړې دا دود هم پر دوه ډوله دئ په لیرو پرتو سیمو کې د اختر په مبارکۍ کې کشمش نخود، نقل نخود یا یو بل د خورک شی ورکوي خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښار کې د دوی د خوشاله کولو لپاره پیسې ورکوي دا پیسې هره کورنۍ د خپل وس برابرې ورکوي کوچنیان دا پیسې اخلي او په ډېره خوشالي بیا تر هغې میلې پورې ځان روسوي چې په محل کې جوړه سوې وي.

یادونه: د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د اختر په مناسبت، د سیمه ییزو دودونو په هکله د لیکنو او خاطرو لړۍ پیل کړې ده چې د دوی د خواله رسنیو پر پاڼو یې هم لوستلی شئ.

## د غزني اختر / فرزانه تره کي

زه به د خپل زېږد ځای یعني غزني ښار د اختریز دود په اړوند له تاسې سره وغږېږم. د غزني ولایت زیاتره دودونه له نورو سیمو سره ورته والی لري. او ځینې دودونه یې ځانګړي دي. څو ورځې مخکې د اختر لپاره چمتوالی نیول کېږي. ښځې د اطاقو دیوالو او برنډې چې موږ ورته په خپله لهجه کې چوترې ورته وایو په خاورو را سپینوي. زموږ په سیمه ییز لهجه ورته اشوکول وایی. ټول دېوالونه او چوترې اشوکوي.

زموږ په سیمه کې د اختر لپاره له ختو څخه وړې ګلدانیانې جوړوي. په هغه کې ځینې شنه بوټي او ګلان کري. او د کور مېرمنې هماغه ګلدانۍ په چرمو، مریو او اینو سره ډیزاین کوي.

د کور مشران د ښځو او ماشومانو د کالیو لپاره ټوټې اخلي. د کورنۍ ټول غړي ځانونو ته جامې جوړوي. نارینه د جامو تر څنګ نوې خولۍ، لونګۍ واسکټ او لوی څادرونه جوړوي. ښځې بیا په لاس جوړ کړي ټیکري، جامې او غاړې جوړوي.

پېغلې خپل لاسونه د ګوتو تر اخري بندونو پورې په نکریزو سرې کوي. که چېرته یې یې نیمایي ګوتې سرې کړې وي او نیمې پاتې وي، نو بیا د پېغلو تر منځ داسې پېغورېږي، چې ښایي نکریزې یې کمې راوړې وي یا یې هیڅ نه وي راوړې. او تر څنګ یې کوژدن شوې پېغلې د خپلې خسرګنۍ لپاره ډالۍ چمتو کوي، چې په خپل لاس یې چمتو کړې وي. یعني مېړه ته په لاس کړی یخن ، خسر لپاره جامې، لېوره ته په لاس کړی څادر، ایندرور او خواښې ته جامې جوړې کړې وي. لستوني او ګنډونه یې تیار شوي وي، چې زموږ په لهجه کې ورته د ولو او ګرېوانو جامې وایي. دا جامې په چرمو، زرتارو، مریو، د وون په تارونو، خامک او په بیلابیو ګلدوزیو سره ګنډل کېږي. له ځان سره یې ږدي، تر هغه وخته چې خسرګنۍ یې هم اختری ورته راوړي. خسرګنۍ یې په اختریزه ډالۍ کې د نجلۍ لپاره په لاس جوړ شوي څو جوړه جامې، د سینګار توکي، نکریزې، بنګړي، رانجه او داسې نور راوړي. دواړه خواوې خپلې ډالۍ په ځانګړو دستمالو کې چې نخود، کشمش، په اور سره کړي غنم او چاکلیټ دي غوټه کوي. یو او بل ته یې ورکوي.

د اختر په سهار د کورنیو له غړو څخه یوازې ښځې مخکې له لمانځه څخه راپاڅېږي. تنورونه اچوي، کورنۍ کلچې، فریني، مربا او چای تیاروي. هګۍ جوشوي، غنم دانې سرې کوي. ترڅو چې ښځې له خپلو کارونو را خلاصیږي. ښځې په کورونو او نارینه په جوماتونو کې لمونځونه ادا کوي. د لمانځه وروسته ټول اختر مبارکي سره کوي. ځینې خلک د اختر لمانځه وروسته دنږدې خپلوانو قبرونو ته ځي بېرته جوماتونو ته را ستنیږي. یو عمومي دسترخوان هوارېږي. له کور څخه چې هر څه چمتو شوي وي جومات ته وړل کېږی. وروسته خپلو کورونو ته ځي. اختر مبارکي کوي.

په ځانګړو سیمو کې ځوانان مېلې کوي. غېږې نیسي، نېزه بازي کوي، ډولونه وهي، او اتنونه کوي. ماشومان بیا چامغز جنګې، هګۍ جنګې، خوسۍ او بېډۍ کوي. بېډۍ یوه لوبه ده چې توشلو ته ورته کېږي. وړې ماشومانې ډلې ډلې کورونو ته ځي، چې په اختري کې دسمالونه ورکول کېږي. چې په هغه کې مېوه لکه نخود، کشمش، چاکلیټ او د سره کړو غنمو دانې وي چې موږ ورته نیني وایو. پېغلې بنګړي اچوي، رنګارنګ کالي اغوندي او په لاسو جوړ کړي چوټي ګلان ویښتو کې بندوي او سینګار کوي. ډله ډله کورونو ته ځي، اختر لمانځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځو اختر په دربیمه پیلیږي، مېلمستیاوې کوي، د ځو کورو ښځې په یو کور کې راټولیږي، چمبې وهي او اختر لمانځي. دا چې نرۍ د بدلون په حال کې ده، په همدې تړاو د پخوا په پرتله په وروستیو کلونو کې په دودونو کې بدلون راغلی ده. پخوا به پېغلو تر اخري بنده ګوتې سرې کولې خو اوس په لاس نقشونه اچوي. او ښځې یوازې مېلمستیاوو ته ځي، چمبې نه وهي.

یادونه: د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د اختر په مناسبت، د سیمه ییزو دودونو په هکله د لیکنو او خاطرو لړۍ پیل کړې ده چې د دوی د خواله رسنیو پر پاڼو یې هم لوستلی شئ.

## لیکل او نه لیکل / بحث (۳)

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر، پر ادبي مسایلو بحثونه پیل کړي دي. دلته د دې لړۍ دریم بحث لوستلی شئ.

**هیله پسرلی:**
سلامونه،
لیکل تل نه کېږي. د لیکوالی په دنیا کې دا غیر طبیعي خبره نه ده چې یو څوک دې په میاشتو، میاشتو، حتا کلونو لیکل ونکړي. کله چې کلمات مرور او د تخیل ښاپیرۍ لا درکه وي، د را پخلا کولو لارې به یې خپلې طبعې ته په پام پیدا کوو.

ځینې ممکن د نوو کتابونو لوستو ته کش ورکړي، ځینې نور ښایي پخوانو یارانو ته پناه یوسي. ما په خپل ژوند کې د ډېرو لیکوالو له داستانونو خوند اخیستی دی خو محدود لیکوال دي چې کیسې راکوي. کامو یو له هغو دی چې یو پاراګراف یې هم ولولم زړه مې غواړي کیسه ولیکم. چخوف په ساعتونو لوستی شم خو هېڅ وخت یې کیسه رانکړه.

ځینې استاداني وايي، د عالي موضوع په انتظار مه کېښېنئ، هره ورځ خامخا لیکل کوئ. دوی په دې باور دي چې د بیکاره شي د لیکو ډار بې ځایه دی. لیکل باید وشي بیا وروسته په دې فکر وشي چې په خپرولو ارزي که نه؟

یو شمېر، د یاداښت کتابچه ساتي او خپل تیت و پرک فکرونه پکې خوندي کوي. دا تیت و پرک فکرونه داسې وي لکه د واورې ویلې شوې نرۍ لیکې چې اخر به سره یو ځای شي او ویاله به جوړه کړي. هغه محاوره چې نن د یاداښت په کتابچې کې یوازې څو کرښې ښکاري سبا ته ممکن د یوې ښې کیسې برخه شي. هغه تشبیه چې نن بې مورده غوندې په ذهن کې تیره شوې ده، سبا ممکن د یو عالي غزل بیت شي. هغه تصویر چې نن یوازې تصویر دی، سبا ته ممکن یو نظم بشپړ کړي.

داسې لیکوالي هم شته چې د الهام لپاره د نورو هنرونو په کوڅو کې ګرځي. د مجسمو سترګو ته تم کېږي، د انځورونو رنګونو ته ځیر کېږي، موسیقي ته غوږ ږدي او په سندرو کې ناویلي احساسات لټوي.

د ځینو چې وس وي سفرونه کوي. له نوو ځایونو، نوو خلکو الهام غواړي. د ځینو نورو بیا دا کمال ښه زده دی چې تکراري ځایونو او خلکو ته له نوې نظره وګوري.

یوه لیکواله ممکن دا پورته ذکر شوي کارونه ټول وکړي، یوه بله به بیخي ځان ته لار لري. خبره مې دا کوله چې نه لیکل عجیبه خلقتنګي لري. کله چې ستاسو د الهام شاپیرۍ نازونه کوي، څه ورسره څه کوئ؟

**حمیده وزیري:**
له لیکوالي او شاعري سره مې ډېره جوړه ده. له کله مې چې پوهنتون پیل کړ، دا شوق مې دوه چنده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ یو استاد درلوده چې تل به یې راته ویل، خپلې خاطرې مو په کتابچه کې لیکئ. دوه سمسټره یې راباندې دا کار وکړ، خو دا کار زموږ په زړه نه و، لکه په زور چې راباندې کېده، بیا به یې همغه کتابچه رانه په امتحان کې غوښته، دا یو جبر و د لیکلو.

د پوهنتون له دریم سمسټر نه مې کیسه لیکل پیل کړل، که څه هم کیسه لیکل مې هم هغومره پاخه نه دي. په دې هلکه مې ډېره مطالعه وکړه چې څنګه کولای شم ښه کیسه ولیکم. د ځینو کیسه لیکوالو کیسې او د دوی مقالې مې ولوستې، چې څه نا څه ورسره بلده شوم، بیرته مې هماغه د درېیم سمسټر کیسې را واخیستې او له سره مې پکې ایډیټ وکړ.

کیسې مې د اروابناد احمدي صاحب په مرسته بېرته په پښو را ودرولې، خو کله چې احمدی صاحب له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې، ستا په وینا زما د الهام ښاپیرۍ هم مړې شوې. له هغه وخت وروسته مو چې نور هر څه کول نه مې شو کولای چې کیسه ولیکم.

کله چې سیاسي حالات بدل شول، هلته مې هم هر څه وبایلل، یوازې مې د هغو قرباني شویو سرتېرو په نوم یوه ادبي ټوټه ولیکله چې، د هېواد د ساتنې په موخه یې حتا خپلې تازه واده شوې ناوې پرېښودې او سنګر ته ترې لاړل او بلاخره انجام دا شو چې ډېر یې په اسانه وپلورل.

البته دا یوازې د تېرو کلونو بدلونونه نه دي، بلکې هغه محدودیتونه دي، چې ورځ تر بلې ورسره په وېره کې ژوند کوو. دا هر څه د دې لامل شوي، چې نه مې زړه غواړي مطالعه وکړم او نه کوم نثر ولیکم. زه په داسې حالتو کې که سل زړونه هم سره یو ځای کړم بیا هم نه شم کولای چې، کیسه یا کوم بل نثر ولیکم.

سوژې د کیسه لیکلو لپاره لرم، که چېرې زما پر ځای کوم بل څوک واوسي، ښایي بهترینې کیسې ترې جوړې کړي، خو زما ذهن اوس فلج شوی او په دې هم نه پوهېږم چې کله به ځانته دارو پیدا کوي او څه به یې دارو وي؟

**هیله پسرلی:**

لطفا دا سوژې ځان سره نوټ کړئ، په کمه سترګه ورته مه ګورئ. داسې لیکوال هم شته چې کلونه کلونه لیکل نه کوي وایي سوژه نه لرم. تجربې یو شی رازده کړل چې په حافظې باور نه وي پکار، ډېر کله یو شی چې څرنګه نن احساسوو سبا ته مو ممکن بیخی ورپام نشي. له ما سره چې داسې موضوع وي چې زړه مې غواړي کیسه یې کړم خو نه کېږي، کوښښ کوم ځان سره یې په یوه پاراګراف کې خوندي کړم.

**درخانۍ:**

دوه کاله مخکې به مې لیکل او ژباړل ډېر کول .هره ورځ به مې خپلې لور ته په کتابچه کې خپل بیان لیکه، د هغې خاطرې به مې ورته لیکلې چې لویه شي خپلې خاطرې ولولي، د خپلې مور له فکر او زړه خبره شي.

له اردو فارسي او ځینې وخت له انګلیسي به مې لنډې ژباړې کولې. د کوچنیانو لپاره به مې کیسې ژباړلې او د ښځو پر ستونزو او ژوند به مې لیکنې کولې.

دا ډېر وخت کېږي چې لیکل نه شم کولی. په ټولنه کې له ډېرو شیانو ځوریږم، له ډېرو څېرو ځوریږم او خپلې هغه هیلې مې ځوروي چې نیمګړې پاتې شوې دي. کیدای شي زما دا ګډوډ حالت د دې لامل وي چې زه اوس لیکل نشم کولی. موضوعات راسره شته چې باید لیکل یې وکړم دا موضوعات ډېر د ښځو له ژوند سره تړلي دي. هیله لرم یوه ورځ ستونزې ختمې شي او زه وکولی شم لیکل وکړم زه له لیکلو سره بې انتها مینه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډاکټره شریفه شریف:**

درخانۍ جاني!

لیکل د ځوریدلو د کمولو یوه لاره ده. د ورځې ځانته یو ساعت وټاکه چې ستا وخت وي، ولوله او ولیکه. مهمه نه ده چې څه ولیکې، هر څه دې چې زړه کې وي.

زه پخپله چې کله هم لیکل وکړم څو ورځې د ارامښ او خوښۍ احساس کوم. دلته بهرنیان د افغانستان د ښځو په اړه لیکنې کوي. ستاسو خبرې ، سترګو لید او تجربې خو به بلکل اصلي او اساسي وي.

**هیله پسرلی:**

یو وخت یو چا راته ویلي ول، لیکواله هغه څوک نه ده چې تل لیکل کوي هغه څوک ده چې تل په لیکلو فکر کوي.

**ناهید منهاج:**

زموږ په ژوند کې پیښې زموږ په لیکلو تر هر څه ډېر اغیز لري یا مو قلم نور هم غښتلی کیږي یا هم د یو څو وختونو لپاره جامیږي یا هم د ټول عمر لپاره.

له کیسو لیکلو سره مې ډېره مینه وه پوهیدم چې دا شوق ورځ پر ورځ ډېریږي.

خو هغه ورځ چې ما د خپلې خور د قبر د سر، تیږې ( شناختې) متن ولیکه. غوږونو کې مې انګازې کیدلې چې زما لیکوالي اخر دې ورځې ته په کار وه..

له هغې ورځې زما او لیکوالۍ تر منځ یو غټ دیوال راغلی، چې ماتول یې راته ډېر سخت کار دی.

**هیله پسرلی:**

ناهید جاني، خواشیني یم چې داسې څه مو تجربه کړې دي. زه چې ډېره خفه شم لیکلو ته پناه وړم.. په خپګان کې مې چې کوم څه لیکلي، ډېر کله هغسې نه راځي چې زړه مې غواړي خو یو ډول مې اراموي...

تاسو ویل چې له کیسو سره مو مینه ده. په ټوله نړۍ کې یو ډېر مشهور او ستایل شوی کیسه لیکوال د روسیې داستایوفسکي دی. داستایوفسکي ۵۹ کاله عمر وکړ. څوویشت کلن و چې د وخت محکمې پرې د اعدام حکم وخېژاوه، په ورستیو شېبو کې یې ژوند بچ شو. څلور کاله یې د سایبریا په زندان کې په ډېرو سختو شرایطو کې تېر کړل. شپږ کاله محکوم و چې په جلا وطنۍ کې نظامي خدمت وکړي. په خپل ژوند کې یې د خپلو کوچینیو ماشومانو مرګ ولید. له خپل اول واده خوشحاله نه و. صحي ستونزې یې هم کمې نه وې، له مزمن میرګي په عذاب و. د قمار په بلا اخته و. د خالي جیب فشار یې لیدلی و.. د ځینو په باور له ژور روحي فشاره هم ګریده.. خو، خو، په همدغه سرګردانه ژوند کې یې هم ۱۲ ناوله، ۴ ناولګوټي او ۱۶ لنډې کیسې ولیکلې.. خوشبخته یا ښایي اصلي لیکوال هغوی دی چې د خپلو تورو شپو له سیاهي د خپل قلم رنګ جوړوي.

د رحمان بابا خبره:

*دا دستور دی چې له دردہ زګېروی خېژي*

*ګنې څه وو د رحمان له شاعري*

زما لپاره د ژوند ضد مرګ نه دی ناامیدي ده، له دې ګناه به ځان ساتو. سمه ده چې داستایوفسکي کیدای نشو، ناهید او هیله خو کیدای شو.

بیا هم رحمان بابا:

دوباره دې راتله نشته په دنیا

نن دې وار دی که دروغ کړې که رشتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوالي یوازې کیسه او شعر نه دی. زما په فکر زموږ ټولنه تر کیسي او شعر دا نورې لیکوالی ته لا ډېر ضرورت لري. زما د خاطراتو لیکل خوښ دی. که زه ستاسو پر ځای وای کوښښ مي کاوه خپل احساسات ولیکم. د خاطرو لیکلو یو کمال دا دی چې د ادبي اصولو فشار نه وي. چې څرنګه دې زړه وي هغسي یې لیکلی شي. د خاطراتو لیکل له انسان سره مرسته کوي چې ځان وپیژني او محیط ته دقیق شي. هرې لیکوالي ته د خپل اواز موندل او د چاپیریال په هکله حساسیت او دقت ضرور دي.

**حمیده وزیري:**

د انسان ژوند ټول له خاطرو ډک دی، ځیني ترخې او ځیني خوږې وي. زه په دې باور یم چې په اوس په وخت کې په افغانستان کې به د هر نجلی ژوند له ناهیلیو ډک وي. خاطرې لیکل مي خوښېږي او ډېرې مي لیکلي هم وې. مګر کومي ترخې خاطرې چې موږ نن سبا تجربه کوو شاید په نورو هېوادونو کې ډېرې کمې نجوني ورسره مخ شوې وي. حتا دا ژمی چې تېر شو، زموږ د فراغت د ورځې ترخه خاطره به مې په ټول ژوند هېره نه شي. زما هم خاطرې لیکل خوښېږي، خو نه پوهېږم دا خاطرې مي له کوم ځای څخه پیل کړم، څنګه یې ولیکم!؟ ځکه چې لیکل یې هم غټ زړه غواړي. خاطرې لیکل خوندور او اسانه دي، خو ځیني خاطرې بیا انسان درد وي هم.

**هیله پسرلی:**

فکر کوم یو شی باید په یاد وساتو چې ضرور نه ده د نن لپاره لیکل وکړو. همدغه ترخې خاطرې چې نن له منفي احساساتو ډکې دي او ښایي حتا خپرې یې هم نکړو لس کاله وروسته به د افغانستان د تاریخ او ادب یو بهترین اثر وي. د ان فرنک خاطرې یې یو ښه مثال دی. دا کتاب صفیه جاني پښتو ته ژباړلی که ممکنه وي پیدا یې کړئ، ممکن لیکلو ته دې وهڅوئ.

**میمونه کامران:**

موږ د ښوونځي په اووم ټولګي کې وو چې استادې به مو تل کورنۍ دنده راکوله او یو انځور به یې راته ښوده چې دا وګورئ، پدې انځور کې څه دي او د دې اړوند هر څه مو چې فکر کې ګرځي وې لیکئ.

نو دا کورنۍ دنده به ما ډېره په شوق ترسره کوله، انځور به مي کتو او اړوند به مې یې صحنې انځورولې. دې کورنۍ دندې زما علاقه له لیکوالې سره زیاته کړه، پدې یې وپوهولم چې دا هنر لرم او د هنر غوړولو وړتیا یې راکړه.

زیاتره وخت به مي خپلې خاطرې لیکلې. خو چې کله مي یوولس ټولګي کې په ستر غم وغمېدم، د لیکنې لپاره سوژې او خاطرې رانه تېت پرک شوې، هیڅ مي ذهن دېته اماده نه وو چې څه دې ولیکم. خو دې حالت ډېر دوام ونکړ، لیکوالي زما د زړه د اراملو یو علاج وو، لیکلو ته را وګرځېدم خو د پخوا په شان نه، یوازې د خپل حالت بیان مي کاوه، هیڅ مي دې ته ترجیع نه ورکوله چې څه او څنګه لیکم، فقط لیکل مي کول. او دا کار ماته ډېر سکون را باښه.

زه وایم که چېرته له موږ سره سوژې نه وي کولای شو؛ خپلو او د نورو خاطرو، تجربو، چاپیریال، انځورونو او ټولنې ته ځیر شو. بیا به ډېر داسي څه وي چې پرې ولیکو.

**فرزانه تره کي:**

لیکنه څه ده؟ یو دوه د احساس واقعي لفظونه: هغه چې په بېلابېلو تورو، کلمو او معنی ګانو راتاوو شوي. په خوله تقریر او د کاغذ پر سپین مخ تحریرېږي.
هغه واضح کلمات او عبارتونه به لا نور څومره واضحه کړم کوم چې خپله وضاحت کوونکي دي، لیکوالی خدایي لورینه ده، تر هغه ځایه چې هر لیکوال خپلو لیکنو ته د مور حیثیت لري، هغه لیکنې چې له ذهن او احساساتو یې زیږي او په ډېره مینه او مهربانی یې ساتنه کوي، د زړه په زانګو، د تصور په ټالو او د احساس په کور کې یې راروزي او پالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېر ښکلی ژوند او خوږ احساس دی.

لیکوال او شاعر هم د ټولنې د نورو غړو په څیر عادي انسانان دي، ژوند کوي، خوښي لري، غم لري، ښه، بد، مینه، ملګري، دوست، دښمن... لري. یوازنی فرق یې له نورو سره دا دی چې خپل احساس تر نورو پورې په لیکنه کې رسوی.

د لیکنې هغه ژبه ډېره خوږه وي کوم چې د چا د زړه خبرې وکوي. دا هرڅه چې لیکل کیږي هسې نه دي، دا د هغه روح یو حس وي چې قلم په لاس کې بې اختیاره ژبه وکړي.

هر شاعر او لیکوال یو معشوق لري چې د هغه په یاد څو لفظونه د کرښو پر مخ راټول کړي او هغه ته د روح وزن او د خیال قافیه ورکړي.

**ملاله کلیواله:**

کله چې ستاسې د شعر ښاپیرۍ نازونه کوي څه ورسره کوئ؟

الهام د ذهن هغه حالات ته ویل کیږي چې د نورو وختونو په پرتله لیکلو ته اماده وي دا حالات تنها شاعر یا لیکوال نه تجربه کوي بلکې هر هنرمند دا حالات تجربه کوي. هغه که انځورګر، وي خطاط وي، سندرغاړی او ختګر وي. ځینې وخت حالات د لیکوالی تر منځ فاصله راولي د ځینو په باور لیکوالي یو څه ارام ذهن او چاپېریال ته اړتیا لري، ځینې بیا وایي چې د انسان ژوند چې څومره هوسا کیږي له لیکوالی، شاعرۍ نه لرې کیږي ځکه چې شاعري او لیکوالي د ستونزو ناخوالو کړاونو، دردونو زیږنده ده. زما په اند دا ناممکنه نده چې د شعر ښاپیرۍ د بیرته جذب نشي. یوازې د دې نازونه ځان ته جذابولو لپاره. طبیعت ، خپل ولس او کلتور او د خدای ښکلی تخلیق ته پناه وړل او ژوره مشاهده یې کول دي چې ښاپیرۍ، لکه ماشوم ته چې خواږه لاس کې نیسي ترې ځې، منډې به درپسې وهي.

**سلما بدري:**

کله کله د انسان زړه تنګ وي، خپه وي، هیڅ څه ورته ښه نه ښکاري، ګوښه کیني، لږ غږیږي، دغه حالت عادي نه دی؛ انسان یوه وړه خبره زړه ته اچوي او په سوچونو سوچونو یې دومره ستره کړي چې بلا ترې جوړه شي. یا هم زړه کې داسې درد وي چې نه غواړي چاته یې ووایي یا هم فکر کوي لکه ټول چې ترې خپه وي. داسې وضعیت او دا حالت اوس وخت کې خصوصا افغانستان کې بیخي ډېر شوی، ما خپله هم دا حالت درلود، ښه نو اوس چاره څه ده؟

زه به مې خپله تجربه شریکه کړم؛ ما لیکل وکړل، هره خبر مې له زړه را بهر کړه، قلم او کتابچه مې خپل نږدې ملګري کړل، ما حتا داسې څه هم ولیکل چې له لوستلو وروسته به په ځان شکې شوم چې دا زما لیکنه ده کنه؟

هر حالت، که د خوښۍ وي یا خبګان لیکل پکې پکار دي. که د الهام په تمه کینو داسې ډېرې شپې به سبا شي خو د الهام به درک نه وي.

ماته ښکلې منظرې، چکر او ښایسته فضا لیکوالي نه راکوي دا زما زړه دی چې راته وایي همدا یې وخت دی ویې لیکه.

**فاطمه اعظم:**

د ښوونځي له دورې څخه تر ننه زما له کیسو او لیکوالۍ سره جوړه وه، ډېرې کیسې او لیکوال مې ولوستل او دا لارې چارې چې څنګه کولای شو لیکل وکړو او لیکوالان شو دا ټولې مې و ازمایلې خو یوې پایلې ته ورسېدم هغه دا چې ولوله او ولیکه.

ورور به مې تل راته ویل، ورځینی خاطرې او یاداښتونه لیکه خیر که ته دې نوې موضوع ونه لرې دا ولیکه نن دې څه وخوړل خوند یې در کړ او که نه...

ښوونځي دورې څخه تر نن زه ډېرې د یاداښتونو کتابچې لرم، او کله چې هغه څه چې ما لیکلي لولم بیخي یو ډول جالب راته ښکاري کله مې وخندوي او کله هم وژړوي...

په هر حال؛ کله چې پوهنتون ته تلم ممکن دویم سمسټر به و چې زموږ څخه استاد د خاطراتو کتابچې وغوښتې او وې ویل چې خپل خاطرات پکې ولیکئ او درنه غواړم یې، دا چاره یې زما خوښه شوه ځکه زه ورسره عادت وم او په ډېر ښه اندازه مې ورته جوړه کړه چې ډېره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهڅولم... دا هر څه تر هغه وخته پورې و چې زما د خیال مرغۍ آزاده وه او هر لور ته یې آلوت کولای شو، خو له نویو بدلونونو سره هر څه ګډوډ شو بیا ما نشو کولای چې د پخوا په څېر لیکل وکړم!

دا یو داسې حالت و چې په ټولو یې منفي تاثیر کړی وه، له ډېرو نجونو سره په اړیکه کې شوم چې تاسو هم لیکل او لوستل نشي کولای، د دوی ځواب به هم منفي و، دې کار زه ډېره وځورولم خو ما به خپلو ملګرو ته ویل خیر، تر یو څه وخته پورې به دا ستونزې وي موږ به بېرته د پخوا په څېر شو، خو خپل زړه ته مې تسل نشو ورکولی، ځو ځلې کتاب پلورځینو ته لاړم خپل د خوښې کتابونه مې واخیستل تر څو بېرته په مطالعې او لیکلو راشم، هر کله به مې چې وغوښتل یو څه ولیکم قلم به مې په ګوتو کې اړو و را اړو خو الفاظ به لکه په ونه کې مرغۍ چې کله د ټوپک غږ واوري وا به لوتې داسې و.

دا حالت امکان لري هر چا تجربه کړی وي چې موضوعات او سوژې به لري خو هغه به ورسره یاري نه کوي، خو کله چې قلم کتابچه را واخلي هر څه به ترې هېر شي.

زه خپله کله چې لیکلو زه موضوع پیدا کړم خو زما دا توقع وي چې داسې نوي سوچه او هنري الفاظ پیدا کړم چې زما دا کیسه دې جذابه کړي، هم دا دلیل کېدلی شي چې زما د لیکلو خنډ ګرځېدلی دی.

پخوا به مې چې لیکل کول ډېره یې کیسه کې نه وم ځکه بې قیده او بنده مې لیکل کول دې ته مې پام نه کاوه چې زما لیکل یا کیسه به څوک لولي او کنه.

زما سره د هغه وخت لیکنې شته چې څومره د ناهیلۍ ځخه ډک الفاظ مې کارولي حتی چې اوس یې هم لولم یو ډول ژړغونې شم.

حتی دا جمله هم ما څو ځلې لیکې: ډېر څه ویلو لپاره لرم خو ویلی نشم!!

خو زه دا باور لرم چې هر انسان چې څه وغواړي هغه تر لاسه کولای شي، ممکن ترلاسه کول یې ستونزمن کار وي خو ورسره لارې چارې هم شته، کوښښ او هڅونه.

ما د کیسو سره ډېره زیاته مینه شته او باوري یمه چې دا مینه بې دلیله نشي کېدای، تمرین او کوښښ ته اړتیا لري.

**لیمه ودان:**

دا خبره سمه ده چې لیکل تل نه کېږي، جامېدل هغه ستونزه ده چې لیکوال او شاعران ورسره مخ کېږي، د شاعرۍ په اصطلاح ورته شاعرانه جمود ویل کېږي، دا داسې حالت دی چې شاعر احساس کوي چې تر میاشتو یا ان تر کلونو کلونو شعر نه شي لیکلی. د دې لپاره به شاعرانو حل لارې پیدا کړې وي؛ خو زه راځم لیکوالی ته.

په لیکوالی کې هم دې ته ورته خبره ده، چې جامېدل ورته وایو. په دې حالت کې لیکوال داسې احساسوي چې لیکل نه شي کولی. دا خبره به غلطه وي چې د دې حالت ځخه د خلاصون لار نشته.

کله چې کلمات مرور شي، د پخلا کولو لپاره یې لارې شته، لکه: د هغو کتابونو مطالعه چې زړه ته مو ډېر نږدې دي، د طبیعت ننداره، د همفکره ادیبانو دوستانو سره ناسته ولاړه یا هم له لاربنود استاد یا باتجربه لیکوال سره مشوره او داسې نور؛ خو زه فکر کوم چې هره ورځ لیکل به د دې لامل شي چې جام نه شو.

ښایي موږ د سوژې په پیدا کولو کې پاتې راشو؛ خو زموږ خپلې خاطرې، ورځنۍ پېښې او احساست داسې څه نه دي چې ویې نه شو لیکلی، همغه لیکنې خپله بیا موږ ته سوژه راکولی شي. د دې تر څنګ د هرې ورځې د خاطرو لیکل نور کمالونه هم لري. یو دا چې ژوند ته د ځیرېدو قدرت مو ډېروي، بله دا چې قلم مو هم روانېږي.

د دې هرڅه لپاره اړینه دا ده چې لیکلو ته وخت ځانګړی کړو، که وخت ورنکړو کلمات حتماً مرورېږي.

په پای کې باید ووایم چې هره ورځ لیکل به مو له جامېدو وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**څلا نور:**
کله چیرې موږ د مشهورو ادیبانو ژوند ته کتنه وکړو نو دوی کله په میاشتو میاشتو هم یوه کرښه نه ده لیکلې، کله یې بیا په اونۍ کې یو کتاب بشپړ کړی دی، یاني هر ادیب په خپل ژوند کې له داسې حالاتو سره مخ کیږي.

زه هم په دې وروستیو کې د ډېرو مصروفیتونو له امله له لیکلو لرې وم. دې کار راته ډېر زیان هم رسولی دی، اوس په سختۍ لیکل کوم خو زموږ د دې ادبي بهیر دا یوه ښه ځانګړتیا ده چې زه یې بیا په لیکلو راوستم او د خیال دروازې مې ورو ورو په پرانیستو دي. په دې بهیر کې به د مشرانو له تجربو او نورو لیکوالانو له هنرونو ډېر څه زده کړو او لیکل به مو لا ښه شي، که چیرې موږ هره ورځ لیکل وکړو که پوره کیسه نه شو لیکلی، خاطره ولیکو. که هغه هم نه وي ، باید سوژه یا موضوع له ځان سره ولیکو. د دې ګټه به دا وي چې له یوې خوا به له لیکلو سره ورو ورو عادت شوي یو او له بلې خوا به موضوع ګانې او سوژې هم راته یاد وي، چې دا د خیال له ویښولو سره ښه مرسته کولی شي.

موږ باید په دې ناهیلي وخت کې هیله بښوونکې لیکنې وکړو، له یوې خوا به زموږ له روح روان سره مرسته وکړي او ټولنې ته به هم ګټورې تمامې شي او له بل پلوه به دا د تاریخ یوه برخه هم وګرځي، چې د ټولنې هغه مظلوم قشر چې هیواد ورته زندان او جهنم شوی و، دوی بیا هم د امید او هیلې سندرې ویلې.

**شفیقه خپلواک:**
زه که کله لیکل ونکړم بخصوص شعر ونه لیکم د ګناه احساس کوم. د وجدان عذاب لرم. زما په موډ او روان دومره بد تاثیر کوي چې ماته هر څه بې مانا کیږي. که زه لیکل ونکړم، په خپل ورځني ژوند کې لکه متحرک مړی داسې ګرځم. کله، کله پخوا هم زه له داسې حالت سره مخ کېدلم چې لیکل به مې نشوای کولی. یا به مې داسې څه نشوای لیکلی چې زما په زړه دې وي، یا دې زما زړه ورسره ارام او تش شوی وي. داسې ورځ هم راغلې چې ما شپږ شعرونه په یوه ورځ لیکلي، خو داسې هم راغلي چې په ورځو، ورځو مې څه نه وي لیکلي. پیل کې مې چې څومره ډېر لیکل کول وروسته بیا هغومره نه و، هغه د چا خبره بیا مې چاڼ کاوه چې څه ولیکم څه نه. خو یو څه چې و دا و چې ما تل لیکل کول، که به شعر نشو، کیسه به شوه، که به کیسه نشوه کالم به شو، که به هغه نشو یاداښت به شو... ښایي یو دلیل چې ما بېلابېلو فورمونو کې لیکل کړي وي همدا به وي چې که یو کې به سم نه راتلو بل کې شوني وه چې خوندي او سم شي. ما حداقل په میاشت کې دوه یا یو شعر حتما لیکلو. خو په تېرو دوه کلونو کې زما لیکل بیخي کم شوي.

ځینې وایي چې د لیکلو لپاره (Routine) یا روال، ورځنۍ عادت یا روزمرګي مهمه ده. تېرو دوه کلونو کې زما روټین بیخي بې نظمه شوی. له سقوط وړاندې په کابل کې چې و ما به هر سهار شعرونه لوستل. د استاد پسرلي، کاظم خان شیدا، خوشحال خان ختک، خیام، بېدل، اشرف مفتون، او ځینو نورو کتابونه او کلیات به مې د کټ سر ته ایښي و. هغه وخت مې عادت و د شپې به مې موبایل بنداوه، او سهار له دې مخکې چې موبایل پرانیزم ما به د همدې کوم شاعر څو شعرونه لوستل. وروسته به مې موبایل کې ځینې انلاین انګریزي یا د کومې بلې ژبې د شاعرانو شعرونه لوستل. داسې ځانګړی شاعر یا شاعره نه وه چې ماته د شعر الهام راکړي خو حداقل هره ورځ یو څو شعرونه لولې خپله دې خیال پخوي. د فکر او خلاقیت په نمو کې مرسته کوي. او تر ټولو مهم دا چې خوند اخلې. ما خپل ډېر شعرونه سهار وختي خپله کوټه کې لیکلي. ما پرته له هغه ځایه بل چیرې شعر په سختۍ لیکلی شو، یا بیخي نشو. زه تېرو دوه کلونو کې ممکن درې میاشتې هم یو ځای نه یم پاتې شوی. ځایونه بدل شوي، نو زما لپاره سخته شوې چې یو ځای سره اموخت وکړم.

دا خبره مې څه وخت وړاندې ښاغلي اجمل پسرلي ته وکړه، ده د نزار قباني په اړه راته وویل چې کله په بیروت کې اوسېده ویل یې چې د سهار وختي به د سمندر غاړې ته تلم، له هغه لوري چې به ښېرته راستنېدم یو جیب ته به مې لاس کړ یو شعر به پکې پروت و چې بل ته به مې لاس کړ هغلته به بل و. پسرلي صاحب ویل چې د نزار موخه له دې وه چې مکان په خپل تاثیر لري. خو مکانونه په یو مخ د هنر مخه نه نیسي. دی شعر د ځمکې لاندې له اوبو سره تشبیه کوي چې کله ډېرې وي کله لږ، نو وایي چې کله څوک ډېر څه لیکلی شي کله لږ.

زما لپاره یوازې دا روټین نه بلکې دا ټول حالت یو ډول ناڅاپي تغیر شو چې لا تر اوسه هم شاک کې یم. زه ښایي اوس هم وکولی شم ډېر شعرونه ولیکم، یا ډېر لیکل وکړم خو ډېر کله خپله ترې تېښتم. نشم کولی له دې درد سره مخ شم. لکه سمندر ډوبوي مې. زه باید لیکلو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې واوسم، نه یوازې د لیکلو پر وخت بلکې کله، کله د چورت وهلو ته هم. ما ته افغانستان کې هر څه الهام و، په سړک ګرځېدل، کافي شاپ کې کیناستل، کتابپلورنځي ته تګ، ونې، غرونه او اسمان... هغلته ژوند ډېر روان و، ډېر له ځوره ډک و، ډېر شور و... او نهایت تضاد و. مثلا یو شیبه به ځانمرګی وشو، یو ساعت وروسته به ببرته په هم هغه لار هېر بهیر و... یوه هیله وه، یو هوډ و، یو څه خاص و چې زه به که هر څومره هم ناهیلي شوم ببرته به یې لیکلو ته هڅولم. دا ځایونه ډېر ښایسته دي، ما لومړی ځل سمندر ولید. څپې چې لوڅې پښې مې لمسوې او ببرته درومې. د اوبو پر سر د لمر د لوېدلو وروستۍ وړانګې. ډېر رنګارنګ ګلان چې په خوب مې هم نه و لیدلي، ځنګلونه او جهیلونه. لرغوني ودانۍ او ډېر لوی کتابتونونه خو یو یې هم الهام نه راکوي. زه دلیل نه لرم چې ولې؟ شعر جغرافیه نه پیژني، حتا ټول هنر، دا د انسان د روح غږ دی د زړه غږ دی. دا په قوم او ولس او جغرافیه پورې تړلې خبره نه ده، خو بیا هم ماته دا ونې پردۍ دي. دا ځمکه او دا لارې خپلې نه بولم. زما د خونې اوسنۍ کړکۍ ځنګله ته پرې ده، څومره چې لیدل کېږي ونې دي. کله، کله ګلان راټوکېږي. نارنجي، اسماني، خړې، او سپیني مرغۍ راځي، په کابل کې زما د خونې د کړکۍ مخته شنه پرده راتاو وه. ما یوازې د یوې ونې سر لیدلو نور هېڅ نه ښکارېدل، خو څومره شعرونه چې هغې کړکۍ راکړي زه د هغه صفر فیصد هم دلته نه احساسوم. زه حس کوم لکه نن یا سبا به کور ته ځم او لیکل به هغلته کوم.

د تولستوی په اړه هم ویل کېږي چې کله، کله به یې په کلونو څه نشوای لیکلی. ورجنیا وولف هم همداسې یادېږي، او ممکن ځینې نور پنځوونکي هم له ورته حالت سره مخ شوي وي. اکثریت یوه موثره حللار دا بولي چې مطالعه وشي. څومره چې کېږي هغومره باید ولوستل شي.

جمپا لاهري بنګالي-وال اصله امریکایی لیکواله له تایمز ورځپاڼې سره په خپله یوه مرکه کې وایي، چې دا تقریبا د هر لیکوال/ې لپاره د خلاقیت د پروسې یو طبیعي حالت دی چې یو نیم وخت لیکل ونشي کړلی. د دې په وینا، ( کله، کله انګېزه، سوژه، تمرکز او هر څه چې د لیکلو لپاره اړین دي وي، او کله داسې کېږي چې له دې عناصرو یو نیم نه وي او په پایله کې لیکل سختېږي. زما تجربه دا راته ښیي چې که څوک د مهال ویش په حساب مخته ولاړ شي، او هر ورځ یو څه ولیکي حالت نورمال کېږي. که زه له داسې حالت سره مخ کېږم دمه اخلم او لولم. او دې هر وخت ببرته لیکل راکړي.)

په ادبیاتو کې د نوبل جایزې ګټوونکې تونې موریسن (۲۰۱۹-۱۹۸۱ز) په خپله یوه مرکه کې وایي، ( کله چې ما Beloved ناول لیکلو ما درې کاله پرې فکر وکړ. درې کاله یې نور لیکلو ونیول.خو هغه درې کلونه چې ما پرې فکر کاوه، زه پرې لګیا وم، که څه هم ما کلیمه هم لا نه وه لیکلې. ) د موریسن همدې ناول نوبل جایزه وګټله.

جاپاني لیکوال هاروکي موراکمي په پوهنتون کې خپل سیمینارونه د تایلند په نوم په لنډه کیسه پای ته ورسول. ده ویل چې دا کیسه ورته ګرانه ده. دلیل یې دا ښودلو چې ده فکر کوم څلور کاله هېڅ نشوای لیکلی. بیا په جاپان کې زلزله وشوه او ناڅاپي د ده همدا کیسه ذهن ته راغله وې لیکله. د دې کیسې ځای ښنکاک دی، او ده وویل چې تر اوسه یې هم همدا ځای  له نږدې نه دی لیدلی. هاروکي دا هم ویل چې کله زه کوم ناول لیکم نو سفر کوم، یو ځای نیسم چې له ټولو خلکو او هر څه لیرې یم.

امریکایی شاعرې او لیکوالې مایا اینجلو(۲۰۱۴-۱۹۲۸ز) هم د هوټل یوه خونه کرایه کوله. دا به سهار ۷ بجې ورتلله او تر ۲ بجو به په لیکلو اخته وه. که کله، کله به یې د لیکلو موډ سم نه و نو تر دولسو نیمو به وه. او که به لیکل ښه روان و، تر هغو به ناسته وه تر څو چې یې امکان درلود. امریکایي لیکوال ایرنست هیمنګوې (۱۹۶۱-۱۸۹۹ز) به هم سهار وختي لیکل. د ده دا تخنیک ډېر وړاندیزوي چې سهار وختي تر هغه لیکل وکړئ چې وپوهېږئ سبا بیا له کوم ځایه ادامه ورکړئ. موریسن هم سهار وختي لیکل کول، دا به له سپیده چاود مخکې جګیدله، یو پیاله کافي به یې تیاروله. د لمر راختل به یې څارل او دې به ویل چې همدا کار یا مراسم له دې سره په لیکلو کې مرسته کوي. معنی موریسن په دې باور وه له دې مخکې چې لیکل پیل کړی ځینې تشریفات ورته ونیسئ، یا ځینې کارونه له هغه مخکې وکړئ. ښایي څوک یوه پیاله چای تیار کړي، ښایي څوک شمعه بله کړي، ښایي څوک موسیقي چالانه کړي. زه ډېر کله له دې مخکې چې لیکل پیل کړم موسیقي اورم، هغه باید غوږیو کې وي. تکړه امریکایی نقاد هارولد بولم په دې باور چې لیکل لکه د اولمپیک لوبه داسې دي. باید دوامدار تمرین شي. د استاد درویش درانې یوه مرکه کې مې تر واورېدل چې یو څه وخت یې شعر لیکل بند کړل. خبریال وپوښتل چې شعر لیکل څرنګ درېږي؟ درویش صاحب وویل چې شعر داسې دی لکه میلمه. که میلمه یو ځل درکره راشي دروازه وټکوي ته یې خلاصه نه کړې، ښایي دوهم ځل بیا راشي او دریم ځل بیا خو څلورم ځل بیا نه راځي. د درانې صاحب دا خبره خورا دقیقه ده، دا میلمه به پخلا کوې. ننواتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



به وروليې، فضا به داسې ورته جوړوې چې میلمه خوشحاله شي او تګ راتګ نورمال شي. خدای بخښلي نصير احمد احمدي د مصور د نویو چاپ شویو کتابونو په پرانیسته کې راته ویل، چې لیکلو ته د وخت او سوژو نه لرل هسې پلمې دي. د ده په وینا هر وخت لیکل کیدلی شي او هر وخت سوژه شته، یوازې چې څوک ورته کیني.

لیکلو ته ژمنتیا مهمه ده. وخت مهم دی. او دا مهمه ده چې لیکواله یا شاعره دا درک کړي چې کوم حالت او وخت کې یې د خیال مرغۍ الوځي او په کومه ونه کیني. زما په سهار کې الوتله، ښایي د بل چا په شپه کې وي. زما د خیال مرغۍ چې یوازې یم پرواز کولی شي ښایي د بل چا په شور کې وي. خو څو شیان چې ښایي د اکثریتو د سفر مشترک وي هغه لوستل دي او ورځنی روال ساتل دي. هر ورځ که لیکل نه کېږي، حداقل فکر دې پرې وشي. زه دا یوه اوونی کېږي په یوه شعر فکر کوم، نیوهیږم څه وخت به ولیکل شي خو دا چې فکر کوم زما لپاره لویه خبره ده. زما یو شعر و یو کال مې پرې فکر کاوه، بیا مې ولیکلو اوس مې په یاد هم نه دی چې کوم یو دی.. شعر د درانې صاحب په خبره میلمه دی، په میلمه به پام کوې، له ښه دسترخوان نیولې تر ورین تندي، که دې کې یو شی هم سم نه و د میلمه زړه بدېږي. پوهنتون کې مې د تاریخ استاد وپوښت چې په روسي ادبیاتو کې داسې کوم کمال دی چې هر چېرې یې بر ځای نیولی. د ده په ګومان د روسیې چاپیریال قید و، او چېرې چې قیودات زیات وي انسان خیال ته پناه وړي. ښایي ځکه دوی بهترین اثار پنځولي وي. د استاد دا خبره به سمه وي یا نه خو د رحمان بابا خبره درنه ده چې که درد نه وي زګیروي به له کومه کېږي؛ درد ښایي بهترینه شاعري راکړي. نو زما په شمول هغه ټولې نجونې چې اوسنیو ناخواله یې قلم لړزولی بېرته دې نوې ساه واخلي، نوی روتین پیل کړي او په دې تیارو کې د خپلو لیکنو ډیوې بلې کړي. د ځان لپاره یې ولیکي، د راتلونکي نسل لپاره یې ولیکي او تاریخ ته یې مستند پرېږدي. د خوشحال بابا د دې بیت په څواب کې ووایې چې:

*زه یې چا لره وهم، قدر یې چا*

*په اور وسوځه دا توري قلمونه*

*خوشحال بابا*

*زه یې ځان لره وهم، قدر یې ما زده*

*زما دې ګل شي کتابونه، قلمونه*

**هیله پسرلی:**

لکه څرنګه چې د کلونو په تیریدا لیکواله خپله لار پیدا کوي، خپل سبک پخوي همداسې ځان هم پیژني. فکر کوم که لږ څه پر ځان غور وکړو ښایي په اسانۍ هغه کلیانې پیدا کړو چې لیکلو ته مو هڅوي. زه چې یوازې یم او ګرځم په لیکلو ښه فکر کولی شم. یو وخت مې د حمزه بابا په هکله اوریدلې ول چې د موټر سفر به شاعري ورکوله دا خبره ماته ډېره جالبه وه ځکه ورته تجربه زه هم لرم. زه چې د موټر، بس یا اورګاډي په سفر کې یم او موسیقي اورم په لیکلو ډېر ښه فکر کولی شم. دغو فکرونو ته زه "داستاني خیال پلو" وایم. فکر کوم موږ ټولې باید ځان ته دا حق ورکړو چې په ذهن کې داسې کیسې جوړې کړو چې بشپړې نه وي.

تر ټولو مهمه خبره دا ده چې لیکل په عادت بدل کړو. مثلا، که له ځان سره ژمنه وکړو چې خامخا به هره ورځ دېرش دقیقې د لیکلو کوښښ کوم ښایي ورو ورو مو قلم روان او لیکل مو عادت شي. لازمه نه ده چې دا دېرش دقیقې خامخا لیکل وکړو همدا چې کتابچه را اخلو او په لیکلو فکر کوو لویه خبره ده.

کله چې لیکل نشو کولی د لیکلو تمرین مو ښایي د نه لیکلو له خلق تنګۍ او ډاره تر یو حده وساتي.

د کیسه لیکوالو لپاره فکر کوم د مکان او کریکټر تمرین درې کماله لري: دقت ډېروي، قلم روانوي او نوي انځورونه درکوي. مثلا، یو مکان خوښ کړئ. ( کور، پوهنتون، پخلنځی، دوکان، هدیره، هوټل، اریشګاه، سلماني ...) بیا یو دوه پاراګراف پرې ولیکئ. ( په پیل کې صفتونه کاروئ خو بیا ورو ورو تمرین ځان ته سخته کړئ پرته د صفت له کارولو مکان معرفي کړئ.

یا مثلا، د خپل ژوند له خلکو یو کریکټر خوښ کړئ. بیا یې په هکله لیکل وکړئ. کوم کریکټر چې تاسو د لیکلو لپاره خوښ کړی څرنګه ښکاري، د قهر په وخت څه کوي، چې خوشحاله وي څه کوي، چې شرمېږي څه کوي، کله چې د تاثیر لاندې راشي څه کوي، تر ځان پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو سره څرنګه خبرې کوي، هغوی چې د ځان سیال نه ګڼي څرنګه خبرې ورسره کوي... لازمه نه ده دا خبرې دې تولې ربښتیا وي. دا تمرین ممکن رازده کړي چې په کریکټرونو فکر وکړو او روحیاتو ته یې دقیق شو.

د شاعرانو لپاره مې یو وخت لوستلې ول؛ په خپل ږغ کې د نویو، زړو او خپلو شعرونو جګ لوستل د شعر له موسیقي سره مرسته کولی شي.

نه لیکل به زړه تنګي لري خو د نه لیکلو وخت، لیکلو ته خام مواد برابرولی شي.

## د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر / راپور (۶) / فتانه ژوند

**په ورانه هدیره کې د ژوند رنګ سبحان الله**

**دا زړونه دا مستي او دا اهنګ سبحان الله**

**نېټه:** د جولای ۲مه، ۲۰۲۳ز یا د سرطان ۴مه ۱۴۰۲ل

**ځای:** انلاین

**د ګډون والو شمېر:** ۱۵

**وړاندې کوونکې:** میمونه کامران

**راپور لیکونکې:** فتانه ژوند

د افغان ښځو د انلاین ادبي بهیر غونډه د کابل پر وخت د مازدیګر پنځه نیمې بجې پیل او اووه نیمې بجې پای ته ورسیده. اجندا یې مخکې له مخکې شریکه شوې وه. غونډې درې برخې لرلې. **په پیل کې د خزان وهلې اروابښاد نصیر احمد احمدي د دویم تلین په مناسبت د غونډې په تیاری خبرې وشوې. یاده غونډه به د جولای په نهمه جوړیږي او بیا به د بهیر په فیسبوک پاڼه خپریږي.**

**په دوهمه برخه کې د اغلې نسیمې باري پر لنډه کیسه « د بلا سیوری» باندې کره کتنه وشوه.** په سر کې نسیمې باري د خپلو فعالیتونو په اړه بهیروالو ته لنډ معلومات ورکړل. اغلې باري یوه د لنډو کیسو ټولګه، او دوه ژباړل اثار خپاره کړي. دې همدارنګه د دوه شاعرو خوېندو چې هلمند کې د کورنیو محدودیتونو له امله خپلې لیکنې نشي خپرولی د کتابونو په چاپولو کې مرسته کړې، د یوه لګښت یې شخصي ورکړی د بل یې له کوم بنسټ نه ورته موندلی و. وروسته اغلې باري خپله کیسه ولوستله چې ټولو پوره خوند ترې واخیست. له دې مخکې چې کره کتنې ته ورشو تاسې راسره د نسیمې باري دا کیسه ولولئ:

### د بلا سیوری

د شپې تر تور پلو لاندې هیڅ نه ښکارېدله، څو میله لیري لویه لاره تېره سوې وه، کله کله به د موټر رڼا تر سترګو سوه، په دې رڼا کې به د ځښتو د بټۍ لوړ لوړ دودښکتونه لکه توري بلاوې غوندې ښکاره سوې چې توري خولې به یې اسمان ته نیولې وې.

توره کې سر له بالښت څخه راپورته کړ، په وارخطایي یې شاوخوا وکتله، سترګې یې سره ومښلې، سوړ اسوېلی یې واکیښ او بیر ته پر ځای اوږد وغځېد. یوه شیبه وروسته بیرته راپورته سو، پر ځای کښېناست، لکه یو شي ته چې په ځیر سره ګوري، لیري یې په یوه شي کې سترګې وګنډلې، خو نابېره له ځایه ولاړ سو او څنګ ته نژدې بکس یې خلاص کړ، ژر ژر یې خپل څو جوړې کالي یوې کڅوړې ته واچوله. د بکس په کړپ د هغه یو ملګری راویښ سو، ویل توره کیه څه خبره ده؟

*– بس هسې دا خپله غوټه تړلوم*

*– نو په دا توره شپه؟*

*– هو په همدا توره شپه مې په کار سوه*

(c) ketabton.com: The Digital Library



– * څنګه دي په کار سوه؟ خیریت خو به وي؟*

– *هو خیریت دی، کور ته ځم*

توره کي له دې خبري سره سم بستره په شا کړه، پلاستیکي کڅوړه یې په لاس کي ورسره واخیسته او په چټکو ګامونو د سړک خوا ته روان سو. کله چي به د کوم موټر رڼا ورباندي برابره سوه، نو سیوری به یې د توري بلا غوندي ښکاره سو او د مزردورانو تر ډګر پوري به راورسېد. د توره کي نور ملګري هم له خوبه راویښ سول، یو له بل څخه یې پوښتني وکړې چي څه پېښه ده؟ توره کی ولي داسي ناڅاپه کور ته ولاړ؟ دی خو درې ورځي مخکي له کور څخه راغی، ویل دا وار درې میاشتي تېروم.

توره کی تر دوو شپو مزل وروسته د شپې دوولس بجې خپل کلي ته ورسېد، غوټه یې په مسجد کي پرېښووله او لکه غل د شپې په تیاره کي خپل کور ته ورواوښت، لومړی د اور خوني ته ولاړ، تېشه یې راواخیسته او بیا سوکه د خپلي مېرمني جمیلي خوني ته ورننوت. جمیلې د تیلي څراغ پلیته کښته کړې او خپل زوی ( زړګی) یې څنګ ته پروت و. شپږ کلن زړګی د مور پر تي ویده سوی او کوچنی لاس یې د مور پر سینه ایښی و. توره کي یو وار د زړګي او بیا د جمیلې مخ ته په ځیر سره وکتل، دواړه په درانه خوب ویده ول. سوکه یې زړګی له مور څخه لیري کړ او تېشه یې تر سر واړوله، له دې سره سم یو لوی آخ وخوت او د جمیلې له تندي څخه وینو داره وکړه.

دسهار لمر د خړ غره په لمنه کي د خلکو یوه ډله خلک ځلوله. ځوک ځوانان، ځوک سپین ږیري او ځوک بیا په عمر پاخه خلک ول، خو په دوی کي د ځوانانو زریني خولۍ او لونګۍ له لیري څخه لمر ته ځلېدلې. څو ګامه لیري څو ماشومان ناست وه او کله کله به یې تر خپل منځ سره وخندل. یو ځوان د قبر په کیندلو لګیاو، کله چي به کولنګ پر ډبره برابرسو، نو کړپ به یې د غره په لمنه کي ازانګه وکړه.

د قبر څو ګامه ها خوا د جمیلې جنازه پرته وه او زرغونه بنارسۍ ورباندي اواره وه چي کله کله به باد ورپوله. څنګ ته یې ملاصاحب له څو سپین ږیرو سره ناست و، ملا صاحب به یو وار د قبر خوا ته غوږونه څک کړل او بیا به یې څنګ ته ناست سپین ږیري مخاطب کړل: دا بدمرغه توره کی د شپې ناوخته زما کور ته راغی. ویل خوب مي لیده چي زما په باغ کي یو غټ تور خر ګرځي، زړه مي راته وایي چي زما ښځه له بل چا سره جوړه ده. ما ورته وویل چي د خوب مانا ایستل د هر چا کار نه دی، پر یوې مسلماني ښځي تور لګول په خپله یوه لویه ګناه ده، ته څه ثبوت لرې چي دا به له بل چا سره جوړه وي ها؟ هسي یو شیطاني خوب دي لیدلی دی، پر داسي خوبونو باور مه کوه. توره کي څه و نه ویله او پټه خوله د کور خوا ته روان سو، ما فکر وکړ چي زما خبره یې ومنله، خو بس شیطان یې لار ووهله او خپله مېرمن یې په شهادت ورسوله.

د سپین اکا ببري وروځي پورته سوې او د ملا صاحب په خبرو کي ورولوېد: یاره د شیطان دي کور وران سي، په خلکو یې څه نخرې وکړې. داسي بي بي ښځه یې شهیده کړه چي ټول کلي یې صفت کاوه. بس د صبر او پاک لمنۍ یوه نمونه وه، ټول کور یې په همدې ښځي کور و. توره کی به په میاشتو میاشتو له کوره ورک و، خو دې به د ستني کار کاوه او په هغه پیسو به یې د کور ګوزاره کوله، خو توره کی بدمرغه یې په قدر پوه نه سو او تور یې په پوري کړ. کړپ سو د قبر څنګ ته کولنګ پر خاورو ولوېد، په لوړ اواز یو چا ږغ کړه ویل ملاصاحب راځئ قبر تیار سو. له دې سره سم خلک پر قبر ورغونډ سول، په یوه ګړي کي د زرغونې بنارسۍ مېرمن تر یو خروار خاورو لاندي سوه.

څو شېبې وروسته هدیره له خلکو خالي سوه، یوازي د جمیلې مور د قبر سر ته ناسته وه او اسمان ته یې رډ رډ کتل. یو ساعت وروسته وریځ راغله، باد او دوړي سوې، نری نری باران هم شروع سو، د جمیلې مور د خپل تور پوړني په پېڅکه پر خپل باړخو رڼه اوښکه پاکه کړه او له ځان سره یې دا متل ووایه: (( چي مړه سي مومنان، یا باد وي یا باران)). له دې سره سم له قبر څخه ولاړه سوه، سوکه یې د قبر پر خښته لاس تکیه کړ، ویل زما لورکۍ پر خدای مي سپارلې یې، زما خو څه په وسه نه ده پوره، خدای دي د ظالمانو مخ تور کړي.

د غره په لمنه کي د باد اواز شپېلکی کاوه، کله کله به یې له لېوه انګولل. په هدیره کي یوه تشه پلاستیکي کڅوړه باد یوې او بلې خوا ته ځغلوله، کله به یې له یوې او کله به یې له بلې ډبري سره وجنګوله. له هدیرې څخه څو ګامه لیري یوه بوډۍ په نیولو ګامونو د کلي خوا ته لکه سیوری غوندي روانه وه او سوکه سوکه لیري کېده.

**شفیقې خپلواک** د کیسې ټول تصویرونه واحد او د کیسې د موضوع په خدمت کې وبلل. د کیسې نثر یې ښکلی او تصویرونه یې سیمبولیک یاد کړل. دا چې په پیل کې د سړي سیوری د بلا غوندې ښکاري، سیوری وهم دی او دې کیسه کې ټول شک دی. د کیسې په پای کې چې د پلاستیک خلطه باد وړي او راوړي او له تېرو سره لګېږي ښایي د دې سیمبول وي چې څنګه ځینې ښځې د نرواکي په چاپېریال کې همداسې یوې او بلې خواته د تقدیر شمال په مخه کړې او له تېږو سره لګېږي. شفیقې ته په کیسه کې د ځوانانو او نورو نارینو لونګۍ او خولۍ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنازې په ورځ لمر ته څلیږي د کاذب غرور او غیریت غونډې ویسپډې. دې د کیسې د مکالمې ستاینه هم وکړه چې کیسه یې پر مخ بیولې او کرکټر هم راپېژنې. د کیسې د پیل په اړه یې وویل چې دې ته کیسه له هغه ځایه پیل شوې چې کله توره کی خپل ځای پرېږدي له هغه مخکې څو جملې اضافي راغلي.

ورپسې **خلا نور** خبرې وکړې او وې ویل: «باران ماته دې کیسه کې لږ عجیب غونډې و، لکه هندي فلمونو کې چې وشي.» خلا په دې کیسه کې د ملا مثبت تصویر وستایه او وې ویل چې ملا عموما داسې کم زموږ کیسو کې انځور شوی دی. خو له شپې وروسته دستې د سهار یادونه یې به زړه نه وه، د دې لپاره پوښتنه وه چې سهار یاني نوی پیل، خو دا نوی پیل د چا لپاره دی؟ د جمیلې لپاره؟ خلا په کیسه کې عددونو ته هم اشاره وکړه، چې باید هر عدد د یادولو دلیل ولري خو په دې کیسه کې د «درې، دوه او دولس» عددونو معنی ورته گونگه وه.

له خلا وروسته د غونډې وړاندې کوونکې **میمونه کامران** خپل نظر وړاندې کړ. د دې په وینا د کیسې پیل لږ ساکن انځور شوی، لهجوي کلیمات ډېر کارول شوي او ځینې پېښې یې تسلسل نه لري. میمونې وویل « څومره چې کیسه کې پېښې ځنځیري وي، هغومره یې پلاټ ښه راځي.» دې د یاګانو مسلې او د فعلونو مغیر شکل ته هم اشاره وکړه. اغلې کامران د دې یادونه هم وکړه چې عموما رواج دا دی چې تر څو یې قبر نه وي کیندلی مړی هدیرې ته نه وړي، خو په دې کیسه کې د جمیلې مړی وړل شوی دی. او د «تور خر» یادونه ورته بې خوابه وه چې ایا دا هغې سیمې کوم باور دی چې که څوک تور خر په خوب ویني دغسې تعبیرېږي او که د لیکوالې پنځونه ده؟

د **هیلې پسرلی،** زړه د د هلمند دې تصویر چې ښځې یې لیکل کوي او کتابونه چاپوي په ټوپونو و.

د دې په نظر «د بلا سیوری» کامیابه کیسه ده: « زه دا حالت احساسولی شم. زه د جنازې په فضا کې شریکېږم، او هنر همدا دی چې یو شی په موږ احساس کړي.» اغلې هیلې هم باور درلود چې کلیمات د کیسې د موضوع په خدمت کې دي. په ځانګړې ډول د کیسې په پای کې چې کوم متل راخیستل شوی، دا د ټولې کیسې پیغام دی. اغلې هیلې وویل « هر متل خپله یوه کیسه ده، چې له پېریو، پېړیو زموږ په ذهنونو کې ده، او که په کیسه کې راشي ډېر خوند کوي. ځینې خلک هڅه کوي په زور یې پکې ځای پر ځای کړي خو دلته طبیعي راغلی دی.» اغلې هیلې ته د کیسې تصویرونه روښانه او کلیوال و، دومره چې ټوله کیسه یې د دې سترګو ته ودروله. دې له کیسې دوه پیغامه واخیستل، لومړی دا چې شک ظلم دی، او رواني ناروغي ده چې د ډېرو افغانو ښځو ژوند یې قرباني دی.

هیلې وویل، که د توره کې د لیدلورې پر ځای د جمیلې یاني ښځینه لیدلورې نه دا کیسه لیکلی شوې وای، ممکن لا به ښه وه، ځکه چې ښځینه لیدلوری زموږ په کیسو کې ډېر نشته. دې هم د شفیقې خپلواک خبره بدرګه کړه د کیسې مکالمه یې کامیابه وبلله، خو د دې یادونه یې هم وکړه چې که ځینې کلیمات بدل رابدل شي تصویرونه ممکن سیمبولیکه معنی ومومي، مثلا د «جنګېږي» پر ځای که «لګېږي» شي. د جنازې او بنارسې انځور ته یې هم اشاره وکړه چې د هنر عمیق تضاد دی. هیلې ته هم د ځینو نور غونډې د کیسې یو نیم ځای کې تسلسل لړزیدلی ښکاریده، مثلا د دوه شپو مزل نه وروسته، د دې په خبره «که موږ په کیسه کې له یوې صحنې نه بلې ته ځوو، لومړی باید بشپړه شوې وي. په دې کیسه کې د زمان خلا ممکن په یو یا دوه جملو ډکه شي.»

**خوږې شهرزاد** ته کیسې ترخې خاطرې ور په زړه کړې، دې د یوې افغانې کیسه وکړه چې دوه کاله وړاندې ډنمارک ته کډوال شوې و. «میره یې ښځه همداسې د شک په تور ووژله. د هغې ښځې شپږ ماشومان پاتې شول او همداسې یې ټولو د پاک لمنې خبرې کولې. د ښځې مور په افغانستان کې ده او همداسې بېوسه ده، حتا د سرې له کورنی پوښتنه نه شي کولی چې ولې؟ د دې سرې په اړه ویل کېدل چې نشه به یې کوله خو شک به یې په خپلې مظلومې او معصومې ښځې کاوه. موږ افغانې ښځې که هر ځای یوو همدا بدبختې راپسې ده.» خوږې غریو نیولې وویل «د ماشوم تصویر چې د مور په ټټر یې لاس ایښی ما ګومان وکړ اوس به مینه ناکه صحنه وي، زما زوی الیاس همداسې ویده کېږي، خو هم هغه ځای کې جمیله وژل کېږي، زړه مې وبریښېده.» دې ته کیسه رښتیا او تسلسل یې روان و.

**څولی لمن** ته دې حسرت دریده چې «کاشکې دا بهیر مخکې پیل شوی وای او د نسیمې بارې غونډې کسان مو پیژندلې او ستایلې وای.» کیسې څولی ته ماشومتوب وریاد کړ چې د بلا، پیریانو او تورې شپې له کیسو به یې ډارولو. دې همدې ټراما یادونه وکړه چې لا هم زموږ په لاشعور کې شته او چې څومره هم لوی شو له شپې به ویره لرو. څولی هم د ماشوم د صحنې په لیدو خپله لور سترګو ته دریدلې وه. یادونه یې وکړه چې دا کیسې ډېرې زموږ په ټولنه کې پېښېږي او هېڅکله پر دې فکر نکوو چې څومره به زموږ د ماشومانو په روح بد تاثیر ولري. دې باندې کیسې دومره اثر کړی و چې تر ډېره یې د «جمیلې» په اړه فکر کاوه. د دې بې وسې یې ته زړه ژړلي و. خو څولی ته په کیسه کې دا پوښتنه هم وه چې توره کې دوه شپې مزل کړی، ملا یې پوښتلي و خو بیا یې هم ولې فکر نه و بدل شوی؟ د زړې ښځې یا د جمیلې د مور پخ عکس العمل هم ورته د پوښتنې وړ و، د دې په وینا حداقل یې باید ښېرا کړې وای. خو څولی د دې یادونه هم وکړه چې هر کله زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولنه کې لوښې له کورني تاوتریخوالي سره مخ کېږي مېندې یې ورته وایي چې صبر وکړي، حوصله وکړي او هغه دنیا به یې ښایسته شي یا به یې به همدې کې خیر وي.

زما (**فتانې ژوند**) نظر د کیسې په اړه دا و چې دا زموږ د ټولنې یو حقیقي تصویر دی. زموږ ټولنه کې خلک له حقیقتونو په شکونو ډېر باور لري. زموږ خلک تر بل هر چا د ملا ډېر اوري، خو د ملا په شتون کې بیا هم داسې پېښه کېږي، په دې معنی چې هېڅا هم خپل مسوولیت سم نه دی ادا کړی. ښارسۍ د ځوانمرګې ناوې د ارمانونو د رژېدو شاهدي ورکوي. خو دا چې توره کې تیشه په لاس کور ته راروانېږي د کیسې تلوسه کمزورې کوي.

**نسیمه باري** که څه هم پر سفر روانه وه خو بیا هم د غونډې په پیل کې د خپلې لیکوالې په اړه ځینې خبرې وکړې او د نورو پوښتنو په اړه یې وویل چې وروسته به یې ولیکي. اغلې باري وویل « زما کیسې ډېرې د ټولنو پر ناخوالو دي. هغه څه چې مې شاوخوا لیدلي دي. ډېرې کیسې مې د ښځو په ژوند راڅرخي. خو چې دې کې به څومره بریالۍ شوې یم نه پوهېږم. ما له اردو ژبې هم چې کومې ژباړې کړې ډېرې یې داسې وې چې زموږ د ښځو ژوند ته ورته والی لري.» اغلې باري د انلاین ادبي بهیر او کره کتنې دې لړۍ ته خوشحاله وه. د دې په باور څومره چې څوک د ښځو سره په ډاډه غږېدلی شي هغومره د نورو سره نه شي. دې وویل چې موږ باید د یوې او بلې پر اثارو صادقانه نقد، او نظر وړاندې کړو او په دې اوږد اغزن سفر کې د یوې او بلې لاسنیوی وکړو.

د غونډې په پای کې **مشاعره** وشوه چې میمونې کامران، ځولی لمن، خوږې شېرزاد، امنې فنا، تقوا شکوري، فتانه ژوند او شفیقې خپلواک شعرونه ولوستل.

**سلما بدري:**
کله کله د انسان زړه تنګ وي، خپه وي، هېڅ څه ورته ښه نه ښکاري، ګوښه کیني، لږ غږیږي، دغه حالت عادي نه دی؛ انسان یوه وړه خبره زړه ته اچوي او په سوچونو سوچونو یې دومره ستره کړي چې بلا ترې جوړه شي. یا هم زړه کې داسې درد وي چې نه غواړي چاته یې ووایي یا هم فکر کوي لکه ټول چې ترې خپه وي. داسې وضعیت او دا حالت اوس وخت کې خصوصا افغانستان کې بیخي ډېر شوی، ما خپله هم دا حالت درلود، ښه نو اوس چاره څه ده؟
زه به مې خپله تجربه شریکه کړم؛ ما لیکل وکړل، هره خبر مې له زړه را بهر کړه، قلم او کتابچه مې خپل نږدې ملګري کړل، ما حتا داسې څه هم ولیکل چې له لوستلو وروسته به په ځان شکې شوم چې دا زما لیکنه ده کنه؟
هر حالت، که د خوښۍ وي یا خبګان لیکل یکې پکار دي. که د الهام په تمه کینو داسې ډېرې شپې به سبا شي خو د الهام به درک نه وي.

## د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د نصیراحمد احمدي په یاد غونډه وکړه

## د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د اوومې غونډې راپور

**د غونډې ځای:** انلاین

**وخت:** د کابل پر وخت پینځه نیمې

**نېټه:** ۱۴۰۲ل/ کال د جنګاښ ۱۱مه، د جولای ۹مه

**وړاندې کونکې:** ګلالۍ مومند

**راپور لیکونکې:** میمونه کامران

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر غونډه د ۳۲ ګډونوالو په شتون چې د هیواد له بیلابیلو سیمو او له بهرنیو هیوادونو یې ګډون کړی وو، د تل په څېر په خپل وخت پیل شوه. دا غونډه د اروابناد ستر لیکوال نصیر احمد احمدي د دویم تلین په مناسبت د هغه یاد ته ځانګړې شوې وه. دې غونډې ته مقالې لیکل شوې او خاطرې راټولې شوې وې. د احمدي صیب په بېلابیلو اثارو هر اړخیزه څېړنه د موضوعاتو، ځانګړتیاوو، کرکټرونو، په نورو اغېز، او جادوګر قلم په برخه کې شوې وه. دا لیکنې به بیا د هغه کتاب برخه وي، چې د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر به کار په کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا غونډه په دوو پنلونو کې وړاندې شوه. په هر پنل کې پینځو ویناوالو د خپلو لیکنو یو لنډ غورچاڼ معرفي کړ، بیا نورو ګډونوالو ته د پوښتنو لپاره وخت ورکړل شو. لومړی پنل د خدای بښلي احمدي د ناولونو موضوعاتو، ځانګړتیاوو، ته ځانګړی شوی وو. او د دویم پنل موضوع د احمدي صاحب د لیکنو اغیز په ټولنه او ادب وو.

په پیل کې فتاني ژوند د خدای بښلي نصیر احمد احمدي د ارواح او د غونډې د پیل لپاره د قران عظیم الشان څو مبارک ایتونه تلاوت کړل. له اغلې ژوند وروسته شفیقه خپلواک د احمدي صاحب په پینځو ناولونو (رڼا، زرو، د غني ځاله، بربوکی، خونکار) کې په ښځینه کرکټرونو او ښځینه لیدلوري چې څه ډول موضوعات انځور شوي کتنه کړې وه، وغږېدله. وروسته سلما بدري چې کلونه کلونه د احمدی صیب په ګاونډ کې پاتې شوې وه؛ د هغه شخصیت، ژوند او کار اړوند په ځینو ناویلو خاطرو وغږېده. نرګس سهاک بیا د احمدی صیب د نثر په کمال، ژبه، انځور او جادویی قلم معلومات ورکړل. او لېمه ودان د خپلې مقالې په اړوند وغږېدله؛ دې ویل چې د مقالې سرلیک یې د نصیر احمد احمدي د ناولونو کرکټرکښنه ده. دا یې واضح کړې ده چې د ناولونو او کیسو د کرکټرونو توپیر یې په څه کې دی. همدارنګه یې په لومړي سر کې د کرکټرونو په ځانګړتیاوو هم خبرې کړې دي. د لومړي پنل وروستۍ ویناواله شبېه ګهیځ وه؛ چې د احمدي صیب د ناولونو په موضوعاتو وغږېده. د پنل په پای کې نسیمې باري له شفیقې خپلواک، ګلالۍ مومند له سلما بدري، کاملې عزیزي له نرګس سهاک، میمونې کامران له لېمې ودان او ځلا نور له سلما بدري څخه پوښتنې وکړې او مقاله لیکونکو هم په فصاحت سره د دوی پوښتنې ځواب کړې.

دویم پنل د احمدي صیب په کار اغیز ته ځانګړی شوی وو، هیله پسرلی دا وویل چې نصیر احمد احمدي ولې دومره لوستلی شوی لیکوال دی. اصلي موضوعات او موضوعاتو پر وړاندې د ده دریځ موږ ته څه وایي.

مینا نظري چې احمدي صاحب همکاره پاتې وه؛ د هغه په شخصیت او خاطرو وغږېدله. دا چې څه ډول لومړی یې پېژندګلوي ورسره شوې وه، په خپل مسلک کې څه ډول وو، د څه ډول زړه ښتن وو او خپل د خوښې ناول یې کوم یو وو، دا یې له ګډونوالو سره یې شریک کړه.

وروسته نعیمه غني د خدای بښلي احمدي صیب د لیکنو اړوند چې ماشوم ادب په برخه یې کړې دي، معلومات ورکړل. په پای کې ځلا نور د احمدي صیب په اثارو کې په انسان دوستۍ او امنه عزیزي د احمدي صیب د اثارو په اغیز وغږېده.

د دویم پنل په پای کې هم امنې فنا له مینا نظري، ملالې کلیوالي له نعیمې غني، ، معصومې عزیزي له مینا نظري څخه پوښتنې مطرح کړې او مقابل لوري هم پوښتنې ځواب کړې.

په وروستیو شېبو کې عابده سپوږمۍ ته غونډه وسپارل شوه؛ او غونډه یې په یو ښه خبر پای ته ورسوله. هغې وویل دا چې د احمدي صیب وروستی لیکل شوی کتاب ( پاچاخان ژوند لیک) چې د پاچا خان د ژوند کیسه کوي، د دې لپاره چې یاد کتاب په بازارونو کې نه پیدا کیږي نو د بهیر لخوا په انلاین بڼه خپور او د ادب مینوالو ته به وړاندې شي. همدارنګه به یاد کتاب په لنډه موده کې په صوتي بڼه د ښځو انلاین ادبي بهیر لخوا په خواله رسنیو خپور شي او اغلې مینا نظري به یې وړاندې کوي.

## د نصیر احمد احمدي خاطرې / مینا نظري

نصیر احمد احمدي په پښتو نثر او داستاني ادب کې پیاوړی او ځلانده نوم دی، د پښتو ژبې د معاصرې دورې دغه لویې هستۍ ولې په دومره لنډه موده کې د ادب د مینوالو په زړه کې ځای وموند او د کتابونو او ناولونو بازار یې ولې دومره تود و؟

ایا د نصیراحمد احمدي شخصیت او لیکوالي سره ورته و که بیل بیل یې موندلای شو؟

زه د نصیراحمد احمدي د شاګردۍ او همکارۍ په توګه غواړم دلته د ده د ژوند شخصیت او لیکوالی په اړه ځینې خبرې ولیکم چې ما یې په شخصیت کې لیدلي او یا مې د ده له خولې اورېدلې خبرې دي. په پیل کې د دې ځلانده ستوري په هغه رڼایی خبرې کوم چې کله یې هم دا رڼایي له چا په پور نه وه اخیستې بلکې د پښتو ادب دغه ځلانده ستوري په ډېر کم عمر کې داسې رڼایی وپنځوله چې تل به بلېږي او روښنایی به خپروي. نه یې له چا تقلید و کړ او نه یې هم د نورو په پیښو کولو وخت ضایع کړ. د خپل ولس په منځ کې اوسېدلی هره تجربه او هره کړنه یې د ولس او خپلو خلکو له پاره لیکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمدي صاحب تر مړینې وروسته د ده د کورنۍ ډېره لویه اندېښنه او غوښتنه دا وه چې د احمدي صاحب اثار دې چاپ شي هغه شپه په امیري روغتون کې د احمدي صاحب یو شمېر دوستان خواخوږي فرهنګیان او همکاران راغلي و چې یو هم غضنفر صاحب و. ده د احمدي صاحب د ورور د غوښتنې په ځواب کې وویل، نه دا غوښتنه او اندېښنه به تاسې نه کوئ، احمدي صاحب خپل کار کړی دی هغه د خپلو اثارو او پنځونو له پاره دومره کار کړی چې موږ به نه یو او نه به مو څوک پېژني خو د نصیر احمد احمدي نوم به ژوندی وي او نسلونه نسلونه به یې یاد ساتي. دا خبره به د هرې ورځې په تېرېدو سره ثابتېږي چې څومره په ولس او د ادب په مینوالو محبوب شخصیت و. خو زه یې د همکارۍ او دوستي په صفت په یقین سره ویلای شم چې نصیر احمد احمدي د پښتو ژبې جادوګر او ځلانده ستوری دی.

د نصیر احمد احمدي د ناولونو د یوې لوستوالې په توګه مې احمدي صاحب د زرو ناول له لوستو وروسته وپېژندو د احمدي صاحب نوم مې څو څو ځله د کتاب له پوښتې ولوست او له ځان سره مې تکراروه زه هغه وخت محصله وم د دې ناول ترلوستو وروسته مې هڅه دا وه چې نور ناولونه یې پیدا کړم او ویې لولم د کتابتون ادرس به ډېرو ټولګیوالو راکوو خو د کتاب د اخیستو هومره پیسې راسره نه بودېدې یوه ورځ د قلم ټولنې غونډې ته بلنه راغلې وه له نورو نجونو سره زه هم ملګرې شوم د خدای ښېلي شپون صاحب نمانځغونډه وه په لومړي ځل مې احمدي صاحب هلته ولیدو څومره مې چې لېوالتیا وه دومره ښه راباندې ونه لګېده.

نصیر احمد احمدي یو مغرور انسان په نظر راغی زړه مې ونه غوښتل ورشم او له نږدې ورسره خبرې وکړم. زما زړه د لیکوال له شخصیت هسک شو، او دا مې له پخوا له ځان سره منلې وه چې هر لیکوال د خپلو پنځونو سره ورته والی نه لري د دوی او لیکوالۍ یې خوارا لوی واټن تر منځ پروت وي. دا مې له څو نورو لیکوالو هم تجربه کړې وه، د نصیر احمد احمدي په څېره هم هغسې غرور ښکارېده خو بیا مې هم په زړه کې ویل هرڅوک دې داسې هنر ولري کاشکې ماهم ورنه یو څه زده کړي وی خو دا ناممکنه برېښېده.

څه وخت تېر شوی و په شپېه رادیو کې مې ادبي خپرونه چلوله. له احمدي صاحب سره مې وخت واخیست دفتر ته یې ورغلم، په ورین تندي یې مرکه راسره وکړه. تر دې وروسته زما تصویرد ده په اړه بیخي بدل شو. څه موده وروسته مې د احمدي صاحب په دفتر کې دنده واخیسته احمدي صاحب زما د خپرونو ایډېټر و په یو دوه کلونو کې یې دومره څه را زده کړل چې کیدای شوی ما په یو عمر کې نه وی زده کړي.

د احمدي صاحب د شعبې ور به تل پرانیستی و هرهمکار به د خپرونو مشورې ورسره کولې ما هېڅکله ونه لیدل چې د ده تندی به تریو شوی وي. احمدي صاحب ډېر اجتماعي نه و دا یې څو څو ځله خپله هم ویلي خو هر کله به چې کومې غونډې ته تلم نو باید مې له ده د تلو اجازه اخیستې وی. نه یې نه راته ویل خو دا خبره به یې راته کوله چې کار دې خلاص کړه بیا لاړه شه. هغه د ادب له هرې غونډې او هرې مسلې سره مینه درلوده. تر څو غونډو وروسته یې یوه ورځ په خندا راته وویل؛ مینا نظري خیر دی یوه ورځ ما هم غونډې ته درسره بوځه. د دې خبرې اورېدو یې حیرانه شوم خو ده به کله نا کله دغسې خبرې په شوخی هم راته کولې ما ورغبرګه کړه اوهووو دا مغرور لیکوال چېرې دې غریبانه غونډو ته ورځې. ته خو د یوې غونډې راته ووایه بیا وګوره له دې خبرې څه وخت وروسته د شفیقه خپلواک دماشومانو د هغو چاپ شوو کتابونو مخکتنه وه چې د علومو اکاډمۍ په تالار کې جوړه شوې وه. احمدي صاحب ته مې وویل ویې خندل. خپله وعده مې په یاد ده سمه ده ځو به.

تر دې وروسته به احمدي صاحب یو یونیمې غونډې ته تلو او په غونډه کې به یې له ډېرو ګډونوالو سره وخت په روغبړ تېر شو. د ادب ډېرې مینوال او د احمدي صاحب د ناولونو او لیکنو تږي به ترې را چارپېر شول. یو دوه غونډو ته په تلو مې له احمدي صاحب زده کړل چې دا وګړي او ولس په مینه پوه او د کار په ارزښت خبر دي. احمدي صاحب به د ګتو په شمار خلکو به شخصي پېژانده خو د ډېرو بیا د داستانونو او کیسو یار و هغه یې د داستان له خوږو پېژانده. احمدي صاحب داسې شخصیت و چې موږ یې په پښتو ادب کې بدیل نشو موندلی.هغه مغروره څېره چې ما تصور کړې وه ډېره مهربانه او ډېر د سترو اخلاقو بیلګه مې ومونده. کله ناکله به مو زنګ ورته وهو د دفتر کارونو او په کیسو کې به مې ترې مرسته وغوښته خو ځواب به یې وځندېده بیا به مې ورته ویل؛

ـ احمدي صاحب ناول خودې هم نه دی چاپ شوی بیا ولې دومره مغرور شوی یې. احمدی صاحب به خندل او رنګ به یې سور شو

ـ نه داسې خبره نه ده نصیر خوارکی نو چاته ورپه یاد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمدي صاحب د ناولونو ژبه هر لوستوال ته مالومه ده او په دې باندې د ده د هر مینه وال سر خلاص دی، احمدي صاحب د کیسې ژبې ته ډېر پام کوو د جملو طبیعي جوړښت ته یې ارزښت ورکوو. ده به تل داسې ژبه خوښوله چې په ذهن کې ورسره تخیل وزېږي

- ابې راباندې ګرانه وه

بصیر وویل:

پر ابې هم ګرانه وې، د ژوند خوند همدا دی، په نورو ګران و اوسه او نور درباندې ګران که.

دا لنډې جملې د احمدي صاحب د ټال ناول یوه برخه ده. په دې کې د احمدي صاحب د هنر خوږه ژبه لنډې او له احساس ډکې کلیمې لیدلای شو. زما د کیسو ژبه به یې هر وخت دومره خوږه ایډیټ کوله چې ماته به یې د خپل قلم او وچې ژبې توپیر په خپلو هنري جملو ثابت کړ. زما د کیسو له موضوع سره ډېره ستره ستونزه وه خو ده به په خورا اسانۍ موضوع پیدا کوله او په ډېره عالي انداز یې تصویري کوله.

احمدي صاحب هرې مشورې په پیل کې راته ویل چې هر وخت دې له کوچنۍ موضوع لیکل پیل کړل ته بریالی کېږې . ده به ویل چې هنر په سترو موضوعګانو کې نشته بلکې وړې ستونزې را واخله او د نوې زاویې ورته ځیر شه. احمدي صاحب د کلي ژوند او کړه وړه خوښول خو له تعلیم سره یې بې کچې مینه وه. احمدي صاحب د خپلو لورګانو تر څنګ خپلو وریرو او نورو نږدې خپلوانو ته د درس او زده کړو زمینه برابروله هغوی یې له کلي راوستي او په کابل کې یې په خپل کوچني کور کې ځای ورکوو.

د خپلو داستانونو په شان له مینې او عاطفې ډک و ډېره مطالعه یې نه خوښوله کتابونه یې نه لوستل خو کله هم چې نوی کتاب چاپ شوی دی تر بل هر چا لومړی خبرېدو او بیا یې له موږ سره هم شریکوو هسې به په خوله ویل چې له کتاب لوستو سره مې زړه تنګېږي خو دا خبره ما هېڅکله هم ورسره ونه منله. خو له فلمونو سره یې بیا علاقه زیاته وه. ده به ویل چې په داستانونو کې څنګه تلوسه ساتلای شو ده به د یوه فلم کیسه تل راته تکراروله چې څنګه یې دغه فلم تر وروستۍ شېبې کتلی.

احمدي صاحب خپل مسلک کې دومره مخلص و چې هره تجربه یې له مینوالو او همکارانو سره شریکوله. ده په لیکوالۍ کې د زار خبره نه درلوده ده به هره تجربه چې د کیسې په جوړښت او هنریت کې ګټوره تمامېده له نورو سره شریکوله.

د احمدي صاحب د اثارو په پوښتیو تل انځوروونه لیدل شوي دا انځورونه د ده خپل هنر دی چې په پوښتی یې هم خپل تخیل انځور کړی دی. د احمدي صاحب یوه خبره مې تل په یاد راځي، شعبې ته یې ورغلم د زړو ناول مې را پورته کړ ورته ومې ویل احمدي صاحب د دې ناول انځور دې ډېر فلسفي نه دی ایستلی. ده د کمپیوټر له څنګه سر را ښکاره کړ ویې خندل څنګه.

- ډېر عجیب دی د وچې ونې ښاخونه او د زړو ارمانجنې سترګې ...

- بس بس دومره هم ښه نه ده لکه ته یې چې راته تشریح کوې

ومې خندل؛ نه احمدي صاحب جدي وایم ډېر ښایسته تصویر دی

احمدی صاحب ته به مې چې کله هم احمدي صاحب ویل ده به په خندا راته ویل اورم نظري صاحب په دې ورځ یې هم راته ویل

- مننه نظري صاحب خو دې کې یو راز دی چې تاته به یې ووایم

حیرانه شوم څه به وي را غبرګه یې کړه

د دې انځور شونډې رانه خرابې شوې بیا مې دا د ونې په ښاخونو پټه کړه او دا شی ورنه جوړ شول.

احمدي صاحب په هره تېروتنه کې هم یو هنر زېږوو او له خوند او رنګ به یې ډک کړی و. احمدي صاحب د ټولنې له هرې ناوخوالې سره د یوه لیکوال له زاویې برخورد کوو. ده به له ستونزې شکایت نه کوو بلکې په حل یې فکر کوو. نه یوازې دا چې په دې یې فکر کوو چې څنګه حلوی بلکې پر دې به یې هم فکر کوو چې ټولنې ته څنګه فکر ورکړي او څنګه یې بنسټیزه حل راوباسي.

د نصیر احمد احمدي په لیکنو کې ډېر کله د ښځو ژوند او نادودو ته پام کړی احمدي صاحب د ګاونډې لور ته خپلواکې او تعلیم نه غوښته هغه د خپل کور نه پیل کړی و هغه د ګاونډي د لور داسې صفت نه کوو چې ګواکې لور یې زړه وره ده په بایسکل ځي او له دوکانه سودا را

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي بلکې ده د خپلې لور ارزو کیسې راته کولې چې څومره هوښیاره او زړوره ده، کومه کیسه چې نصیراحمد احمدی رښا ناول کې کوي هغه په رښتوني ژوند کې موږ هره یوه تجربه کړې. له بهره راغلې ډاکترې ته سر ټیټوو او هغه ستایو خو د خپلې خور لور لپاره مو دروازو ته ځنځیرونه اچولي دي.

احمدي صاحب ګڼې اقتصادي ستونزې هم درلودې خو ده به دا ستونزې د خپل هنر او مسلک سره نه ګډولې، بلکې په ډېر اخلاص یې لکیوالۍ ته ادامه ورکوله. ټال ناول چاپ ته چمتو کړی و ډېرو دوستانو ترې هیله کړې وه چې دا ناول د دوی مطبعې ته د چاپ له پاره ورکړي خو احمدي صاحب یکې زړه نا زړه و زنګ یې راته وکړ چې یو ځل ورشم کله چې ورغلم ویل چې دا ناول ولوله او بیا راته ووایه چې څنګه دی. ناول مې ولوست ډېر خوندور و. ترې ومې پوښتل کله یې چاپ ته ورکوې. تکیه یې وکړه؛

ـ نه پوهېږم چاته یې ورکړم ډېری دوستان او ملګري شته چې په لوړ قیمت یې راته چاپوي او زه پیسو ته ضرورت هم لرم خو بیا هم دا کار نشم کولای.

ـ دې کې د حیرانۍ خبره څه ده خو ښه خبره ده هغه ته یې ورکړه چې ډېرې پیسې درکوي ده سر وخوځوو زیاته یې کړه؛

ـ نه کېږي هغه وخت چې ما لیکنې نوې چاپېدې ډېرو راته ځواب راکړی و نه یې چاپولې یوازې مومند خپرندویه ټولنه وه چې هو یې راته وویل او زما لومړني اثار یې راته چاپ کړل. اوس یې هم هغوی ته ورکوم ځکه چې دوی په سخته ورځ راباندې باور کړی .

احمدی صاحب احسان منونکی او د لوی زړه څښتن و. د همکارونو سره خوارا صمیمي او ملګری انسان و. تل یې هر یو په خپل انداز هڅولی. د هر همکار پوښتنو ته یې په مینه ځواب ویلی یادېږي مې چې ترې ومې پوښتل ته د ناول لیکلو مخکې کوم شیان لیکې وې ویل خاکه یې لیکم خو بیا یې وخندل ډېر څه سملاسي لیکم کله یې هم چې مخکې تر مخکې ولیکم بیا راته بې خونده ښکاره شي. احمدي صاحب د خپلو لینکو له پاره مخکې له مخکې هغه څه نه برابرول لکه د ناول په اوصولو کې چې یې موږ لولو. د تیورۍ له مخې دی هغسې لیکوال نه و چې ټول خام مواد یې مخې ته اینبې وي او بیا یې په ترتیب درباندې کار کړی وي. ده به تل دا خبره کوه چې یوازې موضوع په پیل کې مهمه ده چې باید پرې فکر وشي وروسته بیا نورې برخې خپله لیکل کېږي. ده به تل خپل داستانونه په یوایتوب کې لیکل کم یې په مجلسونو او غونډو کې ګډون کوو ډېر وخت یې خپلو لیکنو او د دفتر کارونو ته ورکوو. له احمدي صاحب سره مو څو ځله تصمیم ونیوو چې د ژورنالیزم په برخه کې درس وواېي خو اقتصادي ستونزو او د وخت د کمۍ له امله یې دا ارمان پوره نشو او تل به یې ویل چې د انګلیسي ژبې کورسونه به لولم خو د ځوانیمرګ احمدي صاحب دغه هیله هم نیمګړې پاتې شوه.

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوې وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه به د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپرېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library






## د نصیراحمد احمدي د ناولونو ښځینه کرکټرونه | شفیقه خپلواک

په ادبیاتو کې د ښځو د ستاینو کمی نشته. ځینې خو غزل هم همداسې تعریفوي چې د ښځو صفت یې بولي. د هوسۍ سترګې، د ویښته هومره نرۍ ملا، د سپوږمۍ غوندې سپین مخ، د پرخې غوندې خوله، د مار غوندې زلفې او ډېر نور تشبیهات ممکن د ورځې څو ځلې واورو. د لویو شاعرانو له دیوانونو نیولې بیا د سندرغاړو تر سندرو. خو ډېر کم د دې تورو سترګو تر شا درد، په نرۍ ملا بار غمونه، او د مار غوندې زلفو لاندې عقل او ځیرکتیاویني. څو کاله وړاندې مې خوشحال خان بابا له معمول ډېر ولوست. د ډېرو نورو شاعرانو برعکس مې د ده په شاعرۍ کې د معشوقې د عقل، ښو خبرو، هوښیارۍ، هوډ، جرات، زړورتیا او ډېرو نورو خصوصیتونو ستاینه ولیدله. خینې ځایونه خو ده بیخي له ظاهري ښایست نه د ښځې باطني ښکلا ستایلې وه.

*په خصلت، هنر، سیرت دانش باقي وي*
*قد، قامت، صورت، فاني دي سپین و تور*

---

*ملاحت ده، نزاکت ده، لطافت ده*
*د خوشحال دلبره سر تر پا ښایست*

هغه وخت دې شاعرۍ ته دومره خوشحاله وم چې یوه مقاله مې پرې ولیکله او فکر مې کاوه کوم لوی کشف مې کړی. زه ملامته نه وم، که نیم عمر دې یوازې د ښځو د سترګو، ښو، ویښتو، غاړې او تګ ستاینې اوریدلې وي، بیا دومره وړې خبرې هم لویې چاته ښکارې. وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې چې د خوشحال بابا نور شعرونه ولوستل ځينو ځايونو کې ښځې بيخي د فتنو زېرنده بولي. خو حداقل خوشحال خان له هم هغو نادرو شاعرانو دی چې د خپلې مينې له عقل او مرستې نه منکر نه دی.

*اوس مې بيا مونده په کور کښې*
*چې همېش يې وم په مرسته*

يو وخت کوم شاعر د نجلی له ديد نه شعر ليکلی و. د ده په شعر کې د نجلۍ ورور نه و، او دې ته ځان دومره کمزوری ښکارېده لکه بې سرپناه کور. پر فيسبوک مې ورته وليکل چې ښايي موخه يې دا وي چې له ښځو سره خواخوږي وښيي خو د دې پر ځای مو بيخي کمزورې ګڼلې. که د يوې نجلۍ ورور نه وي هم پياوړې ده. ضرور نه ده حتما دې د پلار، ورور، زوی او يا مېړه په شتون کې ځان خوندي او تکړه احساس کړي. زموږ ټولنې ته ډېر اوږد مزل پاتې دی چې ښځه سياله وګڼي، انسان ورته ښکاره شي او د هر هغه څه فرصت ورکړي چې نور يې لري. خو حداقل زما فکر دا دی چې زموږ د ټولنې روښانه فکره او د قلم څښتن قشر کولی شي د دې سفر د لارې په اسانولو کې کومک وکړي. زما په نظر اروابناد نصير احمد احمدي دا مرسته تر خپل ممکن وسه کړې ده. د ده د ډېرو کيسو او ناولونو موضوعات د افغان ښځو د ژوند پر ناخوالو او ستونزو راڅرخي. ما په دې مقاله کې د اروابناد احمدي د پنځو ناولونو «زرو، رنا، د غني ځاله، خونکار، برېوکۍ» ښځينه کرکټرونو ته کتنه کړې ده. په دې ناولونو کې د دوه کتابونو نومونه «رنا او زرو» د ښځينه کرکټرونو دي، د غني د ځالې راويې «طاهره» ښځه ده، د برېوکۍ مرکزي کرکټره «ماريا» ښځه ده او د خونکار ناول کرکټره «غوټۍ» په دې ارزې چې څوک ورته تم شي.

احمدي صاحب د ټولنې ليکوال و. هيلې پسرلی په خپله ليکنه کې د «ولس ليکوال» بللی. دی ښايي تر بل هر پښتون ليکوال نه ډېر لوستل شوی وي. يوازې لوستل نه بلکې ډېرو يې کيسې له راډيو اورېدلې. څو کاله وړاندې زه کلي ته تللې وم. څو نجونې مې څنګ ته غلې راغلې راته يې وويل: « ته د (رنا) ولا نصير احمد پيژنې؟» دوی دې ته ليواله وې چې نصير احمدي به څرنګ ښکاري؟ چېرې اوسي؟ ايا رنا د رښتيا وه؟ يو وخت يې اغزن سيم له راډيو خپرېده، يوې خپلوانې مو راډيو چالانه وه. کوټې ته ورننوتلم، سترګې يې تکې سرې وې. چې ومې وپوښتله ناول ته يې ژړل. خدايزده تصادف و که دا چې احمدي د بې غږو غږ و چې ما تل د ده په اړه له ښځو ډېر اورېدلي. هغه که لوستې افغانستان کې ښځې دي، که په بهر کې افغانانې او که کليوالې نجونې چې الف هم نه شي ليکلی.

د نصير احمد احمدي په ناولونو کې ښځينه کرکټرې د خپلې «ايجنسي» څښتنې دي. دا په دې معنی چې دوی د پرېکړې کولو توان لري او دې ته چمتو دي چې له عواقبو سره يې مخ شي. هغه که د رنا او زرو غوندې د مينې ليونۍ دي، که د طاهرې غوندې له قمارباز او بېباکه مېړه ځان خلاصوي، او که د ماريا غوندې د خپل مسلک لپاره هر خطر مني. دا هغه څه دي چې د پښتو ژبې په ډېرو داستانونو کې کم رنګه يا په نشت حساب دي. عموما ښځه مظلومه ده، بې زړه ده، بايد يو څوک يې د خونديتوب غم وخوري، يا د هنديفلمونو غوندې يو هېرو راڅرګند شي چې دا وژغوري. د احمدي صاحب په ناولونو کې ښځه تل کوښښ کوي په خپلو پښو ودرېږي. مثلا که د «غني ځالې» ته تم شو، د دې ناول راويې طاهره ده. دا کونډه شي، مېړه يې برق ونيسي او دا کومک ونکړي چې وې ژغوري. يو لور او زوی ورپاتې شي. له خپل ليوره نيولې بيا د کوڅې هر نارينه يې تياره ګوله بولي. طاهره همت ونه بايلي، خپل اولاد ته په حلال رزق پسې پښنې ټناکې کړي. په واوره او تېز لمر کې ناسته وي د خلکو بوټونه رنګوي. طاهره د ښځې د معمول انځور غوندې نه ده، دا نه يوازې چې غلې کېږي نه بلکې که اړتيا شي فزيکي وار کوي. حتا که کوم سړی بې نزاکتي ورسره وکړي دا يې په وهلو پښېمانه کړي. کله، کله پوچې ښکنځلې کوي، خو هېڅکله خيرات او مفتې مړی ته نه کيني. طاهره تل په چادرې کې نغښتې وي، خو هوډ او عقل يې دومره پوخ وي چې ډېر تېز خلک په ګونډو کړي. نړيوال زموږ د ښځو انځور تل په چادرې کې وړاندې کوي، ګوندې مظلومه ده. د خپل ژوند او خپلې پرېکړې اختيار نه لري، خو د دې چادريو تر شا ډېرې طاهرې شته چې مخونه به يې پټ وي خو د ژوند له ساړه باد سره تل په جګره کې دي او تر ډېرو پياوړې دي.

احمدي صاحب په همدې ناولونو کې کوښښ کړی چې د افغاني ښځې يو واقعي انځور ترسيم کړي. زه دا منم چې زموږ ښځې تل خپل برخليک نشي بدلولی، ډېر وخت د ناسمو دودونو او د نرواکې د بلا قرباني دي، خو دا به هم ظلم وي که دوی بيخي بې لاسه بې پښو او بې تفکره وبلل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*د پښتنوالي درنه پته*
*زما په خوله دې لاس نیوه ګونګه دې کړمه*
کله، کله به غلې کېږي. خو کله، کله له خپله سره هم تېرېږي او په جار ناره کوي چې:
*که څوک مې ښه بولي که بده*
*راتول به نکړم د سالو د سره پلونه*
د احمدي صاحب د دې ناولونو کرکټري کله، کله د لومړۍ لندۍ غوندې د ګیلي ناره کوي، او کله، کله د دوهمې لندۍ غوندې په چا یې باک هم نه وي. مثلا د بوړبکۍ په ناول کې د ماریا کرکټر. دا نجلۍ په ختې افغانه وي خو بهر کې لویه شوې وي. بیا د هغوی د استخباراتو له لوري افغانستان ته د یوه ماموریت لپاره راغلې وي. دا باید کوم جنګیالی وومي نو ځان په یو جنګ کې دښمن ته تسلیموي چې همدې کس ته ورسپږي. بالاخره له یوې کوچې کورنۍ سره میشتېږي، چې یو زلمی زوی، زړه مور، پیغله خور او کونډه ورېندار لري. په ماریا باندې کوچی زلمی مینېږي، زړه یې د دې له غږ سره دربېږي خو په پای کې خبرېږي چې ماریا جاسوسه ده. د دې زلمي خور وړانګه په ځلونه د خپل قهرجن ورور مخکې دربږي، د ځان او نورو دفاع کوي. افغانو ښځو هر وخت هر څه په ځان نه دي منلي، بې غږ نه دي، د دوی غږ تل جوت دی، خو یوازې دومره لوړ نه دی چې د کېږدۍ له څنډو یا د لوړو کلاو له دنګو دیوالونو د باندې راووځي. ماریا د ټولو هغو تعریفونو برعکس کرکټر دی چې زموږ ټولنه یې ښځو ته لري. دا پوخ کې کار کوي، د دښمن په کور کې بندي‌کېږي او بالاخره په زړه پاک هلک ته دروغ وایي او په دې اړه هېڅ خجالته نه وي. ماریا خپلواکه، محترکه، په ځان باندې، زړوره، ظالمه، سخت دریځې او د خپل برخلیک ټاکوونکې کرکټره ده. حتا ماریا د کیسې «انتاګونیست» یا منفي کرکټره ده. خلاصه دا چې احمدي صاحب ماریا دا ډول انځور کړې ښایي که ده د کوم نارینه جاسوس په اړه لیکل هم کول همداسې به و.

د خونکار په ناول کې د غوټۍ کرکټر کټ مټ لکه زموږ د کلي کومه پیغله. د تره خیال ساتي، د ماما خبره مني، واده ته غاړه ږدي. خو چې کله د حق خبره راشي نه غلې کېږي حتا که مرګ په خپلو سترګو ویني هم. چې میره یې د وژلو نیت کوي دا ورسره سمې ډغرې وهي، او له دې هم نه ډارېږي چې قتل به وکړي. زموږ د وطن ډېرې ښځې همداسې دي، ممکن غلې شي او د نورو خیال وساتي خو که کله د عدالت خبره کیدله بیا به یې تر هر چا غږ لوړ وي. بیا به زړورې هر خطر ته ولاړې وي.

*مېینه یم منکره نه یم*
*که شینکی خال مې د چړو په څوکو ځینه*
—
*مېینه یم منکره نه یم*
*که جلادان مې سر له تورو سره وړینه*

موږ که له یو چا کرکه کوو، په ویاړ وایو چې پلانکی یا پلانکۍ مې بده ایسي. خو که خبره مینې ته شي بخصوص رومانتکې مینې ته بیا نو کفر ده. په کومو ټولنو کې چې مینه عار او شرم وي، هغلته نه جګړه دربېږي نه بدبختي ورکېږي. په مینه باید ژوند ښایسته وي خو زموږ د ټولنې ژوند پرې عذاب دی بخصوص د ښځو. که ښځه د مینې نوم واخلي یا د خپلې خوښې یادونه وکړي بیا بدنامه ده. بد اخلاقه ده. ګنهګاره ده، تر دې چې مرګ یې روا دی. دا یوازې زموږ د نکلونو کیسې نه دي، واقعي ټولنیز ژوند مو همداسې دی. ما د دې مقالې لپاره چې د لیکوال دوه ناولونه زرو او رڼا ولوستل زموږ د ټولنې د همدې ترخې تجربې واقعي تصویرونه مې سترګو ته دریدل. دوه پیغلې چې خپله مینه ورته تر هر څه سپیڅلې ښکاري، تول خندونه، پیغورونه او ستونزې ویني خو بیا یې هم د زړونه چینه یې د مینې په رڼو اوبو مست خوټېږي. ښایي څوک ووایي چې رڼا ډېره مظلومه او بېچاره وه، خو ماته د دې په کرکټر کې د دې یوې غښتلې ښځې تصویر و. سره له دومره خبرو، بیا هم د خپل مېین «جمال» یو عکس د مرګ تر شېبې زړه ته نږدې ساتي. تر پایه وفاداره وي او د جمال د یوې خورې خبرې په هیله ساه اخلي. رڼا له مظلومیت نه د جمال په تمه نه وه، له مینې وه. دا یې انتخاب و او دا لوی زړه غواړي چې د لاسته راوړلو تمه نه لرې خو وفاداري او مینه دې نه لړزېږي. دا قوت او ځواک په ښځو کې ډېر دی. د رڼا لور پانه سره له دې چې ماشومه نجلۍ ده خو د یو پوخ انسان غوندې یې د ژوند مسوولیتونه منلي. نه سوال کوي نه زاري، بلکې خپله مزدوري کوي. یوه ګوله ډوډۍ د مور او ځان لپاره د لاس په ټټاکو مومي. تر دې بل غیرت شته؟

د زرو په ناول کې نجلۍ لومړی هلک ته زنګ وهي. د مینې اظهار کوي، له کلې د تښتېدو خبره کوي. حتا ګوابښې یې. دا ډېرو د معمول فکر برعکس خبره ده چې باور لري لومړی اظهار باید په مینه کې نارینه وکړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



_زه دربانديې ګرانه یم؟

_هو!

زرو یوه شېبه غلې وه، ما یې یوائې د ژړا غږ اورېده، وروسته یې په غریو کې وویل:

_ماخستن راشه او ما له دې ځایه بوځه.

ځای پر ځای کېناستم. زرو وویل:

_ووېرېدې؟

غلی وم. ویې ویل:

_پوهېدم چې دومره زړه نه لرې. بس نو، سهار به مې د جنازې خبر واورې. چیغه مې کړه:

_دومره بې عقلي مه کوه.

په غریو کې یې وویل: سهار سپېده چاود، پر بام د مورکانو له دوا سره درته ولاړه یم، د غزني په اولیاوو لو(قسم) در ته کوم، که مې ددښتي لخوا د بجلی (لاسي بتی ) رڼا ونه لیده، مړه مې بوله. تلیفون قطع شو.

زرو د خلکو ستوغي خبرې اورې خو له خپلې پرېکړې نه پیښمانه کېږي. یوې ښځې ته ښایي د هغې له پاکي لمني بل هېڅ هم مهم نه وي، خو کله کله مینه دومره پرې غالبه شي چې که د ټولو سترګې ور اوړي هم دا به ونه لړزېږي. لکه دا لنډۍ چې:

خلک دې وایي چې څه وایي
زه مې له خپله یاره نه توبه کومه
د احمدي صاحب د نورو ناولونو کرکټري که ښځې نه دي هم ده د ښځو ستونزې یادې کړي. «د غني ځاله» په ناول کې په بیا، بیا د نجونو په تعلیم او کار تاکید کوي. لوستونکو ته ښیي چې د یوې ښځې زده کړې او کار هغې، کورنۍ او اولادنو ته یې به عزت ژوند ورکولی شي. ده د «جو جو» ناول کې په ځلونو د ښځو پر وړاندې بې عدالتیو ته اشاره کړې. همدې ناول کې یو ځای لیکي:

«_په ټوله ولسوالی کې یوازې یو مکتب دی، هغه هم د هلکانو له پاره، نو خوارکی نجوني څه ملامتي دي، هره ورځ کوټې جارو کوي، په کوم کاغذ پسې به ګرځي چې د کار دی که بېکاره. که همدې نجونو مکتب ویلی وای، نو په سیمه کې به مو ډاکټره درلودی، د لال مامد ښځه به یې ولې نیمه شپه په خامو لارو تر ښاره وړله.»

د خوړې شېرزاد یو بیت دی:

*غږې مې جګه وه نیولې چا مې ورور ستایه*

*او ورور مې سترګې ټیټولې زما نوم یاد شو*

زموږ ټولنه کې د ښځې نوم شرم دی. نوم هویت دی، بغیر له نوم هېڅ شی نشته. خو زموږ ښځې هڅکله په خپل نوم نه یادېږي. همدا ستونزه احمدي صاحب د «جو جو» په ناول کې ډېره واقعي تصویر کړې. د مرکزي کرکټر تواب مور ته یې تل خسر د «بلا» په نوم غږ کوي. د تواب یو تره خپلې ښځې ته د «عاجزې» په نوم غږ کوي. له کوم افغان مو تر اوسه اوریدلي چې ووایي «ګلالی، شریفه، فاطمه، رحمته» مې ډاکټر ته راوستلې، خو ټول به وایي «واړه » مې راوستلې. د دې ناول یوه برخه کې لیکي:

«_یوه ټکي ته مې پام شو، وړې نجوني نومونه لري، زرمینه، طاهره، ملالی...خو چې غټه شوه او واده یې وکړ، بیا یې نوم بدلېږي. تورسرې، سیاسره، کډه، عاجزه، د حیوانانو مور ، بلا ... .دا ولې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ په ورځني ژوند، غم او ښادۍ هر وخت کې دود همدا دی چې اول به نارینه مړۍ خوري بیا به ښځې ډوډۍ خوري. ښروا به که پخه شوه غوښه به سړیو خوړله، اوبه به یې بیخ کې ښځو ته پاتې شوې. ښه برخه تل د زوی وي. همدا ناوړه دود احمدي صاحب د جوجو ناول کې یو ځای داسې تصویر کړی:

«یوه پوښتنه؟

_وایه.

_نجونو او ښځو ساده چای خوړ، خو نارینه وو او هلکانو ته د شیدو له چایو ډکه چایجوشه ور وړل شوه، ولې؟

تواب وویل:

_نیکه مې وایي چې هغوی نجونې دي، بلا یې نه وهي.

جُوجُو وخندل:

_کوټ، کوټ،کوټ... هغوی ګېډې نه لري!»

د زرو ناول د شنه توتي په مات وزر پیلېږي. زرو مړه وي، کامران (مبین یې) یوازې پاتې وي. لیکوال راته وایي چې بغیر له ښځې نارینه لکه یو وزری مرغی. لکه همدا ټپي توتي، نه به الوت کولی شي نه ژوند. ښځه او نر لکه دوه وزرې که وي مارغه به الوځي کنه نو نورو ته به محتاج وي. کورنی، ټولنې او هیوادونه هغه وخت الوځي چې دواړه وزرې روغې وي. بیا به له ښکاریانو هم ځان ساتلی شي او د چا محتاج به هم نه وي، کنه نو یا به یې ژوند د سوال وي او یا به هم نه پایي.

د جولای ۴مه، ۲۰۲۳ز

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوې وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**

## د نصیر احمد احمدي د ناولونو کرکټر کېښنه / لیمه ودان

زه د نصیر احمد احمدي په ناولونو کې د کرکټرونو په ځانګړتیاوو خبرې کوم، په دې مقاله کې به دې ته ګورم چې د ده د ناولونو او لنډو کیسو د کرکټرونو توپیر په څه کې دی او کرکټرونه یې څنګه راپېژندلي. د دې سوال د ځواب هڅه هم کوم چې دوی د کرکټرونو ظواهرو ته پام کړی، که رواني اړخ ته.

د دې مقاله په لومړي سر کې د اروابښاد نصیر احمد احمدي د ناولونو د کرکټرونو په ځانګړنو خبرې شوې دي. احمدي صاحب د ناولونو د کرکټرونو د دریګونو اړخونو( ظاهري، باطني او ټولنیز) بیان ته ډېر پام کړی دی. کله چې د احمدي صاحب ناولونه لولو، داسې فکر کوو لکه په خپلو سترګو یې چې وینو. احمدي صاحب د کرکټرونو رواني اړخ ته هم پام کړی، د کرکټرونو باطني اړخ یې له رفتار څخه څرګند شوی. د دې تر څنګ ټولنیز اړخ ته یې هم پام کړی دی. د اروابښاد احمدي د ناولونو د کرکټرونو بله ځانګړنه دا ده، چې بېلې څېرې لري او عادتونه یې سره ورته نه دي. دا د دې لامل کېږي، چې لوستونکي په ناول کې له بېلابېلو څېرو سره مخامخ. یوه بله ځانګړنه یې دا هم ده، چې د احمدي صاحب د ناولونو د کرکټرونو خوی پرته له دلیله نه دی بدل شوی. داسې نه ده چې په یوه عادي نصیحت یو کس بیخي بدل شوی وي. په ځینو داستانونو نیوکه کېږي چې کرکټرونه یې یا تک تور وي یا تک سپین، د احمدي صاحب د ناولونو کرکټرونه د دې پر خلاف تک تور یا تک سپین نه دي. داسې نه ده چې ښه کرکټر دې ټول ښه خویونه ولري او بد دې هېڅ ښېګڼه ونه لري. داسې هم نه ده چې د کیسې اتل یا اصلي کرکټر دې تل ښکلی او ضد یې تل بدرنګ وي. د احمدي صاحب د ناولونو د کرکټرونو بله ځانګړنه دا ده چې ځیني کرکټرونه یې منفعل دي. د دې بحث بله موضوع د احمدي صاحب د لنډو کیسو او ناولونو د کرکټرونو توپیر ده.

په لومړي سر کې د احمدي صاحب د داستانونو د کرکټرونو ځانګړنو ته راځو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمدي صاحب د داستاني اثارو کرکټرونه داسې نه دي لکه د خیال زېږنده؛ بلکې داسې دي لکه ریښتیني انسانان، له همدې امله لوستونکی د هغې په هره بریا خوښ او په هره سختۍ یې اوښکې تویوي. نوموړي په داستاني اثارو کې د کرکټر د درې ګونو اړخونو ځرګندونې ته پام کړی دی.

احمدي د ناول د دود پر خلاف د یوه کرکټر فزیکي او رواني ځانګړنې درته بیانوي نه، بلکې د بل کرکټر له نظره ورته ګوري، د راوي له زاویې یې څېره او عمل درته انځوروي او تا ته پته لګي، چې کرکټر د څرنګه شخصیت خاوند دی.(ښکلی، ۱۳۹۶: ۳۶۸)

په دې برخه کې به د احمدي صاحب په داستاني اثارو کې د کرکټر درې ګوني اړخونه بېل بېل وڅېړو:

**ظاهري اړخ**

احمدي صاحب د ناولونو د کرکټرونو د ظاهر بیان ته ځانګړی پام کړی دی. ده لوستونکي ته کرکټرونه معرفي کړي نه دي؛ بلکې ښودلي یې دي. د کرکټرونو د ظاهر د بیان لپاره یې ځانګړې جملې نه دي لیکلې؛ بلکې ډېری یې د کرکټرونو د حرکاتو په ترڅ کې راښودلي دي. کله چې موږ د ده ناولونه لولو؛ د کرکټر څېره مو سترګو ته دربېږي، دا د دې لامل کېږي چې کرکټرونه او کیسه یا ناول مو تر ډېره په ذهن کې پاتې شي.

په برېبوکې ناول کې لولو:

(د بوډۍ سپین وېښته له ټیکري راوتلي وو، نرور یې هم خیرنه او ډنګره وه، خو نجلۍ په غوښه پټه ښکارېدله، په غنم رنګه زنه یې درې شنه خالونه وهل شوي وو، تورې ډبلې وروځې یې لرلې او تر خړې پاسنۍ شونډې یې واږه، نري تور رنګه وېښته راتاو وو.) (احمدي، ۱۳۸۸:۶)

په دې برخه کې په یوه جمله کې د برېبوکې ناول د درې کرکټرونو ظاهري اړخ تر یو حده ځرګند شوی. دلته هېڅ یادونه نه ده شوې چې ګواکې دا کرکټرونه کوچیان دي، خو د شنو خالونو یادونه د یوې کوچۍ انځور زموږ سترګو ته دروي.

اروابښاد احمدي نه یوازې دا چې د اصلي کرکټر د ظاهري اړخ بیان ته پام کړی؛ بلکې د فرعي کرکټرونو څېرې یې هم لوستونکو ته روښانه کړې دي، د بېلګې په توګه:

( د یوې اووه-اته کلنې نجلۍ په اوږده مخ کې تر غټو خړو سترګو، تور او اوږده بانه تاو وو. ده دا ډول سترګې پخوا لیدلې وې او په دې خړو سترګو کې یې بې شمېره یادونه پراته وو. په بیره یې د نجلۍ نوره څېره تر سترګو تېره کړه، خو دا ډول وچ، ژېړ او ټاپې، ټاپې مخ یې د لومړي ځل لپاره لیده. نجلۍ لمر سوځولی، تور او سپېره مخ درلود او په نرۍ غاړه پورې یې یوه درې کونجه تاویذ ټال خوړ.د دې ګرین شکېدلی و او جامې یې سوالګرو ته ورته وې.) (احمدي، ۱۳۸۷:۱۲)

دا په رڼا ناول کې د پاڼې په نامه فرعي کرکټر دی. یوازې همدې پاراګراف زموږ په ذهن کې د یوې ماشومې انځور ترسیم کړ، که د ناول په بله برخه کې یوازې د دې کومه نښه یاده شي، مطلب که نوم یې وانه خیستل شي؛ نو بیا هم لوستونکی پوهېږي چې پاڼه ده، لکه:

(کله چې جمال ښې لور ته سلام وګرځاوه، بدن یې ځېر شو، ده ته مخامخ د څو مېږو او اوزو په مینځ کې یوه خیرنه نجلۍ ولاړه وه، د هغې تر غټو خړو سترګو تور اوږده بانه راتاو وو او ګرین( ګریوان) یې شکېدلی ښکارېده.) (احمدي، ۱۳۸۷: ۳۷)

په دې برخه کې د کرکټر د نوم یادونه نه ده شوې؛ خو بیا هم لوستونکی پوهېږي چې پاڼه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باطني اړخ**

د احمدي صاحب د ناولونو د کرکټرونو فطرت، خوی او خلاق هم د ناول په جریان کې د کرکټرونو له کړنو څخه راته روښانه شوي دي. د احمدي صاحب د داستاني اثارو د کرکټرونو باطني اړخ هم معرفي شوی نه دی؛ بلکې ښودل شوی. نه يې دي ويلي چې پلانی مهربان سړی دی؛ بلکې په کيسه یا ناول کې يې راته ښودلي چې مهربان دی یا نه دی. په خونکار ناول کې حمید نومی کرکټر حریص انسان دی، د ځمکې او جایداد لپاره د درې کسانو وینه تویوي. دا هر څه په ناول کې لوستونکي ته ویل شوي نه دي، لیکوال نه راته وايي چې حمید حریص یا خونکار دی؛ بلکې د ناول په جریان کې لوستونکي ته ښودل شوي دي.

په رڼا ناول کې اصلي کرکټر( رڼا) له ماشومتوبه منونکې نجلۍ ده. په ژوند کې له ډېرو ستونزو سره مخ کېږي. که څه هم په دې تورونه پورې کېږي؛ خو بیا هم ګیله نه کوي. خپلې میني ته وفاداره پاتې کېږي، ان له خپل خاوند( چرسي خیرو) سره هم بې وفايي نه کوي. کومې پیسې چې د ګرېوانونو له ګنډلو تر لاسه کوي، خپل خاوند ته يې ورکوي؛ نو دا هر څه د رڼا زغم راته څرګندوي او موږ پوهېږو چې هغه پاکه او وفاداره مېرمن ده.

**ټولنيز اړخ**

د احمدي صاحب د ناولو او کیسو د کرکټرنو ټولنیز اړخ هم روښانه دی. دا چې دوی په ټولنه کې کوم موقف لري، روښانه شوې ده. که کرکټر ښونکی دی، بزګر دی، نجار دی او که په ټولنه کې هر بل موقف لري لوستونکي ته وروپېژندل شوی دی.

**نوښت**

د احمدي صاحب د ناولونو د کرکټرونو یوه ځانګړنه دا هم ده، چې له یو بل څخه بېل دي. بېلې څېرې لري او عادتونه يې سره ورته نه دي. دا کار په کرکټرونو کې نوښت راولي او لوستونکی په ناول کې له بېلابېلو څېرو سره مخ کېږي، لکه په خونکار ناول کې د جانکو څېره:

(په خرې پسې یوه خیرن ځوان ګامونه اخیستل... دی هېوور سړی و، مړه زېړه يې درلوده، سترګې يې غټې وې، پر تندي يې د کالداني لوی داغ ښکارېده.) (احمدي، ۱۳۸۹: ۱۰)

په ټول ناول کې بل داسې کرکټر نه وینو چې جانکو ته ورته څېره ولري، ان ښايي دا څېره د اروا ښاد په نورو ناولونو کې هم پیدا نه کړو.

احمدي صاحب د کرکټرونو له کلیشه شوو ځانګړنو هم ځان ساتلی، د ملک دا انځور کلیشه شوی، چې چاغ، ظالم او بدرنګ به وي؛ د خونکار ناول یو کرکټر ملک عطا الدین دی، دا د ملک د کلیشه شوي انځور خلاف دی، یعني ملک عطا الدین نه بدرنګ دی او نه ظالم :

(په عکس کې ملک عطا الدین شخه لونګی تړلي وه، بریتونه يې پر شونډو پراته ول، سترګې يې ځلېدې.) (احمدي، ۱۳۹۸: ۱۸)

**د کرکټر بدلون**

داستاني کرکټرونه د بدلېدو له اړخه په دوه ډوله دي، یو ساده کرکټرونه دي بل پېچلي. ساده کرکټرونه هغه دي چې د کیسې په جریان کې بدلون نه کوي؛ خو پېچلي کرکټرونه د کیسې په جریان کې بدلېږي. د دې کرکټرونو د بدلون لپاره باید قوي دلیل موجود وي.

خویونه په اسانه نه بدلېږي خو په ځینو افغاني کیسو نیوکه کېږي چې د کرکټر خوی یکې په اسانه بدلېږي او په اوله کې چې څنګه معرفي شوی وي، وروسته بیا په اسانۍ سره یو بل څوک ورڅخه جوړ وي. زموږ په ډرامو یا کیسو کې ممکن په یوه عادي نصیحت باندې یو څوک بیخي خپل خوی بدل کړي چې دا هم باید سره اړونده وبولو.( غضنفر، منلی، ۱۳۹۹: ۳۵)

د احمدي صاحب د ناولونو ډېری کرکټرونه پرته له دلیله نه دي بدل شوي.

په رڼا ناول کې ملک هغه کس دی، چې له دروغو کرکه لري، د ناول په یوه برخه کې د اصلي کرکټر له خولې، چې د ملک زوی دی، اورو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ما دروغ نه شو ویلای، پلار مې له دوو شیانو بد وړل، سوچ کوپړ ورته ښکارېده، دروغ او ناحقه قسم. یو وخت زموږ یو درمند وسوځېد، لوی درمند و او خروارونه غنم ترې راوتل، پلار مې په غوسه و، دهقان یې راوغوښت، هغه لړځېده، خبره یې سپینه وه، ویې ویل چې چیلم یې څکاوه، شاید کوم سوه کې ورباد شوې وي.

پلار مې دهقان ته هیڅ ونه ویل، یوازې په دې خاطر چې خبره یې سپینه وه او دروغ پکې نه و ګډ.) (احمدي، ۱۳۸۷ل: ۱۱۱)

د دې ځانګړنو له درلودونکي کرکټر نه موږ د دروغ ویلو اونا حقه قسم تمه نه لرو؛ خو یاد کرکټر دومره بدلیږي، چې د ناول په یوه بله برخه کې دروغ وایي او ان په ناحقه قسم خوري:

(هغه یې له چرسي خیرو سه په کادانه کې ونیوله، د غزني په اولیاوو لو (قسم) درته خورم، که زما په ویلو کې کوم شک درلوېږي، د خپلې مور خبره خو به مني.) (احمدي، ۱۳۸۷ل: ۱۲۴)

کله چې کرکټر دومره بدلیږي؛ نو باید دلیل ولري. په رښا ناول کې د ملک صاحب د دروغ ویلو او دومره بدلون لامل دا دی، چې دی د رڼا راتګ خپل کور ته د خپل شان سره سم نه بولي:

(پلار مې هماغه شېبه هېڅ ونه ویل، خو د غرمې د ډوډۍ پرمهال یې په کلکه رایاده کړه چې رڼا له زړه وباسه! نه زموږ کور کومه یتیم خانه ده او نه هم د یوې خوارې کونډې لور د ملک عبدالکریم خان کلا ته را ودېدی شي.) (احمدي، ۱۳۷۸: ۱۱۶)

ملک عبدالکریم ډېره هڅه وکړه چې زوی یې له رڼا تېر شي؛ خو کومه ګټه یې نه درلوده، ځکه خو اړ شو چې دروغ ووایي.

**تور او سپین کرکټرونه**
تور او سپین کرکټرونه دا مانا چې د داستان کرکټر یا داسې کس وي، چې هېڅ عیب نه لري او یا داسې کس وي، چې هېڅ ښېګڼه نه لري یا که یو څوک ښه سړی دی؛ نو ټول ښه خویونه لري او یو څوک بد وي ټول بد خویونه پکې وي. د کیسي اتل یا اصلي کرکټر تل ښکلې څېره لري؛ خو ضد یې بیا تل بدرنګ وي.
په افغانستان کې په کیسو باندې دا نیوکه هم شوې ده چې کرکټرونه ډېر ځله یا تک تور وي یا تک سپین وي. که لیکوال غواړي یو څوک ښه کس معرفي کړي، نو ممکن پلار او مور یې هم ښه کسان وي، ممکن رنګ یې هم د ښه سړي وي. (غضنفر او نور، ۱۳۹۹: ۳۶)
د احمدي صاحب د داستاني اثارو کرکټرونه دا ځانګړنه نه لري، داسې نه ده چې اصلي کرکټر به تل ښکلی وي. په (یوه خبره درته وکم؟) ناول کې د اصلي کرکټر ظاهر داسې څرګند شوی:
(د پراته سړي سترګې پټې وې، په پکه ککرۍ یوړې نښتي تار تار وېښته یې لانده ښکارېدل. په لمر وهلي تور تندي یې څاڅکي – څاڅکي خوله پرته وه. ده په تېزۍ ساه اخیسته، ارتې سږمې یې کښته پورته کېدې.) (احمدي، ۱۳۹۰:۴)
دا د ناول اصلي کرکټر دی، او په ټول ناول که به ښایي تر ده بدرنګ بل څوک نه وي.
داسې هم نه ده چې ظالم به تل بد رنګ وي، په رڼا ناول کې ملک صاحب جابر او کبرجن سړی دی؛ خو څېره یې ښکلې ده.
په خونکار ناول کې حمید یو قاتل سړی دی؛ خو بدرنګ نه دی.

**انفعال**
په پښتو داستانونو کې د کرکټر انفعال ته هم ډېره ګوته نیول کیږي. فعال کرکټرونه داستان جالب کوي او دا د بریالی کرکټر کښني یوه ځانګړنه بللی شو.

منفعل کرکټر نه پېښه جوړولی شي او نه پېښه په ده باندې داسې اثر غورځولای شي چې کیسه ورسره روانه شي.(غضنفر او نور، ۱۳۹۹: ۴۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو کرکټر که فعال نه وي، د لوستونکي توجه نه جذبوي. فرضا یو بزګر دی. د پټي څښتن د ده محصولات خوري. له ده نه په زور محصولات اخلي. د ده لور ته هم په سپکه سترګه ګوري. وهي یې هم. خو دی بیا هم همداسې ورته ګوري. دغه منفعل کرکټر دی. په داسې ځایونو کې کرکټر باید عکس العمل وښيي. ( غضنفر او نور،۱۳۹۹: ۴۷)

د عکس العمل ډولونه ډېر دي، په پورتني مثال کې ضرور نه ده چې منفعل کرکټر جنګ وکړي، دی کولی شي دهقاني پرېږدي، یا وتښتي، دا خپله عکس العملونه دي.

د احمدي صاحب د ځینو ناولونو کرکټرونه هم منفعل دي. د بېلګې په توګه په زرو ناول کې د اصلي کرکټرونو انفعال د پام وړ دی. د دوی تېښته عکس العمل نه؛ بلکې انفعال دی.

د دوارو کرکټرونو منفعل حالت زرو وژلی ده. ښه به دا وای، چې نه وای تښتېدلي، د غزني په همدې غرنیز طبیعت کې پاتې شوي وای او خپله ټولنه یې ننګولې وای. که بریالي شوي نه وای، خوندوره تجربه خو به یې راکړې وای. (ښکلی، ۱۳۹۶:۳۷۰)

د منفعل کرکټر بله بېلګه په رڼا ناول کې د رڼا کرکټر یادولی شو، په هغې تورونه لګول شوي؛ خو هغې هېڅکله له جمال نه ګیله ونه کړه. د رڼا دومره صبر د نه منلو خبره نه ده، اول خو دا چې رڼا پښتنه ده بل دا چې هغه په داسې محیط کې لویه شوې چې له دې یې زغمونکې ښځه جوړه کړې ده؛ نو که د رڼا کرکټر منفعل هم وي، نه یې مبالغه بللی شو او نه د کرکټر کښنې نیمګړتیا.

**د احمدي صاحب د ناولونو او لنډو کیسو د کرکټرونو توپیر**

دا چې په ناول کې د کرکټر ظاهر او باطن تر ډېره انځورېدی شي، دا ښکاره خبره ده، ځکه چې د ناول لمن پراخه وي او د کرکټر د لا بشپړېدو امکان پکې ډېر وي. په لنډه کیسه کې هم د کرکټر درېګوني اړخونه بیانېدی شي، خو دا چې لنډه وي؛ نو د ناول پرتله لږ څرګندېدای شي.

د احمدي صاحب د ناولونو او لنډو کیسو په کرکټرونو کې هم همدا توپیر تر سترګو کېږي، د ناولونو کرکټرونه یې د لنډو کیسو د کرکټرونو پرتله ډېر ښکاره دي. د ناولونو د کرکټرونو ظاهري، باطني او ټولنیز اړخونه یې ډېر څرګند دي.

بله خبره د کرکټرونو د شمېر ده، په لنډه کیسه کې کرکټرونه د ناول پرتله کم وي؛ نو ځکه خو دا خبره د احمدي صاحب په ناولونو او کیسو کې هم ده.

**ماخذونه**


احمدي، نصیر احمد. (۱۳۸۷ل). رڼا. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.

احمدي، نصیر احمد. (۱۳۸۸ل). برېوکی. کابل: مومند خپرندویه ټولنه.

احمدي، نصیر احمد. (۱۳۸۹ل). خونکار. کابل: مومند خپرندویه ټولنه.

احمدي، نصیر احمد. (۱۳۹۱ل). یوه خبره درته وکړم؟. کابل: مومند خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل. (۱۳۹۶ل). ادبستان. ننګرهار: کلاسیک خپرندویه ټولنه.

غضنفر، اسد الله، منلی، نجیب. (۱۳۹۹ل). د ادبیاتو دنیا. کابل.


**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوې وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جادویي قلم څښتن لیکوال نصیراحمد احمدي / نرگس سهاک

یو وخت وه چې کله به مو په سر د ناول، رومان یا کیسي هوا ولګېده نو یا به مو د تولستوی جګړه او سوله رااخیسته، یا د ګابریل سل کاله یوازیتوب، یا د داستایفسکي د کارامازوف ورونه او یا هم سینوهه او له لوستلو به مو خوند اخیسته او یو وخت شو چې الله پاک په پښتو ژبې دا پیرزوینه وکړه او داسې لیکوال یې مونږ ته ډالی کړ چې بیا به مو دده د ناولونو په لوستو د بهرنیو لیکوالانو ناولونه او رومانونه نه یادېدل. د پښتو ادب په آسمان کې دی یو له هغو ستورو وه، لکه د ماښام ستوري چې رڼا خو یې ډېره رڼه وي مګر عمر یې ډېر لنډ؛ دغه روڼ ستوری زمونږ د معاصرې دورې محبوب لیکوال اروابناد نصیر احمد احمدي دی. اروابناد احمدي زمونږ د پښتو ژبې هغه ناول لیکوال او کیسه لیکونکی دی کوم چې لیکوالي یې په زړونو پاچایي کوي او دا بې تخته پاچایي ددې خبرې ښکاره ثبوت ده چې دی یو محبوب لیکوال دی. له بربوکی څخه نېولې تر بغدادي پیره، له رڼا څخه تر اغزن سیم پورې احمدي په تناکو پښو هغه مزل کړی دی کوم چې د نړۍ د ډېرو لږو لیکوالانو دداسې مزله شاهدان یو. احمدي د یوه فوق العاده استعداد څښتن لیکوال وه، دی چې سیاسي لیکنې کوي نو ته به وایې ګنې دی د وخت تکړه سیاستمدار دی، هم سیاست بیانوي، هم یې ښیګڼې او هم یې هغه بدبختیو ته اشاره کوي چې ناکامه سیاسیون یې د ځان د بریا او مطرحیدو له پاره کاروي او ټول ملت خپل ځانته د سیاست میدان ګرځوي. چې کله د پیریانو او ښاپیریو بحث ته راځي نو داسې یې درته منظر کوي چې زړه ورسره رپې او وایې خدای مکړه دا پیریان دلته رانشي. خو کله چې کله اغزن سیم ترسیموي نو انسان، د انسان غوښتنې، د انسان له ذهن څخه دده د خیالي نړۍ په اړه د خوش فهمۍ پرده په دومره مهارت اوچتوي چې انسان نیغ په نیغه ریښتیني نړۍ سره مخ کوي. کله چې د یوې افغانې نجلۍ زړورتیا، ځیرکتیا او په ځان باور بیانوي نو بیا د ماریا کیسه کوي او چې کله غواړي د یوه ساده کلیوال زړورتیا، شهامت او مینه انځور کړي نو لوستونکي په دې سفر کې تر هغې ځان سره بیايي ترڅو چې دی ووایې:

یوه خبره درته وکم؟

دا هر څه به په ویلو ډېر آسانه ښکاره شي خو په عمل کې دا سفر د سمندرونو ورهاخوا سفر دی، ځکه چې یو ځل لیکوال سیاستمدار شي، یو ځل د ولس یو عادي وګړی، بل ځای بیا جادوګر شي او کله کله خو آن ارواپوه، مفسر، قاضي، مشاور او د اړتیا په وخت کې یو فلسفي انسان او ټولنپوه هم ورنه جوړیږي دا ځکه چې دی د ټولنې په رموزو او حساسیتونو پوه لیکوال دی، دی په خپلو لیکنو کې ځای ځای داسې ستر ستر مفاهیم ځایوي چې جملې خو یې ډېرې ساده او لنډې وي خو تر شا یې یو کتاب خبرې او یو پوهنځی زده کړه ده. لکه په یوه ځای کې دی وایي:

ـ ځینې خبرې نه ویل کیږي خو باید پرې پوه شو، مثلاً ځینې کسان پرته له مونږ څخه ژوند نشي کولای او دې حس ته وابستګي وایي او وابستګي له مینې څخه پورته احساس دی.

په بل ځای کې بیا وایي:

ـ کله کله له یو چا خپه کیدل د ګرانښت وروستی حد دی.

تاسې وګورئ ددې سترو جملو اروایي اړخ ته څومره مظبوطي او سترې جملې دي او څومره ستر مفاهیم لېږدوي.

د لیکوال قلم دومره پراخ دی چې د لیکوالې، ډاکټرې، سیاستمدارې رمزونو سره سره د یوه ښه ښوونکې او لارښود رول هم لوبوي، دی د لیکوالۍ چل، هنر او فن د یوه ستر فنکار په څېره کې نورو ته ورزده کوي او په خوږو خوږو خبرو نور د مطالعې او لیکوالۍ فن ته رابلي.

دده د لیکنو د انځورونو په اړه به نو څه ووایم؟

دده د لیکنو انځورونه دومره طبیعي، سوچه او د ټولنې د حقایقو منعکسوونکي دي، چې دده لیکنو او جملو ته ساه ورکوي او هغوی ته ژوند وربښي او ددې لامل کیږي چې کله هم څوک دده لیکنې لولي نو داسې انګیري لکه یوه ژوندۍ پېښه چې ګوري او یا هم یوه سپین سرې ادې ناسته ده او مونږ ته یوه کیسه داسې بیانوي چې ټولې خواوې له خپل ټول کیفیت او ماهیت سره پکې رانغاړي. مثلاً:

(c) ketabton.com: The Digital Library



-د مخامخ کمره پر سر یوه ځوانه نجلۍ ولاړه وه، ټیکری یې نه وه، ټېر یې راوتلی ښکارېده، آسمان ته یې کتل تور اوږده وېښته یې له ملا ښېل ښکارېدل. شیرمحمد منډه وروا‌خیسته، نجلۍ توپ کړل، لاندې په سپینو ځګونو کې ننوته. سرې خپل څادر، تبر او پټکی پر ځمکه واچول، کوټ یې وویسته په یوه هسکه ډبره وخوت روانو ځګنو اوبو تور غنچه وېښته ورسره وړل.

په بل ځای کې بیا داسې منظر کشې کوي:

- نجلۍ یو دم منډه کړه، د ګاز له سره یې دیګ ورپورته کړ، دیګ کوږ شو، خو تر چمنه ورسید. بصیر په بېړه اول نجلۍ او بیا ماشوم ته وکتل، ماشوم د تخت په سر د ګاز پر بله ډبه پښه ایښې وه.

تر ده مخکې آرزو وررسېده، د ګاز ډبه یې له تخته ښکته کړه، خپلې ګوتې یې خولې ته ورورې، څو ځله یې ورپوه کړل. بصیر په بېړه ورغی، د نجلۍ غبرګ لاسونه یې په خپلو لاسونو کې ونېول، د د آرزو د دواړونو لاسونو ګوتې تکې سرې وې. بصیر د اوبو بوتل وروا‌خیست، د نجلۍ له لاسونو رنې اوبه تویې شوې.

کله کله خو آن د کیسې د کرکټرونو د ظاهر د بیان، د هغوی د ځانګړنو او د هغوی د ښه پېژندلو له پاره استادانه ژبه هم پیدا کوي او تر مونږ یې رارسوي. د بیلګې په توګه:

-ښځې د بړستن پیڅکه وښوېوله، وړې کڅوړنې سترګې یې رډې راوختې.

د پراته سرې سترګې پټې وې، په پکه ککرې پورې نښتې تار تار وېښته یې لانده ښکارېدل. پر لمروهلې تور تندې یې څاڅکې – څاڅکې خوله پرته وه. ده په تېزۍ سره ساه اخیسته.

یا هم په بل ځای کې:

-نجلۍ کونج ته غلې کېناسته، سرې ورته وکتل، له خیرت څادر سره سپین مخ، تر شنو غټو سترګو راګرځېدلې تور اوږده باڼه او پر تندې پراته پېچلې لانده وېښته راوتلې ول.

او یا هم دا انځور:

-عکس ته مې وکتل، په ټیلیفون کې د مریم خبرې را په زړه شوې:

-نه دومره بدرنګه هم نه یم، خوله مې وړه ده، سترګې غټې، و ېښته مې ګڼ او پېچلې، بږمنځ پکې بندېږي، بس! له رنګه یو څه توره یم.

ټول سم ول، یوازې په غټو سترګو کې ډنډ اوښکې ترې هېرې وې.

دده ژبه د ولس او ټولنې ژبه ده، هیڅ داسې کلمه نه راوړي چې ګنې پردۍ دې وي او یا هم لوستل یې کتابې او خیالې ښکاره شي یا نابلده خبره دې وي.

دی چې مینه کوي مینه یې د پښتونولۍ رنګ لري، چې ضد هم کوي پښتو ضد کوي، درناوی یې هم پښتون دی، ټولنیز چاپیریال هم په پښتنې قالب کې ترسیموي، ژوند د ژوند معیارونه هم په پښتنې ماحول کې بیانوي، دده متل، نظر، مشوره، د حل لاره، ژوند، اساسات، هرڅه پښتنې او اصیل دي هیڅ پردی خوند پکې نه لیدل کېږي او همدا هرڅه ددې لامل کېږي چې دده لیکنې په زړونو کېنې. لکه:

- شیرګل تو کړل، د نجلۍ له سپینې زنې لاړې وڅڅېدې.

کوچې چیغه کړه!

- تا ماته دوکه راکړه!

ماریا خپل لستونی پر زنه تېر کړ کلا ته وکتل، تور لوګی ترې پورته کېده ورو یې وویل:

- ما یوازې خپله دنده تر سره کړه!

او یا هم:

- ځوان ورو وویل:

- په مونږ یې څه! که یې وژنې او که یې بل ځای بیایې، خو دلته نشې پاتې کېدای.

د وړانګې سر وځړېد:

- وبال لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بوډۍ ګونځې شونډې وخوځېدې:

- شېرګله زویه! خور دې بده خبره نکوي تورسرې ده.

دده مکالمې او ډیالوګونه دومره خواږه دي چې انسان پکې ډوبېږي او فکر کوي لکه دا هرڅه چې دی تجربه کوي او وایي او دا هرڅه دده د جادوګر قلم ځواک ده. د بیلګې په ډول:

- نجلۍ لاس وروغځاوه، آیینه یې په ټټر پورې ونیوله ورو یې وویل:

- څوک وایي: چې ته بدرنګه یې؟

شیرمحمد وخندل:

- ملنډې وهې؟

نجلۍ پورته وکتل، له شنو سترګو څخه یې اوښکو منډه واخیسته، په لندو سپینو بغورو کې د باران له څاڅکو سره ګډې شوې، شونډې یې وخوځېدې:

- له زړه وایم.

شیرمحمد وویل:

- یوه خبره درته وکړم؟

د نجلۍ سلګیو زور واخیست.

- هو

سړي په غریو کې وویل:

- هیڅ

نجلۍ په غریو کې وویل:

- یوه خبره درته وکړم؟

د سړي ستونی ډک شو:

- هو

د نجلۍ سرې شونډې ورپېدې:

- ته راباندې ګران یې!

د احمدي صیب د کمال بله خبره دده د کتابونو له پاره د نومونو ټاکنه ده، چې څومره هم ښکلی کتاب وي خو چې نوم یې هنري او شاعرانه نه وي نشي کولای چې خپل لوستونکي ځان ته جذب او په هغوی کې د ښکلا احساس رامنځته کړي، ځکه چې اوبه د پیالې له مخې ځښکل کیږي او تکره لیکوال هغه کس دی چې د خپل کتاب له پاره داسې نوم ټاکي چې لوستونکي د کتاب لوستو ته یو ډول انګیزه پیدا کړي او غواړي چې وپوهېږي ددې ښکلي نوم تر شا به څه کیسه وي او احمدي دا ځانګړتیا لري او دی په دې راز ډېر ښه پوهېږي چې څه ډول د خپلو لوستونکو تلوسه راوپاروي او د کتاب لوستلو ته یې وهڅوي. مثلاً:

یوه خبره درته وکړم؟ رڼا، رنګه غوړرونه، جوجو، بغدادي پیر، اغزن سیم، د واورې سرې، سره سیلۍ، بوړبوکۍ، خونکار، اخ وطنه، پټان، د معجزې تیره، اشر، نیکه، زرو، ټال، بوډا او د لیوانو پلونه او داسې نور....

که دده د کتاب یوه پاڼه ولوستل شي نو پرته له شکه چې دا کتاب به ترپایه لوستل کیږي او داسې کتابونه ډېر کم دي چې خپله په خپل ځان د خپل بقا لامل ګرځي. ما چې کله د احمدي صیب اغزن سیم ناول د کابل په یوې تیارې او بې برښنا شپې کې د ډېوې رڼا ته ولوسته، هیڅ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پام نه وه چې ګنې دومره موده به مې همداسې پرله پسې دا ناول لوستی وي، دا زما لومړی ځل وه چې دوامداره او دومره اوږده مطالعه مې کوله، چې کله مې پام شو نو د ناول د پای پاڼه رارسېدلې وه او چې کله مې د ساعت ستنې ته وکتل کابو پینځه یا شپږ ساعته وتلي وه او زه پرته له دې چې له خپل کتاب څخه سترګې اوچتې کړم ناول مې ختم کړی وه. ډاډه یم که دا کتاب تر سهاره هم نه وای خلاص شوی نو ما به تر سهاره پورې لوستی وی. دا دده د ناول کمال وه چې ماته یې دا اجازه نه راکوله ترڅو کتاب یوه اړخ ته کیږدم او بیا په فرصت سره یې مطالعه کړم.

ما به چې کله د ناول کتاب اخیسته نو لومړی به مې د لیکوال نوم ته کتل چې که د احمدي صیب وي چې هرومرو یې واخلم او که چېرې د کوم بل لیکوال وي نو بیا به یې په کراریې وګورم، د احمدي صیب له مرګه وروسته ما بیا ناول ونه لوسته نپوهېږم دا به د ناول لوستو سره زما عاطفي چلند وي او که په رښتیا هم د هغه د هنر مالګه په نورو ناولونو کې نشم موندلای؟

د اروابناد احمدي په اړه که ساعتونه ساعتونه خبرې وشي بیا هم کمې دي خو زه خپل بحث دلته راټولوم او وایم: احمدي صیب هغه بختور انسان وه چې په پښتو ادبیاتو او ددې ملت په زړونو کې یې په ډېره کمه موده کې دومره ستر ځای ځانته جوړ کړ چې په معاصر ادب کې یې د ناول لیکنې او د کیسې د برخې تشه ډکه کړه، ده د یوه لیکوال په صفت خپل هغه مسوولیت ادا کړ کوم چې ده پورې اړوند وه، هیله منه یم چې دده دا لار به د ادب د مینه والو لخوا هرومرو تعقیبیږي او دده پاتې هیلې به په دې برخې کې حتماً پوره کېږي. خو یو څه چې ویل یې اړین دي هغه دا چې مونږ به کله هم داسې یو ستر، مهربان او د حوصلې خاوند احمدي پیدا نشو کړای، دی به کله هم تکرار نشي. خو د پښتو ادب په دې راڼه آسمان کې به د احمدي ستوری تل ځلیدونکی او ځای به یې په حقیقي ژوند کې د تل له پاره خالي وي. دده د نشتون حس به د تل له پاره ژوندی او دا تشه به کله هم ډکه نشي.

اروا یې ښاده او یاد یې تلپاتې!

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوی وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویې بڼه خپره شوې ده.**


Afghan Women Literary Online Association
د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر
د نصیر احمد احمدي په یاد
احمدي صاحب به چې تل غزني ته تلو، د کور کلی به یې
مورِ ته راکوله او ویل به یې چې په کور مو پام وي. دی لکه
زمورِ د کورنۍ غړی داسې و. په کور به مو تل پام کاوه.
وروستی ځل چې راغی د کرونا اوج و. ماشومان یې ټول
غزني ته لېږلي و. ده هم غوښتل ورپسې ورشي.
دروازه وټکېده. مشر ورور مې ورغی. روغبړ یې ورسره وکړل.
په شین ماسک یې مخ پوښلی و. ما یې غږ وپېژاند. زه په
دویم پوړ کې وم. له کړکۍ مې ورکتل. ورور مې غوښتل غېږ
کې یې ونیسي خو احمدي صاحب ونه منله ویل یې، زړګیه!
مریض یم چې رانه ودې نه نیسي. ورور مې خندل ویل یې،
احمدي صاحب هېڅ خبره نه ده ډېر ژر به جوړ شې چې
تشویش ورته ونه کړې. له څو نورو خبرو وروسته یې کلی
زما ورور ته ورکړه او لاړ. دا تګ یې له کوره وروستی تګ شو
بیا په خپلو پښو رانغی.
۲۰۲۱ز کال
سلما بدرۍ
Afghan Women Literary Online Association
Afghanwomen_literary
@AfghanWLiterary

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



## شبېه ګهيځ /د نصير احمد احمدي په ناولونو کې ټولنيز موضوعات

ارواښاد نصير احمد احمدي د پښتو ناول هغه سر لاری و، چې ښايي پښتو ادبيات يې بديل ونه مومي. د هغوی د ناولونو یا په مجموع کې د کيسو ځانګړنه دا وه، چې د ټولنې په يوه برخه کسانو پسې تړلی نه وه؛ بلکې د ټولنې د ټولو وګړو ژوند یې رانغاړل او دا هغه څه و چې د هر کتاب له چاپ وروسته يې د لوستونکي له تود هرکلي سره مخ کېدو. هغه د خپل د کيسو د موضوع په انتخاب کې دومره دقيق و، چې تر ننه يې لوستونکي د کيسو په لوستلو خپل ژوند او د ژوند روان بهير پېښې پکې ګوري او محسوسوي.

احمدي صېب زموږ د ټولنې داسې ليکوال و؛ دی په ميليونونو کې يو و، چې ددې ټولنې په نبض يې ګوته ايښې وه او د هغه رنځور يې بيانول، چې ټولنې ته پيړيو ناخوالو له امله وريېښ و. له همدې امله د احمدي صيب نوم د پښتو ادب د دې عصر له انسان سره نه بېليدونکی اړيکه لري. د احمدي صېب د داستانونو ځانګړنه دا وه، چې سوژې يې له نږه پښتني خاورې او اوبه جوړه وه. که څوک د پښتې ټولنې واقعي انځور لېدل غواړي د اخمدي صېب داستانونه يې غوره تابلوګاني دي.(بهير، دعوت ميډيا۲۴ ويبپاڼه).

**په هغه څه چې زه غواړم پرې وغږېږم د ارواښاد احمدي صېب په ناولونو کې زموږ د ټولنيز ژوند موضوعات انځورول دي.**

احمدي صېب په خپله مرکه کې وايي: کيسه ليکوال د کيسې د موضوع په غوراوي کې بايد له پوره دقت کار واخلي. هغه ويل د موضوع پيدا کول اسانه دي؛ خو بايد له نوې زوايې ورته وګورې.

زموږ په ټولنې کې په تېره بيا ولايتونو کې د جايداد، مال او دارايي لپاره وژنه ډېر تر سترګو کېږي. خونکار ناول موږ ته د جايداد او مال کيسه کوي. ياد ناول زموږ د ټولنې د يوې څنډې انځور دی، چې يو مال لري بل نه، يو زحمت ګالي بل د شتمنې په حسرت هر کار ته لاس اچوي.

حميد غلی شو، يودم يې وخندل، څنګ يې بدل کړ، د سدرۍ له جېبه يې ګنې کونجياني کلياني ) راوېستې، د لرګي صندوق يې خالص کړ، په غولي يې څو کاغذونه کېښودل شول، وروسته يې يودم وخندل:
- دا وينې؟

ښځې په حيرانۍ ور وکتل، د سړي په لاس کې يو کوچنی تبر ښکارېده.

سړي تبر لاټين ته ور نږدې کړ، ورو يې وويل:

- ورته وګوره! د جانکو غاړه مې په همدې تبر پرې کړه، دی ساده سړی و، له خولې نه يې ختې پاکولې، زه هم د شا له خوا ورغلم تبر مې د هغه په غاړه راټيټ کړ.

د ښځې خرهارۍ شو.

سړي پرته له دې چې هغې ته وګورې په خندا يې وويل:

- دې تبر د ډېرو غړۍ خوړلې دي، ته ورته وګوره، خوله يې سره ده، په دغو وچو وينو کې دې د مور د غاړې وينه هم ګډه شوې ده.

د ښځې خرهارۍ ډېر شو، يودم يې ټوپ کړل، پر سړي ور پرېوته، د دواړو لاسونو تېره نوکان يې د هغه مخ ته برابر شول. سړي تر ستونې ونيوله، پورته شو، د ښځې ژامې ته يې سوک ورکړ، د هغې له خولې وينو داره وکړه ، څو ځاځکې د ځراغ په ښيښه وبهېدل، ښځه يوې خواته ړنګه شوه، په لنډ وخت کې د هغې له خولې نه راوتلې وينې يوه لوېښت غولی سور کړ. د ښځې راوتلی ټېر په تېزۍ کښته پورته کېده....

سړی ولاړ شو، د ښځې ګېډې ته يې درنه لغته ورکړه، ښځې وټوخل، تاو را تاو شوه، بېرته بې حرکته پرېوته.

سړي چيغه کړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ستا پلار هم ما وواژه، د سپي زوی ته سلامت دوه ساعته ماتله وم، کله چې د غوڅو له کوره راووت، په خوړ کې مې د تبر وار پرې وکړ، شپه وه، تبر سم ځای ونه لګېد، ده منډه واخیسته، په تیاره کې رانه ورک شو، خو وروسته مې پیدا کړ، په همدې تبر مې پر غاړه وواهه.

سړی غلی شو، یو دم یې شونډې وېرېږ کړې، ښځې ته یې وکتل، په ملنډو یې وویل:

- خو ودې نه پوښتل چې ولې

ښځې تېزه ساه وهله...

د سړي تندی تریو شو، چیغه یې کړه:

- پلار ته مې دې مرکه ور ولېږله، ته مې ورنه وغوښتې، خو ده غاړې کولې، ویل یې چې ملک سړی یم، څنګه خپله لور یوه موټروان ته ورکم.

سړی غلی شو، ښځې ته یې وکتل، هماغسې یې تېزه تېزه ساه وهله.

سړي وخندل، په ملنډو یې وویل:

- پوهېږې چې ته مې ولې کولې؟

ښځې رډې سترګې ورته نیولې وې...

د سړي تندی تریو شو، په خشکه یې وویل:

- زه ستا پر خیرن مخ نه وم مین، خبره د اتو شلو جریبو ځمکې، باغ، کال او ګانو وه، ستا پالر نه خپل درلود او نه هم تربور، له غوڅو هم میراث وه، نو دا جایداد، ما د ځان لپاره تیاره ګوله ګڼله، بس ! ملک باید مړ شوی وای. ما همدا کار وکړ، خو ګوډ غوڅو په ځټ کې راشین شو، هیڅ مې نه وو ورته ویلي، هسې یې راسره بده شوه، که ګوډ په کال کې نه وای اړولی، مور دې په خپله راضي کېده چې تا زما په نامه کړي، پر هغې خو هسې هم ګران وم، ترور مې وه، غوڅو یې د خپل خاوند قاتل ګاڼه، ته وو ایه! له ما پرته به یې په بل چا باور کاوه؟ (احمدي، ۱۳۸۹ه.ش: ۶۹).

دې ته ورته بیا تربورګلوي، د یو بل میراث ته سترګې پټول، د میراث لپاره د خپل تربور وژل، هغه له وطنه ورک کول او د میراث لاسته راوړنې لپاره هر کار کول دا هر څه موږ ته په یوه خبره درته وکم ناول کې انځوروي.

په ورځیني او تولنیز ژوند کې قمار بازي، شراب خوړل، په قمار کې د لور بایلل او له دغو ناوړه چلندونو زېږېدونکي ستونزې هغه څه دي چې د غنې ځاله ناول پرې پېلېږي. خو هاخوا بیا د یوې کونډې له کړاونو ډک ژوند، ستونزې، همت نه بایلل، د اولاد روزنه او په خپل همت د ځان، اولادونو او نورو د ژوند بدلیدو لامل کېدل لولو. دا موږ په خپلې ټولنې کې هم ګورو، چې کله یوه ښځه کونډه شي بیا یې د ژوند لوری بدلېږي. یا خو باید د هماغه کور بل نارینه ته نکاح شي او که داسې ونه شي بیا د هر چا سترګې ورپسې وي. په ښادیو کې د ګډون حق له لاسه ورکوي؛ ورته بده قدمه او شومه ویل کېږي او یو عالم نورې خبرې چې باید وزغمي. احمدي صیب په غنې ځاله کې موږ ته دا وایي چې ژوند او په ژوند کې شته ستونزې داسې ده لکه د غنې ځاله؛ که یو ځل راګیر شوې او د وتلو هڅه مو ونه کړه نو ټول عمر به هماغسې له کړاوو ډک ژوند تېروئ خو بر عکس همت، مبارزه او قوي هوډ لرل هغه څه دي چې تاسو د ژوند له ستونزو خلاصوي.

کډوالي هغه بده ښکارنده ده، چې انسان له خپل ټاټوبي، کورنۍ او ملګري لرې کوي. افغانستان کې کډوالي بیخي لکه رواج داسې ګرځېدلی. ځوانان او په ټوله کې کورنۍ د ارام ژوند په موخه له ناقانونه لارې ځان اروپایي هېوادونو ته رسول غواړي؛ خو ډېری ځوانان له همده ارمان سره یوځای تر خاورې لاندې کېږي. اروابناد احمدي صیب په اغزن سیم ناول کې موږ ته د ناقانونه کډوالی سختې او په دغه لاره کې د ژوند خواخوږي او کورنۍ له لاسه ورکول کیسه کوي. د یوې نا پایلې مینې لپاره ځان او کورنۍ بایلل ښیي.

اخ وطنه دا ناول اته برخې لري، چې هره برخه یې د پښتني ټولنې ناوړه کړنې او دودونه را په ګوته کوي. د ناول ځانګړنه دا ده چې موږ ته د حیواناتو په ژبه هغه څه وایي، چې کېدای شي انسانان یې له ویلو عاجز وي. د پیشو په ژبه موږ ته د پښتني ټولنې هغه ناوړه دودنه وایی، چې له ښځو سره د زور زیاتي نه نیولې تر د ښځو حقوق پښو لاندې کول، لوراني ځانته شرم ګڼل، پلونه خرابول، پرته له جګړې ورځ خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورکول، مکتبونه سوځول او خپل ورور د خپل ځان دښمن بلل. نن هم موږ ګورو چې زموږ په ټولنې کې دا هر څه شته ښوونځې سوځول کېږي، حتا د نوي حاکم حکومت په راتګ له نجونو اسلامي او انساني حقوق چې زده کړې دي اخیستل شوی. بیکاري او لوږه تر خپل اوج رسېدل. د اخ وطنه په پای کې احمدي صېب موږ ته ددې ټولو ناخوالو د حل لارې په هکله هم وایي. پلونه جوړول، ښوونځې جوړول، تر ټولو مهمه مسله د ښځې او نر ترمنځ مساوي حقوق او په لوراني تعلیم کول باندې د ټولنې پرمختګ ولاړه ده.

ـ میاشت مخکې یې په ګودر کې په زوره خندلي وو. دا خبره یوې کلیوالي کوکوګلي ته کړې وه. کوکوګلي د دې نجلی مخ پر ځمکه ور وسولاوه، ورته ویل یې چې ولې داسې مسته یې. یاراني ته دې زړه شوی.

دلته د نجلی له خندا هم د شهوت مانا اخیستل کېږي. خندا یاني بېحیایي.

پیشو وویل:

ـ چوپ شئ، د موږک چونګا نه اورئ!

ټول غلي شول.

یو دم په اوبو کې چړپا شوه. ټولو ور وکتل، یوه دوولس کلن هلک دویمه نجلی هم لښتي ته ور ټېله کړه، دوې نجونې په بېړه له اوبو راوختې.

هلک خندل، خو لندې نجوني لړزې اخیستې وې. یوې یې ژړل.

پیشو وویل:

ـ زما سترګې تر تاسې تېزې دي، د نجلی شونډه وینې ده، په هماغه ځای کې د لښتي ژی راوتلې تیږې لري.

هیلی وویل:

ـ نجوني ولې څه نه ورته وایي؟ دواړې تر هلک پیاوړې دي، یوه یخ رپوي، بله ورته ژاړي.

پیشو وویل:

ـ دا باتور نومېږي.

ـ څه مانا؟

ـ یاني تورزن، بس، سرونه پرې کوه. د دې خلکو ډېر نومونه ال وحشتناکه دي. باتور د کوکوګلي دویم زوی دی.

نجوني د رحمدل او کوکوګلي له ډاره څه نه شي ورته ویلی. یوه ورځ یې یوې خور له باتور سره مازې خبره اړولي وه، پلار یې شنو لښتو ته واچوله، ویل یې چې تاسې ټولې یوه خوا، باتور بله خوا. ټولې به د باتور بچک پښو ته حلالې کم.(احمدي، ۱۳۹۷ل: ۱۸).

یا هم دا:

پاچا وویل:

دا د نجونو د مکتب خبرې هم ماغزه رااېشولي دي. ها بله ورځ هم ولسوالي ته له ولایته د حکومت سري راغلي وو. ویل یې چې په بوه شرط درته پل جوړو چې د نجونو مکتب به له بیا ترمیمه وروسته ساتئ.

حاجي شمشر خان په ډکه خوله وویل

پرېږدئ دا خبرې! د خپل پلار او نیکه شمبخ مه تیتوئ نه مو مکتب پکار دی نه پل، نه پلچک، نه سړک. زه خو وایم چې دا د هلکانو له مکتبه هم خدایکه ښه ورځ ووینئ ! رحمدله د دې نوې لنګې غوا سخوندرې دې ډې خوند راکړ. نه به یې کې را.(احمدي، ۱۳۹۷ل:۸۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جُوجُو موږ ته ټولنیز ناخوالي او ناوړه دودونه، ولور، په نجونو تعلیم نه کول او په بدو کې لور ورکول انځوروي. دلته د جُوجُو ناول یوه برخه د بیلګې په توګه لولو.**

یو څوارلس یا پنځلس کلن راغی او خپله خور یې غوښته، خو د کور خاوند یوه روپۍ کړ، ویل یې چې نا محرمه یې، په منډه یې له کوره وایست، خبره خلاصه نه شوه، د کور خاوند د باندې پسې ورغی، کلیوالو ته یې وویل، څو کسه پر هلک ور ټول شول، دومره یې وډباوه چې له اخه، ټوخه ولوېد، ویل یې چې زموږ خویندو، میندو ته دې کتل. خو ماسپښین په همدې سرای کې دوو پیاوړو ځوانانو ډول واهه پېغلې پرې راګرځېدې، نه یې ځانونو ته پام وو او نه هم ټکریو ته، له څرخ سره به سپیني غاړې او خالص ټټرونه ښکاره شول.

جُوجُو غلی شو، یو دم یې تواب ته وکتل، ویې ویل:

ـ پوښتنه، دا دوه ځوانان څوک ول؟

هلک په حیرانۍ ورته وکتل:

ـ ډمان

ـ له ټول کلي سره خپلوي لري؟

ـ نه

ـ محرم دي؟

ـ نه، خو په سیاالنو کې یې نه ګڼو.

جُوجُو وخندل:

ـ کوټ کوټ کوټ... اه، نږدې دی چې له ډېرې خندا اور واخلم.

یودم غلی شو، پر شیشه یې الس تېر کړ، ویې ویل:

ـ ستا ځوابونه مې ولیکل، د تحقیق استاد به مې حیران شي، ماشوم محرم نه دی، خو دوو پیاوړو ځوانانو ته نڅېدا محرمه ده. کوټ، کوټ، کوټ... جُوجُو بچو، سم ځای ته راغلی یې، د تحقیق له پاره تر دې حیرانوونکي خلک نه شي موندلی. د دوی هر څه د سیاالنو له پاره دي.(احمدي، ۱۳۸۴ل:۱۷).

او یا هم:

جُوجُو وویل:

ـ ښه نو، د ښځې د نوم اخیستل بد اخلاقي ده!

تواب په خبره کې ورولوېد:

ـ نه پوهېږم، خو دوی یې شرم ګڼي.(احمدي، ۱۳۹۴ل:۴۵).

**رنګه غوړونه د جُوجُو ناول دویمه برخه ده. دا ناول زموږ د ټولنې هېنداره ده او داسې ده لکه افغانستان چې لولې. جوجُو له بلې سیارې راغې او تواب له ځان سره وړي. تواب د داسې تورې سیارې د ارامۍ او سوکالۍ لپاره کار کوي، چې دا توره سیاره داسې ده کټ مټ لکه تور افغانستان. هغه څه چې په دې ناول کې لولو تعصب، یو تر بل ځان لوړ ګڼل، شخړه او داسې نور... . په دغه ناول کې موږ عزم، اراده او هوډ زده کوو. هیڅ څوک دین، فرهنګ، وطن او انسانیت ته زیان نه شي رسولی؛ خو جګړه دا هر څه زیانمنوي او په رنګه غوړونو کې پرته له شکه چې ځان، ټولنه او کورنۍ لېدلی شوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلې خبرې به د استاد اجمل ښکلي له وینا سره داسې راټولې کړم، د ارواښاد نصیر احمد احمدي د کیسو ځانګړنه دا ده، چې خپل د وخت او جغرافیې ښه استازیتوب کوي. کله چې جغرافیه یادوو موخه مو عمومي پښتني ټولنه؛ خو په تېره بیا مرکزي ولایتونه او غزني دی. احمدي صېب د خپلې ټولنې د غرونو او غرنیو ذهنونو ښه هېنداره په لاس راکوي او که پښتانه له اوسني خرافاتي دودونو وتل غواړي د احمدي صېب کیسې یې ښه ماخذونه دي.

ماخذونه


۱: بهیر، نوراجان.( ۱۴۰۲ل). یو د کار سړی چې بې وخته او بې مخه ښې لاړ.دعوت میدیا۲۴ :ویبپاڼه.

https://dawatmedia24.com/?p=158433

۲: احمدي، نصیر احمد. (۱۳۸۹ل). خونکار. کابل: مومند خپرونددویه ټولنه.

۳: احمدي، نصیر احمد. (۱۳۹۱ل). یوه خبره درته وکم؟. کابل: مومند خپروندویه ټولنه.

۴: احمدي، نصیر احمد.(۱۳۹۴ل).جوجو. کابل: مومند خپرندویه ټولنه

۵: احمدي، نصیر احمد.(۱۳۹۷ل). اخ وطنه .pdf سمسور ویبپاڼه


**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوې وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**

## د غوزانو ونه – ساده خبرې، ژورې اندیښنې / ډاکتره شریفه شریف

د غوزانو ونه د ځلا نور لنډه کیسه ده. د کیسې اصلي تیم یا موضوع د غوزانو ونه ده. دا هم ویلی شو چې د دې کیسې کرکټر یوه ونه ده چې «د کلي په منځ کې ولاړه وه» د راوي او د همدې ونې ژوند یو تر بل تړلی او موازي وده کوي. د دواړو ژوند په کلي کې او د کلیواله دودونو سره تړلی دی. د ونې سمبولونه او مفاهیم به وروسته وڅیړو .

ځلا نور د کلیوالو ورځنی ژوند د همدې ونې ګرد چاپېر، د ساده او رواني ژبې او معمولي او ریالیستیکو کړنو سره انځوروي:

« ماشومانو ترې لاندې کورګې جوړول؛ جنکیو یې په څانګو کې ټالونه اچول، پیغلو او زلمیو به یې پر دنداسه شونډې سرې کولې.»

دلته له همدې یوې جملې سره د کلي د ماشومانو، پیغلو او ځوانانو د ژوند پراوونه وینو چې د ونې د ودې سره برسیره کیږي.

د دې ونې د ژوند هر پړاو هم د کلیوالو پر ژوند بیله اغیزه لري. خو چې ثمر ته ورسیږي، میوه وکړي، د کلي یو سړی چې ځان د ونې خاوند ګڼي، ونه ټکوي.

« یو سړی چې ملا به یې کلکه تړلې وه ورپورته شو، کله به یې ځان هم په یوې څانګې پورې وتړه، له لاندې څخه دا غټ سړی د ماشوم غونډې کوچنی ښکاریده، له ده سره اوږده ډانګه ورسره وه، د ونې ډکې څانګې به یې داسې په شرک وهلې چې تر لرې یې اواز اوریدل کیده او له هر شرک سره به د غوزانو تر ځنګ شنې پاڼې او وړې څانګوړګې پرځمکه راپریوتې.»

یوه ورځ توپان کیږی او د ونې څانګې چې د میوو سره درنې وې ماتیږي او « اخر یې څښتن غټ بیخ هم اره کړ او لرګی یې په بازار کې خرڅ کړل.»

په دې ترتیب، د ونې ژوند اخستل کیږی.خپلې ریښې نه بیلیږي او په بازار کې خرڅیږي.

راوي هم چې په ماشومتوب کې د ونې پر څانګو ټالونه وهل، پیغله شي او پلار یې بل کلي کې واده کړي . د مور و پلار یا خپلې ریښې نه بیلیږي او بل کلي ته ځي (خرڅیږي ). پلار ورته د همدې ونې د لرګو نه تخت جوړوي .

کیسه د راوي د خوبونو سره ختمیږي چې هماغه ونې او کلي ته یې بیایی:

«زه اوس له خپل کلي لرې په بل کلي کې واده شوې یم، کله چې په خپل تخت کې ویده شم، د کلي همغه د غوزانو لویه ونه په خوب کې وینم چې ټال مې پکې اچولی وي، ټالئ پکې وهم.»

د کیسې کره کتنه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي نقد بیلا بیلې بنې او لید لورې لري. هره هنري پنځونه، د یو یا څو او یا هم ټولو لیدلورو له زاویې نقد کیدی شي. د «غوزانو ونه» هم د کیسي د تخنیک، د ژبې ، سمبولونو او انځورونو د کارولو، او د موضوع یا سوژې له مخې ارزول کیږي. زه دلته غواړم د کیسي پر سوژې یا موضوع باندې خبرې ولرم. زما لیدلوری خامخا د ښځینپالي یا فمنستي تیوری نه اغیزمن دی.

خو زما د شنني پوښتني دا دي :

کیسه راته څه وایي؟ راوي زموږ د ژوند، زماني، سیاسي اړیکو ، جنسیتي ( جندر) موقف، طبیعت او چاپیریال په اړه څه فکر کوي؟

د کرکټرونو د ژوند پړاوونه څنګه او د چا له خوا پرانستل او تړل کیږي؟ د دې ټولو پوښتنو د ځوابونو تر شا کومه فلسفه او کوم ارزښتونه نغښتي دي ؟ دا فلسفه یا ژوند ته کتنه څنګه د کیسي د ژبې، انځورونو او سمبولونو سره، نا ویلې ویل شوې ده؟

ونه په طبیعت کې انسان ته، بیا ښځې ته ډیره ورته ده. ریښي لري. تنکۍ وي ، پیغله /ځوان شي . ثمر ته ورسیږي. میوه / اولادونه وکړي. منې ورباندې راشي. خزان وهلې او زړ ه شي، پاڼې یې ورژیږي. د ځواني ونې څانګې تنکۍ دي لکه نجونې او د نجونو د ټالونو سره زانګي. غوزان چې لا نه وي پاخه شوي، د پیغلتوب په وخت، د پیغلو او ځوانانو سره سینګارول کوي. غوزان د ونې ثمر دی. څانګې د میوو (ثمر) سره درنیږي لکه مور چې امیندواره وي او بیا یې ماشوم یې غیږه درنوي.

دې کیسي کې د ونې څښتن یا په ټوله، انسانان پر ونې باندې زور زیاتی کوي. پر ښځو باندې د خاوند زور زیاتی لړ نه پیښیږي. خو دلته که ونه د ښځې سره پرتله هم نه شي، خپله مستقله طبیعي ژوې ده. پر طبیعت او چاپیریال د انسان لخوا زور زیاتی، د نن ورځې یو پراخ لور لید دی. ځلا نور دې زورزیاتي ته داسې یو منطقي شرایط یا زمینه ( کانتکست) جوړوي چې د خشونت او زور ډیر پراخ مفاهیم او بنې پکې تعبیریدی شي.

«کله به یې چې غوزان پاخه شول، هره دانه به یې داسې ښکاریده لکه دې لاندې مخلوق ته چې خاندي. کله به یې چې دا خندا ښکاره شوه، یو سړی چې ملا به یې کلکه تړلې وه، ورپورته شو، کله به یې ځان هم په یوې څانګې پورې وتړه، له لاندې څخه دا غټ سړی د ماشوم غوندې کوچنی ښکاریده.»

د غوزانو خندا دلته د پخیدا او په ځان باور سمبو ل کیدی شي. ډیر ځله د ماشومانو خندا د دوی د بې پروایي او بې شرمی نښه بلل کیږی او دوی پرې رټل کیږي هم. همداسې د ښځو خندا د نارینه و په وړاندې، د ټاکل شویو ښځینه حیا د حدودو نه، تیری او زیاتی ګڼل کیدای شي. کله چې غوزان پاخه او «خندني » شي ، د څښتن سره یې « ....له ده سره به اوږده ډانګه ورسره وه، د ونې ډکې څانګې به یې داسې په شړک وهلې چې تر لرې یې اواز اوریدل کیده او له هر شړک سره به د غوزانو تر څنګ شنې پاڼې او وړې څانګوړې هم پر ځمکه راپریوتې.»

دلته رټل او زورزیاتی د کلمو، غړونو او انځورونو سره ښکلی بیانیږي. «شړک » غریزه کلمه ده او د وهلو او رټلو کونوټیشن یا نغښتي معنې لري. «اوږده ډانګه» هم د وهلو د شدت صفت دی. د دې وهلو او زورزیاتي اغیزه دومره زیاته وه چې « تر لرې اوریدل کیده.»

د ښې لیکني یوه نښه دا د ه چې د کیسي د ضمني پیښو د بیان او انځورولو نه لوی مفاهیم واخستل شي. دلته د ونې وهل که د چاپیریال په وړاندې د ننی نړۍ زور زیاتی وي، نو دا سمه ده چې اغیزه یې تر ډیر لرې رسیږي او که د زور زیاتي او په تیره د ښځو په وړاندې د زور زیاتي سره یې پرتله کړو یا مفهوم یې ترې واخلو، نو هغه هم څو اړخیزه او په څو نسلونو باندې منفي اثر لري .

په دې کیسه کې د ونې او د راوي کرکټرونه موازي وده کوي. ونه د یو توپان وروسته « داسې شوه چې د میوو کومه څانګه پکې پاتې نه شوه، اخیر یې څښتن غټ بیخ هم اره کړ او لرګي یې په بازار کې خرڅ کړل.»

ونه د خپلې ریښې نه جلا کیږي او لرګي یې خرڅیږي. راوي هم ودیږي او د خپل پلار و مور له کوره او ان له کلي نه ځي. دلته ځلا نور دا نه دي لیکلي چې د راوي پلار به ولور اخستی وي کنه، خو د نجونو خرڅول په بیلابیلو نامو او بڼو، زموږ او په ډیرو نورو ټولنو کې یو عام دود دی .

د دې کیسي کړکیچ یا کانفلت او اصلي پیښه د ونې د لرګو خرڅول او بیا د همدې لرګو نه راوي -نجلی ته د خوب تخت جوړول دي. په دې کیسه کې ځلا نور د کیسي د پیل نه د کلي ژوند د همدې ونې د ژوند د بیلابیلو پړاونو په تړاو انځورکړی. لوستونکي کړکیچ ته ذهني اماد ګي لري. ځکه د ونې د لرګو د خرڅلاو وروسته، لرګي یې پلورل او تخت جوړول تصادفي نه ښکاري بلکې د کیسي د پیښو د ودې په ځنځیر کې یوه مهره ده.

د غوزانو د کیسي پای، د کیسي د ټولو توکو، پیښنو، فضا، کرکټر، لید لور او کړکیچ ، بشپړ داستاني او منطقي لنډیز او پایله ده:

«زه اوس له خپل کلي لرې په بل کلي کې واده شوې یم ، کله چې په خپل تخت کې ویده شم، د کلي همغه د غوزانو لویه ونه په خوب کې وینم، چې ټال مې پکې اچولی وي، ټالی پکې وهم .»

کیسه د غوزوانو د ونې سره پیل شوه چې نجونې یې په څانګو کې ټالی وهلې او د نجلی یا راوي د خوب سره ختمیږي چې د هماغه ونې د لرګو پر تخت باندې ویده ده او د ځان او د ونې د ځوانۍ خوبونهویني . په خوب کې ټالی وهل ، د ژبې او انځورونوسره ښکلی تجنیس او وحدت لري. خوب، خوب لیدل، ټالی وهل، ځنګیدل، ټولې کلمې متجانسې دي. که لیکوالې د ټالی وهلو پر ځاې، د دنداسو سره د شونډو سره کول په خوب کې لیده، د ژبې ،پیښو او انځورونو تر منځ وحدت به یې خرابیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کیسې نثر ښکلی، بې تکلفه او داستاني دی. اضافي کلمې نلري. د کرکټرونو احساس د دوی د کړنو سره بیان شوی، نه د کلمو سره چې ډېره معموله ده . مثلا کله چې د راوي مور د تخت بیه ډېره قیمته بولي ، ځلا نور دا کلیشه یې جمله نه لیکي چې : پلار مې سوړ اسویلی وایست او ورغبرګه یې کړه چې : دا خو هماغه د غوزانو د ونې لرګي دي. یا دیته ورته جملې. بلکې د پلار حرکت بیانوي : « پلارمې د تخت پر اوږده لرګی لاس تیر کړ» کله چې زموږ یو شی خوښ او راباندې ګران وي، پر سر یې لاس تیروو. دا ساده حرکت، د پلار د ځواب دپاره کانتکست یا زمینه برابروي:

«وا لیونی لرګی یې نه ګوری چې د غوز د ونې دی.»

د کیسې د اصولو په تړاو، د غوزانو کیسه، د لنډې کیسې د توکو (ژبه ، فضا، انځور، موضوع، کرکټر، پېښې ، کړکیچ ) یوه هماهنګه او واحده ټولګه ده. هیڅ کلمه د کیسې د فضا او پېښو سره پردۍ نه ده. پېښې یې منطقي او ذهني تسلسل لري. لوستونکي د ذهني اټکل خلاف پېښې سره نه مخامیږي. د کیسې پای لوستونکی بیرته د کیسې پیل یا د کرکټر د کوچنیوالي او ماشومتوب پړاو ته بیایی.

جملې یې لنډې او طبیعي دي: منطقي او ژبنی تسلسل لري. د کیسې د توکو یوالی یا وحدت تر ټوله مهمه ځانګرتیا ده.په هنري اثرکې ښکلا یا د انګریري استتیک، یواځې د ژبې او انځورونو پکارول نده، بلکې د اثر د ټولو توکونو ترمنځ وحدت هم پنځونه ښکلې او هم یې خوندوره کوي.

ما د غوزانو د کیسې د لوستلو نه ډېر خوند واخست. انځورونه تېل شوې نه دي بلکې د کیسې او پېښو طبیعي حالتونه دي . په عین حال کې دا ساده جملې، لوستونکي فکر کولو ته هڅوي.

مثلا کله چې سرې یا د ونې ځبنتن د غوزانو د شکولو دپاره پر ونه خیژي ، « له لاندې ځخه به د ا غټ سری د ماشوم غوندې کوچنی ښکاریده.»

ځلا نور به دا جمله د سړي د حالت د ترسیمولو دپاره لیکلې وي، خو د کیسې په کانتکست کې ونه د کلي او طبیعت یوه اغیزمنه او ګټوره غړې ده. سرې چې ورخیژي او د میېو ډکې ځانګې بې شړکوي، ښه کار نه کوي . ځکه د لاندې نه کوچنی ښکاري. که څه هم ماشوم معصوم وي، خو که غټ سړی ماشوم ښکاري، د دې مانا لري چې د لویانو کارونه نه کوي. یا د لویانو غوندې یې کارونه پاخه نه دي. په بله وینا، انسانان چې پر طبیعت، ځمکې، یا یو بل باندې زور زیاتی کوي، وړوکي خلک دي. فکرونه یې واړه دي.

که ځلا نور دغسې کیسې لیکنو ته ادامه ورکړي ، لویه او بریالۍ لیکواله به شي. خو د کامو او نقطو( پنکجویشن) پکارولو ته باید ډیر پام وکړي.

**د غوزانو ونه**

د غوزانو لویه ونه د کلي په منځ کې ولاړه وه، دا ونه په ټولو کلیوالو ګرانه وه، ماشومانو ترې لاندې کورګې جوړول، جنکیو یې په ځانګو کې ټالونه اچول، پیغلو او زلمیو به یې پر دنداسه شونډې سرې کولې.

کله به یې چې غوزان پاخه شول، هره دانه به یې داسې ښکاریده لکه دې لاندې مخلوق ته چې خاندې. کله به یې چې دا خندا ښکاره شوه، یو سړی چې ملا به یې کلکه تړلې وه، ورپورته شو، کله به یې ځان هم په یوې ځانګې پورې وتړه، له لاندې ځخه به دا غټ سړی د ماشوم غوندې کوچنی ښکاریده، له ده سره به اوږده ډانګه ورسره وه، د ونې ډکې ځانګې به یې داسې په شړک وهلې چې تر لرې یې اواز اوریدل کېده او له هر شړک سره به د غوزانو تر ځنګ شنې پاڼې او وړې ځانګوړګې هم پر ځمکه راپرېوتې.

یوه ورځ تېز توپان شو، د ونې ځانګې له میوې درنې وې، چې ټس دوې غټې ځانګې ترې ماتې شوې، ونه داسې شوه چې د میوې کومه ځانګه پکې پاتې نه شوه، اخېر یې ځبنتن غټ بېخ هم اره کړ او لرګي یې په بازار کې خرڅ کړل.

زه چې ودیدم، پلار مې د خوب تخت راته اخیستی و، مور مې د تخت بیه ترې وپوښتله، پلار مې لکه چې قیمت ډېر لوړ ووایه.

مور مې شونډې سره راټولې کړې:

- وووو، دومره قیمت؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلار مي د تخت پر اوږده لرګي لارس تېر کړ او وموسیده:

- وا لیونی، لرګی یي نه ګورې چي د غوز د ونې دی.
زه اوس له خپل کلي لرې په بل کلي کي واده شوې یم، کله چي په خپل تخت کي ویده شم، د کلي همغه د غوزانو لویه ونه په خوب کي وینم، چي ټال مي پکي اچولی وي، ټالی پکي وهم.

## تاوان / لېمه ودان / لنډه کیسه

د قمرۍ په مښوکه کي خلی و، له ځمکي ونې ته والوته، خلی یي د ونې په ښاخونو ایښوده، راولوېد. پسي راښکته شوه، بیا یي په مښوکه کي واخیست ونې ته والوته، خلی بیا راولوېد.

حیات الله د خونې له کړکۍ کڅوړنې شناوې سترګي ورته نیولي وې، د قمرۍ او خلي ننداره یي کوله. خپل تېر ژوند یي سترګو ته ولاړ و. سهار په خره کي به کار ته لاړ، ګرده ورځ به یي په دوکان کي کار کاوه، تیاره ماښام به کور ته ستون شو. یو ځل یي مېرمني ورته ویلي و چي کلي ته به په چکر لاړ شو، ده نه وه منلي، چي د دوکان کار په ټپه درېږي، تاوان به وکړو. ګونځي خوله یي وخوځېده:

- هغه میاشت به مي ګټه کړې وه... که تاوان!؟

سعید چټک خونې ته ننوت، یو انځور یي سترګو ته نیولی و، په شونډو یي موسکا خپره وه:

- بابا! بابا جانه!! دا تاریخي کلا زموږ په کلي کي ده؟؟

حیات سر وخوځاوه، سعید بیا وویل:

- نو تا لیدلې؟

- هو زویکه، زه چي ستا په عمر وم، موږ په کلي کي اوسېدو... .

سعید یي په خبره کي ورولوېد:

- نو تاسو به هلته مېلې هم کولې. د کلي خلک څومره بختور دي. څومره به یي سات تېر وي. د لویې کلا سیل به کوي.
حیات غلی و، د ماشومتوب وخت یي یاد شو. د دوی کور د زړې کلا سره نږدې و؛ خو ده ته هغه کلا جالبه نه وه، نه هم د کلي شنې ونې، د اوبو ویالي او غرونه ورته خوندور ښکارېدل. ده به له مشرانو سره په کارونو کي مرسته کوله، بېګا به بیا په دې بحث روان وو، چي پلانې مو د زردالیو د باغ پوله وهلې، پلانې بې‌نوبته اوبه ولګولې... .

د دروازې ټک ټک یي تر غوږ شو، سعید ورمنډه کړه، ویې ویل:

- ابا مي راغئ.

شریف په انګړ کي راښکاره شو.

سعید لا هم انځور ته کتل، شریف د چاې پیاله ورپورته کړه، ویې ویل:

- میاشت پوره ده، چي معاش ولې نه راکوي.

حیات دیوالي ساعت ته ځیر و، یو وخت به دی هم د میاشتي پای ته په تمه و، بیره به یي وه چي د میاشتي ګټه وشمېري؛ هغه وخت یي دې ته پام نه و، چي میاشت یوازې د ګټې حسابول نه دي، یوه یوه میاشت یي له عمر نه هم کمېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حیات غلی و.

سعید کتابونه راواخیستل، انځور یې د کتابچې منځ کې کېښود، شریف ته یې مخ کړ:

ـ ابا! نن مکتب کې هلکانو ویل مېله کوو. ما ونه منله، له درسه وتلو.

شریف سر وخوځاوه:

ـ ښه دې کړي. . . .

حیات موسک شو، د مخ ګونځې یې لا ژورې شوې، د شریف په خبره کې ور ولوېد:

ـ سعید بچو په یوه ورځ له درسه نه وتلئ.

د شریف تندی تریو شو:

ـ پلاره داسې مه ورته وایه، پرېږده چې درسونه یې وایي، دا مېلې تاوان ورته کوي.
حیات غلی و، انګړ ته یې سترګې ورواړولې، قمرې لا هم لګیا وه خلې یې ونې ته پورته کول، ښېرته رالوېدل.

## پر لوستونکو د اروابناد احمدي د ناولونو کرېکټرونو اغېز / آمنه عزیزي

غالبا دریم ټولګي کې به وم چې له ښوونځي ور ها خوا مې د نورو کتابونو مطالعې ته لاس کړ.

زموږ په کور کې زما دوه نورو وړو خو له ما مشرانو کاکا لورګانو کتابونه ډېر لوستل او د هغوی په لیدو زه هم وهڅېدم چې مطالعه وکړم او لومړنی کتاب چې زما لاس ته راغی د نصیر احمد احمدي صیب د رڼا ناول وو.

په کم عمر کې د ماشومانو ذهن ډېر موارد نه شي درک کولی خو ولې د رڼا ناول دغسې نه وو لیکل شوی چې زما په عمر ماشومانو ته یې خوند او د درک ظرفیت نه وی ورکړی.

اوس مې هم یاد شي هغه کتاب چې ما لوسته د ښوونځي رخصتۍ وې او سخته ګرمي وه، د نورو ماشومانو په څېر زه هم د ښوونځي رخصتیو ته خوشالېدم، ځکه تر بل هر وخت مې ډېر له ملګرو سره لوبو او نانځکو ته وخت پیدا کاوه، خو پر دې کال مې د ښوونځي رخصتي له مطالعې قربان کړه. او د رڼا ناول پر لوست مې پیل وکړ. ما ورته یوه پېښه په بله اړولې وه او توري توري مې یې لوستل. ما داسې نه احساسوله چې زه دې د جلال اباد ښار په یوه کوچني کور او یو لویه خونه کې اوسم، ځان مې کټ مټ په غزني کې لیده.

موږ پښتانه په خپل منځ کې دا اصطلاح لرو چې پېریانو ته غزني څه دی؟

زه وایم د احمدي صیب د ناولونو په لوست سره انسانانو ته غزني څه دی؟ که له ما څوک وپوښتي غزني دې لیدلی؟ وایم هوو؛ د احمدي صیب په ناولونو کې.

راځم خپلې پاتې کیسې ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پیل مې هم لړ لړ یاد شي چې په یوه هواره دښته کې یوې ماشومې نجلۍ له یو برابر هلک سره رمه پیوله. د کتاب له پیل سره مې سم ځان غزني او بیا هغې دښتې ته رسولی وو او ټولې صحنې مې په خپلو سترګو لیدلې. کله کله خو مې وجود د هغې لمرینې دښتې ګرمه هوا هم حس کوله او خاورو او ګردونو مې د صحنو له لیدلو سترګو ته مزاحمت کاوه.

د احمدي صیب د رڼا ناول دومره راباندې اغېز کاوه چې کله به مې ځان د رڼا په لور پانه کې جوړاوه، ځکه د پاڼې معصومیت بیخي زما د ماشومتوب معصومیت ته ورته وو. او کله کله به مې ذهن زه رڼا جوړه کړې وم او ځان به مې د ناروغۍ په بستر پرته رڼا ګڼله چې د ناکامې مینې درد یې اوس هم د وجود رګونه او هډوکي خوړول.

ما د ناول له دې دوو کرېکټرونو سره ژوره خواخوږي خپله کړې وه، یو لامل خو یې دا وو چې دا دواړه ښځینه وې او په دې کیسه کې تر ټولو ډېر درد همدې دواړو ته رسېدلی وو ځکه مې پرې زړه ډېر سوځېده. بل د احمدي صیب د کرېکټر کښنې ځانګړی او اغېزمن سبک وو چې زما دننې احساسات یې را ژوندي کړي وو او زما دویم ځان یې کله پانه او کله رڼا راته جوړاوه.

دا زما د مطالعې کمال نه وو، دا د احمدي صیب د ناول او د هغې د سبک کمال وو چې زه یې له موټر پرته غزني ته وړې وم، صحنې یې راته ژوندۍ کړې وې او هر څه یې په خپلو سترګو را ښودل.

ما ته د کتاب لوست دومره خوند راکړی وو چې دوه ورځو کې مې بشپړ کړ خو د کتاب له خلاصېدو وروسته هم زما ذهن او فکر څو ورځې غزني کې وو چې دومره یې زما ذهن تسخیر کړی وو.

دا کتاب یې ما دویم ځل بیا ولوست.د احمدي صیب دې کتاب ما ته د نورو کتابونو د لوست لېوالتیا هم راکړه او د همدې کتاب په مینه ما نور ډېر کتابونه هم ولوستل.

د احمدي صیب یوازې رڼا ناول نه بلکې د ټولو ناولونو او کیسه ایزو کتابونو سبک یې پر لوستونکو همداسې اغېز کوي، هر کتاب یې خپل جلا اغېز او پیغام لري. خو د رڼا ناول یې ما ځکه یاد کړی چې هغه لومړنی کتاب وو چې ما په ډېر ماشومتوب لوستی وو او څومره تاثیر یې راباندې کړی وو.

ارواښاد احمدي صیب زموږ د ټولنې په نبض، نیمګړتیاوو، اړتیاوو او غوښتنو ډېر ښه پوه وو، دا او دې ته ورته موارد یې ډېر ښه پوښښ کول.

که موږ د پښتو ادبیاتو منظومه او منثوره برخه له خوشال خان خټک پرته هېڅ ګڼو نو همداسې پښتو داستاني ادب هم د اروښاد احمدي صیب له اثارو او خدمتونو پرته فلج ګڼلی شو.

دریغه چې خدای ژر ځان ته نه وی بللی او د پښتو ادبیاتو داستاني برخه پرې نه وی خواره شوې.

د احمدي صیب د کتابونو ټول توري یې شافع او ورته دعا ویوونکي دې شي.

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوی وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نصیر احمد احمدي په آثارو کې د بېوزلو ژوند / فرزانه زیار

**سریزه:**

نصیر احمد احمدي د پښتو ژبې ستر ناول لیکوال په (۱۳۵۳) کال د غزني په قره باغ سیمه کې نړۍ ته سترګې وغړولې. احمدي د افغانستان له تعلیمی موسسې سره چې هغه وخت یی د بی بی سي تعلیمي موسسې بللې تر ډېرو کار کاوه.

اروابښاد احمدي د لنډې کیسې او ناولونه ولیکل. ده د ډېرو مبارزینو ژوند لیکونه هم د داستان په ژبه وکښل. خدای بخښلي احمدي د پښتو ژبې یو له ډېرو لوستل شویو لیکوالانو ګڼل کېږي. ځیني یې دلیل دا ګڼي چې د ولس ستونزې او کړاونه انځورول. د ده ناولونه د جفا، چل، فریب، ریاکارۍ، میني، جګړې، انسانیت، او د بې وزلو ژوند او ګڼو نورو مسایلو راڅرخي. زه په خپله لیکنه په دې غږېږم چې اروابښاد طبقاتي سیستم او یا هم بې وزلي په خپلو اثارو کې څه ډول انځور کړې.

**د نصیر احمد احمدي په ناولونو کې د بېوزلو د ژوند انځور**

نصیر احمد احمدي هغه لیکوال چې تر ډېره یې په خپلو کیسو او ناولونو کې کلیوالي سوچه ژبه کارولې ده او د کلیوالو خلکو د ژوند انځور یې ډېر راوړی دی.

اروابښاد د غریبانو خلکو پر ژوند هم ډېر څه لیکلي دي او ما چې تر ډېره ولوسته نو ده په خپلو لیکنو کې له غریبانو سره خواخوږي ښودلې ده او د نورو له خوا یې پر دوی ظلم بد ګڼلی دی.

تل یی دا ښودلې چې باید د غریبې طبقې لاسنیوی وکړو، د هغوي له ځورولو څخه لاس واخلو، دی د غنې ځاله په ناول کې وایې:

« وار له واره یی فاحشه وګڼلم، زړه مې اور واخیست خو ځان مې کابو کړ ځوان یوه شیبه ولاړ وه خو بیرته په خپل ځای کیناسته، له همغه ځایه یی راناره کړه:

ته فاحشه یې!

بوډا راغږ کړ:

ښځه چې له کوره راووځي داس ده لکه له شاتو ډک بې سرپوښه بوتل.

له شاتو ډک خلاص بوتل ته خامخا مچ ورځي

زما خبه ومنه په کور کې درنه کینه، پته به یی، دلته ګذاره نه شي کولای

ومې ویل:

نه ګذاره کولای شم

یو وار ودریدم، پر ناست ځوان مې منډه وروواخیسته وار له واره تر څټو کش کړ

ړنګ شو سندان ته مې لاس وروغځاوه، نه کیده، دروند وه د بوټونو د رنګ ډبې تر ګوتو راغی، ځوان اخ کړ پر تندي یی د وینو نرۍ لیکه راوبهیده، زړو موچیانو منډه راواخیسته، دواړو تر متو کلکه ونیولم، خلک راټول شول، ماشومانو خندل، لویان غلي ولاړ ول.

بیرته خپل ځای ته راغلم د چادري سپیرې پیڅکې مې څنډلې، ځوان ته مې وکتل، غلی ناست وه په اندي یی د خپلې پیڅکې وینه پاکوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتول شوی خلک لاړل، بیرته خپل ځای ته راغلم، زړو موچیانو خپل سرونه ټیټ نیولي وو، خولې یې پټې وې خو ګیډې یې ښکته پورته کیدې، په ګیډو کې یې خندل.

ماته هم د مکتب یوې وړې نجلۍ خپلې خپلې ځپلې راوایستې

شېبه وروسته مې د بوډا موچي خندا واوریده:

یاره بلا یې بلا

سرې دې له دې ځایه ورک کړ

ور ومې کتل

ځوان په دوړو کې پټ وه، لیرې ځای یې جارو کاوه، شیبه وروسته یې د موچیتوب وسایل همالته یوړل.

بوډا ته مې وویل:

ګناه په شاتو کې نه ده په مچانو کې ده.»

نو دلته مو ولیدل چې د یوې مجبورې میرمنې ژوند یې انځور کړی وو چې هغه د مجبورۍ له امله خپل کار ته ځي کار کوي مګر خلک یې پر ارامه نه پریږدي.

زموږ په ټولنه کې په رښتیا سره چې همداسې ده حتا ښځې دا حق هم نه لرې چې که له لوږې مړه هم شي خو کار باید ونه کړي کار او د خپل ځان لپاره د ژوند توښه برابرول لوی شرم ګڼل کیږي. وروسته چې دا ښځه شتمنه کېږي خلک یې مخامخ دومره په بدو الفاظو نه یادوي. احترام یې کوي. لیکوال انځوروي چې که لاس دې تش وي د هر چا سپکې سپورې او ښکنځل به زغمې.

احمدي صاحب د رڼا په ناول کې لیکلي:

شیبه وروسته یې په لوړ غږ وویل:

اې چینجی، مالونه راوګرځوه

نجلۍ سر هسک کړ، په بیړه ولاړه شوه منډه یې کړه،یو دم ځای پر ځای کیناسته خپلې لوڅې پښې ته یې لاس ونیو.

د هلک سوړمې وپرسیدې او په غوسه یې چیغه کړه!

ژر کوه اې د سپي لورې!

... د خپلو تیرو په نوکانو یې له پوندو ازغی راوایسته او د یوه سیرلي خواته ګړندۍ روانه شوه، څو ځلې د سیرلي مخې ته ودریده خو سیرلي ټوپونه وهل، نه یې نیوی ورکاوه او نه هم نورو میږو او اوزو ته ورګرځیده، نجلۍ بې حوصیلې شوه ځمکې ته یې لاس کړ، یوه کوچنۍ ډبره په لاس ورغله ورسره د سیرلي پښو ته نږدې مړه دوړه پورته شوه.

نجلۍ سترې وه بې سیکه وجود یې لړزیده، بیرته توت ته ورنږدې شوه او سیوری ته کیناسته، دې لا دمه نه وه جوړه کړې، چې څټ، ته یې ګوتې ورولویدې نجلۍ کوکه کړه، په تشو کې یې څو درانه دردونه تیر شول، بیا یې پر ژامه یو سوک وخوړ او پر خاورو پرمخې پریوته

هلک چیغه کړه

تا زما پر سیرلي وار وکړ...پمنې ته ودرې مور به مې څنې دروشکوې.

.... ښځې دوه درې غړوپه اوبه څښلې، بیرته یې پر بوتل سرپوښ تاو کړ او په بکس کې یې کیښوده، بیا یې په رمې پسې وکتل خو وروسته یې په نجلۍ باندې بام شو، او له هلک نه یې وپوښتل

هاغه دې خور ده؟

هلک تندی تریو کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه، زموږ مزدوره ده.

دلته مو ولیدل چې حتا د ماشومانو تر منځ هم د شتمنۍ او غریبۍ غرور شته او یوه شتمن ته د خپل مزدور وجود یو بې حسه څیز ښکاري چې ممکن دی پر وهلو، وهلو هیڅ نه خوږیږي.

احمدي د درې رنګه غوړونو(جوجو) په ناول کې لیکي:

«باتوره د خدای روی ومنه، د هلکانو مور مې په اولاد ناروغه ده، تر ښاره یې ورسوه، د نواب پلار خپل کیڼ لاس د څراغ رڼا ته ورنږدې کړ، په خوبولي غږ یې وویل: په دې نیمه شپه کې به تر ښاره څنګه ځو.

سرې زارۍ کولې، باتور د موټر کلې پسې لاړه، شیبه وروسته د موټر د چالانیدو غږ واوریدل شو، پر مخامخ دیوال تیزه رڼا ولګیده، موټر له کلا ووت، لال مامد د موټر د څراغو تر ژیړې رڼا مخکې منډې وهلې، نواب دروازه پورې کړه، کوټې ته راغی اوږد وغځید، د جوجو درک نه وه.

د هلک سترګې سره ورغلې وې، دې وخت یې د موټر هارنونه واوریدل، د باندې ووت، ژیړه رڼا د کلا د رنګینې دروازې تر چولو راوتلې وه، دروازه یې خلاصه کړه موټر د کلا منځ ته راغی، نواب له پلاره د ناروغې ښځې پوښتنه وکړه، لنډ ځواب یې واورید: په لاره کې مړه شوه.»

نو دلته مو بیا هم ولید چې د کلیوالو، غریبو بیچاره خلکو ژوند ته یې توجه کړې ده چې یوه ښځه څنګه د بل چا د موټر پر تمه مري.

احمدي د زړو په ناول کې لیکلي:

«زړه مې طاقت نه کاوه، موبایل مې غوږ ته ونیوه، د یو ماشوم آشنا غږ راغی.

هلو څوک یې؟

زړه مې غټ کړ.

حاجي نواب غواړم

ماشوم وویل:

نیکه مې په کور کې نشته، دا موبایل نومره د له کومه کړه؟

ښځینه ناره مې واوریده

چینجیه دا زما موبایل د ولې اخیستی؟

تلیفون مې قطع کړ د زړه ټکان مې ډېر شو، له شک پرته زړو وه.

شیبه وروسته زنګ راغی، په ښځینه ټیټ غږ یې وویل:

اوس خو پوه شوې چې دروغ نه وایم ته راباندې ګران یې

زړه مې بې واره دربیده، خو د ا ځل دا دربا بده نه راباندې لګیده، یو نری خوند مې ترې اخیست، ځان مهم راته ښکاریده، وړه خبره نه وه یو خوار نجار په یوې ښکلې نجلۍ ګران وه.

څو ځله یې یوه خبر تکرار کړه

یو خوار نجار په یوې ښکلې نجلۍ ګران وه.»

نو ومو لیدل چې دلته یې د یوه بې وزلي، ناهیلي نجار ژوند انځور کړی دی، دا چې په کومې نجلۍ ګران وي نو څومره خوښي څرګندوي، سره له دې چې تل مو په ټولنه کې دا دود دی د چا بې وزله او غریب خلک نه خوښیږي.

او تر ډېره باورونه دا دي چې ټولې نجونې غواړې، له شتمنو سړیو سره واده وکړي او له هغوی سره اوسي. لنډې ده چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالمه راشئ مخ مې تور کړئ
د پاچا لور وم په کولال میینه شومه

احمدي د اغزن سیم په ناول کې لیکي:
«یوه شیبه غلې وه، وروسته یې په ډک ستونی وویل:
دوه کاله مخکې مې پلار ته یو لیک راغی،د جومات ملا ورته ولوست، تره مې تهران ته غوښتی وو، پلار ته مې لیکلي وو چې دلته مې د خښتو په بټۍ کې سرکاریګري درته موندلې ده د یو کال د دهقانۍ پیس په یوه میاشت کې موندلی شې، له کور نه راووتو، دلته راورسیدو، پلار مې څو ځلې خپل ورور ته تلیفون وکړ،خو کار یې نه کاوه،علي رضا پیسې غوښتې...د هغه آخره خبره دا وه چې دوه کاله به د غواوو په فارم کې له تنخوا پرته کار کوئ.»
نو دلته مو ولیدل چې یوه غریبه او بیچاره کورنۍ څنګه د خپل د اقتصاد د ښه والي لپاره په قاچاقي لارو تر ایرانه ځي.
او بیا له سختو ستونزو سره مخامخ کیږي، د نجلۍ مور او پلار دواړه مړه کیږي او نجلۍ په همدې ځای کې د ډېرو ستونزو سره د یوې نوکرۍ په شان کار کوي.
اروابښاد نصیر احمد په خپله یوه لنډه کیسه کې لیکي:
«یو سوړ اسویلی یې وایست، شونډې یې وخوځېدې:
څه درته ووایم، اووه سره عیال لرم، ټول واړه دي، څوک ناروغه وي، څوک د مکتب کتابچې غواړي، یو جامې نه لري او بل هم لوڅې پښې ګرځي.
باور وکه د غنمو ریبلو ته یوه میاشت پاتې ده،خو موږ دوه اونۍ مخکې لا کندو جارو کړ، کله پسې رسیدی شم.
یوه شیبه غلی وو بیا پرته له دې چې راته وګوري په خواشینۍ یې وویل:
نه پوهیږم، څه پرې وخورم؟»
دلته یې هم د یوه بیوزله سړي ژوند ته کتنه کړې ده او د افغانانو د ژوند سختې یې بیان کړې دي.
**پایله:**
نصیر احمد احمدي د پښتو ژبې په داستاني ادب کې یو بې سارې ځلانده ستورې وه چې په خپلو ناولونو او کیسو کې د پښتنو رسم و رواج، د ښځو محرومیت، کلیوالي ژوند او په تیره بیا د د غریبو او بیوزله خلکو ژوند ته یې ډېره پاملرنه کړې ده.
نو وړاندیز مې دا دی چې د احمدي صاحب ناولونه ولولئ باوري یم که مو یو ځل لوستل پیل کړل نو په نیم کې یې نه شئ پرېښودلی، ډېر څه به ترې زده کړئ.

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوې وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تخیل پارونکی لیکوال / فرشته صالحي

د ښوونځي په یوولسم ټولګي کې وم چې نږدې ملګرې مې درې پرینټ شوې ورقې په میز ایښې وې، د لومړۍ ورقې په سر هینداره لیکل شوې وه ما ورقې راواخیستې او په لوستلو مې پیل وکړ، کیسه د یوې ښایسته پیغلې وه چې د سرطان په ناروغي اخته وه. په کیسه کې کارول شوي ډیالوګونه دومره روان، واقعي او ښځینه ول چې زه یې جذب کړم. د کیسې په جریان کې مې ځان سره وویل چې ضرور به یې لیکواله کومه میرمن وي ځکه د یو نارینه له خولې څخه داسې د ښځینه احساساتو دقیق او عمیق ابراز تر ډیره ناممکن دی. په کیسه کې پیغله هیندارې ته ولاړه وي او خپل ځان ته مینه ورکوي د خپلو ویښتانو، سترګو او اننګو ستاینه کوي، د کیسې هرې برخې به زما روح او خیال یوې عیني شیبې ته یوړ او د پیغلې د هر ډیالوګ وروسته به مې هغسې شیبه ځان سره انځور کړه. زه نه پوهیدم د کیسې لیکوال/لیکواله څوک ده، خو ما ورسره ډیر عمیق ارتباط حس کړ. د ورقو په پای کې هم د لیکوال نوم نه وو او نه مې ملګرې ته دقیق لیکوال مالوم وو خو حدس یې وواهه چې شاید د مصطفی سالک لیکنه به وي. لنډه کیسه په ټولګي کې ختمه شوه مګر زما خیال کې یې دوام درلود هره شیبه مې خپل خیال کې ورته بیله نتیجه ورکوله، دا لومړی ځل وو چې داسې یوه لنډه کیسه مې لوستې وه چې ډیره طبیعي وه او هر څه چې واقعي او طبیعي وي هغه د انسان پر روح اثر پریږدي. د نوموړې کیسې تاثیر زما په شخصیت دومره ډیر وو چې ما د نوموړې کیسې کرکټر راواخیست او د خپلې خوښې ډیالوګونه مې په وویل او د خپلې خوښې پای مې ورکړ دا زما لومړنۍ لیکنه وه. دا چې له کیسې متاثره شوې وم او ګومان مې کاوو چې د سالک صیب لیکنه وه نو د سالک صیب دوه ناوله مې ولوستل. څه موده وروسته مې د فیسبوک له لارې وموندل چې د نوموړې کیسې لیکوال احمدي صیب دی. ما د احمدي صیب کیسې تقریبا ټولې ولوستې او تر ټولو راته جالبه برخه یې دا وه چې احمدي صیب د خپلو کیسو ښځینه کرکټرونه دومره حساس او منظم تصویر کړي ول چې د یو نارینه لپاره دا ډیر شاید سخت وي چې دومره عمیق او دقیق او بیا داسې په ښځینه ژبه هغه تصویر ګویا کړای شي. ۲۰۱۸ کال کې مې احمدي صیب سره ولیدل، احمدي صیب ته مې خپله ارزونه هم وویله احمدي صیب په ورین تندي وویل چې زه هر څه لیکم له زړه یې لیکم او د زړه لیکل به زړونو لګیږي. زما لپاره د احمدي صیب کیسو زما خیال وروزو، او تل کوښښ کوم له زړه ولیکم شاید همدا تاثیر وي چې دفعتا په یوې سوژې کیسه نشم لیکلای تر څو چې مې زړه رضایت ونلري.

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوی وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## زما ګاونډی، لوی لیکوال نصیر احمد احمدي / سلما بدري

**خاطرات (۱)**

د واورې سپین بخرکي د ځمکې خواته ورو ورو کوزېدل. د ماښام تیارو هم د واورې سپین والی نشوای پټولای. زه په پخلي لګیا وم، سابه مې پخول. مور مې د ماښام لمونځ کاوه. ما یو قاب له سابو ډک کړ، وچه ډوډۍ او لږ څه نور خوراکي توکي مې هم ورسره کېښودل. په منډه له پخلنځي ووتم. مور ته مې غږ وکړ:

موري! زه ژر بېرته راځم.

غږ مې وانه ورېد. د حویلۍ دروازه مې خلاصه کړه. مخامخ د ګاونډي دروازې ته مې وکتل. په واوره کې د قدمونو کرښې ښکارېدې. ورغلم، دروازه مې ټک ټک کړه. څو شېبې وروسته احمدي صاحب راووت په خوښۍ يې وویل:

- وربرې ستړې مسې!

له مننې وروسته مې د خواړو پتنوس ورته ونیو، په خندا یې وویل:

- دا لږ مخکې کور ته راورسېدم. د ماشومانو مور مې د پروېز( د احمدي صاحب زوی) دوی سره غزني ته لېږلي دي اوس حیران وم چې ځان ته څه تیار کړم. ډېره ډېره مننه.

- ور يې نه ده کاکا جانه. لومړی پخلی مې دی خدای د وکړي چې خوښ دې شي.

- څنګه به مې نه خوښیږي، ستا د لاس به وي او خوندور به نه وي!؟

ګوره! که ماسره ډوډۍ خورې خو راځه کنه نو ځه چې مریضه به شي.

له دې پېښې ډېر کلونه تېر دي خو زه لا تر اوسه هم چې سابه پخوم راته یادیږي.

روح دې يې ښاد وي.

۲۰۱۷م کال

**خاطرات (۲)**

د حویلۍ دروازه یې خلاصه وه، ورننوتم. حویلۍ کې څوک نه ښکارېدل. غږ مې وکړ:

- مدینې!!

د کړکۍ له هاخوا یې ولیدم موسکی شو، ویې ویل:

- وربرې! راځه د ننه.

کوټې ته د ننه شوم. بالښت ته یې ډډه وهلې وه. لوراني یې زما هرکلي ته ودرېدې، مېرمنې یې غېږ کې ونیولم. له روغبړ وروسته یې راته وویل:

- ښه نو ادبیاتو ته کامیابه شوې؟

د هو په دود مې سر وخوځاوه. مېرمنې یې په خندا وویل:

- داده بله لیکواله هم پیدا شوه.

ما احمدي صاحب ته وکتل، ومې ویل:

- ادبیات به څنګه وایم؟ سخت راته ښکاري.

په پوښتونکي نظر یې راته وکتل. زیاته مې کړه:

- باید لیکل وکړم، خو؛ نه یې شم لیکلی. غواړم لکه تاسو کیسه لیکونکي شم، خو؛ هېڅ مې ذهن ته نه راځي. الهام مې تښتېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خندا یې وویل:

ـ الهام څوک دی؟

ځواب مې نه درلود. بیا یې وخندل زیاته یې کړه:

ـ ګوره بچې! لیکل کوه، هر څه لیکه، د ورځې د څه وکړل، چېرته لاړې، څه د وخوړل، کوم څه د خوښ شول، ولې؟ کوم دې خوښ نه شول، ولې؟ دا هر څه ولیکه. پیل یې همدا دی. یوه ورځ به له ما مخکې وې. زه باور درباندې لرم.

بیا یې لور ته مخ کړ ویې ویل:

ـ لورې! ورشه له لمارۍ زما کتابونه راوړه.

څو شېبې وروسته یې زما مخې ته لس کتابونه کېښودل، ویې ویل:

دا ووایه، زما لخوا درته ډالۍ.

په کتابونو مې ګوتې تېرې کړې. مننه مې ترې وکړه. ویې ویل:

ـ وروسته له دې مې چې نوی کتاب چاپېده، لومړی یې تاته دروړم. وعده ده.

هر نوی کتاب به یې په خپله زموږ تر کوره راوړه او په خپلو لاسونو به یې راکاوه بیا به یې ویل:

ـ غلطۍ یې نیسه ادیبې!

ډېر وخت وشو چې زموږ دروازې ته چا نوی کتاب رانه وړ. ډېر وخت شو چې لا مې هم سترګې د یوه نوي کتاب په تمه دي.

له مرګ وروسته یې د غني ځاله کتاب چاپ شو. دا ځل یې لور راغله په ډکو سترګو یې نوی کتاب راته ونیو.

۲۰۱۹م کال

**خاطرات (۳)**

کور ته یې وروغوښتم. ورغلم. راته یې وویل:

ـ ښه نو چې زه دې ونه غواړم ته خو نه راځې. دا څنګه وربره یې چې د کاکا پوښتنه دې نه کوې؟

ـ کوم یې کاکا جانه.

ـ کله یې کوې.

څنګ ته ناستو وربرو ته یې وکتل ویې ویل:

ـ دغه نجونو ته دې کم راوستم. هر وخت ورته وایم چې له سلما یې زده کړئ او ته مې یو ځل احوال هم نه اخلې.

مملې ( د احمدي صاحب وربره) ماته وکتل ویې ویل:

ـ هو! کاکا مې رښتیا وایي.

راته ویې کتل، خندا کې یې وویل:

ـ ټوکي کوم چې خپه نه شې.

ـ نه ولې به خپه شم.

خپلې لور ته یې وکتل، ویې ویل:

ـ دغه وینې، ښوونځي ته یې لېږم چې درس زده کړي خو؛هلته خوراک کوي.

ټولو وخندل لور یې ( للمه) سره واوښته ویې ویل:

ـ په! داسې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما وويل:

ـ په ژوند کې به يوه زه، يوه للمه ډنګرې نه شو.

مشرۍ لور( مدينه) يې پسې زياته کړه:

ـ او موږ به چاغې نه شو.

ويې خندل د کوچنۍ لور په سر يې لاس تېر کړ، ماته يې وکتل، ويې ويل:

ـ دغه للمه تاته سپارم. د ځان په څېر دې يې تکړه کړه. زه بوخت يم کنه نه مې په عذابولې.

ـ نه څه عذاب. په دواړو سترګو.

للمې ته يې مخ کړ ويې ويل:

دا دې استاده ده، احترام يې کوه.

بيا يې ماته وکتل ويې ويل:

ـ ګوره! که يې درس نه و زده، وهل هم روا دي.

ما ورغبرګه کړه:

ـ بېلکل روا دي.

کله کله به يې د لور په کتابچه کې ځيني يادښتونه راته پرېښودل. خو له مرګ وروسته مې يې لور ونه ليده او نه مې هم هغه يادښتونه ولوستل.

۲۰۱۸م کال

**خاطرات (۴)**

څو کاله مخکې يې يو سور رنګ موټر اخيستی و. حويلۍ ته په ننباسلو او راويستلو کې ورسره پټنګ و. تر ډېره به يې زما ورور ته ويل چې موټر را ننباسه يا يې وباسه.

هره د جمعې ورځ به له کورنۍ سره چکر ته تله. موټر به يې داسې ډک کړی و چې که دروازه دې خلاصه کړې وای، يو دوه تنه به ترې راغورځېدل. ډېری وخت به ماته راغی ويل به يې چې راځه که چکر ته ځې.

ما به چې د موټر وضعيت وليد، نه به مې ورته وويل. ده به ټينګار وکړ؛ راځه کنه، تا او للمه به د موټر په سر کېنوم، په سيټ کې خو د دوو تنو ځای نيسئ. بيا به مو وخندل. ده به په خوښۍ د موټر له ښيښې راته لاس وښوراوه او بيا به موټر په چټکۍ له کوڅې ووت.

**خاطرات (۵)**

د اسد مياشت وه. هوا ګرمه وه. د شنبه مازديګر څلور بجې شاوخوا به وې. زه له پوهنتون نه راغلم. د حويلۍ دروازه بنده وه. ټک ټک مې کړه. تليفون مې راوويست. واتسپ مې کاته. دروازه لا هم خلاصه نه شوه. دا ځل مې په لغته ووهله. له شا يې راباندې غږ وکړ:

ـ داسې نه کيږي، سمه يې ماته کړه.

جټکه مې وخوړه شاته مې وکتل. موسکی و. ومې ويل:

ـ نه يې خلاصوي کاکا. په دې ګرمۍ کې ورته منتظره يم.

ـ دا لا د اونۍ پيل دی ته دومره بې حوصلې يې. چې د اوونۍ اخر کې به دې څه حال وي.

کوچني ورور مې دروازه پرانيسته. کور ته د ننوتلو په حال کې مې ورته وويل:

ـ کاکا ماسره نه ځې؟ چای به درته تيار کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ ستا په لاس د دروازې ټکوهلو ته له وسې نه کېږي، بیا به ماته چای ښه تیار کړې! ځه ورځه بچې. که دې له دوکانه څه پکار وي چې درته رایې وړم؟

ـ نه مننه کاکاجانه پخیر لاړ شې.

۲۰۱۹م کال

**خاطرات (۶)**

د پسرلي موسم وروستی میاشت وه. د سهار او مازدیګر لخوا نرم شمال په انسان ښه لګېد. زه د حویلۍ په انګړ کې له خپلې کورنۍ سره په شنه چمن کې ناسته وم. شمال د زردالیو پاڼې ورو ورو خوځولې. د حویلۍ دروازه وټکېده. پلار ته مې وویل چې زه به ورشم.

د حویلۍ دروازه مې پرانیسته. مخامخ راته له خندا ډکه خوله ولاړ و. له روغبړ وروسته یې وویل:

ـ برق مو شته؟

ـ هو شته دی.

ـ زموږ خو نشته، باید زموږ هم وای ځکه یو فاز کې یو.

ـ ستاسو لین به غلو وړی وي.

سمدستي یې د اسمان خواته وکتل بیا یې ماته وکتل ویې ویل:

ـ نه نو، په رڼا ورځ غله څه کوي.

ـ هسې ټوکه مې وکړه کاکا، زموږ هم برق نشته.

په خندا یې وویل:

ـ مضرې.

ـ خیر کاکا برق به راشي تشویش مه ورته کوه.

د هو په دود یې سر وخوځاوه بیا یې وویل:

ـ تر ماښامه به په تمه شو که رانغی بیا دې پلار ته ووایه چې یوه چاره یې وکړو.

ـ سمه ده کاکاجانه. خو راځه کور ته چای به هم وڅښې او خپله به خبرې هم ورسره وکړې.

ـ سلامته دې وې. ځم چې کمپیوټر مې خلاص پرې ایښی، ارزو ( د احمدي صاحب کوچنۍ لور) به اوس ښه څه پکې کړي وي.

پینځه شېبې قدمه یې واخیستل. زه تر هغه ولاړه وم چې کور ته د ننه شو.

۲۰۱۹م کال

د برق د نشتون سره یې نه لګېده. هر کله به چې برق لاړ یا به کور ته راغی یا به مې یې پلار ته زنګ کړ چې دا ولې لاړ. څه وکړو، کنه وي برقي راولو او دې ته ورته نورې پوښتنې به یې کولې.

**خاطرات (۷)**

د کور په انګړ کې په کتاب ویلو لګیا وم. کوچنی وروړ مې په منډه راغی په لنډه ساه یې وویل چې احمدي صاحب د غواړي. په بېړه ورغلم. له روغبړ وروسته یې وویل:

ـ وربرې ځمه کلي ( قره باغ) ته، که کوم څه دې پکار وي غږ وکه.

ـ ډېره مننه کاکاجانه پخیر لاړ شئ او پخیر راشئ.

ـ ډېر تشکر. یعني چې څه دې نه دي پکار!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سترګې مې د فکر کولو په دود وغړولې بیا مې وویل:

ـ کاکا که زحمت نه درته کیږي لږ تار درسره راوړه.

ـ د څه شي تار؟

ـ هغه د قره باغیانو تار چې چکن ټکري پرې ګنډي.

ـ شه شه. سمه ده خو کوم رنګ؟

ـ صبر زه به یې یوه نښه درکړم.

په منډه کوټې ته د ننه شوم د ګوټې د بند په اندازه مې د تار نښه ورته راوړه. تار ته یې وکتل ویې خندل بیا یې وویل:

ـ لږ ډیر به دې راوړی و دومره هم سختي مه کوه.

ـ کاکا دا تار باید ضایع نه شي ځکه چې ماته مدیني ( د احمدي صاحب لور) راوړی.

ویې خندل بیا یې وویل:

ـ ښه نو که ورک شو بیا؟

ـ خو رنګ خو دې یې په یاد دی، جیګري رنګ تار دی کنه.

ـ سمه ده پخیر.

خدای پاماني یې وکړه.

یوه اوونی وروسته بیا راغی، په دروازه کې ولاړ و. ورغلم. لاس کې یې دوه رنګه تارونه و؛ ژیړ، ګلابي.

ویې ویل:

ـ هغه د تار نښه رانه ورکه شوه، بازار کې مې همدا خوښ شول. خدای د وکړي چې ستا هم خوښ شي.

تار مې ترې واخیستل ډېره مننه مې ترې وکړه.

لاتر اوسه هم هغه تارونه شته راسره. ګنډل نشم پرې کوی، وایم هسې نه چې خلاص شي.

۲۰۱۹م کال

**خاطرات (۸)**

د جوزا میاشت وه. مازدیګر و خو لا هم هوا ګرمه وه. راتلونکې میاشت روژه وه. مور د کوټو قالیني مینځلې. یو برس کم و. مور مې راته وویل چې د مدیني له کوره برس راوړم. زه هم ورغلم. پرته له دې چې دروازه ټک ټک کړم کور ته ورننوتم. دوی هم د حویلۍ پر مخ قالیني مینځلو ته غوړولې وې. د احمدي صاحب دری لوراني او دری وربرې یې پر مینځلو لګیا وې. احمدي صاحب او مېرمن یې پاس ناست و. د شین چای پیالې ورته ایښې وې. د مینځلو تماشه یې کوله. زما په لیدلو په خندا شو ویې ویل:

ـ پخیر راغلې. عجب وخت کې راغلې. لورې یو برس ورکړه.

ما وخندل ومې ویل:

ـ هو، برس راکړه چې کور ته یې وړم. زموږ همدا حال دی.

ـ نه نو اوس راغلې یې خپله برخه کار به دې کوي.

ما وخندل ومې ویل:

ـ زه له کاره دلته راوتښتم او ته مې دلته هم نه پرېږدې.

په کړس یې وخندل بیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- اې تمبلي! دا چاغ خلک ټول تمبل وي.

- نه زه نه یم تمبله. راکړه برس چې اوس یوه دقیقه کې قالینه درته پریمینځم.

- مدیني! برس ورکړه.

مدیني برس تر شا نیولي و نه یې راکاوه. ویل یې که یې کور ته وړې درکوم یې کنه دلته دې نه پرېږدم چې څه ته لاس وروړې.

ومې منله. برس مې ترې واخیست. کېناستم چې قالینه پریمینځم. احمدي صاحب په منډه راغی ویې ویل:

- هله بچې جګه شه زه خو ټوکې کوم.

- پوهېږم کاکا. خو ما ویل چې درته ثابته یې کړم چې تمبله نه یم.

خندا کې یې وویل:

- هسې خو راته معلومه یې.

له خدای پامانۍ وروسته یې له کوره ووتم.

۲۰۲۰م کال

**خاطرات (۹)**

د قرنطین ورځې وې. شپه ورځ به ویده وم. فکر مې کړ دا به د ژوند پای وي. لوستل، لیکل هر څه مې پرېښودل. د شنبې په یوه مازدیګر چې کله له خوبه پاڅېدم، ذهن کې څه راتېر شول. مور ته مې وویل چې ځم د مدیني دوی کره ویې منله. د احمدي صاحب کور ته ورغلم. پوښتنې ته یې ډېره وهلې وه. شاوخوا یې لوراني او وریرې ناستې وې زه هم کېناستم. له روغبړ وروسته مې وویل:

- کاکا! غواړم دنده ولرم. یو څه وکړم. کور کې مې بیخي حالت خراب دی او ورځ په ورځ خرابیږي.

- د پوهنتون څووم کال دې دی؟

- دویم کال. څلورم سمستر.

- ګوره بچې! دا حالت تل داسې نه پاتې کیږي. یوه ورځ به راشي هر څه به بېرته سم شي. ته زحمت وباسه. دا ډېر ښه چانس دی. مطالعه وکړه او پاتې شوه د دندې خبره؛ زه چې چېرته دنده کوم هغه فول ټایم دی یعنې ټوله ورځ به کار کوې، نو که ستا پوهنتون شروع شي بیا مجبوره یې چې دنده پرېږدې. داسې نیم نیم کارونه په درد نه خوري. ته کولی شې په خپل مټ ډېره ښه دنده واخلې خو په دې شرط چې حوصله به کوې.

ما هم ورسره ومنله او د کتابونو لوستلو ته مې شروع وکړه.

۲۰۲۰م کال

**خاطرات (۱۰)**

د پوهنتون نه راغلم. کوڅه کې مې له لرې وپېژاند. له بل سري سره په خبرو لګیا و. کله کله به یې وخندل. مخکې له دې چې دروازې ته ورسېږم، ده هم له سړي نه خدای پاماني واخیسته. سلام مې ورکړ. له روغبړ وروسته یې وویل:

- زموږ د حویلۍ مرچ دې خوړلي؟

د سر په خوځولو مې د نه ځواب ورکړ.

بیا یې وویل:

- راځه لږ به درته وشکوم. حاجي صاحب ته یې ورکړه. زړه ته یې ګټور دي.

ومنې منله ورپسې شوم. دروازه کې ورته ودرېدم. څو داني شنه مرچک یې راکړل بیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ترخه دي ته يې نه شي خوړلی پلار ته دې يې ورکړه.

موسکی شوم خدای پامانۍ مې ترې وکړه.

۲۰۱۹م کال

**خاطرات (۱۱)**

د سنبلې میاشت وه. هوا ډېره ګرمه وه. لمر د لوړو بلډنګونو په سر ښکارېد. زه په کوځه کې روانه وم چې له شا رابانديې غږ وشو:

- وربرې!

جټکه مې وخوړه په بېړه مې شاته وکتل. لاس کې يې د ژېړو منو ډکه کڅوړه وه. خندل يې. له روغبړ ورسته يې رانه پوښتنه وکړه:

- درسونه دې ځنګه دي؟

- بیخي ښه دي شکر دی.

- ګوره که کومه ستونزه و ماته وایه. زه هلته ډېر شناخت لرم.

- که ستونزه وه، ولې نه حتما درته وایم.

زما د خبرو پر مهال مې له ځنګه ورک شو. شاته مې پسې وکتل. ولاړ و د کڅوړې له منځ نه يې منه راایستله. ویې ویل:

- صبر چې نه راوځې.

- راځه کاکا څه يې کوې.

راغی لاس کې يې څو منې نیولې وې. ومې ویل:

- یوازې یوه اخلم بس.

- دا بله هم واخله. حاجي صاحب ته يې ورکړه. ګټه لري.

منه مې ترې واخیسته. زه د خپل کور دروازې ته ودرېدم او هغه خپل کور ته ننوت.

پلار مې ډېر پرې ګران و. د خپل ورور نه يې کم نه ګاڼه. او په پلار مې هم بېحده ګران و.

۲۰۲۰م کال

**خاطرات (۱۲)**

د سرطان میاشت وه. زموږ د حوېلی زردالو پاخه شوي و. پلار مې څو سره سره زردالو راوشکول او ماته يې راکړل چې احمدي صاحب ته يې یوسم. ما هم ومنله. د زردالو جالی مې راواخیسته او کور ته يې ورغلم. احمدي صاحب په حوېلی کې ناست و. وروسته له روغبړ څخه مې د زردالیو جالی مخته ورته کېښوده. په خندا يې وویل:

- اوس دا زردالو دي که منې؟

- زردالو دي کاکا.

- دومره غټ، غټ!؟

- هو، زموږ د حوېلی دي کنه.

ویې خندل بیا يې وویل:

- زموږ د حوېلی هم بې جوړې دي. بیا يې غږ وکړ:

- لورې! ورشه یو څو زردالو راوشکوه.

څو شېبې وروسته يې د چهارمغز په اندازه زردالو زما مخې ته کېښودل. احمدي صاحب وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



- قواریږ ته یې مه ګوره خوند ته یې ګوره.
ما هم وخندل او له کوره یې راووتم.
۲۰۱۹م کال

**خاطرات (۱۳)**

د ۲۰۲۱ کال د دلوې میاشت وه. د دې کال لومړنۍ واوره وریدلې وه. په ژمي کې به معمولا احمدي صاحب خپله کورنۍ غزني ته لیږله او دی به کور کې یوازې و. تل به یې زما پلار ته ویل چې, ماشومان مې نه وي ډېر ښه لیکل کولی شم. دا ژمی یې هم ماشومان کور نه وو. ساړه ډېر و خو واوره ډېره نه وه شوې. زه مې له ورور سره په واورو کې په مستۍ لګیا وم. یو بل مو په توپونو ویشتل چې دروازه وټکېده. ورور مې د دروازې خلاصولو ته ولاړ ما هم زر د واورې توپ جوړ کړ او ورپسې وار مې کړ. دروازه خلاصه وه توپ د احمدي صاحب د پښو سره ولګېد. مخامخ یې راته وکتل. ما مې دواړه لاسونه سر ته وړي وو او د پښېمانۍ احساس مې کړ. راته ویې خندل نور یې هېڅ هم ونه ویل او ولاړ.

**خاطرات (۱۴)**

هر کله به یې چې لیدم، درس ته به یې هڅولم. یوازې زه نه، د ټولو نجونو د زدکړې طرفدار و. د احمدي صاحب د کور دروازه ټولو زدکړیالو نجونو ته بې پوښتنې پرانیستې وه. د ده کره به یې لرې لرې خپلواني راتلې زده کړې به یې وکړې او بېرته به کلي ته ستنې شوې. د مرګ تر وخته یې هم ورېرې ده کره اوسېدې او ده هم لکه د خپلو لورانو داسې زیار پرې ایست او هڅولې یې. زما هېڅکله نه هیرېږي چې؛ خپلو لورانو او ورېرو ته به یې وکتل بیا به یې وویل:
خدای مې دې تر هغه وخته نه وژني چې زده کړه پرې وکړم او یوځای ته یې ورسوم. بیا که مړ هم شم فرق نه کوي.
په دې نیمګړې دنیا د هېچا ارمان پوره نشو.

**خاطرات (۱۵)**

احمدي صاحب به چې تل غزني ته تلو، د کور کلې به یې موږ ته راکوله او ویل یې چې په کور مو پام وي. احمدي صاحب لکه زموږ د کورنۍ غړی داسې و. په کور به مو تل پام کړ. دا وروستۍ ځل چې راغی د کرونا اوج و. ماشومان یې ټول غزني ته لیږلي و. ده هم غوښتل ورپسې ورشي.
دروازه وټکېده. مشر ورور مې ورغی. روغبړ یې ورسره وکړل. په شین ماسک یې مخ پوښلی و. ما یې غږ وپیژاند. زه په دویم پوړ کې وم. له کړکۍ مې ورکتل. ورور مې غوښتل غېږ کې یې ونیسي خو احمدي صاحب ونه منله ویل یې، زړګیه! مریض یم چې رانه ودې نه نیسي. ورور مې خندل ویل یې، احمدي صاحب هېڅ خبره نه ده ډېر ژر به جوړ شي چې تشویش ورته ونه کې. له څو نورو خبرو وروسته یې کلی زما ورور ته ورکړه او لاړ. دا تګ یې له کوره وروستۍ تګ شو بیا په خپلو پښو رانغی..
۲۰۲۱م کال

**خاطرات (۱۶)**

وروسته له هغه چې غزني ته لاړ، تلیفون یې بند و. څو ورځې وروسته مې پلار ورسره وغږېد، ویل یې کوما کې وم خو اوس ښه یم. خو غږ یې ښه نه و. څو ورځې یې بیا تلیفون بند و. کله مې چې پلار بیا زنګ ورته وکړ ورور یې و. ویل یې کابل ته مو راوستلی. امیري

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفاخانه کې دی خو څوک نه ورپرېږدي. وروسته له هغه به مو هره ورځ زنګ ورته کړ. ورور به یې کله کله کور ته راغی ځیني مهم توکي به یې له کوره وړل. د شنبه ورځ ماښام قضا و. زه مې خپله کوټه کې وم کورنی مې حوېلۍ کې ډوډۍ خوړله. تلیفون مې وشرنګېد. ټولګیوال مې و. اوکې مې کړ. وروسته له سلام نه یې سمدستي وویل چې، په فیسبوک کې یې لیکلي و چې احمدي صاحب وفات شوی، رښتیا ده؟؟ په وجود مې یخه تبه شوه ما ویل نه. شکر ژوندی دی. جوړ دی. دروغ یې ویلي.

تلیفون مې بند کړ په منډه مې پلار ته ورغلم ومې ویل:

- پلارکه! ټولګیوال مې ویل چې احمدي صاحب وفات شوی زه یې نه منم ته خو یو زنګ ورته وکړه.

پلار مې جوړه کړې مړۍ بېرته په کاسه کې کېښوده. جګ شو. سر یې وګرځېد. تر لاس مې ونیو ویل یې ښه یم. مور مې په زړه لاس ایښی و له پرېشانی سره یې غوسه ګډه وه ویل یې داسې غږ څوک نه کوي. پلار دې د زړه تکلیف لري او احمدي صاحب ژوندی دی هر چا چې ویلي دروغ دي.

زه په منډه پلار پسې ورغلم. د احمدي صاحب دروازه یې ټکوله. کوم زنانه ورته ویلي و چې د احمدي صاحب ویني ته اړتیا ده ورور یې همدا اوس ورغی چې وینه ورکړي.

خو دا تسلي د دروغو ښکارېده. پلار مې د څو نورو ګاونډیو دروازې هم وټکولې، ټولو پر فیسبوک علان لیدلی و. خو هېڅوک له رښتیا نه و خبر.

څو ساعته تېر شول. پلار مې دا څو ساعته په کوڅه کې ګرځېد، کله به کور ته راغی. زه په کړکۍ کې ناسته وم. یوازې دعاوې مې کولې. د شپې شاوخوا دولس بجې وې چې امبولانس مو کوڅه کې ودرېد. پلار مې په مړاوو قدمونو کور ته راغی هېڅ یې هم نه ویل. مور مې تر لاس ونیو ویې ویل صبر ولره. ما منډه کړه لوڅې پښې ووتم. له کوره یې د چغو او ژړا غږونه اوچت شول. امبولانس دوه درې قدمه زموږ له کوره لرې ولاړ و. غوښتل مې ورشم ویې وینم، مور مې تر لاس نیولې وم نه یې پرېښودم ویل یې نارینه ډېر دي. دواړه د دروازې په خوله کې کېناستو. خولې مو په څادر کلکې نیولې وې چې د ژړا غږ مو څوک وانه وري. تر هغه وخته ناست و چې امبولانس له کوڅې ووت او دی یې هم راخخه یووړ. ۲۰۲۱م کال

د احمدي صاحب مرګ دومره سخت و چې لا تر اوسه مې هم ژړوي. هغه یوازې زما ګاونډی نه و، زما ملګری، کاکا، استاد، رهنما و. هغه زما د لارې څراغ و. د ده یادونه او خاطرې ډېرې خوږې دي. خندانه څېره مې یې ذهن کې ده. خوږې خبرې یې لکه اوس هم چې اورم خو نشتون یې ډېر سخت دی. ما یې هره خاطره د اوښکو په ملتیا لیکلې. زړ ځلې مې ویلي چې، ای کاش ژوندی وی. اوس بیا هم وایم: ای کاش چې ژوندی وای.

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوی وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**






(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library






**ارواښاد نصیر احمد احمدي ته د اغلې ځلا نور لیک:**

**نصیر ته چیغه !**

غږ مې مرۍ کې بند دی. اواز نشم کولی. ته ډېر ډېر لرې تللی یې. له خپله حاله دې څنګه خبر کړم؟ او چا ته به خپل حال ووایم؟ زه نو نور څوک لرم چې ورته د خپل ستړي ژوند حال ووایم؟ او هغه ورته غوږ شي او کېسه مې کړي. ته نو دومره لرې تللی یې چې نه مې کیسه کولی شې او نه مې اورېدلی شې.

دا دی دوه کاله ووتل چې ته نه یې. په دې دوو کلونو کې مې دومره ډېرې هیلې ماتې شوې چې ستا په خیال کې له پرتو سوژو ډېرې وې. قلم مې لاس کې لکه کړکۍ وچ شو. کله ووایم چې راشه له دې وچ قلم نه شپیلۍ جوړه کړه او دې ویده مخلوق ته یې واوروه، څکه دوی هسې هم څه لولي نه که چیرې مې واوري او د یوې نغمې په څیر یې په وجود کې راوګرځم او یو قیامت پکې راوېښ کړم، خو له شپیلۍ وتلی غږ هم څوک نه اوري او د ثواب په نیت خپلې ګوتې په غوږونو کې ورکوي.

ای هاااای ما په څومره سختیو تور کمیس او سپین ټکری پیدا کړي و. اوس په خپله تیاره کوټه کې دوه الماری لرمه چې یوې کې ستا کتابونه او بلې کې مې د ښونځي جامې او کتابونه ایښي دي. دواړو ته په ژړاندو سترګو ورګورمه دا دوه کاله شول چې یو امر ته مې زړه بوټ راوخوت. د ښوونځي د خلاصیدو امر د پوهنتون د شروع کېدو امر زما د پاتې کېدو او غوړېدو امر....زه اوس په خیال کې ژوند کوم. ښه دی خیال لرم، الوت پکې کولی شم، پکې نخیدلی شم، په جادویي لاسونو ټولې بندې دروازې خلاصولی شم. نجونو ته وزرې ورکولی شم او پاس تر سپوږمۍ او ستورو یې رسولی شم. خو چې کله له خیال نه راووځم، څلور دیوالونه کې ایساره یم. لکه زه چې جهنمۍ یم او دا څلور دیوالونه لکه د قبر څلور دیواله. ویرېږم چې راباندې را به شي او پښتۍ به مې له یوې بلې وباسي....

نصیره!

دوه کاله کیږې چې په مړو حساب یم لکه ستا هغه (رڼا) زه هم تیارو کې یمه. ما ته یې هم دروغجنې وعدې راکړي. زه هم اوس د بل تمې ته ناسته یم. ورو ورو مې وجود په ورکیدو دی. اوس نو څوک نشم پیدا کولی چې زما کیسه کیسه وبولي، د زړه دردونه مې څوک نه راسپړي .....

کاش ته د خپلو بې شمېره سوژو په منځ کې ناست وای او زه په تور لباس کې درغلې وای او د خپل ژوند کیسه مې درته په سلګیو سلګیو بیان کړې وای. تا له خپلو سوژو ځان راخلاص کړی وای او قلم په لاس راته غوږ شوی وای.....خو....آه....

تا به زما کیسه اول لکه لنډه کیسه پیل کړې وای، وروسته به درنه اوږده شوې وای، په رومان به دې بدله کړې وای، په یو جلد کې نه په دوو او درو جلدونو کې....

ته چې لاړ یې زموږ خوښي هم درسره ولاړه. زموږ غږ ته، زموږ لاسونو ته، پښو ته، زلفو ته.... هتکړۍ رالویدلي دي، موږ ګنهګارې شوي یو، دوزخیانې شوي یو....

د غنې په ځاله کې بندې مچۍ ته ورته یو، یوه توره غنه زموږ وزرونه په تېرو پنجو وهي، له الوته غورځېږو، په جال کې بند په بند بندیږي ....

نصیره!!!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د اتمې غونډې راپور / لېمه ودان

**ځای:** انلاین

**نېټه:** د ۱۴۰۲ل/ کال د چنګاښ ۲۵مه، د جولای ۱۶مه

**د ګډون والو شمېر:** ۲۸

**ویانده:** نرګس سهاک

**راپور:** لېمه ودان

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر اتمه غونډه د تل په څېر د کابل په وخت پینځه نیمې بجې پیل شوه. درې برخې یې درلودې، **د غونډې په لومړۍ برخه** کې په دې موضوع بحث وشو، چې ایا غونډې ریکارډ کړو که نه او پایله هم دا شوه چې ځینې غونډې به ریکارډ کېږي.

د غونډې په دویمه برخه کې له اجنډا سره سم د اغلې سلما بدري په لاندې لنډه کیسه کره کتنه وشوه:

**خنډ**

وریځو د لمر مخه نیولې وه، د واورې سپین بڅرکي ورو ورو د ځمکې خواته کوزېدل. له وني ټیټ وچ کلک بازګل د بخارۍ سر پورته کړ. دود یې سترګې وتخنولې. په بېړه یې څو لرګي بخارۍ ته ورواچول. سر یې وربند کړ. انجینر رفیع وروکتل بیا یې تورې بنورې سترګې څو ناستو ځوانانو ته واړولې. ویې ویل:

ـ تر څو چې د خارجیانو مرستې شته، زما د دفتر دروازه ستاسو پر مخ خلاصه ده.

یوه ځوان په توره نېکټایي ګوتې تېرې کړې، لاسونه یې لپه کړل. انجینر ته یې د خیر دعاوې وکړې. دوو نورو تنو غبرګ لاسونه پر نوې خرېیل شوې ږېره تېر کړل آمین یې وویل. انجینر پنډ لاسونه د څوکۍ پر ژۍ تکیه کړل. ودرېد. دواړه لاسونه یې پر ټټر کېښودل. تندی یې ورین شو ویې ویل:

ـ زه مو خدمت کې یم. هر کله راشئ.

ځوانانو سپین پاکټونه وروا خیستل. له کوټې ووتل. له وني لوړ هډور سړی د کړکۍ خواته ورغی. په څو پوړیزو کورونو یې سترګې ولګېدې. ځای ځای لغړې وني یې هم تر نظر تېرې کړې. موټی لاس یې خولې ته ونیو. وټوخېد. ویې ویل:

ـ د کابل هوا ژمي کې بیخي وژونکې ده.

مخامخ پر څوکۍ ناست ځوان ته یې وکتل. هغه سترګې د کمپیوټر پر سکرین ګنډلې وې. ګوتې یې خوځېدې. سړي په پک سر لاس تېر کړ. دروازې ته یې وکتل. له وني ټیټ وچ کلک سړي جینګه خوله نیولې وه په ټیټ غږ یې وویل:

ـ انجینر صاحب! حاجي ملا راغلی.

سړي وروځې پورته کړې په ورخطایۍ یې وویل:

ـ هله! د ننه یې راوله.

شېبه پس په غوښو پټ، پنډ سړی چې د تور پټکي د پاسه یې ژېړ بخون پټو تر ځان تاو کړی و، کوټې ته ننوت. په تورو بوټو یې ځای ځای واوره نښتې وه. تر انجینر یې لاسونه تاو کړل. له روغبړ وروسته سړي په نوې سره کړې ږېره لاس تېر کړ ویې ویل:

ـ خدای رازق دی، بنده یې وسیله ده.

انجینر د هو په بڼه سر وخوځاوه. څو نخود یې خولې ته واچول. دروازې ته یې وکتل. غږ یې وکړ:

ـ بازګل کاکا! د حاجي صاحب ساتونکي درنه خپه نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ها خوا تت غږ راغی:

ـ په سترګو!

ږیرور سړی یو پلو کوږ شو. له جیبه یې سپین کاغذ راوویست. د انجینر مخې ته یې کېښود. پګړۍ یې په سر سمه کړه. ویې ویل:

دې لېست کې مې د ځینو بې وزلو کورنیو پتې لیکلي دي، په دې هیله چې مرسته ورسره وشي.

انجینر کاغذ ورپورته کړ ویې ویل:

ـ مرستې به په خپلو لاسونو وروویشم، ته هېڅ اندېښنه مه کوه.

سړی جګ شو. پټو یې پر اوږو سم کړ. د انجینر سره له کوټې ووتل. بهر واورې سپینه لمن غوړولې وه. ځو ځوانان له رنجر موټر راښکته شول. یو یې رامخته شو. ټوپک یې پر اوږه سم کړ. د حوېلۍ دروازه یې پرانیسته. انجینر وروکتل. د دروازې سره په ناستې ښځې یې سترګې ولګېدې چې له خپل ماشوم سره په لمده ځمکه ناسته ده. ماشوم له یخنۍ شین اوښتی و. غاښونه یې یو بل سره لګېدل. مخې ته یې څو اوسپنیز یوګوني پراته وو. انجینر څو قدمه ورمخته شو ویې ویل:

ـ تورۍ! دا ځای د ناستو دی؟ د موټر لاره دې بنده کړې.

ښځې ځای ځای سورې ټیکرې په پوزه تېر کړ. په سختۍ جیګه شوه. انجینر موټر ته ښې لاس د سلامۍ په دود پورته کړ. په سپینه واوره کې د موټر د ټایرونو ردې ښکارېدې.

د کره کتنې په برخه کې ګډونوالو نظرونه وړاندې کړل.

**میمونه کامران:** عالي کیسه ده، ښه نوم ورته ټاکل شوی ځکه واوره هم د بېوزلو د ژوند د ارامتیا خنډ ده. انجینر د کیسې اصلي کرکټر دی، ملا، ښځه او نور کسان فرعي کرکټرونه دي. د کیسې زمان او مکان ښه انځور شوي، که څو کاله وروسته یې هم څوک لولي، معلومه به وي چې د کوم وخت کیسه ده. مکالمې لنډې؛ خو ژور پیغام لري. د کیسې پیغام هم ښه دی؛ خو که لږ نور هم واضح شوی وی لا به ښه به و.

**نعیمه غني:** د کیسې پیغام ښه را اخیستل شوی او کیسه ښه پای ته رسېدلې یعني لیکوالي لوستونکي ته فرصت ورکړی چې د کیسې د پای په اړه خپله فکر وکړي. بله خبره دا چې د کیسې اصلي کرکټر ښځه ده، ځکه چې ټوله کیسه په دې راڅرخي؛ نو ښه به وه چې تصویر یې نور هم واضح وی، دا به د کیسې د لا ښکلا سبب شوی و.

د کیسې په پیل کې راوي کرکټر ته انجینر رفیع خطاب کوي، دلته د راوي بېطرفي تر سوال لاندې راځي. راوي چې یو بې طرفه شخص دی ولې هغه ته انجینر رفیع وایي؟ ایا دا سړی په همدې نوم مشهور دی که څه؟

ښه به وی چې دا نوم د کیسې د کوم بل کرکټر لخوا کارول شوی وی وروسته بیا راوی را اخیستی وی.

بله خبره د کرکټرونو د پېژندنې ده، یو ځای لولو(وچ کلک سړی) بل ځای بیا لیکل شوي (له وني لوړ وچ کلک سړی) دا ښه تصویرونه دي؛ خو تکراري شوي دي.

په کیسه کې لولو (لاسونه یې لپه کړل) دلته د دعا بڼه نه ده واضح شوې. که ملا دعا کوي، عربي به وي؛ خو که د ملګرو په مجلس کې څوک دعا کوي ښایي بیا داسې نه وي چې لاسونه سره لپه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کیسې موضوع لږ څه ګونګه پاتې، مرستې مستحقو خلکو ته نه رسېږي؛ خو واضح شوي نه دي چې مرستې ولې نه ورته رسېږي، په کیسه کې لږ نور کار ته هم اړتیا وه چې را برخه واضح شوې وی.

وروستی انځور ډېر ښکلی او سمبولیک دی، (په سپینه واوره کې د موټر د ټایرونو ردې ښکارېدې) دا په دې مانا چې دا همدا معمول دی او تل همداسې شوي دي.

**هیله هدایي:** کیسه د فکر جلبوونکې ده، هر کرکټر منظم راغلی او ترتیب یې خوندور دی. د کیسې اخره برخه یو څه نوره هم واضح کېدی شوی، چې لوستونکي ته لا جالبه وی.

**څلا نور:** ما ته دې کیسې احمدي صاحب رایاد کړ، دا چې سلما بدرۍ له احمدي صاحب سره وخت تېر کړی نو ښایي د ماحول اغیز وي. د نصیر احمد احمدي د کیسې ژبه انځوریزه وه د سلما بدري کیسه هم دا ځانګړنه لري.

بله خبره دا چې د کیسې د پیل انځور(لمر د وربځو مخه نیولې وه) تکراري شوی، د دې تر څنګ د کیسې ځینې انځورونه سمبولیکه مانا لري، لکه: له ونې لوړ هډور سړی د کړکۍ خواته ورغی. په څو پوړیزو کورونو یې سترګې ولګېدې. دا داسې مانا هم لرلی شي چې دا کس یوازې لوړ کسان ویني او هغه ښځه چې په واوره کې ناسته ده هغه نه ویني.

په کیسه کې یو بل پیغام دا و، چې خارجیان په موږ زړه سېزي خو زموږ د خپلو خلکو زړونه کلک دي.

**فاطمې اعظم** د د څلا نور د خبرو په تایید وویل: سلما بدرۍ د احمدي صاحب د سبک پلوي کړې، داسې چې لوستونکی د کیسې صحنې ته بیایي. بله خبره دا چې د کیسې انځورکښنه ډېره عالي ده، لکه: (ښځې ځای ځای سوری ټیکری په پوزه تېر کړ) دا یو ښه انځور دی. د کیسې مکالمې رواني دي. په کیسه کې ځینې برخې که په یو څه بدلون سره راغلې وی، ښه به وه، لکه: (دود یې سترګې وتخنولې) د دې پر ځای که راغلې وی (دود یې سترګې ترخې کړې) ښه به وه. بل ځای لویو: (له هاخوا) د دې پر ځای که( له هغې خوا) لیکل شوي وی ښه به و.

یوه بله خبره دا چې په کیسه کې ټکي ډېر کارول شوي، که په اوږدو جملو کې کامې وکاورل شي؛ ښې به وي.

**خولی لمن** د نورو ګډونوالو د نظرونو په دوام وویل: د دې کیسې په پیل کې زما توقع بل ډول وه. ما فکر وکړ چې په دې کیسه کې به ملا د بهرنیو مرستو مخالفت وکړي. دا د کیسې یوه ښېګڼه وه چې پای یې د لوستونکي د توقع خلاف وي.

**کامله عزیزي:** په پیل کې چې حاجي ملا راځي انجینر ورخطا شوی، خو وروسته بېرته بې‌پروا کېږي، ښایي دا ځینې لاملونه ولري، له سلما بدري به یې وپوښتو.

**شفیقه خپلواک:** په دې کیسه کې د افغانسان د تېرو شلو کلونو د بهرنیو مرستو، بې‌وزلو، ملا او ټولنې یو ریالیستیک تصویر وړاندې شوی.

لوی پیغام د ټولنې کاذب حالت و، یعنې ټول په کاذب حالت کې دي.

بله خبره دا چې د کیسې د پیل انځور اضافي ښکاري، که واوره وربړي نو لمر طبعا پټ دی.

د کرکټرونو د معرفي لپاره د هغوی د ځانګړنو یادول ښه لاره ده؛ خو دلته یوه پوښتنه دا ده چې ایا د دې کیسې کرکټرونه ډېر نه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هیله پسرلی:** د کیسې اصلي پیغام حق حقدار ته نه رسېدل دی، چې لاملونه یې ښايي ډېر وي، په ټوله کې کیسه د دې موضوع اړینوالي ته اشاره ده. بله خبره دا چې د کیسې انځورونه کامیاب دي، په کیسه کې هر څه ویل شوي نه دي؛ بلکې ښودل شوي.

په ډېرو لنډو کیسو کې د کیسې راتلول والی اړین دی، دا کیسه هم ډېره لنډه ده، تکراري پېښنه نه لري او اضافي کلمات پکې کم دي.

د نصیر احمد احمدي د سبک اغیز په دې کیسه کې تر سترګو کېږي لامل یې دا دی چې احمدي صاحب ډېر لوستل شوی. د احمدي صاحب د کیسو یوه ځانګړنه دا ده چې کرکټر له حرکت سره معرفي کوي، دا ځانګړنه د سلما جاني کیسې هم لرله.

د کیسې کرکټرونه ډېر دي، دا د دې لامل کېږي چې درک یې لوستونکي ته ستونزمن شي. یوه حل لاره دا ده چې کرکټرونه کم کړي بله لار دا چې بل پراګراف ته لاړه شي او د کرکټر نوم یاد کړي.

بله خبره دا چې په دې کیسه کې له پیله تر پایه د فقر او ثروت مقایسه لیدل کېږي. د بازګل په هکله نعیمي غني یاده کړه چې یوه ځانګړنه یې څو ځلې یاده شوې، وچ کلک انځور شوی؛ ایا دا هم فقر او ثروت ته اشاره ده؟ که په نابرابري تاکید دی ولې د تکراري انځور په ځای بل انځور نه دی لیکل شوی؟

**لیمې ودان** د هیلې پسرلی د خبرو په دوام وویل:

په کیسه کې باید ان هره کلیمه د کیسې له اصلي موضوع سره مرسته وکړي، دا کار د دې لامل کېږي چې پلاټ لا پیاوړی شي. خنډ کیسه هم همدا ځانګړنه لري. لومړی که د کیسې نامه ته ځیر شو وینو چې له اصلي موضوع سره ډېر ښه اړخ لګوي، په دې کیسه کې اصلي کرکټر( ښځه) دفتر والو ته خنډ او مزاحمه ښکاري. د کیسې لومړی انځور هم د کیسې اصلي موضوع ته یوه اشاره ده. لکه څنګه چې وربځو د لمر مخه نیولې، په کیسه کې هم ځیني لاملونه د دې سبب شوي چې د دفتر خلک له بېوزلې ښځې سره مرسته ونه کړي.

د کرهکتنې په پای کې سلما بدري له ټولو مننه وکړه او پوښتنو ته یې ځوابونه وویل:

**سلما بدري:** د کیسې په پیل کې د وربځو او لمر انځور مې د کیسې اصلي موضوع ته د اشارې لپاره یاد کړی او یو بل ځای لغړې ونې هم ښځې ته اشاره ده، چې دواړه په سختو کې مقاومت کوي.

په کیسه کې مې کرکټرونه ځکه ډېر کړي، چې د دفتر ګڼهګوڼه انځور کړم.

کاملې جاني وویل چې انجینیر رفیع په پیل کې ورخطا شوی، دا ځکه چې په پیل کې دی له دې ویره لري چې حاجي ملا له دې خبر شي چې حق حقدار ته نه رسېږي؛ خو وروسته پوهېږي چې حاجي ملا هم د مرستې د اخیستلو لپاره راغلی.

**د غونډې دریېمه** برخه نرګس سهاک په نظم پیل کړه، ورپسې ځلا نور یوه انتخابي څلوریزه ګډون والو ته واوروله. شفیقې خپلواک خپل نوی نظم او امنې فنا خپل نوی غزل وړاندې کړ. تقوا شکوري، نعیمي غني، منزې غفورزی او ځولی لمن هم خپل شعرونه ګډونوالو واورول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



Afghan Women Literary Online Association
د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر

# د نصیر احمد احمدي په یاد



"روانښاد احمدي صیب په یوه راډیو کې میلمه وه. اوس یې رانه نوم هیر دی چې کومه خپرونه وه ,خبریال ورنه پوښتنه وکړه, وی ایا دا ناول لیکل مشکل نه دي؟
احمدي صیب ورته په ځواب کې وویل:
نه زما لپاره هېڅ سخته نه ده او نه باید سخته واوسي ځکه زموږ وطن ټول سوژه، سوژه دی. یوازې لیکل غواړي.
واقعت هم یوه مکمله خبره او مشوره یې ناول لیکونکو او کیسه لیکونکو ته پرېښوده او دا خبره مې ډېره خوښه شوه او تل مې د کیسه لیکلو پر وخت را یادیږي."

فتانه ژوند

Afghan Women Literary Online Association
Afghanwomen_literary
@AfghanWLiterary


Afghan Women Literary Online Association
د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر
د نصیر احمد احمدي په یاد
شپه وه، د باران د څاڅکو غږ اورېدل کېده. خوب مې سترګې درنې کړې وې. د
دروازې په کړپ مې سترګې رڼې کړې، په وره کې مې مشر ورو ولاړ و، په لاس
مې یې کتاب ښکارېده، ویې ویل:
- ویده وې؟
- نه خو ویده کېدم.
کتاب یې راته ونیوه، ویې ویل:
- دا ډېر ښه کتاب دی ما ولوست، ته یې هم بیا ولوله.
کتاب مې ترې واخیست، له ځان سره مې وویل:
- اوس خو ناوخته ده، سبا به یې ولولم.
د کتاب پوښتی مې تر نظر تېره کړه، د نصیر احمد احمدي ټال ناول و، د کتاب
نوم راته جالب و راخلاص مې کړ. لومړی کرښې مې یې ولوستې، وروسې یوه
پانه، دوې پانې- د کتاب تلوسې دې ته نه پرېښودم چې بند یې کړم.
په همغه شپه مې ټال ناول تر پایه ولوست.
ځینې کتابونه داسې ځانګړنه لري، چې یوازې خپل ځان نه درباندې لولي؛ بلکې
په زړه کې دې نورو کتابونو ته هم مینه پیدا کوي. ټال ناول هم دا ځانګړنه
درلوده، وروسته له هغې مې د احمدي صاحب ټول ناولونه پرلپسې ولوستل
او له مطالعې سره مې مینه دوه برابره شوه.
لیمه ودان
Afghan Women Literary Online Association
Afghanwomen_literary
@AfghanWLiterary

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان ښځو آنلاین ادبي بهیر د نهمې غونډې راپور / منزه غفورزۍ

**ځای:** آنلاین

**نېټه:** د ۱۴۰۲ لمریز کال د زمري لومړۍ ، د جولای 23مه

**د ګډونوالو شمېر:** ۲۲

**ویانده:** ځلا نور

**راپور:** منزه غفورزۍ

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر نهمه غونډه د معمول مطابق د کابل په وخت پنځه نیمې بجې پیل شوه. درې برخې یې درلودې، د غونډې لومړۍ برخه پر ځان د باور لوړولو، دویمه برخه د فولکلور ارزښت او دا چې څنګه یې راټول کړو؟ او دریمه برخه مشاعرې ته ځانګړې شوې وه.

د غونډې په لومړۍ برخه کې بهیروالو پر ځان د باور اړوند خپل نظریات له ګډونوالو سره شریک کړل. دا چې د لومړۍ برخې موضوع ته د ګلالۍ مومند په غوښتنه اجنډا کې ځای ورکړل شوی و، بحث ګلالۍ مومند پیل کړ.

د بحث په لومړي سر کې **ګلالۍ مومند** پر ځان د باور لرلو په ارزښت خبرې وکړې. هغې وویل چې پر ځان باور پیدا کول او په تدریجي ډول ورته وده ورکول شوني چارې دي. مهمه دا ده چې د دې پروسې په جریان کې پر ځان په دوامداره توګه کار وکړو، حوصله ونه بایلو او هر وار ځان ارزیابي کړو چې کوم کارونه مو بهتره کړل، او څنګه دا نور هم بهتره کولی شو.

په دې برخه کې د ځان پېژندل، له نورو مشورې غوښتل او مطالعه کول هم بې ګټې نه دي. د ځان پېژندلو یوه ګټه دا ده چې د نورو له قضاوتونو دې بې پروا کوي، ډاډ درکوي چې پخپلو وړتیاوو باور ولرې. همدارنګه هغې زیاته کړه چې خپل ظاهري وضعیت؛ نظافت او لباس ته پام کول، د بریالیو تجربو نوټ جوړول، تمرین کول، خپل استعدادونه پېژندل هم پر ځان د باور کچه لوړوي.

**شفیقې خپلواک** د ځان باور د کچې د لوړوالي له پاره مطالعه او له معلوماتي خلا څخه د ځان ایستل اړین وبلل. هغې وویل انسان باید له ځانه ډېره توقع ونکړي، هېڅوک فوق العاده ونه ګڼي، او دا دې ومني چې دی هم تېروتنه کولای شي، د نورو د غبرګونونو اندېښنه دې هم ونکړي، او ویې ویل چې د انسانانو فردي توپیرونه هم یو عامل کېدلای شي.

**فاطمي اعظم** پر ځان د باور لوړولو له پاره د قوت او د کمزورۍ ټکي لیکل اغېزناک وبلل. هغې وویل، انسان که وغواړي هر څه ترلاسه کولی شي، پر ځان باور هم کسب کولی او وده ورکولی شي. که چېرې د منفي افکارو ځای مثبتو افکارو ته ورکړل شي، ځان سره مینه او ځان ومنل شي نو دا به ډېره مرسته وکړي چې پر ځان د باور کچه مو لوړه کړي.

**ځلا نور** او **ښکلا نور** په دې ټینګار وکړ چې د ماشوم پر ځان د باور نه لرلو مهم لامل مور او پلار دي. د دوی په وینا، اکثره ماشومان د مور او پلار او خپلوانو لخوا په رواني لحاظ ځپل کېږي ان د خبرو کولو اجازه نه ورکول کېږي.

**هیلې پسرلی** د اکثرو افغانانو پر ځان د بې باورۍ او جرات نه لرلو مهم عامل د ماشومتوب غلطه تربیه او چاپېریال (کور، کوڅه، ښوونځی) وباله. د دوی په باور؛ که له ځانه بې ځایه توقع ونکړو، موخې منطقي وټاکو، ځان له نورو سره مقایسه نکړو، او خپلې بریاوې او کمالونه بیا بیا رایاد کړو، نو پر ځان باور مو ډېرېږي.

دا یې هم وویل چې، مخکې تر خوبه یا هر بل وخت د خپلو بریاوو هغه که هر څومره وړې هم وي رایادول د ځان په هکله زموږ فکر مثبتوي، مثبت فکر بیا مثبته انرژي رامنځ ته کوي او مثبته انرژي مو لا ډېر کار ته هڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د **امنې فنا** نظر دا و چې ځینې خلک ممکن پر ځان باور و نه لري او علت یې حتمی نه ده چې د مور او پلار غفلت وي. د ځینو طبیعت ممکن همداسې وي چې په لویه اجتماع کې ډېر ارامه نه وي.

د بحث په پای کې **ملاله کلیوالې** ځان له نورو سره مقایسه کول، ځانته ارزښت نه ورکول، هڅه نه کول، او **سلما بدرې** د کافي معلوماتو نه لرل پر ځان د باور نه لرلو لاملونه وبلل، او د حل لارې یې وړاندې کړې.

دا افغان ښځو انلاین ادبي بهیر غواړي چې په نږدې راتلونکي کې د فولکلور د راټولولو او پرې د لیکلو لړۍ پیل کړي. د دې له پاره چې دغه کار په مسلکي بڼه ترسره شي د غونډې دویمه برخه یادې موضوع ته ځانګړې شوې وه.

دغه برخه نعیمې غني په هر اړخیز بحث پیل کړه.

**نعیمه غني:** فلکلور دوه برخې لري عواطف او باورونه. باورونه د وسایلو له بدلون سره بدلېږي، لکه د مریض سره د ډاکټر برخورد او ځینو رسمونه او رواجونه چې د وخت له تېرېدو سره تغییر کړی لکه : زموږ کلي کې ناوې له بل کړي څراغ سره د پلار له کوره وتله او یا به زوم بوټونه ور په پښو کول، او دوی هر یو د دې لپاره یو باور او کیسه درلوده.

په زیارتونو کې نغرې تودول، ډوډۍ پخول او په خلکو وېشل چې په نوروز کې ډېر رواج و، سره تبخۍ په روانو اوبو کې ایښودل په دې باور چې انګار یخو اوبو ته ورسېږي نو وچکالي ختمېږي. د برات په شپه د نجونو ناوې کول یا فال نیول چې وروسته دا د ماشومانو په ساعتیرۍ بدله شوه او اوس یې ډېر خلک نه لمانځي.

د اختر په ټال کې زانګل د ګناهونو د تویېدو په نیت، د خوښیو په مجلسونو کې د ټوکمار راوستل، د ښځو لخوا دم کول، نظر وچول، چې اوس دا اکثره دودونه د مذهبي افراطیت له امله ناروا ګڼل کېږي او یا هم خلک یې دومره لمانځلو ته لېواله نه دي.

موږ د یو باسواده قشر په توګه مسوولیت لرو چې دا ټول دودونه راټول کړو، او ویې لیکو. ځکه دا پر موږ د راتلونکي نسل حق دی چې دوی ته د لیکلي تاریخ په بڼه یو څه پرېږدو. اوس زماني ته هم پاملرنه په کار ده ځکه اوس هم په سیمو او کلیو کې ډېر فلکلور شته چې باید راټول او خوندي شي. له دې سره سره موږ په دې برخه کې هم باید پوره دقت وکړو چې موږ د عادي وګړو په توګه نشو کولی چې په فلکلور کې په خپل سر څېړنې وکړو ځکه هر یو یې جلا جلا برخو لکه ژبپوهنه، لرغونپوهنه او ټولنپوهنه پورې اړه لري خو موږ باید د خپل کلتور د خوندي کولو په موخه هغه راټول او خوندي کړو. ددې کار ګټه به دا وي چې راتلونکی نسل به مو د هویت له بحران سره نه مخ کېږي. همدا راز کله مو که په تاریخ څېړنې کولې خام مواد به په لاس کې ولرو.

**فاطمه اعظم:**
فولکلور د انسان مادي او معنوي تجربې دي چې نسلونو ته په میراث پاتې کېږي چې د وخت په تېرېدو سره یې بڼه بدلون مومي. د فولکلور په مرسته د خپلو پلرونو او نیکونو څخه راپاتې ارزښتونو سره آشنا کېږو، له خپل حال سره یې پرتله او ترې ګټه اخېستلای شو. د فولکلور خوندي کول ډېر اړین دي او ددې موخې له پاره ساحوي څېړنې ته اړتیا ده تر څو مسلکي کسان ساحې ته لاړ شي او دقیق معلومات راټول کړي.

**آمنه عزیزي:**
فولکلور پوله نه لري. د هرې سیمې فولکلور بېل دی. پراخ دی. پخوا به په کلیو کې فولکلور ته ډېر ارزښت ورکول کېده مګر اوس په کلیو کې هم دغه برخه کمرنګه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*یوه بېلګه یې دا ده:*

*په کلاګې کې تماشه وه*

*دمه ګډېدله*

*زموږ تولو په سلا وه*

*سمه شرنګېدله*

**کامله عزیزي:**
فولکلور چې خوندي شي، ادبیات ورسره غني کېږي. او هم به د پښتنو د ژوند، فکر په اړه تاریخي معلومات راپیدا شي. فولکلوریک توکي ډېر طبیعي جوړ شوي نو په لیکوالي کې هم راسره مرسته کولی شي.

د فولکلور د راټولولو له پاره غوره لاره داده چې هر څوک د خپلې سیمې فولکلور راټول کړي، ځکه له جغرافیې سره نوعیت بدلوي. او دې ته باید پام وکړو چې خیانت پکې ونشي، یعني د نکل پیغام باید په سمه توګه انتقال شي په دې شرط چې پیغام یې ګټور وي.

**فرزانه زیار:**
فولکلور ولسي پوهه ده، دوه برخې لري مادي برخه او معنوي برخه. مادي برخه کورونه او ساختمانونه دي او معنوي برخه یې ادبیات دي. د فولکلور د راټولولو ګټه دا ده چې تاریخ خوندي کېږي راتلونکي نسل ته یو څه پاتې کېږي، او موږ سره مرسته کوي چې د خپلو پلرونو او نیکونو د وخت له هغو باورونو خبر شو کوم چې اوس وخت کې اعتبار نه لري.

ولې باید فلکور ولیکل شي؟

د فلکور لومړۍ ګټه زموږ د رسم و رواجونو خوندیتوب دی. بل داچې راتلونکي ته یو څه پرېږدو چې موږ څنګه او په کوم ډول ژوند کاوه.

په مادي لحاظ هم د فلکور خپرول، ستړې ګټې لري، د بېلګې په ډول: که زموږ افغاني کالي نړیوال شهرت ولري، او خلک ترې ډېره استفاده وکړي نو دا به زموږ پۀ اقتصاد په تېره بیا د ښځو په اقتصاد باندې ژوره اغیزه ولري. همداسې لوښي جوړل او نور صنعتونه درواخله!

که فولکلور راټول کړو ځینو ډېرو نوو خبرو ته به مو پام شي. تېره ورځ مې پلار ویل:ګورئ دې میاشت کې احتیاط کوئ دا ډېره ګرمه او سخته میاشت ده. پخوا وختونه کې به یې دا میاشت د ځېرې میاشت بلله، کله به چې د ځېرې میاشت تېره شوه نو د کور مشرانو به موږ تولو ماشومانو ته شنې لښتې پۀ لاس کې راکړې او موږ به هرځای او د کور هرشی پۀ هغو شنو لښتو وهل او له وهلو سره به مو ویل: ځېرې توړې ووځه، ځېرې توړې ووځه! دا دود زما لپاره ډېر په زړه پورې وه، چې اوس بیخي له رواجه لویدلی دی. موږ ټول په خپلو کورنیو کې داسې ډېر ولسي باورونه لرو چې په خوندي کولو ارزي. نو زموږ ټول مسولیت لرو چې په راټولولو کې یې مرسته وکړو، له خپلو مشرانو پوښتنې وکړو، او د هغوی نکل نه او روایتونه ولیکو.

**هیله پسرلی:**
فولکلور ټولو ته منل شوی او ډېر دقیق تعریف نلري. هر هېواد ممکن خپل تاریخ او کلتور ته په پام سره فولکلور له نور لږ بېل تعریف کړي. په ولسي پوهه کې بېلابېل شیان شامل دي لکه: لقبونه، ولسي طب، او نور ..

زما وړاندیز دا دی چې هغه دوستان چې د فولکلور له راټولو سره ډېره علاقه لري او غواړي په دې برخه کې کار وکړي یو ګډ ګروپ دې جوړ کړي، ترڅو یو له بل سره خبرې او مشورې وکړئ. د دې لپاره چې د فولکلور پر اهمیت مو لا ډېر تاکید کړی وي ښایي ښه به وي چې یو انلاین سیمینار هم پرې جوړ کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېره مهمه ده چې ښځې فولکلور راټول کړي، ځکه زموږ د فولکلور په تولید کې یو اصلي نقش د افغانو ښځو دی. که موږ ښځې فلکلور راټول کړو ښځینه لیدلوری به مو دقیق، ژور او پراخ خوندي کړی وي.

**د غونډې دریمه برخه چې مشاعره وه،** ځلا نور په ښکلي غزل پیل کړه، وروپسې کاملې عزیزي خپل نظم واوراوه، ګلالۍ مومند د نعیمي غني بیتونه دېکلمه کړل، ملاله کلیوالې، آمنې فنا، فتانې ژوند او خوږې پخپلو غزلونو او نظمونو د غونډې فضا شاعرانه او د ګډونوالو ادبي تنده ور ماته کړه.

## درې جلا دنیاوې او یو لیکوال / خدیجه نسا

ورو یې وویل:
یوه خبره درته وکم؟
د انجلۍ سلګو زور واخیست: هو
سرې په غریو غږ کې وویل:
هیڅ
تورپیکی هماغسې ورته کتل....

زه پښتو کتابونه ډېر نه لولم، ځکه چې کیسې یې تقریباً له یو شي راڅرخېږي ډېر څه نوي نه وي پکې او انسان پوهېږي چې څنګه پای مومي. ډېرې کیسې د کلیوالي ژوند وي یا هم د ښځو اړوند مشکلات وي، چې هغوي پکې تل مظلومې او بې وسې وي. زه ځان داسې کیسو کې نه احساسوم او نه تړاو ورسره پیدا کولی شم ځکه یې له لوستلو خوند نه اخلم.

خو د اروابناد نصیر احمد احمدي په «یوه خبره درته وکم؟» کتاب کې د ښځې انځور جالب بیان شوی. دا داسې یوه ښځه ده چې د ځان او کورنۍ لپاره دربېږي. له ډېرو سختیو او ناخوالو سره هم د ژوند او ارمتیا په لور لار وهي، لا هم مهربانه او هیله منده ان دا چې مېینه شي. د احمدي صیب دا کتاب لومړی پښتو ناول دی چې خوند یې راکړ او دومره راته جالب و چې پرته له کومې وقفې مې ولوست. پیه ناول کې هرڅه په طبیعي ډول پیښېدل، خو هره برخه یې بیا هم له هیجان او ویرې ډکه وه. د دوه معصومو ځوانانو کیسه چې ناڅاپه سره مخ شي، د اوږدې لارې ملګري شي، په یوبل مېین شي او په دې ډول یوبل وژغوري.

ماته ښه ناول هغه دی چې لیکوال یا لیکواله یې په کیسه برلاسیتوب ولري او عین حال کې لوستکونکي ته د فکر او تصور کولو ازادي ورکړي. په پښتو کې ډېر کتابونه تشریحي ډول لیکل شوي، مثلاً لیکوال چې ناول لیکي داسې وي چې هرڅه له یوې کړکۍ ګوري او بیا یې کتاب کې بیانوي. خو د احمدي صیب لیکل داستاني دي، هرڅه د یوې کړکۍ له زاویې نه ګوري بلکې داسې یې لیکي ګونډې د کوټې دننه دی، لیکوال هرڅه لمس کوي، حس کوي او بیا یې لیکي. پخپلو کیسو پوره واک لري او د لوستونکو تخیل ته ډېر څه پرېږدي. داسې ښکاري چې احمدي صیب یو طبیعي راوي و.

ما ته د ده بل ناول جوجو هم ډېر خوند راکړی و. جوجو یو عجیب فضایي موجود وي چې له بلې سیارې ځمکې ته د تحقیق لپاره راغلی وي. دی د خپل تحقیق پوره کولو لپاره د تواب په نوم له یوه ماشوم نه مرسته وغواړي، وخت ورسره تیر کړي، او د افغانانو/پښتنو ټول ورځنې کړه وړه ورته د پوښتنې وړ وي. دې کتاب کې د ټولنې منفي اړخونه داسې راښودلي چې څوک سترګې نشي پر پټولی. څه چې ماته دې کتاب کې ډېر جالب و هغه ډیالوګ یا محاوره وه. تقریبا اتیا فیصده کتاب محاوره دی، خو خبرې یې اضافي نه وي. د افغان ښځو د انلاین ادبي بهیر په اوونیزو غونډو کې مې د محاورې په اړه دا زده کړل چې باید کیسه وخته یوسي، د کرکټر په اړه نوې خبره راته وکړي، او په یوه جمله کې ډېر څه رامعرفي کړي. زما په فکر د احمدي صاحب دا ناول د ښو محاورو بېلګه دی. ده په دې کیسه کې ساینس فیکشن او ریښتیا داسې سره ګډ کړي چې لوستونکی ورسره اخلي. ده ډېر ژور پیغامونه د کرکټرونو تر منځ په ډیالوګ وړاندې کړي. احمدي صیب خیال او ریښتیا داسې سره ګډ کړی او دومره حقیقتونه یې بیان کړي چې انسان فکر کوي دا خیالي موجود "جوجو"هم ریښتونی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکه کتاب د یو مهم تاریخي شخصیت میرویس خان کیسه کوي، چې د صفوي حکومت پر ضد یې بغاوت کړی او لوی کندهار یې د ګرګین له ظلمونو خلاص کړی. دې کتاب کې ډېرې تاریخي پیښې د کیسې په ډول او د احمدی صیب خپل تخیل او خلاقیت په ګډیدو سره ډېرې منطقي او ښکلي بیان شوې دي. دا کیسه په ۱۱۲۰ شاوخوا ه ق کال کې پیښه شوې او ټول جزییات یې مطابق د زمان بیان کړي، د هغه وخت ټولنیز شرایط، د جنګ صحنې او وسایل، مکان او ډیالګونه ډېر په تفصیر او منطق روایت کړي.

د احمدي صاحب دا درې ناولونه په جلا، جلا « Themes»یا هم موضوعاتو او حتا ژانرونو دي. یو یې د اوسني عصر د ځوانانو کیسه ده، بل یې ساینس فیکشن دی چې موږ ته زموږ د ټولنې واقعیتونه پرې را ښیي، او دریم یې هم تاریخي ناول دی. خو دا درې واړه سبکونه یا موضوعات ده دومره ښه لیکلي چې یوه کې هم د تصنع احساس نکوې. هر کتاب دې خپلې دنیا بیايي، خو که احمدي صاحب له هرې کړکۍ کتلي موږ ټولو ته یې زموږ واقعتونه راښودلي دي. په دومره هنري او نرمه ژبه چې خپله دې قانع کوي چې وې مني او انکار نشي تر کولی.

د دوی روح دې ښاد وي.

**یادونه: دا لیکنه هغې غونډې ته لیکل شوی وه چې د افغان ښځو ان لاین ادبي بهیر د احمدي صاحب په یاد جوړه کړې وه. یاده غونډه د ادبي بهیر د خواله رسنیو له پاڼو په ویډیویي بڼه خپره شوې ده.**

## فلکلور څه دی او څنګه یې راټول کړو / نعیمه غني

*یادونه: د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر د فلکلور راټولولو او پر فلکلور د لیکلو لړۍ پیل کړې ده. دلته د دې لړۍ لومړۍ لیکنه لوستلی شئ.*

**فلکلور څه دی او څنګه یې راټول کړو:**

فلکلور د خلکو په مینځ کې موجود شفاهي علم ته وایي.

په فلکلور کې ټول هغه څه (لکه د ورځینو چارو څرنګوالی، ټکنالوژي، خبرې، تفریح او ساعتري، د ماشومانو د بوختیاوو لارې چارې، خبرې اترې، ادبیات، سندرې، متلونه، خواږه، لمانځنې، غندنې، خرافات...) چې یوه ټولنه یې د کړو وړو په اساس له نورو ټولنو څخه متمایزه کړې ده، شامل دي.

د ۱۹ پیړۍ په لومړیو کې روماني ژبپوه او ادیب په لومړي ځل کلیو ته ځینې پوښتنپاڼې ولېږلې او له کلیوالو خلکو څخه یې ځینې پوښتنې مطرح کړې چې بیا وروسته د فلکلور په برخه کې د تحقیقاتو نوم ورکړل شو او دې عبارت په علومو کې ځانته ځای وموند. فلکلور د تاریخ په بیلابیلو پړاونو کې ځانته ځانګړې معنا غوره کړې لکه په لومړي سر کې چې ورته د عوامو علم یا د عامو خلکو پوه ویل کېده، وروسته بیا خلک پیژندنه ورته ویل شوي او بیا ځینې برخې ترې د ژبپوهنې یا ارواح پوهنې یا هم په ټولو کې د ټولنپوهنې په نوم بیلې شوې. خو دا هغه برخې دي چې د فلکلور په پیژندنه او تحقیقاتو کې وخت پر وخت مراجعه ورته کېږي.

همدارنګه فلکلور په دوو برخو ویشل کیدای شي چې یوه برخه یې عملي ژوند او یا هم د ژوند لارې چارې دي لکه عقاید، رسوم، عنعنات، خرافات او انګیرنې او داسې نور...

دوهمه برخه بیا د فلکلور ارماني برخه ده چې په افکارو او احساساتو پورې اړه لري د بیلګې په ډول کیسې، اشعار، اساطیر...

د فلکلور لومړۍ برخه د خلکو په مینځ کې له خلکو سره یو ځای وده کوي او نوې الګوې د زړو سره په تعامل رامنځته کېږي. د بیلګې په ډول موږ که نوې اسطورې جوړوو نو هغه اسطورې چې موږ په ماشومتوب کې ورسره بلد یو زموږ په فکر او نویو اسطورو جوړولو باندې اغیز لري. خلک به بیا هم په هماغه فلکلوریک قالب کې شعر تولیدي خو نوي مفاهیم به پکې رانغاړي، همدارنګه ولسي کیسې هم په پوره توګه نه مري او لکه څرنګه چې له یو نسل څخه بل نسل په یو څه توپیر سره تر اوسه رارسېدلې نو دا امکان ډېر دی چې له دې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم مخفوظې پاتې شي او راتلونکو نسلونو ته ورسول شي. که څه هم د دې برخې راټولولو او خوندي کولو ته څه ناڅه پاملرنه او کار شوی. موږ د ولسي نکلونو کتابونه، د لنډیو او ولسي سندرو د راټولو هڅې وخت په وخت کړې او لا هم داسې کسان شته چې په دې برخه کې کار کوي او لګیا دي. مګر د فلکلور لومړۍ ویشل شوې برخه چې زموږ د عملي ژوند سره سرو کار لري او زموږ د ژوند لارې چارې رانغاړي، هغه برخه د ورکېدو له جدي ګواښ سره مخ ده او پاملرنې ته اړتیا لري.

**دلته یې څو بیلګې لولو:**

۱ـ د واده د مراسمو ځینې دستورونه: زموږ د سیمې په یوه کلي کې به پخوا ناوې د توري، ټوپک یا هم بل دفاعیه یا جنګي وسیلې په تکیه راولاړېدې همدارنګه د پلار له کور څخه د وتو په وخت کې باید زوم بوټان وراپېښو کړي وی او یا هم د تګ پر وخت به یې لګېدلی څراغ له ځان سره د پلار له کوره ووړ خو دا بیا په یو بل کلي کې بل ډول یا هم په لږ توپیر سره دود وو. دې دودونو هره یوه ځانته انګېرنه یا فلسفه لرله چې خلکو ورباندې ټینګ باور درلود ځکه خو دا دودونه هم د ودونو د مراسمو حتمی برخه وو.

۲ـ د زیارت تودول یو بل داسې فلکلوریک دود دی چې په اکثرو افغان کلیوالو سیمو کې په بیلابیلو ډولونو سره ترڅو کالو مخکې هم لمانځل کېده خو اوس د ورکېدو له خطر سره مخ دی. زموږ په سیمه کې هم د نوی کال په ورځ د زیارت تودول یوه حتمي خبره وه. نجونو او هلکانو به له ټولو کلي څخه اوړه او غوړي راټول کړل او بیا به یې د زیارت په مینځ کې نغری جوړ کړ او هلته به یې غوړې ډوډۍ پخولې چې هغې ډوډۍ ته به یې (تبرک) ویل. پاخه شي تبرک به بیا پر خلکو ویشل کېدل او خلکو به هم د ثواب په نیت هغه خوړل. همدارنګه تبخي چې د زیارت د تودولو پر وخت په اور توده شوي وو، هلکانو په ډېره بیړه، مخکې له دې چې ساړه شي د کلي کومې چینې یا ویالې ته وړل او هلته به یې په یخو اوبو کې اېښودل. عقیده دا وه چې په دې کار سره د وچکالۍ مخه نیول کېږي او نوی کال به د زراعت لپاره یو اباد او باراني کال وي.

۳ـ(کوچه) زموږ په کلیو کې به پخوا د نوي کال په ورځ بیلابیلي غلې او دانې لکه نخود، لوبیا، غنم، نسک، باقلي دا یو ځای سره پخېدل چې (کوچه) به یې ورته ویله او باور دا و چې د نوي کال په ورځ د دې پخلی تیارول به د کال کرنیز حاصلات(روزي) ډېر کړي.

۴ـ د برات د شپې لمانځل: دا دود بیا د برات د میاشتې په پینځلسمه شپه یوې پیغلې څخه ناوې جوړول وو. بیا به په یوه منګي کې چې د چینې له اوبو به ډک و، د کلي د خلکو له خوا ځینې نښې اچول کېدې، د مجلس ښځو به فالونه ویل، د ناوې له خوا به په پټ مخ له منګي څخه نښې را ایستل کېدې او خلکو ته به فال لیدل کېده. په دې مجلس کې به د کلي ډېرو مخورو کسانو هم برخه اخیسته او د ځان لپاره به یې فالونه کتل. په وروستیو کې دا کار د ماشومانو په ساعتېرۍ بدل شو او ورو ورو له منځه ولاړ. خلک په دې باور وو چې په دې شپه د د یوه راتلونکي کال لپاره د انسانانو د روزۍ، نکاح، مرګ او ژوند په څېر مهم استحقاقونه لیکل کېږي نو دا فال یې د د راتلونکي کال لپاره یو ډاډ او وړاندوینه بلله.

۵ـ ممکري یا په عامه اصطلاح(پیښي کول): دا دومره مروج دود و چې د ښادی یو محفل به پرته له دې نمایش څخه ناممکن و خو اوس دا رواج ډېر کمرنګه دی.

۶ـ د نکل مجلسونه: د شپې لخوا د نکلچیانو مجلس په اکثرو کلیو کې ډېر مروج و او نکلچي کس (چې عموما به مشران سړي یا هم ښځې وې) معلوم و. خلکو به له لېرې کلیو څخه دا کسان د څو شپو لپاره خپل کلي ته په میلمستیا بیول تر څو نکلونه ورته وکړي او د ژمي د اوږدو شپو له ډېرو په زړه پورې ساعتېریو څخه ګڼل کېده.

۷ـ د ټوکیانو مجلسونه: دا هم یو پخوانی دود وو چې اوس هم څه ناڅه پالل کېږي خو په دې توپیر سره چې اوس یې خلک د یو او بل د توهین، تحقیر او ملنډو وهلو په موخه کاروي. پخوا دا د معلومو خلکو کار و چې په سیمه کې به په ټوکیانو مشهور وو. دوی د خلکو په منځ کې ښه محبوبیت درلود چې د ټولنې په نبض پوه او د خلکو له ارزښتونو خبر کسان به وو.

۸ـ هغه بوټي چې د بیلابیلو نارغیو لپاره به درمل بلل کېدل د بیلګې په ډول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـــچهار بیخ: د څلورو بوټیو ریښې چې په یخو اوبو کې به لمدېدې او تر سهاره به ستورو ته ایښودل کېدې او سهار به ناروغ کس په نهره څښلې. دا درمل د هغو کسانو لپاره چې د ګرمی په موسم کې به یې تبه او کسالت درلود علاج بلل کیدل.

ـ نظرمات: هغه بوټي چې د نظر د وچېدو یا ماتېدو لپاره به کارېدل لکه مانو(بدراو)، سپیلنی...

ــد غره ژوالي یا هم د خرمړیو ژاولې چې د نس د خوږو درمل بلل کېدې.

۹-انکی یا انکی: څو کاله وړاندې مې له بي بي سي راډیو څخه د یوه لیکوال مرکه اورېده چې د کوټې د شاوخوا سیمو د یوه ډول شاعری(انکی) په اړه یې کتاب لیکلی و. لیکوال ویل چې په هغه سیمه کې د واده په مراسمو کې کله چې ناوې د پلار له کوره رخصتېږي نو(انکی) وایي او په دې شاعرۍ (انکیو) کې د خپل ژوند ناخوالو ته اشاره کوي. د انکی یوه بیلګه چې د ولور د دود په خلاف د ناوې ګیله ده:

*«زما په غم کې نه دی*

*د خپل نس په ډکېده دی*

*بابک نه دی لیوه دی»*

ماته جالبه خبره دا وه چې کله زه وړه وم نو په یاد مې دي چې زموږ په کلي کې څو تنه مشرو ښځو یوې پیغلې ته چې څو ورځې وروسته یې واده و، دا ورښودل چې د پلار له کوره د رخصتیدو پر وخت څه ډول وژاړي او دې ژړا ته یې(انکی) ویل. انکی نوم لا هم په کلیو کې د ناوې ژړا ته وایي خو دا ژړا له نورو ژړاوو څخه بیله ده. د انکي پر وخت ناوې باید په یوه خاص نظم او اهنګ سره ډېره په سوز او میانه غږ وژاړي. دا دود اوس له منځه تللی او د انکی یا انکیو په اړه څوک نه غږیږي.

۱۰- د خوړو لپاره ځیني اصطلاحات:

- لاندی: هغه غوښه چې په مني کې د باد یا هم لمر په مرسته وچوي او ژمی خوړل کېږي.

- لوړمانښ/ لړمانښ: په ځینې سیمو کې د پسه له ینې څخه تیار شوي خواړه، په ځینو سیمو کې بیا هر په بیړه تیار شویو خوړو ته لوړمانښ وایي.

- څړ: هغه خواړه چې د خوړو د دریو اصلي وختونو لکه سهار چاې، غرمې ډوډۍ او ماښام ډوډۍ په مینځ کې خوړل کېږي ورته څړ وایي.

- نرۍ: د روژه ماتي څخه وروسته، د ماښام/ ماسخوتن ډوډۍ ته نرۍ وایي.

۱۱-د وخت اصطلاحات: پخوا چې ساعت نه و نو خلکو په بیلابیلو نښو د ورځې او شپې وختونه د لمر او ستورو په حرکت ډېر په دقیق او منظم ډول سره ویشلي وو او ځانته یې یو مهال ویش جوړ کړی و. د بیلګې په ډول د ورځې له پیله تر پایه مهال ویش: سپیده چاود یا سپېده داغ، لمانځه مهال، لمر څرک، ګهیځ، کمکی برېځر، برېځر، توپ، ماسپښین، قضا ماسپښین، مازدیګر، لمر او غر، لمر لوېده، ماښام. همدارنګه د شپې لخوا په اسمان کې د ستورو په موقعیت سره خلک پوهېدل چې اوس د شپې څومره برخه تېره ده او سهار ته څومره وخت پاتې دی. د ساعت په مروجېدو سره اوس خلک دا اصطلاحات نه کاروي.

عنعنات او رواجونه نه یوازې دا چې بدلیږي، مختصر کېږي بلکې ورکېږي او مري. هغه لمانځنې او غندنې چې پخوا به خلکو ډېر باور پرې درلود اوس یې څرک نه لیدل کېږي او په ډېرو مواردو کې خو له سره لمانځنې نشته او د مذهبي افراطیت له څپو سره هر څه په حلال او حرام وېشل شوي. انسانان خپلې د ژوند د پر مخ بیولو لارې چارې، لوبې، لمانځنې، غندنې، باورنه او عقیدې بدلوي. هغوی نور په هغو مروجه ابتدایي علومو، انګېرونو، خرافاتو او کوډو یا جادو عقیده نه لري چې پخوا یې لرله او له دې سره نور هغه پخواني رسمونه او رواجونه هم بدل شوي چې پخوا به خلکو لمانځل.

دلته زموږ مسوولیت د ټولنې د باسواده قشر په توګه دا دی چې د فلکلور بیلابیلې برخې د هماغه سیمې د خلکو له روایتونو څخه د هغوی په ژبه واورو او راټولې یې کړو. د فلکلور د راټولو او پیژندلو لپاره موږ لومړي لاس معلوماتو ته اړتیا لرو او دا اړتیا مو دې ته اړ باسي چې له خپل تېر سره اړیکه ټینګه کړو. موږ ته ښایي چې ډېر دقت سره دا معلومات راټول کړو، که امکان ولري له څو تنو څخه یې واورو، ویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکو او خپاره یا خوندي یې کړو. فلکلور یوازې د تېرو کړه وړه نه دي بلکې د هغوی احساسات او عواطف او د ژوند څرنګوالی راښیي چې دا کار به په راتلونکي کې زموږ د ټولنې په پېژندلو کې له موږ او زموږ له راتلونکي نسلونو سره ډېره مرسته وکړي.

**د دې تر څنګ به د فلکلور په راټولو سره موږ له هڅه کړې وي چې:**

1 - که موږ د یوه عادي وګړي په توګه دا نشو کولای چې په فلکلور کې تحقیقي لیکنې وکړو خو زموږ دقیق معلومات له، ژبپوهنو، ارواپوهنو او ټولنپوهانو یا هم لرغونپوهانو سره مرسته کولای شي چې په اوس او راتلونکي کې زموږ د ټولنې په اړه دقیق تحقیقات وکړي او مهم حقایق راوسپړي.

۲- زموږ کلتور به خوندي شي او زموږ ټولنه به د هغه په لوستلو او پوهېدول سره له نړۍ سره په تعامل کې یوه متمایزه او پېژندل شوې ټولنه وي.

۳- زموږ تېر او لرغونی تاریخ به ورسره راوسپړل شي.

۴- د فلکلو په راټولولو سره که له یوې خوا موږ دا وینو چې موږ څومره بیل رسم، رواج او ټولنه لرله له بلې خوا وینو چې موږ له نورې نړۍ سره څومره مشترکات لرو او بلاخره موږ انسانان له ټولو تفاوتونو سره سره د یوې واحدې انساني ټولنې بیلې بیلې برخې یو چې که تر څنګ اېنسودل او ورته والي مو لږ څه وخت نیسي خو بلاخره موږ هر یو په خپل ځای د دې ګردې داېرې تکمیلونکي یو.

**څنګه یوه فلکلوریکه موضوع راټوله کړو:**

۱- پر خپل ځان او خپلو معلوماتو باور وکړی او څه مو چې په ذهن کې دي( یا مو هم له نورو اورېدلي) په یوه کاغذ یې ولیکی.

۲- وګوری هغه څه مو چې لیکلي ستاسو د نظر یا هم هغه څه چې غواړی ویې وایی پوره تصویر وړاندې کوي که نه؟ مطلب دا چې واضح او جامع دي که نه؟

۳- له نورو سره یې شریک کړی یا هم نور یې په اړه وپوښتی. پوښتنه به وي چې له چا سره؟ له هغه چا سره چې په دې اړه معلومات لري او هغه زماني ته له تاسو څخه ډېر ورنېږدې دی. ښه به وي چې له مشرانو یې واورو او په تېره بیا له هغو کسانو چې ډېر په مجلسونو او سیمه کې پاتې شوي دي. ښایي په هر کلي کې یوه داسې مشره ښځه یا مشر نارینه وي چې په داسې موضوعات ډېر غږېږي او معلومات یې ډېر او دقیق وي، له هغوی یې وپوښتی.

۴- خپل راټول کړي معلومات له دوو، دریو کسانو سره یې شریک کړی یا هم د دوو، دریو کسانو نظرونه را واخلی.

۵-د هرې کیسې او دود بیلابیل روایتونه ولیکی. اوس او تېر دواړه بیل بیل ولیکی.

۶-د خپل ګاوند د کلي او سیمې د همدې رواج یا هم کیسې په اړه نظرونه وپوښتی. دواړه سره پرتله کړی او توپیرونه یې سره ولیکی.

۷-که کوم څه درته په کې مناسب نه ښکاري یا یې هم په نشر کې زړه نا زړه یاست او نه غواړی چې دا څه دې ستاسو له ادرسه خپاره شي نو اوس یې هغه برخه مه خپروی، له ځان سره یې وساتی خو یوه اشاره ورته هرو مرو وکړی. ښایي هغه څه چې تاسو ته نن ورځ نامناسب ښکاري سبا یې د خپرېدو وخت راورسېږي. که یې تاسو نه غواړی ښایي د بل کس سره یې شریک کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸-مبالغه او قضاوت مه کوی. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې په خپلو راټولونو کې قضاوت او مبالغه ونکړو او یوازې په هغه څه باندې ولیکو چې د خلکو په مینځ کې واقعا شته نه هغه څه چې موږ ته ښه ښکاري او یا هغه څه چې موږ ته منطقي یا هم سم ښکاري. دا په یاد ولرئ چې موږ یې د ښه او بد د قضاوت لپاره نه لیکو موږ یوازې تاریخ خوندي کوو.

۸-خپاره یې کړی تر څو تر نورو ورسېږي او هم خوندي پاتې شي.

۹-کیدای شي د خپلې لیکنې په پای کې د خپلې سیمې نوم ذکر کړی او له لوستونکو وغواړی چې خپل نظرونه او زیاتونې له تاسو سره شریک کړي. دا به مو هم د لیکنې په غنامندۍ کې مرسته وکړي.

۱۰-خپلې لیکنې له ځان سره ولری، کیدای شي وروسته په دې اړه نور څه واوری، هغه هم وراضافه کړی.

پوهیږم چې دومره دقت به مو کله کله له ښو ښو لیکنو راوګرځوي خو باور وکړی که د لیکوالۍ له پیل څخه یو څه په دقت ولیکی له یوې خوا به مو د تکراري او یکنواخته مفاهیمو پر ځای نوي او جذاب لیکل کړي وي له بله پلوه به مو د خپلې ژبې او فرهنګ یو نوی او روښانه تصویر خپلو لوستونکو، راتلونکو نسلونو او نړۍ ته وړاندې کړی وي.

## کتاب او ماشوم / بحث (۴)

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر، پر ادبي مسایلو بحثونه پیل کړي دي. دلته د دې لړۍ څلورم بحث لوستلی شئ.

**لېمه ودان:**
اکسوس کتاب پلورنځي ته تللې وم، د ادبیاتو د کتابونو خواته ورغلم، په دې وخت کې په عمر پوخ سړی کتابتون ته دننه شو، درې ماشومان، چې عمرونه یې تر لسو کالو لوړ نه وو، هم ورسره وو. دوی د ماشومانو د کتابونو مېز ته ودرېدل، سړي دوه کتابونه راواخیستل، یوه شېبه ورته ځیر شو، بیا یې کوچنیانو ته مخ کړ:

– دا څنګه دي؟
یوه ورته وکتل:
– دا یو خو مو لوستی، دا بل ښه دی.

دا صحنه ماته جالبه ځکه وه، چې په افغانستان کې د مطالعې فرهنګ ډېر عام نه دی. ډېری کورنۍ د خپلو ماشومانو ټولې اړتیاوې پوره کوي؛ پرته له کتابونو. که د یوې کورنۍ لویان کتاب لولي هم؛ خو ښایي دې ته پام ونه کړي چې ماشومان هم باید د عمر له اولو کلونو له کتاب سره مینه پیدا کړي.

د یوه هېواد پرمختګ د ولس په علم او پوهه پورې تړلی او دا پوهه له کتاب لوستلو پرته ستونزمنه ده. د مطالعې د فرهنګ په عامېدو کې د ماشوم ادبیاتو له رول نه سترګې نه شو پټولی. که یو ماشوم د خپل عمر په لومړیو کې له کتاب سره مینه پیدا کړي، په لوی والي کې به د ټولنې لپاره یو مثبت کس ترې جوړ شي.

په دې برخه کې د لیکوالو رول هم مهم دی، هغوی ته بویه چې د ماشومانو لپاره داسې کتابونه ولیکي، چې د هغوی تخیل راوپاروي.

د لیکوالانو تر څنګ د کورنۍ د غړو رول ډېر مهم دی. تېرو ورځو کې چې زموږ بهیر د نصیر احمد احمدي د دویم تلین په یاد غونډه کوله، ما هم مقاله ورته لیکله؛ نو ګڼ کتابونه مې رااخیستي وو او په کمپیوټر کې مې لیکل کول. پینځه کلنې خور مې هم خپل د کیسو ټول کتابونه له المارۍ راواخیستل، لوستل نه شي کولی، د ماشومانو د کتابونو انځورونه ته ځیر وه، ټولو ته یې ویل چې زه سبا په کمپیوټر کې غونډه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره زما لپاره ډېره جالبه ځکه نه وه، چې یوازې زما خور نه بلکې ټول ماشومان همدا ځانګړنه لري، دوی د کورنۍ له مشرانو زده کوي. که یوه مور د خپل ماشوم تر څنګ کتاب لولي؛ آیا د ماشوم به مینه ورسره پیدا نه شي!؟
ستاسو په نظر د ماشومانو لپاره کتاب لوستل څومره اړین دي او په دې برخه کې د مېرمنو رول څه دی؟

**فرزانه ترہکي:**
تر هغه ځایه چې کورنۍ د ماشوم لپاره لومړنۍ ښوونځی دی، همداسي مور د خپل ماشوم لپاره پخپله یو کتاب ده.

مخکې له دې چې د ماشوم لپاره زده کړه، لوستل او کتاب غوره کړي لومړی باید د هغه ذهن او د درک و جذب وړتیاوې وارزوي.

تر کومه چې زه پوهیږم یو ماشوم ذهنیت د هر څه د زده کړې لپاره په هر وخت کې چمتو نه دی ځکه ځینې وختونه ورباندې بوج کیږي، ځیني وختونه یې پر خلاف کیږي، ان ځیني وختونه یې غلط درک کوي نو د زده کړې لپاره یې باید تلوار ونکړو.

د ماشوم د درک او فهم اندازه د هغه په عمر پورې نه ده تړلې؛ بلکې د هغه د ذهنیت په حجم پورې تړلې ده، چې د هغه ذهنیت څومره وړتیا لري.

مېرمنې دې لومړی هڅه وکړي چې د یوه ماشوم پر ټولو کیفیتونو، ذهنیوتونو، افکارو خوښ او ناخوالو پوه شي، بیا یې د زده کړې لپاره کتاب د ماشوم له کیفیتونو وټاکي ، حجم یې د ماشوم د ذهنیت په اندازه وي ، لوستل او زده کړه یې د شوق له حده وانوړي او د دې تر څنګ هغه کتاب یې چې ورته ټاکلی باید تر ډېره انځورونه ولري ځکه انځورونه لکه عملي زده کړه ذهن او زړه ته زر لویږي ، او یو ماشوم د زده کړې تر څنګ لوستلو ته هم هڅوي.

په لومړي ځل، شپاړلس کاله مخکې په ۱۳۸۶ شمي کال چې تقریباً ۲۰۰۷ میلادي کال سره سمون خوري، ما یو امریکایي فلم د ( baby`s day out) په نوم ولیده چې دا ۹۹ دقیقه یې فلم په ۱۹۹۴ میلادي کال کې، په انګلیسي ژبې، د (John Hughes) پواسطه لیکل او د ( Patrick read Johnson) په کارکردګۍ جوړ شوی وو. په دې فلم کې یو وړوکي ماشوم ته، چې لا په خبرو نه دیراغلی، کورنۍ یې تل یو کتاب ورته لولي چې په دې کتاب کې خورا ډېر او بېلابېل انځورونه دي. دې ماشوم له دې انځورونو دومره ډېر څه زده کړي وو چې کله یوه ورځ د دریو ماشوم تښتونکو په منګولو کې راځي خو د هغه کتاب د تصویرونو د زه کړې په واسطه په ډېرې هوښیارۍ سره ځان د هغو ماشوم تښتونکو څخه ژغوري....

د دې فلم لیدل زما لپاره ډېر جالبه او خوشاینده وو

او د دې تر څنګ ما ورڅخه زده کړل چې یو ماشوم څه ډول زده کړه کولای شي، څومره یو څه ، په څومره موده کې زده کولای شي.

کورنۍ څومره رول لري،

لوستل څومره ګټه او

انځورونه د ماشوم په ذهن څومره اغیزه لري.

**هیله پسرلی:**
ستاسو د اکسوس خاطرې ماته د کلونو پخوا خاطره رایاده کړه. ښایي د ښوونځي په نهم ټولګي کې به وم. له بابا سره مې د ښهر نو یوې کتابفروشي ته تللې وم، فکر کوم سادات، یا سعادت دغسې یو څه نومېده. په کتابفروشۍ کې بابا زما له خور ورینې سره چې لا یې ابتداییه نه وه شروع بوخت شو. ورینې به کله یو کتاب راواخیست کله بل، ما هم بیلابیل کتابونه کته پورته کړل. په پای کې مې نه یادېږي چې ورینې کوم کتاب خوښ کړ خو ما د مغولو د سلطنت په هکه یو پېند، دروند، سور کتاب راواخیست، بیه یې هم ډېره وه... هغه کتاب مې هېڅ وخت بشپړ ونه لوست. چې کور ته راغلم له څو ساعتو مطالعې وروسته پوهه شوم چې کتاب زما له سویې پورته دی. بابا مې هم پوهېده چې کتاب زما له سویې پورته دی خو راته یې و نه ویل چې مه یې اخله، نه یې هم زما خور ته وویل چې ته لا کوچینۍ یې کتاب مه اخله... ده پرېښودو چې موږ یې خوښ کړو حتا که غلط انتخاب هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه چې کله هم له وړيني سره کتابتون ته تللې يم، پرې ايښې مې ده چې پخپله په کتابونو کې وګرځي يو څه خوښ کړي. البته، زه د بابا ژغم نه لرم ډېر کله مې طاقت نه کېږي او خپلې مفتي مشورې خامخا وراوروم. ښايي د انتخاب دغه ازادي يې يو علت وي چې هغه کتابونه چې زه لولم او هغه کتابونه چې وړينه او زما د کورنۍ نور غړي يې لولي توپير سره کوي. د کتابونو د اخيستلو په تجربه کې کاش ماشومان شريک کړو او انتخاب ته يې ازاد پرېږدو دا شی يې ذوق او تخيل روزي.

يو عام نظر دا دی چې ماشوم ژبه له موره زده کوي. زموږ په وطنونو کې چې پلرونه ډېر وخت فکر کوي چې د دوی اصلي مسوليت له کوره بهر دی او ماشومان يې په اصطلاح مور ته خوشې کړې وي. مور په شخصيت جوړولو کې لا ډېره اغېزه لري.

زه چې ماشومه وم مور او پلار ته به شله شوم چې کيسه راته وکړي. د مور به مې ډېر کله همهغه يوه تکراري کيسه وه چې يو خرګوشک (سوی) و چې په ځنګله کې لار ترې ورکه شوې وه... د مور د تکراري کيسو دغه خرګوشک لا هم زما د ذهن يو مهم کريکټر دی. مور چې به کيسه ختمه کړه ما به بيا په خپل ذهن کې پسې اوږدوله او دغسې به خوب راته.

زه اوس هم هغه خرګوشک کله کله په خوب وينم او پوهېږم چې خرګوش ته په پښتو کې سوی وايي خو زړه مې کېږي په کيسو کې ورته خرګوشک ووايم.

په بهېر کې که ميندې وي زما مشوره ورته دا ده چې خپلو ماشومانو ته کيسې وکړئ او د کيسو په هکله دوی وپوښتئ، د دوی کيسې هم واورئ.

چې ماشومه يې تر هر بل ځا دې په مور او پلار باور ډېر وي د دوی کيسې داسې اورې لکه د دنيا تر ټولو مهم داستان چې وي او چې ماشومه يې زړه دې کېږي ستا د دنياګۍ تر ټولو مهم کسان مور او پلار دې ستا کيسې هم واوري.

زه کله کله فکر کوم که مې ښوونځی او په ماشومتوب کې کتابونه په پښتو لوستي وای ښايي ډېرې او ښې کيسې به مې ليکلې وای. زموږ په وطن کې چې ډېر ماشومان په خپلې مورنۍ ژبه د تعليم له حقه محرومه دي او د ماشومانو لپاره ډېر کتابونه نشته ممکن ډېرو ماشومانو ته په لوی عمر دا احساس ورپيدا شي چې خپل ځان، احساس او فکر هغسې نشي بيانولی لکه څرنګه چې يې زړه کېږي.

زه يو وړانديز لرم:

د ماشومانو کتابونه ځينې ډېر لنډ دي، ښايي ټول لس جملې وي. د دغو کتابونو ژباړه بيخي کم وخت غواړي. په دې بهير کې موږ ډېرې داسې بهيروالې لرو چې له پښتو پرته يې يوه يا څو نورې ژبې هم زده دي. راځئ د ماشومانو د کتابونو ژباړه پيل کړو، د اصلي کتاب له عکسونو سره به يې انلاين خپاره کړو. حتا کولی شو دې لړۍ ته د ((کوچينيانو خزانه)) نوم ورکړو. په لسګونو کتابونه به مو پښتو ته ژباړلي وي کله چې امکانات برابر شول بيا به يې چاپ هم کړو.

دا لړۍ به له خپل بهيره پيل کړو او بيا به په نورو ليکوالو هم ږغ وکړو چې په دې کار کې راسره شي. که دا کار پيل کړو او پکې کامياب شو د ډېرو کوچينيانو ماشومتوب به مو ښکلی کړی وي او د خپل ماشومتوب ارمان به مو يو بل نسل ته ارمان نه وي پرې ايښی. کولی شو په دې موضوع يو ورځ بحث وکړو. په ګروپ کې په بيلابيلو ژبو د ماشومانو لنډ کتابونه شريک کړو په خپل منځ کې يې ووېشو او دې کار ته متې راونغاړو.

**فتانه ژوند:**
يو ايراني زما پلار ته ويل، ستاسو ځوانان ځکه ټول جنګيالي دي چې تاسو په ماشومتوب کې په مينه مينه د جنګ کيسې ډېرې ورته ورت، غوږونه او ذهنونه مو له جنګي کېسو ور ډک کړي دي.

دا ستاسو جنګ چې نه ورکيږي د ميندو او پلرونو روزنه مو نيمګړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مور هرکله خپلو ماشومانو ته د وطن پالنې، تعلیم، مکتب، پوهنتون او هغو کسانو کیسې کوو چې په ټولنه کې د علم په ذریعه بریالي کسان وي، ترڅو مو د ماشومانو غوښتنه فکر، هڅه او تشویق د درس لوستلو او پرمختګ په لور شي.

نو دلته ښکاره خبره ده چې کیسې د ماشوم په ذهن جوړونه کې غټ رول لري، باید ورته داسې کیسې وشي چې ماشوم یو مثبت پیغام ترې واخلي، ترڅو ټولنې ته مو یو ښه انسان ډالۍ کړی وي.

او دا به د هر مور او پلار یو مسولیت هم وي چې ټولنې ته سالم انسان وړاندې کړي او سالمه روزنه ورکړي، چې د سالمې روزنې به برخه کې کیسې کول ورته اړین دي.

او له طبې اړخه هم د ماشوم ذهن یو تش ارشیف دی چې ډکیدل غواړي او هر څه په کښې ساتل کیدلی شي.

باید داسې شیان پکې ځای پر ځای شي چې راتلونکی یې متضرره نه کړي او راتلونکي کسان او خپله ماشوم ورنه ښه استفاده وکړي.

نو کیسه پکښې یو ښه رول لوبولای شي.

یادونه: ماشومانو ته باید ډیرې ویروونکي کیسې ونه شي ځکه چې ډارن او بې زړه کیږي.

**شفیقه خپلواک:**

امریکایی اروپوهه اوري برونفنبرنر استدلال کوي چې ماشوم د معلوماتو په څلورو لړونو کې نغښتی. یا په اصطلاح څلور لایې ترې راتاو دي. لومړی لایه خپله ماشوم دی. دوهمه یې کورنی او نږدې دوستان دي. دریمه باندنی چاپیریال دی لکه تلویزیون، رسنی، ټولنیز چاپیریال او نور. څلورمه لایه ملي ده، چې د تعلیمي نصاب او مکتبونو په ذریعه ماشوم ته ارزښتونه ور ښودل کیږي. زموږ په هیواد کې متاسفانه دا یوه لایه یا لړ هم د ماشوم د مطالعې هغسې فضا نه لري چې باید وي. یونسف په خپلو وروستیو موندنو کې ښیي چې ۸۸٪ افغاني میندې بېسواده دي. پلرونه چې سوادار هم دي کم یې داسې موندل کیږي چې ماشوم سره په ورین تندي خبرې وکړي پاتې خو کیسه او کتاب لوستل شول. په موږ کې ښه او غیرتي سړی هغه دی چې ښځې او واړه ترې ډاریږي. ما ډیرې کمې لوستې میندې هم لیدلې چې ماشوم ته دې سمه پاملرنه وکړي. البانیا کې له موږ سره په هوټل کې تقریبا ټولې میندې باسواده وې، خو ماشومان به یې داسې تاویدل لکه له کوم لیرې کلي چې راغلي وي او هیڅ یې نور څه په ژوند نه وي لیدلي. یوه ملګرې مې په اروپا کې د ښوونځي استاده ده هغه وایي چې افغان ماشومان به له لیرې معلوم وي حتا مکتب ته یې لا منظم او پاک نه رالیږي. البته چې استثنا به وي خو په عموم کې موږ د ماشوم د روزنې کلچر نه لرو. موږ په هر څه کې غربت، جنګ او بېسوادي ملامتو خو واقعیت دا دی چې موږ ځان نه په عذابو خپل ځینې عیبونه د عیب په توګه لا ومنو. دا اوس به په پښتو کې څو د ماشوم د روزنې کتابونه وي؟ څو میندې پلرونه به له دې مخکې چې ماشوم یې پیدا شي دې کتابونو ته یو وار سر ورښکاروي؟

دوهم مهم ځای مکتب دی. موږ یو وخت شخصي مکتب ته تللو له باغ بالا سره و. کور مو کارت چهار کې و، دریو ښوونکو مو حبیبې لیسې کې هم درس ورکاوه. په رخصتي کې به هغوی هم له موږ سره موټر کې راتلل. پر لار به ماسره یو نیم کتاب و یا د شعر یا کوم ناول خو د مکتب کتاب به نه و، دا استادان به دومره راته وډونګیدل چې ته ولې په دې شیانو وخت ضایع کوې؟ ریاضي ولوله، جغرافیه ولوله. یانې پر لار هم بده وه چې د خپلې خوښې کتاب ولولم. رابعه بلخي کې ډېر ګلالی کتابتون و خو یو کتاب مو هم کور ته نشوای وړلی. دغسې به کوم ساعت خالي نه و چې هغلته مو کتاب لوستی وای. او نه هم هیڅکله راته ویل کیدل چې مطالعه مهمه ده.

زموږ کورونو ته وګورئ چې څومره تزیني شیان اخلو، الماری مو له شل رقمه لوښو ډکې وي خو یو د کتابونو الماری نه لرو. یو قران شریف مو په تاکې کې ایښی وي د هغه په پوښ هم دومره ګرد ناست وي چې مکوه پوښتنې. پاچا خان به ویل چې پښتانه به لکونه روپی په محفلونو او مراسمو مصرفوي خو بیا یو اخبار او مجله نه اخلي.

دلته ګورم چې هره عامه کتابخانه د ماشومانو جلا برخه لري. واړه بیخي په کتابونو لوبې کوي. ځان سره یې خپل د لوبو شیان هم راوړي وي. ځینې کسان یې رضاکار ځي اوونی یا میاشت کې یو ځل ماشومانو ته عامه ځایونو کې کیسې لولي. مکتبونه جلا کتابتونونه لري. هر کور کې د ماشوم کتابونه وي، که څوک وس نه لري نوي واخلي له دوهم لاس دوکانونو یې ارزانه پیري. غریبانو ته د وړیا شیانو ویش کې یوه مهمه برخه کتابونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که راشم ستا پوښتنې ته طبعا میندې تاثیر لري. پلرونه اغېز کوي، زموږ کورونه خو بیا ګډ وي نو نیا، نیکه، تره، عمه او نور دا ټول په لومړني چاپیریال کې راځي او د ماشوم د کرکټر مهمه برخه همدې وخت کې جوړېږي. خو له دې وروسته رسنۍ او ګاونډ تاثیر لري او ورپسې مکتبونه. موږ متاسفانه چې په دې یوه برخه کې هم داسې جوت څه نلرو. دا برخه تر بلې هرې برخې ډېر کار ته اړتیا لري خو دا چې لږ، لږ حداقل نن سبا دا مسله مطرح شوې هم ده دا به هم په لوی ګام وشمېرو. زما په نظر په عموم کې د ماشوم د سالمې روزنې د کلتور عامیدو ته اړتیا لرو. دا کلتور زموږ په لوستو او نالوستو کې کمرنګی دی.

**درخانی:**
موږ ټول په دې خبره پوهېږو اولاد د مور او پلار تقلید کوي. په کوچنیوالي د کوچني دماغ د سپیني تختې په څېر دی هر څه چې موږ وغواړو پر هغه تخته یې لیکلای سو. که موږ غواړو اولاد مو د مطالعې سره عادت سي لومړی باید خپله مطالعه وکړو تر څو کوچنیان مو موږ ووینې او هغوی هم خپل کتابونه را واخلې.

زما د پوهنتون څلورم کال و. لور مې تلوسه د دونیمو کالو وه. د پوهنتون څلورم کال پر یوه محصل د مونوګراف لیکلو په سبب ډېر مصروفه تېرېږي؛ نو زه به هم ډېر وخت له خپلو کتابو او کمپیوټر سره مصروفه وم. تلوسې ته به مې ناوکی اېښی وې تر څو لوبې وکړي خو هغې د ناوکیو پر ځای زما له کتابو او کمپیوټر سره ډېره مینه درلودله، نو زه هم مجبوره سوم هغې ته مې د ناوکیو پر ځای کتابچه او قلم ورکړه. د هغې مینه تر اوسه د کتاب، قلم او کتابچې سره هغومره لیونی ده، وایي چې لویه سم ستا په څېر جوړېږم.

زه او پلار چې یې هر وخت کتاب پلورنځي ته ځو، دا له ځان سره بیایو تر څو دا د کتاب اخیستلو سره عادت سي. څه وخت مخکې په کابل کې د کوچنیانو لپاره د کیسو یو پکیج چاپ سو. موږ هم هغه وخت کابل کې وو. تلوسې هغه وخت لوستل نه سوای کولای خو پلار یې بیا هم هغه پکیج ورته واخیستی او هره شپه به یې هغې ته یوه کیسه کوله. د تلوسې اوس هغه کیسې په یاد زده دي. موږ یو بل کار هم کوو زما په نظر کیدای سي دا کار هم مثبت تمام سي کتابونه چې تلوسې ته اخلو هغه یې په خپل لاس له هغه ځایه را اخلي، دا کار ځکه کوو تر څو د تلوسې مینه د کتاب سره لا پیاوړې سي.

دوهمه خبره مې دا کوله چې کوچني ته د کتاب په اړه یا باید هیڅکله ونه ویل سي. پوهېږم ځیني وخت اقتصادي ستونزې وي خو باید د کتاب غوښتنې په وخت کې یا ونه ویل سي. تاسو ټول پوهېږئ اوس وخت کې د افغانستان خلک ډېر له اقتصادي ستونزو سره مخ دي فقر او غریبي له خلکو کتاب او قلم هېر کړي دي خو پر دې ټولو ستونزو سربېره موږ تلوسې ته د قلم، کتاب، کتابچې او بستې اړوند یا نه ده ویلې.

راځم یوې بلې خبرې ته، زه د ابتدائیه ښوونځي ښوونکې یم. په اونۍ کې یو ځل زه خپل زده کوونکي د ښوونځي کتابتون ته بیایم. هغوی ډېر وخت داسې کتابونه اخلي چې دوی یې ویلای نسي خو زه هغوی له انتخاب څخه نه را ګرځوم، بلکې د هغه کتاب په لوستلو کې مرسته ورسره کوم.

اونۍ کې یو ځل زه خپله یو کتاب د کوچنیانو د کیسو را اخلم. کیسه ورته کوم او وروسته له دوی څخه د کیسې پایله اورم، بیا دوی په کورنۍ دنده کې ماته یوه کیسه له خپله ذهنه لیکي. داسې درس ویل د دوی لپاره ډېر په زړه پورې دی له دې زه څو موخې لرم؛ لومړی د مطالعې سره عادت کول، دوهم درس چې د کیسې په بڼه وویل سي نه هېرېږي، دریم د کیسې لیکلو سره عادت کول چې دوی سر له اوسه و کولای سي چې یوه کیسه ولیکي او د دوی د املا سمول.

یوه کیسه به خپل د کوچنیوالي دا درته وکړم چې موږ د کوچنیوالي څخه پلار د شپې لخوا په نکلو او کتابو عادت کړي یوو. هغه وخت برقونه سم نه وه، پلار به یو کوچنی د تیلو څراغ ځان ته اېښی وو، د کلکین سره به نږدې ناست وو، موږ دوې خویندې دوه ورونه به په خپلو ځایو کې د مور سره پراته وو او نکلونه به مو په ډېر خوند اورېدل. د ژمي په موسم کې به پلار اوږده نکلونه راته کول ویل شپه اوږده ده زما تر اوسه د هغه څراغ، د باران د څاڅکو، تالاندې او برېښنا خوند هېر نه دی. د باران له ږغ، د څراغ له رڼا سره به د پلار څخه د نکل اورېدل بېل خوند کوئ. کله کله به بیده سوې وو په دا سبا شپه به مو هغه نکل بیا په پلار وایه. زما په نظر همدا لامل وو چې زما د کتاب او ناول لوستلو سره مینه پیدا سول، بس د هغه کوچنیوالي څخه بیا ما هیڅکله د سهار او ماپښین د پلار لخوا را کول سوې پیسې د خورک پر شیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅې نکړې، هغه به مې ټولولې وروسته له یو اونۍ څخه چې به د یوه کتاب د اخیستلو سوې، ارګ بازار ته به تلم هلته به مې یو کتاب اخیستی، دا کار ما تر هغه وخت کوئ تر څو چې ما دنده پیلول او نور مې خپل معاش درلودلی. ما خپل د کوچنیوالي سرمایه ټوله پر کتابو ورکړې ده کله چې مې واده وو د پلار له کوره مې تر کالو کتابونه ډېر یوړل او دا ټول زما د پلار له برکته وو چې زه یې له کتاب سره اشنا کړم. نن هغه کار زه له خپلو زده کوونکو او اولادو سره کوم.

خبرې خو مې ډېرې دي مګر د دې لپاره چې ونه غمېږې نور یې بس کوم، هیله لرم دا یو څو کیسې او تجربې ګټورې تمامې سي.

**ښکلا نور:**
زه پنځه لس کلنه یم او لا تر اوسه ماشومه یم، نو په دې برخه کې غواړم خپلې تجربې شریکې کړم. په لومړي ځل مې د "سیند پیغله" په نوم کتاب ولوست دې کېسې له هغې کېسې سره ډېر فرق درلوده چې نیا جانې مې راته کړې وه. دا کتاب مې ځان سره ښوونځي ته هم وړی و او خپلو ټولګیوالو ته به مې په لوړ اواز وایه. ځینې وختونه به مې د سیند پیغله په خوب هم لیدله د ماشومانو له کتابو وروسته مې پلار راته د نصیر احمد احمدي د جوجو په نوم کتاب راوړو اوس مې هم یادېږي د کوټې په منځ کې به ناسته وم ماشومان به رانه چاپېر و او ما به کتاب په لوړ اواز لوسته. ماشومان به راته غلي ناست وو او راته غوږ غوږ به وو. کله به چې ستړې شوم دوی به ټینګار کاوه چې پاتې برخه یې هم ووایم. یوه ورځ زه د غنې ځاله په نوم کتاب ته ناسته وم، پلار مې په الماری کې کتاب ته اشاره وکړه او ځلا ته یې وویل چې هغه کتاب شروع کړه د مصر له تاریخ نه دې خبروي.... پلار مې د کتاب په اړه ځینې جالبې خبرې وکړې. د کتاب نوم سینوهه و. ما سره د سینوهه د کتاب ویلو شوق پیدا شوی و. خو پلار مې راته وویل، کله چې د ځلا عمر ته ورسیږې بیا یې ووایه خو ما ضد کړی و. کتاب مې شروع کړ. سریزه یې راته ستړې کوونکې وه. خو ناول له لومړیو پاڼو نه ښکلی و. د سینوهه له کتاب نه مې هغه څه زده کړل چې کورنۍ مې نه وو راته ښودلي او ځینې وختونه به مې په خپلو خبرو کې د سینوهه مثال ورکاوه. یو ورځ په بام کې ناسته وم، د سینوهه کتاب اخیرې سریزه مې لوسته ماښام و. هوا ورو ورو تیاره کېده د سینوهه کتاب اخیري کیلي مې په سختۍ ولوستې. د سینوهه کتاب مې بند کړ دلته هم د طبس په څېر ښایسته شمال و. که څه هم مور مې د بام له دیوالونو نه د سیل کولو منعه کړې وم خو بیا مې هم په ټیکرې باندې مخ پټ کړ او مخامخ غره ته مې وکتل په تک تور غره باندې د افغانستان نوم روښان ښکاریده، نرې باد به کله کله د ونو ښاخونه وخوځول د سرک ننداره خو لا ښکلې وه. موټرونه واړه ښکاریدل. د سینوهه کتاب مې لا په لاس کې و. کیناستم کتابچه او قلم مې راواخیستل د لیټر تتې رڼا ته مې د احساس په نوم لیکنه وکړه.

**میمونه کامران:**
یو څه چې تر نن یې په یاد راوړم، تل ترې خوند اخلم، او ډېر څه مې تر زده کړې دي، هغه به زما د پلارجان کور ته د راتګ پرمهال په لاس کې کتاب لرل وو. دا ښایسته انځور مې تل ذهن کې ده. پلار ته په کتو به زه هم دې ته تشویقېدم چې یو څه ولولم؛ نوټ کړم او زده کړم. زما پلار ماته ونه ویل چې مطالعه وکه؛ بلکې راوټېښودل، یعنې هغه ته په کتو زما لار روښانه شوه، له کتاب سره مې مینه پیدا شوه. که والدین خپل ماشوم په کوچني والي کې له کتاب سره بلد کړي، کتاب ور وپېژني، د دوی په مخ کې یې مطالعه کړي له کتاب سره وروزي نو کتاب به یې د ژوند برخه وګرځي. زه وایم د ماشوم په کوټه کې باید کتاب شتون ولري، د کتاب دا شتون به پرته له مطالعې هم د ماشوم لومړیتوب وګرځي.

د پوهنتون د لومړي سمستر د پیل ورځو کې زمونږ استاد د مطالعې لپاره څو کتابونه معرفي کړل، چې یو یې ملي هنداره وو. دا کتاب مې له ځان سره راواخیست، کله مې یې چې په لوستو پیل وکه؛ ډېر خوندور وو، تر دې چې بیا به مې کور کې په لوړ غږ لوستو او ټول به راته غوږ وو.

زه چې په کومه ورځ ناول لولم؛ نو دوه واړه ورونه مې د درېیم ټولګي زده کونکي دي، له مکتب راشی اول به د ناول پوښتنه کوي، چې بشپړ شو کنه؛ او څه ډول کیسه وه، بیا ټول ناول ورته بیانوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که غواړو کتاب لوستنه مو په ټولنه کې رایج شي نو باید لومړی له کور څخه مور پلار پیل وکړي، کور ته کتاب راوړي، کتاب ته وخت ورکړي، ماشوم مور او پلار ته په کتو ګام اخلي. او همدارنګه ماشوم ته باید مور دوامداره ګټوري کیسې ولولي چې هم به یې په روزنه کې تر دې عالي څه پیدا نکړي او هم به د کتاب مینوال روښن فکره شخص ټولنې ته وړاندې شي.

**آمنه فنا:**
زه چې ماشومه ومه ماته مې مور او پلار کیسې نه کولې نه پوهېږم چې زده به یې نه وې، که ما به نه وې غوښتې.

خو هغه وخت چې ما لیک او لوست نه شو کولی زه خپله د کیسو خزانه وم، تل به مې له ځانه سره یوه اوږده کیسه روانه کړې وه. کله به مې وړې خویندې ورونه راپسې شول چې کیسه راته وکړه. ما به هم ملګري کړل، باغ ته به لاړوو، په یوه شنه پوله به سیورې ته کښېناستوو، بیا به ما کیسه ورته پیل کړه اوس مې هغه کیسې په یاد نه دي خو دا مې په یاد دي چې یوه ورځ په کیسه کې یو ډېر ښه کس رانه مړ شو یو دم مې وړوکی ورور په ژړا شو مخامخ راته ودرېده سترګې یې له اوښکو ډکې وې راته ویل یې چې "مړ کوه یې مه پکې". دا مې د ماشومتوب له کیسو جالبه خاطره ده.

رابه شو دې ته چې په کور کې د کتابونو شتون او د مشرانو کتاب لوستل څومره ماشومانو ته مثبت ذهنیت ورکوي چې بیا کتاب د ژوند یوه مهمه برخه ګڼي. په دې اړه به زه د خپل ماشومتوب ځینې خاطرې درسره شریکې کړم:

زه چې ماشومه وم مونږ په کلي کې ژوند کاوه. په داسې کلي کې چې نه په کې د نجونو ښوونځی و او نه هم مدرسه وه.

او زمونږ له کورنۍ پرته په ټول کلي کې یوه کورنۍ هم داسې نه وه چې یو دوه لوستي کسان دې ولري. زما خوشبختي خپله باسواده کورنۍ وه. زما نیکه چې یو باذوقه ادیب او عالم انسان و، هره شپه به زمونږ په کور کې مشاعره او ادبي بحثونه وو. بابا مې ډېر زیات مهربانه و او د ماشومانو په روان ډېر ښه پوهېده. هېڅ کله به یې د یوه ماشوم په مخ کې داسې خبره نه کوله چې د هغه زړه مات شي یا د ناپوهۍ او کمترۍ احساس وکړي. په دومره مهربانۍ او عالي اخلاقو به یې مونږ ته درس راکاوه چې کله به مو د درس وخت شو، دومره به په مینه ورتلو لکه کومې میلې ته چې روان یوو. یو بې جوړې انسان و الله ج دې جنتونه نصیب کړي.

زما مور او پلار دواړه باسواده دي. مور مې شاعره هم ده. زه چې ماشومه وم زما مور ته د کور ډېر کارونه او مسئولیتونه ورپه غاړه ول خو مور مې یو منظم مهالویش درلود. د کور د کارونو او ماشوم پالنې تر څنګ یې هم خپله مطالعه کوله هم یې خپلو ماشومانو ته درس ویلو. کله به چې میلمانه راغلل یا به کومه بله خبره شوه د ورځې به وزګاره نه شوه د شپې به ناسته وه د څراغ رڼا ته به یې یو څه لوستل یا به یې خپل شعرونه لیکل. مور مې هېڅ کله په بې ځایه خبرو او مجلسونو خپل وخت نه ضایع کاوه اوس هم همداسې ده د کټ تر څنګ میز باندې یې پنډ کتابونه ایښي وي. د مطالعې وختونه یې معلوم دي.

دا مې هم یاد دي چې پلار به مې هره اوونۍ له دندې راغی نو له ځان سره به یې مجلې او کله کله به یې پښتو نوي کتابونه راوړل په هغو مجلو به زما ټوله اوونۍ ښکلې تېره شوه هغه اوس هم کلي کې زما په الماری کې خوندي دي.

زمونږ په کور کې د کتابونو کمی نه و خو دا چې پلار مې نور هم راوړل نو مونږ ته یې راښودل چې کتابونه څومره ارزښت لري.

زموږ په کور کې چې کومه کتابخانه وه تقریبا ټول کتابونه یې په دري ژبه وو، هغه ځکه چې زما نیکه له فارسي ادبیاتو ډېر متاثره و. د فارسي ژبې د ټولو کلاسیکو او معاصرو شاعرانو کتابونه یې اخیستي ول. پښتو کتابونه ماته لمړی پلار راوړل چې زه ډېره ورته خوشحاله وم. اول ځل یې چې د کاراون صاحب کتاب راوړی و، دومره ورته خوشحاله وم لکه ټوله دنیا چې یې راته راوړې وي. وروسته به مې بیا خپله د خپلې خوښې پښتو کتابونه له پلار، ورور او ماما نه راغوښتل او هر یو به مې په ډېره مینه بار بار ولوست. ما ځانته د پښتو کتابونو یوه الماری ډکه کړه. کله مې چې د خوشحال بابا کلیات اخیستی و، بابا مې ډېر زیات خوشحاله و، هر چاته به یې ویل چې لمسی مې اوس تر ما مخکې ده زه خوشحال نه لرم دا یې لري. دې خبرو به زه نوره هم هڅولم چې کتابونه واخلم وې لولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د ماشومتوب په کور کې داسې کوټه نه وه چې کتابونه دې پکې نه وي ایښي. مونږ په کور کې یوه وړه کتابخانه هم لرله خو په هرې ګوټه کې به د هر چا د خوښې کتابونه د مطالعې له پاره ایښي وو.

زما هم چې لیک لوست زده شو بیا به مې تل یو کتاب له ځان سره ګرځاوه. که به پخلنځي کې وم، که به باغچې ته تلم نو د پښتو شعرونو یوه ټولګه به مې ملګرې وه.

زمونږ د کور په دوهم پوړ کې مې د نیکه وړه کتابخانه وه. د ورځې به څو وخته هلته تلم او له بابا به مو درس لوست. چې له درسه به فارغه شوم بیا به مې له بابا نه د کتابونو په اړه پوښتنې کولې. هغه به هم په دومره مهربانۍ او شوق زما پوښتنې ځوابولې چې زما زړه به باغ باغ شو او ځان به راته مهم ښکاره شو. یوه ورځ مې ترې وپوښتل چې بابا دا ټول کتابونه تا لوستي؟

هغه موسک شو راته وې ویل: هو ځینې مې چې ډېر خوښ شوي هغه مې بیا بیا لوستي دي.

بابا مې په خپلې کتابخانه کې یو ډېر وړکی څراغ لره او ویل به یې چې، ډېره مطالعه یې د شپې له خوا کړې ده او د همدې څراغ رڼا ته یې ډېر کتابونه لوستي دي.

بابا به مې تل مونږ ته د کتابونو او لویو لیکوالانو او شاعرانو کیسې کولې. دا کیسې به ماته دومره جالبې اوخوندورې وې چې زما په ذهن کې به یې د کتاب لوستلو تلوسه وزېږوله. ما به وې، چې زه به کله دا کتاب لولم. د لویو لیکوالانو او شاعرانو د ژوند په اړه معلوماتو به دا را زده کول چې دا لوی کسان له موره نابغه نه وو پیدا دوی د خپل عالي استعداد تر څنګ یو عمر زحمت ایستلی چې دې مقام ته رسېدلي.

هر وخت به مې بابا ته ویل چې کاش زه هم ستا دا ټول کتابونه ولولم او سترګې به مې په الماری کې تر ټولو غټو کتابونو ته نیولې وې. زړه کې به مې ویل، زه به کله دا لولم خو چې کله د مطالعې شوم بیا به مې د بابا په مشوره کتاب انتخاب وه، ځکه هغه به تل ډېره ښه مشوره راکوله. راته ویل به یې چې اول دا کتاب ولوله بیا د دې بل کتاب لوستل درته اسانه کیږي. ما هم همداسې کول د مولانا د کلیات او مثنوي لوستل مې لوی ارمان و. د مولانا کلیات او مثنوی او د فردوسي شاه نامه او داسې نورو غټو کتابونه په لیدو به زما حرص لا زیات شو ما به وې چې اول باید دا غټ کتابونه ولولم چې ژر او ډېره پوهه تر لاسه کړم، خو دا چې د بابا په مشوره مخکې تلم نو باید اول مې څه نور کتابونه لوستلي وای. وخت راغی چې د حضرت مولانا مثنوي مې پیل کړ او مکمل مې ولوست که څه هم زما عمر ډېر کم و ډېر څه به مې ترې نه وي زده کړي خو بیا هم زما هغه هیله او شوق ترسره شو.

له ماشومتوبه تر ننه، ماته تر هر څه لوستل او لیکل د ژوند مهم کارونو دي او زما د ژوند ټولې خوږې خاطرې د کتابونو له لیکلو او لوستلو سره تړلې دي. له ماشومتوبه مې دا عادت دی چې د شپې له خوب مخکې که څه ونه لولم خوب نه راځي. کله چې په کلې کې وم، د شپې به مې چې سر ته راډیو ، کتاب، قلم او کتابچه نه وو ایښي خوب به نه راته. د ماشومتوب ځینې عادتونه ښه وي چې مونږ سره د ژوند تر پایه پاتې شي او له ماشومتوبه له یو څه سره مینه هم همداسې باید د ژوند تر پایه وپالل شي، لکه کتاب لوستل، لکه شعر لیکل.

زه چې اوس ګورمه زما ټولې خویندې له کتاب سره له زده کړو سره بې اندازې مینه لري. دا مینه یې دومره پیاوړې ده چې که څه هم په وطن کې اوس د نجونو د زده کړو ټولې لارې تړلې دي خو زه چې دوی ته ګورم کتابونه یې داسې له ځانه راچاپېر کړي وي، داسې پکې غرقې وي، چې ته به وایې هېڅ هم نه دي شوي.

زمونږ ټولو یو بل عادت دا دی چې که د یو دوه ورځو له پاره هم چیرته تفریح ته ځوو نو حتما یو کتاب له ځان سره اخلو. له کتاب سره مینه او دا هر څه د یوې ښې کورنۍ له برکته مونږ تر لاسه کړي دي. زما لویه هیله دا ده چې زه خپله یو کتابتون ولرم چې د هرې ژبې د ادبیاتو کتابونو پکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسو بلې پوښتنې ته به راشم، نور دوستان او لیکوالان څنګه کولی شي د ماشومانو ماشومه دنیاګی په کتابونو ښکلي کړي؟

بیا به هم راشم خپلې یوې خاطرې ته:

دوه کاله مخکې مې د ماما د لور پینځمه کلیزه وه. ټولو ورته جامې بوټان او نور د لوبو شیان ډالۍ اخیستي وو. ما ورته د نعیمه جانې دوه پښتو کتابونه چې ماشومانو ته کیسې په کې لیکل شوې وې ډالۍ کړل.

تېر کال ژمی مې ماما کره تللې وم. ماما او مېرمن یې راته ویل چې ستا ډالۍ خو دومره ارزښتمنه او قدرمنه ده چې ټوله ورځ زما د لورګانو همدا کتابونه لاس کې وي. د دوی وړې دوه کلنې لور چې لوستل نه شی کولی له مور او پلار یې د کتاب کیسې په یادو زده کړې وې. مور یې ویل چې کتاب راواخلې تصویرونو ته یې ګوري او ماته یې کیسې کوي. ویل یې چې ان خپلو نانځکو ته د کتاب کیسې کوي. نو که غواړو د یو ماشوم ژوند وربدل کړو او بهترینه ډالۍ ورکړو باید کتابونه ورته ولیکو او کتابونه ورته ډالۍ کړو. په مینه یې خبرو ته غوږ شو. پوښتنې یې ورته ځواب کړو او هر ماشوم چې په هره برخه کې استعداد لري په پاللو کې یې ورسره مرسته وکړو.

**ګلالۍ مومند:**
لوستل د ماشومانو په وده کې ډیر مهم رول لوبوي. زما د معلوماتو له مخې که یو ماشوم په کم عمر کې وهڅول شي او مرسته ورسره وشي چې په لوستلو پیل وکړي نو تر ټولو لومړۍ ګټه یې دا ده چې دی په لوستلو راځې او د لغاتو زخیره یې ورځ تر بلې ډیریږي. لوستل د دوی دماغ هڅوي چې فکر وکړي او پوښتنې وکړي. د کیسې لوستل ماشومان هڅوي چې خپل تخیل وکاروي او د تخلیقي فکر کولو مهارتونو ته وده ورکړي. په کم عمر کې د مختلفو موضوعاتو په اړه معلوماتو او نوې پوهې ته لاسرسی وربرابروي، د دوی نړۍ لید پراخوي. په لنډو کې که ووایم، نو لوستل د ماشوم د ټولیز پرمختګ لپاره یوه اړینه حیاتي مسله ده چې وروسته همدا خبرې کولی شي د دوی اکادمیک فعالیت او د ژوند پر مهارتونو باندې مثبته اغیزه ولري. په کم عمر کې د ماشوم لوستلو ته هڅول د دوی په راتلونکې کې یوه ارزښتناکه پانګونه ده. دا د مور او پلار یو له اړینو مسئولیتونو دي چې خپل ماشوم په مینه او خوښۍ د کتاب لوستلو ته وهڅوي او دغه موضوع ته جدي پاملرنه وکړي. په پرمختللې نړۍ کې دې خبرې ته ډیر وخت او اهمیت ورکول کیږي. د ماشومانو لپاره بیلابل امکانات شته چې وهڅول شي خو پیل یې د مور او پلار په مرسته له کوره په تدریجي توګه چې پر ماشوم فشار هم رانه شي او بې له دې چې وپوهیږي یا یې احساس کړي د یو پراسس نه تیریږي او د کتاب لوستلو سره یې مینه پیدا کیږي او زیاتیږي.

**لیمه ودان:**
زه چې ماشومه وم انا جانې به راته د بدري جمالي، ښاپیریانو، دیوانو او نور نکلونه کول. که به یې یو نکل لس ځلې هم وکړ، نه راته بې‌خونده کېده. د هغو نکلونو کرکټرونه مې اوس هم په ذهن کې شته، او د صحنو انځورونه یې تصور کولی شم.

که هغه نکلونه نه وی، ښایي اوس به مې کیسې نه لیکلې.

بابا جان به مې ډېر کله په کتاب لوستلو بوخت لیده، دی لومړی کس و چې الف، ب او دا یې رازده کړل چې قلم څنګه په ګوتو کې ونیسم.

د ژوند لومړي لس کلونه مې په کلي کې تېر کړي. په هغه وخت کې زموږ په زړونو کې لیک او لوست ته دومره مینه پیدا وه، چې ان لوبې مو پرې رنګینې وې، پر هوارو تیږو به مو په سکرو لیکل کول.

کله چې کابل ته راغلو، پلار جان به مې د کیسو کتابونه راته راوړل، اوس یې هم هر انځور زما په ذهن کې شته.

مور جانې مې له ماشومتوبه تر نن ورځې کتاب لوستلو، لیکلو، ژباړې او په نورو برخو کې ډېره هڅولې یم.

که زما د کورنۍ د غړو هڅې او هڅونې نه وی، اوس به تر دې ځایه نه وم رارسېدلې.

دا ښکاره خبره ده، د دې لپاره چې کوچنیان له کتاب او مطالعې سره مینه پیدا کړي، باید د کورنۍ نور غړي په لوستلو ووینې؛ نو که موږ دې حقیقت ته وګورو چې په افغانستان کې ډېرې میندې نالوستې دي، دا خبره سختېږي؛ خو ناشونې هېڅکله نه ده. که یوه مور لوستل نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی، له خپل ماشوم سره خو د کتابونو په انځورونو خبرې کولی شي، درس او کتاب لوستلو ته یې هڅولی شي. دا ټولې چارې شونې دي؛ خو که څوک یې وغواړي.

زموږ د ښوونځي استاد د خپل ژوند برياوې د خپلې مور له برکته ګڼلې، ده به کیسه کوله:

''مور مې د ښوونځي په لومړیو ټولګیو کې د ښونځي درسونو او د نورو کتابونو لوستلو ته ډېر هڅولم. کوم درس به مې چې په ښوونځي کې زده کړی و، په کور کې به یې په وار وار راباندې تکرار کاوه. ډېر کله به داسې هم وه چې ما به په ښوونځي کې درس ښه زده کړی و، همغسې به مې ورته تېر کړ؛ خو هغې به افرین ووایه، او ویل به یې چې څو ځله یې بیا هم ولوله چې ښه سم دې زده شي. زه به حیران شوم چې درس خو مې سم زده کړی، نو بیا یې ولې ولولم. یوه ورځ مې په ښوونځي کې درس سم زده نه شو، مور ته مې وویل چې رازده یې کړي، هغې ټینګار کاوه چې له ځان سره یې کار کړه، زده کېږي دې، خو زه بیا هم شله وم، اخر یې راته وویل چې لیک لوست مې نه دی زده.

د مور د هغې ورځې ډنډ سترګې به مې هېڅکله هېرې نه شي.''

زموږ د استاد مور نالوستې وه؛ خو خپل اولادونه یې له درس او مطالعې سره روږدي کړي وو؛ نو لوستې خو څه چې نالوستې مېرمنې هم باید د خپلو ماشومانو په روزنه کې هڅاندې اوسي.

په دې برخه کې زموږ په ټولنه کې ډېرې ستونزې دي؛ اخر یوه ورځ یې باید د حل هڅې پیل شي، موږ ټول باید په دې برخه کې خپله دنده پر ځای کړو، خپلو ماشومانو ته کتابونه واخلو، ورته ویې لولو او هغوی ورته وهڅوو. خپل ملګري او خپلوان دې ته متوجه کړو چې خپلو ماشومانو ته کتابونه واخلي او ورته ویې لولي.

په پای کې باید ووایم، چې کتاب لوستل د ماشومانو لویه اړتیا ده؛ باید ناغېړي پکې ونه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د فعالیت شپږ میاشتې پوره شوې. په دې موده کې مو لاندې لاسته راوړنې لرلې. هیله او هوډ لرو چې د هرې ورځې په تېرېدو زموږ کلتوري او ادبي فعالیت لا پراخ، پیاوړی، تخصیصي او اغیزناک واوسي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغان ښځو آنلاین ادبي بهیر / راپور (۱۰) / تقوا برهان شکوري

### د ستر ذات په نامه

**نیټه:** ۳۰/۷/۲۰۲۳ میلادي _ ۸/۵/۱۴۰۲ شمسي د غونډې

**ځای:** انلاین

**د غونډې وړاندي کوونکې:** میمونه کامران

**راپور لیکونکې:** تقوا برهان شکوري

**د غونډې ګډونوالې:** ۲۱ تنه

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر غونډه د کابل پر وخت ۵:۳۰ بیل او ۷:۳۰ پاي ته ورسیده. د غونډې اجندا مخکې شریکه شوې وه چې درې برخې یې لرلې:

- د غونډې په لومړۍ برخه کې د لیکوالی پر ورکشاپ خبرې وشوې.
- د غونډې په دوهمه برخه (کره کتنه): د کره کتنې په برخه کې د اغلې کاملې عزیزي پر لنډه کیسه کره کتنه وشوه.
- د غونډې درییمه برخه د تل په څېر مشاعره وه.

**لومړې برخه :** د بهیر د هغو ګډونوالو لپاره چې نوې لیکوالي پیلوي اغلې شفیقه خپلواک د لیکوالی ورکشاپونه پیلوي. دا ورکشاپونه به د بهیر د اوونیزو غونډو څخه په بیل وخت کې تر سره کېږي او درې جلسې به وي.

د دې ورکشاپ له ختمیدو وروسته به کیسه لیکواله اغلې لېمه ودان د لنډو کیسو ورکشاپ پیولې چې د بهیر پینځه اونۍ به دوام کوي او د بهیر په عمومي غونډو کې به وړاندې کېږي.

**دویمه برخه:** د غونډې په دویمه برخه کې د کیسه لیکوالې او شاعرې اغلې کاملې عزیزي پر کیسې "یو ورک لیک" کره کتنه وشوه.

### یو ورک لیک

قبر تیار شو!

د دې غږ وهم مې اوس هم په زړه دی.

نن مې دلته د راتګ اته کاله پوره شوي، خو اولنۍ ورځ مې لا هم هېره نه ده، کله چې یې زما لحد ته وروستۍ خښته کېښوده او د قدمونو

غږونه ورو ورو لرې شول، پرته له دې چې سترګې خلاصې کړم یو بل خواته مې وکتل.

مخامخ راته په تورو کالیو کې یوه ښځه ولاړه وه، په مخ کې یې یوازې زرغونو سترګو ځلا لرله، پرته له دې چې خپل سره غاښونه سره

خلاص کړي، ویې ویل: پخیر راغلې!

له وېرې لړزېدم...

زیاته یې کړه، وېرېږه مه ملګرې دي یم، لږ وخت وروسته به داسې راسره عادت شې چې نه یم وېرېږې به!

تر خبرو یې مهربانه غږ ډاډه کړم...

وجود مې دومره سپک شوی و چې پرته له زحمته په اسانۍ الوتلای شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازدیگر د خپل قبر په یوه وړه ډبره ناسته وم، په هدېره کې د سپېرو قبرونو دوړې الوتې، یو څوک را روان و. لږ وروسته مې مور له وړې خور سره یو ځای راغله، ژړل یې، د قبر تېږي یې سره جنګولې، په چیغو کې یې ویل؛

لورې ته ولې ولاړې! زه له تا پرته په نړۍ کې هیڅوک نه لرم!

نور مې څه و نه لیدل ملګرې مې راوستلې وم، ویل یې تر وخت وروسته د خپګان ګټه څه ده؟ نور دې خوښه!

طاقت نه راته ساعت وروسته بیا پورته شوم، هره خوا تته ښکارېدله، حتی لمر هم ځلا نه لرله!

پام مې شو یو څوک دې خواته رانږدې کېږي...

میئن مې له سرو ګلونو سره یو ځای پر قبر ولوېد، په سترګو کې یې سره رګونه ښکلي ښکارېدل، تر ډېره یې ژړل، ورو یې وویل؛ ولې ولې ولې دې داسې وکړل؟

کاش ته خبره وای! کاش پوهېدلای چې زه د دنیا تر هر انسان ډېره مینه درسره لرم!

تر دې مخکې چې وپوهېږې لاړې!

زه له تا پرته هیڅوک هم نه لرم، یوازې یم بېخي یوازې!

بیا یې زما د قبر په کتبه ولیکل

"تا پخپله بې پروایي له ځان سره نور هم ووژل"

یوخت مې سرته ملګرې ناسته وه، بیا یې په ارام غږ وویل؛ هغو خلکو چې ځان یې وژلی مونږ یو قانون لرو!

حیران مې ور وکتل.

دې زیاته کړه؛

تر مرګ وروسته یې دلته تر اتو کالو او یوې ورځې پورې ساتو، له هغه وروسته یې خوښه چې بېرته نړۍ ته ورځي کنه؟

د حیرانتیا او خوښۍ ګډو احساساتو پسې واخیستم، ځان مې یو ځل بیا له مور سره یو ځای او د میئن تر څنګ له بارانه ډکه کوڅه کې تر یوې چترۍ لاندې ولید.

مګر دلته اته کاله؟ اندېښمنه یې کړم! دې د خیالونو لړۍ را پرې کړه؛

ته به د نن تر لمر لوېدو وروسته ویده شې!

او بیا مې د هغې ورځې اخېره خبر هم واورېده؛

لمر په لوېدو دی!!!

***

نن د هغې ورځې اته کاله او ۱۹ ساعتونه تېر شوي!

سهار به لمر لا تر غره هسک نه و چې سر ته مې ملګرې ولاړه وه، تر دې مخکې چې زه څه وپوښتم ویې ویل؛

اته کاله پوره شول!

ذهن ته مې پخوانی خبرې، ومې پوښتل، ستا خو به هغه وعده هېره نه وي؟ ویې خندل؛ اې د ژوندیو له ډلې خو نه یم! ستا یوه ورځ لا پاتې ده.

زړه مې طاقت نه کاوه پورته وختم، د قبر وړې ډبرې ښوییدلې وې، یوازې خاورې، سپاندې او څو لوېدلې ځایونه ښکارېدل.هوا ډېره ښکلې وه نور مې صبر نه شوای کولای.

څه وخت وروسته د کور مخ ته ورسېدم، د دروازې مخ ته خلک ډېر و مجبوره شوم پر دېوال پورته شم، انګړ له ښځو و نجونو ډک و، نه پوهېدم څه شوي خو له یوې کوټې د ژړا غږ راته شناخته ښکاره شو، ورغلم مور مې ژړل، په چیغو یې ویل؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



لورې زه له تا پرته هیڅوک نه لرم پر تا مې زړه روښانه دی!

له بلې کوټې د څو نجونو تر منځ یو دنګه نجلۍ را ووتله، ومې نه پېژندله، خو وېښته او سترګې یې زما کشرۍ خور ته ورته و، د ناوې په کالیو کې ښکلې ښکارېده!

له کوره ووتم! د مور وروستیو خبرو مې په ذهن تیاره خپره کړې وه، زه دلته نوره هېره وم.

یو بل ځای لاړم، د میئن کره مې!

ورغلم د دروازې مخې ته موټر ولاړ و، په کور کې د ګلابونو خوږ بوی لګېده، دهلیز ته ورغلم، زړه مې ولړزېد، هغه یوې بل خوا ته په نا ارامۍ قدم واهه ورته ومې کتل، خاص د پخوا غوندې و، هیڅ بدلون یې په څېره کې نه ښکارېده یوازې په خرمایي وېښتانو کې به یې څو سپین وېښته لکه د وریځو په ترورږمۍ کې د برېښنا غوندې کله کله وځلېدل.

د یوې کوټې له دوازې ورې نجلۍ ور منډه کړه.

دی تېټ شو په خندا یې ورته وویل؛

شېرۍ کلنه شوې خو لا هم چپ او ښی بوټ نه پېژنې!

ورې نجلۍ ته مې وکتل، خرمایي وېښتو یې خړې سترګې چې کټ مټ ده ته ورته وې نیمې یې پټې کړې وې، مګر پوزه یې لوړه او شونډې یې نرۍ وې.

هغه ناره کړه؛ ډېر ناوخته دی! شاید زموږ تر ورتګه مېلمانه هم لاړ شي!

د هماغې کوټې په وره کې یوه د مناسب قد ښځه ودرېده، سم له واره یې وویل؛ وګوره ستا د ډالۍ کالي؟

ـخدای ستا ښایست له تا پرته په هیچا کې هم نه دی خلق کړی.

ـ هی دروغجنه!

ـ قسم کوم ځکه خو زه د دنیا تر هر انسان ډېره مینه درسره لرم!

شاید ښځې رښتیا ویل یا ښایي زما کرکه وه چې سترګې یې بې ډوله او بانه یې له څو ګامه لرې نه مالومېدل، مګر شونډې او پوزه یې کټ مټ ورې نجلۍ ته ورته و...

***

نن تر لمر راختو مخکې زه د تل لپاره ویده کېږم، دا لیک د هدیرې تر څنګ لار کې په دې هیله ږدم چې ښایي یو لاروی مې د کتبې لیکنه پاکه کړي.

19/7/2034

چهارشنبه

AM12:33

پای

**د کره کتنې په برخه کې ګلالۍ مومند،** کاملې جاني ته د مبارکي په پار وویل چې کیسه ډېره ښکلې ده او سمبولیک تصویرونه لري. جملې یې داسې ترکیب شوي لکه لوستونکی چې هغه ځایونه په سترګو ویني. هغې وویل چې په کیسه کې مې دا جمله ډېره خوښه شوه: «څه وخت وروسته د کور مخ ته ورسېدم، د دروازې مخ ته خلک ډېر و مجبوره شوم پر دېوال پورته شم»

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استادې نعیمي غني** وویل:

د ژوند دا فلسفه چې ژوند یو سفر دی په کیسه کې ډېره ښه تشریح شوې. که دا سفر هر ډول وي موږ ورو ورو ځان ورسره عادت کوو او د سفر مسیر د ځان لپاره خوندور یا هم د تحمل وړ گرځوو.

انسان که هر څومره هم قوي حافظه ولري خو بیا هم هیرونکی دی او د وخت په تېرېدو سره هیرول د انساني حافظې کار دی، بلکې کمال یې هم دی چې ورسره کولای شي په اسانی سره راتلونکی ومني او په ژوند کې پر مخ ولاړ شي. دا ډول هېرول د هر سالم انسان نښې دي چې تېر به پرېږدي او په اوس کې به ژوند کوي او راتلونکي ته د تگ په تیاری کې وي.

د کیسې د پیل جمله ډېره دقیقه او اپښونکې راغلې:

« قبر تیار شو»

«د دې غږ وهم مې اوس هم په زړه دی»

دا جمله مو وار د واره د مرگ او هدېرې صحنې ته بیایي.

همدارنگه په کیسه کې ځینې تصویرونه ډېر رښتوني او روښانه دي لکه:

د مرگ تصویر په دې جمله کې:

«««وجود مې دومره سپک شو چې پرته له زحمته په اسانۍ الوتلی شوی

یا هم دا ښایسته تصویر چې وایي:

په سترگو کې یې سره رگونه ښکلي ښکارېدل» »

همدارنگه د نجلۍ د څېرې ورته والی له مور او پلار سره هم ښایسته تصوېر شوې.

په مکالمو کې ځینې نورې ښکلي جملې وې چې لوستونکی ورسره اشنا حس پیدا کوي او د ژوند له رښتینو مکالمو را اخیستل شوې دي. لکه کلنه شوې خو لا هم ښی او چپه بوټ نه پیژني.

یا هم ښځه چې مېړه ته د خپل صفت په مقابل کې وایي.

«هی درغجنه»

ښه به وای که دا ډول جملې په کیسه کې ډېرې وی.

همدارنگه ځینې خبرې وې چې په کیسه کې غواړم ورته تم شم:

یوه خبره دا وه چې د یوې لوستونکې په توگه زه دې حالت اپنه یا هم حیرانه نه کړم که څه هم د کیسې پیغام روښانه وو خو د لوستونکې په توگه دې پیغام زما په فکر کې څه رابدل نکړل او دا راته د ژوند یو عادي حالت ښکاره شو چې پس له مرگه دې انسانان هېر شي.

مکالمې په کې ساده وې او تصویرونه یې ډېر روښانه نه وو.

همدارنگه دا چې لیکوالې په کیسې کې د اته کالو وروسته د مړې نجلۍ/ ښځې ژوندي کول په څه دلیل غوښتل؟

په ټولو کې عالي کیسه ده چې لوستونکی تر اخره له ځان سره ساتي.

**ډاکترې شریفې شریف** په خپله تبصره کې کیسه عالي یاده کړه او د کیسې موضوع یې نوې وبلله. هغې د نعیمي جانې د خبرو په تایید دا جمله چې «ورو ورو د قدمونو غږ اورېدل کیده» یوه انځوریزه جمله وبلله چې لوستونکی صحنې ته بیایي. هغې زیاته کړه کیسه هغه ده چې لوستونکی خوند ترې واخلي او دا یې وظیفه نده چې د مقالې په څېر دې د لوستونکي فکر بدل کړي. میرمن شریف دا موضوع چې یو راوي د خپل مرگ په اړه لیکل کوي په پښتو لیکنو کې نوې موضوع وبلله. هغې وویل چې دې ته په نړیوالو ادبیاتو کې د میتافکشن اصطلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاروي. هغې همدا راز وویل چې په کیسه کې ژوند ته ورتګ هم ډېر ښکلی انځور شوی کله چې راوي وایي چې دروازه بنده وه او زه په دیوال وروختم. دا تصویر زما په ذهن کې وار له واره مجسم شو. په دې اړه چې ولې راویي ته اته کاله وخت ورکول شوی تر څو بیرته راژوندی شي نو دا ماته هیڅ پوښتنه پارونکی نه وو او ماته کیسه په ټولو کې ډېره جالبه او له نویو خبرو ډکه وه.

دې کیسې کې د مور او میین د احساساتو تکراری بیان ، همدا په ژبه او بیان کې بې مسوولیتي او مبالغه ده. خواله رسنیو کې دا د مبالغې ډک صفتونه ډېر دي. دلته هم مور او میین راوي ته دروغ ندي ویلي، بلکې مبالغه یې کړې ده.

خو مبالغه بیا په دروغو بدلېږي. د دویم کرکتر خبره چې وایي زه په ژوندیو کې نه یم چې دروغ ووایم، زما په اند همدو مبالغو ته اشاره ده. همدارنګه هغې وویل چې له مرګ وروسته د راوي ملګرې په تورو جامو کې ده چې سره غاښونه لري، دا تصویر ډارونکی دی خو بیا دا کس مهربانه ده چې دا تضاد ماته د پوهاوي وړ نه وو.

**لیمې ودان وویل:** په لنډه کیسه کې لوستونکی قاضي دی او لیکوال باید په کافي اندازه شواهد وړاندې کړي تر څو قاضي ته قناعت ورکړي. ما چې له دې کیسې څخه برداشت واخیست هغه دا و چې لیکوالې د کیسې د پیغام لپاره د یوه پر ځای دوه دلیله وړاندې کړي چې له مرګه وروسته هر څوک هیریږي.

همدارنګه د کیسې ژبه په ځینو برخو کې ژورنالیستیکه شوې ده، د بېلګې په ډول:« زیاته یې کړه.» چې ښه به وو په ځای یې لیکل شوي وی « وې ویل» یا د «یو بل خوا یې وکتل» په ځای که ولیکي «یوې بلې خوا ته یې وکتل» ډېر به ښه وی.

بله خبره دا چې په کیسه کې راوي ولې د ځان وژلو هڅه کړې، لامل یې څه و، دا ندي واضع شوي.

وروسته **خلا نور** د کیسې د پیغام په اړه وویل چې ډېر عالي و. ځان وژل حرام دي مګر بیا هم راوي ځان وژنه کوي چې لامل یې څه کیداي شي؟ دلته یې د مور او میین ډېره ښه تشبیه راوړې ده. کله چې یې خور ودېرې مور یې داسې ورته وایي لکه څنګه چې یې دې ته د مرګ وروسته ویلي وو. له دې څخه دا پیغام اخیستي شو چې د لور ودیده هم د مور لپاره د مرګ نه کم ندي.

همدارنګه د راوي، د میین دروغ زما لپاره ډېر جالب و او کله چې وروسته هغه د خپلې ښځې صفت کاوه نو ما داسې انګیرله چې دا به هم دروغ وي.

**ځولي لمن** هم د کیسې پیغام ته تم شوه او ویې وویل: موږ تل په ژوند کې داسې فیصلې کوو چې په پایله یې فکر نه کوو. هغه که روابط وي یا هم له یوه ځایه تګ وي. که چیرې دې نجلې دا فکر کړی وای چې که زه نه یم هم به د مور هیریږم هم به د میین او نتیجه به یې زما هیرول وي نو دې به هیڅ کله ځان وژنه نه وای کړې.

**منزه غفورزی** د کیسې په هکله وویل: کیسه ډېره ښه وه. ښه پیغام یې درلود خو دا چې د ځان وژنې لامل نه و روښانه شوی زه فکر کوم داسې کوم دلیل یې نه درلود چې د دې دا کار دې توجیه کړي، کنه نو هرومرو به یې د مور یا میین په مکالمو کې یاد شوی و.

ځیني وخت انسان د خپلې کورنی او نږدې خپلو لخوا له بې تفاوتی سره مخ کېږي چې له امله یې هغه کس فکر کوي هېچاته ارزښت نلري او له ټولو هېر/هېره ده، نو د دې لپاره چې هم د دې سلوک بدل واخلي او هم د ټولو پام ځانته واړوي داسې غلط قدم پورته کوي. دا دلیل به څکه سم وي چې وروسته له مړینې یې د هېرېدو موضوع باندې ډېر تمرکز هم شوی. نجلی چې هر ځای ته تللې له داسې یوې صحنې او مکالمې سره مخ شوې چې ښودل شوي ددې نشتون هم بې تفاوته ده ټولو ته، او ددې دومره لویې قرباني هم دا نده مهمه کړې، دا بیا هم له ټولو هېره ده، او کار یې بې ګټې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د **معصومه عزیزي** نظر دا و چې:هغوی چې د هېرولو شک وربانديې کېږي ممکن تر هغو کسانو ډېر وځورېږي چې د نه هېرېدو هیله لري چې دې موضوع ته په کیسه کې پام نه دی شوی.

موږ ته پکار ده چې په دې اړه هم لیکل وکړو.

بل په کیسه کې د ځان وژني لامل نه یادېدل د کیسي ښه والی دی، ځکه د ښه هنر ځانګړتیا دا ده چې موږ فکر کولو ته وهڅوي. په کیسه کې د اتو کالو ذکر ممکن له هغې عقیدې سره ارتباط ولري، هغه کسان چې ځان ووژني اته خونه یې په غاړه دي، نو دلته شاید هر کال د یو خون اندازه وي.

**آمنې عزیزي وویل:** د کیسي د انځورونو په اړه وویل په دغه کیسه کې انځورونه ډېه عالي ده، یوه بریالی کیسه هغه ده چې راوي یې خپل انځور بیان نه کړي او په انځورونو پیل نه شي بلکې د کرېکټر په خبرو پیل شي او کرېکټر په خپلو خبرو کې انځورونه وړاندې کړي. بل د کیسي دوه اړخونه زما لپاره په زړه پورې وو، یو دا چې انسان څومره د نورو له خوا خپل ځان ته په ارزښت ورکولو خوشالیږي او څومره ډېر غواړي چې تل د نورو په یاد وي. بل په کیسه کې د هېرولو اړخ دی، چې نجلی فکر کوي له ټولو مهمو خلکو یې هېره شوې حالانکه له اتو کلونو وروسته هم د دې قبر ته یې کورنی، ملګرې او مېین راځي، خو که موږ او تاسو وګورو نو هر انسان له مړه کېدو وروسته یوازې دوه/درې کاله د ټولو په یاد وي له هغې وروسته هر څوک په خپلو سرګردانیو کې دومره اخته کیږي چې د مړ انسان په یاد راوړل هم ترې هېر وي، خو دلته نجلې وروسته له اتو کلونو هم د ټولو په یاد ده او د دې له پاسه هم فکر کوي چې نه هېره شوې ده. خو اصل کې که موږ پوه شو چې له مرګ وروسته دومره زر هېرېږو او څوک به مو د دومره اوږدې لپاره یاد نه کړي نو هېڅکله به په خپل مرګ راضي نه شو. زما لپاره د هېرولو خبره ډېره جدي او حساسه ده ځکه په دې ټوله کیسه کې ما ته دغې مورد خوند راکړی.

ور پسې **شفیقې خپلواک** د کیسي د ماهیت په اړه وویل چې ډېر نوی و، جالبه دا ده چې مړي خپله کیسه خپله کوي او دا ډېر ورته جالبه وو چې لیک لیکي او بیا یې د ژوند له نوي اړخ سره یو ځای کوي.

هغې زیاته کړه چې د هغې په نظر دا ظلم یا هم یو ډول ځانغوښتنه ده چې یو څوک دې تل وغواړي چې کلونه کلونه دې له چا هیر نشي، ځکه د ژوند هره ورځ نوي کیږي هر څه بدلون مومي او موږ باید له چا دا طمع ونلرو چې هیر مو نکړي. مور دې مو نه هیروي مېین دې مو دې نه هیره وي او د پای تاریخ یې کیسي ته ور کړي دا ډېر جالب و.

شفیقې خپلواک زیاته کړه: په یوه ورکشاپ کې مې له نامتو لیکوال هاروکی موراکامي څخه د هغه د یوې کیسي د یوه انځور په اړه وپوښتل نو هغه مې په ځواب کې وویل چې دا لوستونکی دی چې دومره په کیسه فکر کوي، ما چې کله کیسه لیکله نو دومره په جزیاتو مې یې فکر نه وو کړی. د لیکوال دا ځواب ماته سم ښکاره نشو خو وروسته مې له میرمن شریف سره په بحث کې له هغې دا وارېدل چې لیکوال اړ ندی د هرې پېښې او انځور په اړه دې توضیح ولري.

د کره کتنې په پای کې **کاملې عزیزي** پوښتنو ته ځوابونه وویل: دا چې تورو کالیو کې یوه ښځه راځي چې مخ کې یې یوازې زرغوني سترګې ځلا کوي، له دې څخه یې هدف دا و چې تل ښه او مهربانه خلک سپین لباس او ښکلي څهري نه لري. داسې تورې څېرې او جامې لرونکې ښځې(انسانان) هم مهربانه کیدای شي. هغې د ټولو له نظرونو څخه مننه وکړه او وې ویل چې په دې کره کتنه کې یې د کیسي ډېر داسې اړخونه چې دا هم نه پرې پوهېده ورته روښانه شول.

د غونډې په پای کې د ګډونوالو لخوا **مشاعره** تر سره شوه چې هرې یوې، **ګلالۍ مومند، امنه فنا، شفیقې خپلواک، نعیمې غني، منزه غفوري، میمونه کامران، تقوا برهان شکوري، ځلا نور، معصومې عزیزي** په کې شعرونه ولوستل او له دې سره غونډه په ټاکلي وخت پای ده ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library





## ښکلا نور

" د سینوهه له کتاب نه مې هغه څه زده کړل چې کورنۍ مې نه وو راته ښودلي او ځیني وختونه به مې په خپلو خبرو کې د سینوهه مثال ورکاوه. یو ورځ په بام کې ناسته وم، د سینوهه ناول وروستۍ برخه مې لوسته، ماښام و، هوا ورو ورو تیاره کېده، د ناول وروستۍ جملې مې په سختۍ ولوستې. د سینوهه کتاب مې بند کړ دلته هم د طبس په څېر ښایسته شمال و. که څه هم مور مې د بام نه له سیل کولو منعه کړې وم خو بیا مې هم په ټیکري باندې مخ پټ کړ او مخامخ غره ته مې وکتل په تک تور غره باندې د افغانستان نوم روښان ښکاریده، نري باد به کله کله د ونو ښاخونه وخوځول د سړک ننداره خو لا ښکلې وه. موټرونه واړه ښکاریدل. د سینوهه کتاب مې لا په لاس کې و. کیناستم کتابچه او قلم مې راواخیستل د لیټر تتې رڼا ته مې د احساس په نوم لیکنه وکړه."

د افغان ښځو انلاین ادبي بهیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لیکوالي روزنېز ورکشاپ (۱) / څانګه بهشتي

**نېټه:** دوشنبه، ۹/۵/۱۴۰۲ لمریز کال، ۳۱/۷/۲۰۲۳م

**ځای:** آنلاین

**وړاندې کوونکې:** شفیقه خپلواک

**وخت:** د کابل د ماښام ۵نیمې

**تعداد:** 24 تنه

**راپور او ترتیب:** څانګه بهشتي

**موضوعات:**

- ځانته سفر وکړئ !
- دري هغه شیان چې لیکوالی ته مو هڅوي
- زه یې کولای شم!
- آیا لیکل زده کیدای شي؟
- له کومه یې پیل کړو؟
- د لیکلو دایره

د افغان ښځو آنلاین ادبي بهیر د هغو بهیروالو لپاره چې غوښتل یې لیکوالي په ښه توګه زده کړي یا یې نوې پیل کړې وي، درې ورځینی انلاین ورکشاپ چمتو کړی. دا ورکشاپ به هره دوشنبه د کابل د ماښام پنځه نیمې بجې پیلیږي او دوه ساعته به دوام کوي.
د دې لړۍ لومړی ورکشاپ تېره دوشنبه ترسره شو. په دې ورکشاپ کې د لیکوالي پر مختلفو موضوعاتو پریزنتیشن آغلې شفیقه خپلواک وړاندې کړ.

ددې ورکشاپ ونډه اخیستونکو عملي او ګروپي کارونه ترسره کړل او پریزنتیشن په سکرین له نورو سره شریک شوی و.

دا ورکشاپ په دې موخه جوړ شوی و چې تر پایه یې ګډونوالې وکولی شي د لیکلو مهارتونه زده یا هم غښتلي کړي. د لومړي ورکشاپ تمرکز ډېر پر دې و چې د لیکوالي په برخه کې خپلې وړتیاوې، علاقه او ځان ومومو.

«په جهان مې څه پروا ، لاس کې لاس لرمه ستا

ستا پوښتنه مې علاج ، ستا خبرې مې دوا »

د پوره ډاډ، سکون او صمیمیت احساسولو لپاره دا ورکشاپ په دې ښکلې سندرې پیل شو. د دې سندرې په پای ته رسیدو سره آغلې شفیقه خپلواک په ډېره حوصله مندۍ او صمیمیت سره خپل پریزنتیشن د (ارنسټ همینګوې) په دې خبره پیل کړ: « اندېښنه مکوئ ، تاسې مخکې هم لیکلي او له دې وروسته به یې هم ولیکئ.»

### ځانته سفر وکړئ!

وروسته یې له ټولو ګډون والو هیله وکړه چې د څو شیبو لپاره (ځانته سفر وکړي)، پرته له دې چې د چا، یا کوم څه په هکله فکر وکړي. سترګې مو پټې کړئ. په هر هغه ځای کې چې تاسو ځان راحته احساسوئ په فکر کې راولئ او یوه اوږده ساه واخلئ. ربښتیا هم ډېر ښکلی سفر مو تجربه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درې هغه شیان چې لیکلو ته مو هڅوي:**

ځانته له سفر وروسته، په دې پریزنتیشن کې په پر بل عنوان (درې داسې شیان در یاد کړئ چې لیکلو ته مو هڅوي) کار وشو. هرې ګډون والې درې هغه انګیزې له ځانه سره یاداښت کړې چې هغوی لیکلو ته هڅوي. ګډونوالو په وار سره خپل درې دلایل بیان کړل، چاته طبیعت الهام ورکاوه. څوک وطن او خلکو هڅولې، چا هم اوسني حالات داسې ګڼل چې مجبوروي یې لیکل وکړي. ځینو د خپل روح د ارامتیا لپاره لیکوالي اړینه بلله.

وروسته پر دغو انګیزو شفیقې خپله وینا د (ټوني مورسن) له دې لیکنې ( که داسې یو کتاب وي چې ته یې غواړې ولولې خو تر اوسه نه وي لیکل شوی نو ته یې باید پخپله ولیکې.) سره وویل: ممکن بېلابېل شیان وي چې د لیکلو انګېزه راکړي، خو لیکوالي علاقه، حوصله او ریاضت هم غواړي. د دې ترڅنګ مهمه ده چې پر ځان باور وکړو او په بیا، بیا ځانته ووایو چې «زه یې لیکلی شم» او پیل یې کړو. تر ټولو اسانه لار یې د ورځنیو خاطراتو لیکل دي. دا مونږ سره مرسته کوي چې لیکوالی کې بر لاسي شو، تمرین وکړو، او نسبتا تر بلې موضوع یې لیکل اسانه دي.

**زه یې لیکلای شم!**

په دې برخه کې د ګډون والو لپاره دا پوښتنه مطرح شوه، «نن ورځ مو څنګه پیل شوه؟ څه مو وکړل ؟څه مو واوریدل؟ څه مو وویل ؟ څه مو وخوړل ؟ » وروسته له ګډون والو وغوښتل شول چې هره یوه دې پوښتنو ته په ځواب کې یو یا دوه پرګرافونه ولیکي. د نننۍ ورځې تر دې دمه فعالیتونو ټول ولیکي او ددې لیکنې لپاره لس دقیقی وخت وټاکل شو. له لسو دقیقو وروسته هرې ګډون والې، چا لنډ چا اوږده پراګرافونه وړاندې کړل. ځینو یې متن شریک کړ، او ځینو هم ولوستل. پر دې بیا مفصل بحث وشو او دې ته اشاره وشوه چې د هر چا د لیکوالي طرز، لیدلوری او نثر متفاوت دی. ځینې وخت جزییات او مشخصې خبرې لیکل مهم وي، خو کله کله ډېرېږي او پر لوستونکو غمېږي. پر دې پوهېدل مهم دي چې کوم معلومات او په څه ډول یې له نورو سره شریکوو.

**آیا لیکل زده کیدای شي؟**

هو!

بلکل زده کیدای شفیقه خپلواک د خپل پریزنتیشن په دوام کې څو مهمو ټکیو ته اشاره وکړه :

لیکوالي لکه نور هنرونه، مهارتونه او مسلکونه زده کیدلی شي. مثلا انځورګري چې شروع یې د پنسل له رسم نه کېږي، وروسته څوک دا پیاوړتیا مومي چې رنګونه وکاروي. د ښې انځورګري کول هم ځینې تخنکیونه لري، چې د استعداد تر څنګ د یوې عالي نقاشې په تولید کې مرسته کوي. که ډېر کله تاسې نېوهېږي څنګه خپله لیکنه پیل کړئ، ځینې خلک یې دا لارې وړاندیزوي:

1. کله چې لیکنه کوئ نو د لیکنې لومړنۍ جمله یا د پیل خبره عمومي پیل کړئ، یعنې داسې یوه جمله ولیکئ چې ستاسو د لیکنې له موضوع سره تړاو ولري، بیا کولی شئ ورو، ورو مشخصې خبرې ولیکئ او یا هم نور مثالونه وړاندې کړئ.
2. کله، کله کولی شئ خپله لیکنه په یوې جالبې کیسې، خاطرې ، شعر یا وینا که مو خپله وي یا د بل چا پیل کړئ. داسې لوستونکي لوستلو ته هڅېږي، خو دا باید داسې څه وي چې ستاسو له بحث سره پوره ارتباط ولري.
3. په لیکنې کې مو له دقت کار واخلئ. جزییاتو ته پام کوئ. عمومي ځواب مه لیکئ.
4. هر کله چې لیکنه کوئ نو مهمه نده چې په ځان زور یا فشار راولئ یا حتما د یو ځانګړي موضوع په هکله لیکنه وکړئ بلکه هر څه چې ستاسو ذهن کې وي هغه ولیکئ. په هره لهجه چې تاسو راحته یاست ولیکئ. ځکه د لیکنې جملې چې هر څومره ساده ولیکل شي هغومره لوستونکی قانع کولای شي. او ددې تر څنګ د هر لیکونکي د لیکلو انداز توپیر کوي ځینې لیکوالان کولای شي په خپلو لیکنو کې تصویر یا انځور ترسیم کړي او ډېر په ساد ګی سره کولای شي تصویري جملې ولیکي خو ځینې غواړي یوازې ژر خپله خبره وکړي. او د دې مثالونه ستاسې په پاګرافونو کې و چې اوس مو ولیکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې تاسو ليکنه پيل کوئ په نورو فکر مه کوئ. يوازې خپل ځانته او خپلې ليکنې ته پام وکړئ. په پوره توګه د ازادۍ احساس وکړئ، په هيڅ شي قضاوت مه کوئ.

د ورکشاپ په بله برخه کې د ليکنو په درېو برخو بحث وشو چې د ليکوالي دايره وبلله شوه. ( پروسه، رابطه او پايلې).

**پروسه**
د هر چا د ليکلو پروسه متفاوته ده. په دې ورکشاپ کې مونږ د ډېرو ګډون والو د ليکنې په انګيزو وغږېدو چې هماغه انګيزې يو له هغو پروسو څخه دي چې ولې ليکنې کوو. په دې برخه کې ځينو ګډونوالو د خپلو ليکلو پروسې په لنډو بيان کړه.

ما (ځانګې بهشتي) ته د يوازيتوب څنګ، د خاموشۍ ژبه او د مبايل د نوټ پاڼه هغه څه دي چې زما د ليکنې د پيل سبب ګرځي. کله کله چې مبايل را اخلم نو لومړی څه چې د مبايل له خلاصيدو وروسته کوم هغه د مبايل د نوت د پاڼې کتل دي. دا مې دې ته هڅوي چې يو څه را ګوښه شم اوله دې سره  د خاموشۍ ژبه راته ګويا شي د ذهن الهامونه مې په ليکنو راشي.

فاطمې اعظم هم وويل چې په يوازيتوب کې ښه ليکل کولای شي. دا خپله مشخصه کتابچه او قلم لري، ژوره ساه اخلي، او ذهن يوازې د کتاچې مخته سپاري.

د کاملې عزيزي د ذهن پردې په تياره کوټه کې راوېښېږي، له ويدو کېدو په چوپتيا کې فکر کوي او په موبايل کې په راحتۍ ليکل کوي.

هېنداري پژواک بيا ويل چې له موبايل نه کتابچې ته ترجيح ورکوي. له اووم ټولګي ليکل کوي او اوس يې ډېر جزيياتو ته پام کېږي. د ملالې کليوالې نظر بيا دا و چې، «زما ذهن د شپې ډير فعاله وي نسبت ورځ ته ، شپه کې ليکل کوم ، زما ليکنه موسمونو پورې هم اړه لري ، د خزان موسم کې يو ډول ليکل کوم د ژمي موسم کې بل ډول او اوړي کې بل ډول ، زياتره وخت په ژمي کې ليکنه کوم ، د منې په موسم کې تراژيدي ليکنې کوم، د ليکلو حالات مې فرق کوي کله کله مې په خوب کې هم شعر ليکلی وي  او چې کله راويښه شم نو ځينې مې په ياد وي ځينې مې هير شوي وي خو ډير ښه ليکل رانه شوی وي.»

امنې عزيزي ته يې ماشومتوب ورياد شو چې د کورس ښوونکي به په زور ليکل پرې کول خو دې به نشوای کولی. اوس تر هغه هم ښه ليکل کولی شي خو د انګيزې لپاره د خپل استاد مديونه ده. دا چې ليکل کوي ګرځي، هوا بدلوي. او کله، کله بايد خپل ځای هم بدل کړي.

**له ليکوالي سره رابطه**

له ليکوالي سره مو رابطه څه ډول تعريفوئ ؟

ډار لرئ او فکر کوئ ښه ليکنه نشي کولای؟

په ليکلو کې نهايت راحته ياست او له زړه يې ليکئ؟

ځان کمزوری احساسوئ ، غواړئ خو يې نشي پيلولای؟

يوازې پام غلطوئ او نور ليکل درته جدي نه دي؟

په ورکشاپ کې وويل شول چې که تاسې ډار لرئ چې ښې ليکنې نشئ کولی د دې حللارې شته. د خپلو خاطراتو ليکل پيل کړئ. هر څه چې ذهن ته درځي هغه وليکئ. که د کاغذ له مخ ويره لرئ نو ريکارډ يې کړئ. هر څه چې ليکئ نو د هغه ليکنې مربوط هر څه چې مو په ذهن کې وو نوټ يې کړئ. کوم عنوان کوم نوم يا هر څه چې مو ذهن ته درځي ياداښت يې کړئ. ځان چيلينج کړئ . که تاسو ليکنې ته زړه نشئ کولای نو داسې يو څه وکړئ چې ليکنې ته وهڅيږئ. که د پخوا په څير ليکنه نشئ کولای نو د ليکنې فارمټ مو بدل کړئ. د ليکنې انګيزې مو بدلې کړئ. له وړو وړو جملو ليکنه پيل کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پایله**

له پایلې څخه مرام دا دی چې څه غواړئ تر لاسه کړئ؟

ستاسو مرام او مقصد د ستاسو له لیکنې څخه څه دی؟ نو تاسو باید یو هدف ځانته ټاکلی وي که هغه هر څه وي وواياست غواړئ څه هدف ته ورسیږئ، او راتلونکي کې څه شی واوسئ.

غواړم د خلاقیت پنځوني وکړم

ښه کره کتونکي اوسم

ښه مقالې او کالمونه ولیکم

یا مهمه نده چې کومه خوا ځم یوازې غواړم د زړه خبرې وکړم .

ورکشاپ کې یادونه وشوه چې لیکل لکه سمندر داسې دي، که له چا سره فکر نه وي چې ساحل ته ورسیږم نو ورکیږي. مهمه نه ده چې کوم ساحل ته رسیږئ خو دا ضرور ده چې د دې خیال ولرئ چې یوې غاړې ته غواړئ پورې وځئ.

**د ورکشاپ پای**

د ننې ورکشاپ په هکله د ټولو ګډون والو نظریات وپوښتل شول د نویو پیشنهادونو غوښتنه وشوه چې ځینو له ننې ورکشاپ څخه د خوښی څرګندونه وکړه او ډیرو بیا دداسې نورو ورکشاپونو غوښتنې وکړې. له ګډون والو وغوښتل شول چې راتلونکي ورکشاپ ته د دې اوونۍ خاطرې یا ژورنال ولیکي. او په پای کې ورکشاپ د سلویا پلت په دې جملې پای ته ورسیده: پرې مې ږده ژوند وکړم ، مینه وکړم او دا هر څه په ښایسته کلمو ولیکم .

## زما لیکوالي او ښپلاښپلې پروسې يې! / امنه عزيزي

زما لیکوالي او ښپلاښپلې پروسې يې!

که د انسان خلقت ته فکر وکړو نو ټول انسانان یو ډول نه دي پیدا شوي. لکه: ټول انسانان لوستي نه دي، ټول ملایان نه دي، ټول شاعران او لیکوالان او انځورګران، عکاسان یا هنرمندان نه دي.

همداسې د انسانانو فطرت او طبیعت هم له یو بله جلا دی.ځيني يي ډېر نازک، ظریف او حساس دي، ځيني يي ډېر سخت دي او په اسانی د اغیز لاندې نه راځي.

هغوی چې ډېر نازک او حساس دي، په چاپېریال او طبیعت کې يي ډېرې لويې او وړې پېښې، بدلونونه او غیرګونونه حساسیت ته ګوتې ور وړي او راپاروي يي. هغه بیا د دې لامل کیږي چې یادو پېښو او بدلونونو ته د خپلو حساسیتونو ځواب په شعر، لیک، عکس، رسامی یا په یو بل هنر ورکړي.

ما ته مې ملګرو تېره شپه پیغام وکه چې موږ ته پښتو نثر لیکل را زده که.یوه چې ډېره ښه عکاسي کوي، ور نه مې وپوښتل؛ که ته د ورځې په لړ کې حتی د څو شېبو لپاره هم ښه احساس ولرې څه کوې؟

ویل عکس اخلم او ما ته خپله الهام کیږي چې له دغه زاویې داسې عکس واخله.

مال ګوره ستا هنر ښه عکس اخیستل دي، خو زه ښه عکس نه شم اخیستی.همداسې ته به ښه نثر نه شې لیکلی، خو ښه عکس اخیستی شې. بیا مې ورته وویل هر کله چې دې عکس واخیست، له هغې وروسته پر عکس له څو زاویو تصبره وکړه، هغه خپل احساسات چې له عکس اخیستو دې مخکې لرل یا يي وروسته لرې؛ ولیکه، کېدی شي د ښه نثر لیکلو هنر هم ولرې او که يي ونه لرې زده به يي کړې.
راځم د خپلې لیکوالی طرز او پروسو ته. د نورو لیکوالانو په پرتله زما لپاره لیکل جلا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ډېره نازکه او حساس طبیعتي نجلۍ یم. په چاپېریال او طبیعت کې ډېرې ورې پېښې، چلندونه او بدلونونه زما حساسیتونو ته ګوتې ور وړي. هر کله چې دغو پېښو او بدلونونو زما له پنځو حواسو یو یې هم لمس او متحرک کړو زه بیا لیکل کولی شم.
زما په شاوخوا کې ډېرو وړو مسایلو ته پام کیږي. هر څه چې په لومړي ځل ښه یا بد حس راکړي یا کوم نوی حس راکړي چې ما کله نه وي تجربه کړی، هغه ما ته د لیکلو لپاره سوژه ده.

تر ډېره په طبیعت کې غیر ژوندي شیان ما ته جالب وي او زه هغوی ته د ژوندیو په څېر انعکاس او ارزښت ورکوم. لکه: باد، خاوره، اوبه، د ونو پاڼې، د باران د څاڅکو غږ، تیږې، خوږ بوی او... .

کله چې یو سوژه راته پیدا وي او غواړم لیکل پرې وکړم، په خپله خونه یا د کور په انګړ کې له طبیعت سره نږدې قدم وهم، د سوژې اړوند خپل احساسات او د زړه خبرې ځان ته په لوړ غږ وایم، ځان یې په جزییاتو قانع کوم او له هغې وروسته یې په مبایل کې لیکم. ځکه کمپیوټر ته کېناستل زما ذهن خوروي.

نه شم کولی لیکلو لپاره مې حواس او فکر راټول کړم.

او ځینې وختونه له ما هم سوژه ورک کیږي یا د ډېرو لیکوالانو په څېر له جام حالت سره مخ کیږم، ښایي اکثر لیکوالان کتاب ته وخت ورکړي. مطالعه وکړي چې یو نوې سوژه یا یو نوی فکر د لیکلو لپاره ورته پیدا شي او یا د کتاب مسایل خپله بحث کړي. ځینې سفر کوي، ځینې موسیقي اوري یا په یو بل کار ځان بوختوي.

خو زما لپاره سفر سوژې راکوي. کله چې زه له کور د ډېر لنډ واټن لپاره هم وځم ما ته سوژه پیدا کیږي یا یو نوی فکر راته راځي. خو اوس تر ډېره د کور چاپېریال او طبیعت زما لپاره تکراري شوی او کوم لیکل چې ما باید کړي وو، هغه ما په کور کې کړي. نور زه فکر کوم چې لنډو یا اوږدو سفرونو ته اړتیا لرم، د نویو ځایونو او نویو خلکو او چلندونو لیدلو ته اړتیا ده چې زه ډېر ولیکم.

زه اوس هم لنډ لنډ لیکل کوم خو پخوا مې ډېر کولی شول، اوس کله کله هغه لنډ لیکل هم په میاشتو میاشتو نه شم کولی، کله چې یو څه ولیکم، فکر کوم؛ دا به زما وروستي لیکل وي او نور به ونه شم، خو له هغې وروسته زه له هغې هم ډېر ښه لیکل کولی شم.

کله هڅه کوم خپل ورځني یادښتونه خوندي کړم.

هر کله چې زه یو یادښت لیکم، ما ته په کې حتماً یو سوژه یا نوي څه د نورو لیکلو لپاره پیدا کیږي.
حتی زه چې د خپلې خوښې کوم کار هم ترسره کوم، هغه خوند چې زه یې له کار اخلم، ما ته نوي څه راکوي.
مثلاً زه هره جمعه ماسپښین د خپلو رسمي کارونو پر وخت قهوه چکم او د قهوې له چکلو کله کله دومره خوند اخلم چې په یو یادښت کې یې خوندي کوم یا نوي څه پرې لیکم.
یو مهمه خبره د لیکوالۍ په اړه دا ده چې لیکوال هېڅکله په یو حالت او یو سبک کې نه پاتې کیږي. ممکن د ځینو لپاره داسې نه وي، خو زما لپاره هر کال یا هر عمر کې مې د لیکوالۍ طرز هم بدل شوی.

کله چې ما د ښوونځي په دوارن کې لومړی ځل لیکل پیل کړل، هغه به رانه سیاست کې کېدل. ځکه هغه وخت ما ټلویزیون ډېر څارلو او هیله مې وه خبرياله شم، کټه مټه سیاسي لیکواله شوې وم.

بیا چې یو څو کلونه تېر شول، ما له زده کوونکو سره د ښوونځي د اداري تاوتریخجن چلند او د زده کوونکو غبرګونونه لیدل، زه وهڅېدم چې ماشومانو ارواپوهنې برخه کې لیکل وکړم. ما د ماشومانو روزنې په برخه کې هم کورنیو، هم ښوونځیو او هم ټولنې ته لارښوونې وړاندې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مې د ښوونځي وروستی کال شو، لا فارغه نه وم خو د کرونا له کبله درسونه ودرېدل. ما چې بیا په دې دمه کې لیکل کول، په ټولنیزو موضوعاتو رانه کېدل. کله کله هم ادب او سیاست څنګ ته ور نږدې کېدم، خو زما لیکل د تېر یو کال په پرتله بیخي بدل شوي وو.

چې له ښوونځي فارغه شوم دا دی اوس زما لیکل بیخي بدل او له هېڅ قالب سره جوړ نه دي.
زه او زما د لیکنو لوستونکي فکر کوي، یوه ډېره فلسفي ډوله موضوع لولي؛ نو زه هم په دې فکر شوم چې زما لیکل نور فلسفې ته ننوتي. زه ډېرو لویو او کلشه یي سوژو پسې نه ګرځم. ورېې ورېې را اخلم، هغه له ټولو ډېرې خوندورې وي. ځکه هغو ته د هر لیکوال پام نه وي. خو که بیا هم وغواړم لکه د نورو لیکوالانو په څېر په هر ډول عمومي موضوع لیکل وکړم راته خوندور به نه وي. ځکه هغه ډول موضوعات راته اوس تکراري ښکاري او په کوم څه چې نور لیکل کولی شي زه نه غواړم ویې لیکم، حتی کتابونو مطالعې کې مې هم ذوق اوښتی. هر کتاب خوند نه راکوي چې ویې لولم. فکر کوم په دې کتاب زه پوهېږم، باید بل او د خپل ذوق مطابق کتاب واخلم. همداسې لکه لیکوالۍ کې چې غواړم نوي څه ولیکم چې زموږ په پښتو ژبه یا نړیوالې لیکوالۍ کې نه وي لیکل شوي او که لیکل شوي هم وي، نو کم وي.




دوېیمې لړۍ ته د آرمان پښتو کتابتون سره پاتې شئ!
Telegram: @ArmanPashtoLibrary5
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**